

مترجم: په قندهاري پښتو

ترجمه

شيخ القرآن مولانا [illegible]

حاوي: [illegible] تفسير [illegible] البيان [illegible] القرآن [illegible]

[illegible] التنزيل [illegible] البيان [illegible]

ناشر

احمد جان اينډ سنز تاجران قرآن مجيد و کتب

کاسي روډ کوټه

ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ



مترجم: په قندهاري پښتو

ترجمه

شيخ القرآن مولانا عبد الخدا امنگي

حواشي: تفسير ابن كثير، تفسير ابن عباس، تفسير حسني، تفسير الروح البيان، تفسير موضح القرآن، تفسير حيدي
تفسير مدارك، تفسير المعالم التنزيل، تفسير فتح البيان، تفسير فتح الرحمن، تفسير فتح العزيز، تفسير تيسير

ناشر:
احمد جان اینڈ سنز ناشران قرآن پاک و اسلامی کتب
كانسي روڈ كوئٹه

سُوْرَةُ مَرْيَمَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ وَّتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○

شروع کوم پہ نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربانه دی

كٓهٰيٰعٓصٓ ① ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا ② اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ

خدای عالم دی پر معنی د دې ﴾ دا یادول د رحمت ستا دی په بنده خپل باندې زکریا دی هغه خت چه اواز ئی وکړ رب خپل ته

نِدَآءً خَفِيًّا ③ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ وَاشْتَعَلَ الرَّاْسُ

اواز پټ کے وویل ده ای ربه زما بیشکه زه چه یم سست سول هډوکی زما او شغلے وهی دا سر زما له

شَيْبًا وَّلَمْ اَكُنْۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ④ وَاِنِّيْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ

زوړوالی څخه او نه وم زه په دعا ستا ای ربه زما بد بخته هیڅیری او بیشکه زه ویریږم له خپلوانو څخه

مِنْ وَّرَآءِيْ وَكَانَتِ امْرَاَتِيْ عَاقِرًا فَهَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ⑤

له وروسته زما څخه او ده ښځه زما وه چه نو وبخښه ما ته له طرف خپل څخه یو وارث

يَّرِثُنِيْ وَيَرِثُ مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ⑥ يٰزَكَرِيَّآ

چه میراث واخلی له ما څخه او میراث یوسی له اٰل د یعقوب څخه او وګرځوی ای ربه زما خوښ کړی سوے ای زکریا

اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ ِۨاسْمُهٗ يَحْيٰى لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا ⑦

بیشکه مونږ زیری در کوو تاته په هلک سره چه نوم د هغه به یحیی وی چه نه مو دی ګرځولی ده له مخکے له دی څخه همنامی

قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّكَانَتِ امْرَاَتِيْ عَاقِرًا وَّقَدْ بَلَغْتُ

وویل ده ای ربه زما څرنګه به وی ما لره هلک او ده ښځه زما شنډه او په تحقیق رسید لی یم زه

مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا ⑧ قَالَ كَذٰلِكَ ۚ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَّقَدْ

له زړوالی څخه ډیر ضعف ته وویل خدای همدارنګه ویلی دی رب ستا چه دا کار په ما باندې اسان دی او په تحقیق

خَلَقْتُكَ مِنْ قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْئًا ⑨ قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً

پیدا کړی می ئی ته پخوا له دی څخه او نه وې ته هیڅ شی وویل ده ای ربه زما مقرره کړه ما لره یوه نخښه

قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ⑩ فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ

وویل خدای چه نخښه ستا داده چه ته به خبرے نه سې کولی له خلقو سره دری شپے چه جوړ به ئی نو راووتی دی پر قوم خپل باندے

مِنَ الْمِحْرَابِ فَاَوْحٰٓى اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ⑪ يٰيَحْيٰى

له عبادتخانې څخه نو اشاره ئی وکړه دوی ته چه تسبیح په سهار او ماښام کښې ای یحیی

له

روایت دی چه د حبشو پاچا نجاشی جعفر ابن ابی طالب رضی الله عنه ته وویل چه ستا له هغه قرآن څخه چه په محمد صلی الله علیه وسلم باندې نازل سوی دی څه یاد دی کنه نو ده لوستل شروع کړه هوئی د سورت مریم ورته شروع کړه نو نجاشی ډیر و ژړل چه ږیره ئی په اوښکو لمده سوه او هغه پادریان چه هلته حاضر وه ټولو وژړل بیا نجاشی وویل دا کلام او هغه کلام چه په عیسیٰ علیه السلام باندې راغلی وو دواړه له یوه ځای څخه نازل سوی دی ۱۲ ابن کثیر

که

یعنې دا د عادت بهر دعا کښې وکړه او ما په ټواځې ځای کښې ئی په پټه سو که ئی دا سوال وکړ ځکه چه په اخیر عمر کښې د داسې سوال نه زړو له خدای څخه نه کاوه او دا خیال ئی وو چه که څیری دا کار و نه سی نو خلق به ډیر را پورې خاندی نو ځکه ئی دعا په پټه کوله ۱۲ موضح القرآن

سه

عبد الله ابن عباس رضی الله عنه او مجاهد او عکرمه او وهب او سدی او قتاده او نورو مفسرینو رضی الله عنهم ویلی دی چه د زکریا علیه السلام ژبه بی له مرض څخه بنده سوه. زید ابن اسلم رضی الله عنه ویلی دی چه زکریا علیه السلام به کتاب وایه او لمونځ به ئی کاوه او خبری به ئی له چا سره نه سوی کولی. مګر په اشاره سره ۱۲ تفسیر ابن کثیر ۱۲

سه

په دی حال کښې چه روغ او جوړ بهٔ ئی ته له طرفه د ژبې خپلې بیا ناځاپه ئی دومره ژبه غټه سوه چه خوله ئی بوره که سوه او هیڅ حرکت ئی ژبې ته نه سو ورکولی ۱۲

تفسیر لسیر

خُذِ الْكِتٰبَ بِقُوَّةٍ ؕ وَاٰتَیْنٰهُ الْحُكْمَ صَبِیًّا ﴿١٢﴾ وَّحَنَانًا مِّنْ لَّدُنَّا

واخله کتاب په قوت سره او ورکړی مو وه ده ته پیغمبري چه هلك ؤ او ورکړې مو وه مهرباني له طرفه خپل ځنې

وَزَكٰوةً ؕ وَكَانَ تَقِیًّا ﴿١٣﴾ وَّبَرًّا بِوَالِدَیْهِ وَلَمْ یَكُنْ جَبَّارًا عَصِیًّا ﴿١٤﴾

او پاکي او ؤ دی پرهیزګاره او نیکي کوونکی له مور پلار خپل سره او نه ؤ دی سرکشه نافرمانه او سلام دي

وَسَلٰمٌ عَلَیْهِ یَوْمَ وُلِدَ وَیَوْمَ یَمُوْتُ وَیَوْمَ یُبْعَثُ حَیًّا ﴿١٥﴾ وَاذْكُرْ فِی

پر ده په هغه ورځ چه دی پیدا کړی سو او په هغه ورځ چه مړ به ‌شی او په هغه ورځ چه بیا به کړی سی ژوندی او یاده کړه ته په

الْكِتٰبِ مَرْیَمَ ۘ اِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِیًّا ﴿١٦﴾ فَاتَّخَذَتْ

کتاب کښې قصه مریمې هغه چه بیل‌ خواته سوه له اهل خپل ځنې ځای ته چه مشرق طرفته ؤ نو ونیوله دي

مِنْ دُوْنِهِمْ حِجَابًا ۫ فَاَرْسَلْنَآ اِلَیْهَا رُوْحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا

د دوی طرف ته پرده نو ولیږی مونږ دې ته روح زمونږ یعني جبرائیل نو شکل ئې جوړ کړ خپل دې ته د سړي

سَوِیًّا ﴿١٧﴾ قَالَتْ اِنِّیْٓ اَعُوْذُ بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ اِنْ كُنْتَ تَقِیًّا ﴿١٨﴾ قَالَ اِنَّمَآ

ښائسته وویل دې چه بیشکه زه پناه غواړم پر خدای باندی له تا ځنې که ئې ته ښه سړی وویل هغه

اَنَا رَسُوْلُ رَبِّكِ ۖ لِاَهَبَ لَكِ غُلٰمًا زَكِیًّا ﴿١٩﴾ قَالَتْ اَنّٰی یَكُوْنُ لِیْ غُلٰمٌ

چه بیشکه زه رسول د رب ستا یم چه درکړم تاته زوی پاك وویل دې چه څرنګه به پیدا سی ما لره زوی

وَّلَمْ یَمْسَسْنِیْ بَشَرٌ وَّلَمْ اَكُ بَغِیًّا ﴿٢٠﴾ قَالَ كَذٰلِكِ ۚ قَالَ رَبُّكِ هُوَ

او نه یم مسه کړې زه هیڅ بشر او نه یم زه بدکاره وویل هغه چه هم دا رنګه ویلي دي رب ستا چه دا کار

عَلَیَّ هَیِّنٌ ۚ وَلِنَجْعَلَهٗٓ اٰیَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ اَمْرًا

پر ما باندی آسان دي او چه وګرزو دی علامه لپاره د خلقو او رحمت له طرفه زمونږ ځنې او ؤ دا کار یو کار

مَّقْضِیًّا ﴿٢١﴾ فَحَمَلَتْهُ فَانْتَبَذَتْ بِهٖ مَكَانًا قَصِیًّا ﴿٢٢﴾ فَاَجَآءَهَا

حکم ئې کړی سوی نو حامله سوه د اېرو لد نو په څنګ سوه سره له ده هغه ځای ته چه لیري وو نو راوستله دا درد

الْمَخَاضُ اِلٰی جِذْعِ النَّخْلَةِ ۚ قَالَتْ یٰلَیْتَنِیْ مِتُّ قَبْلَ هٰذَا

زیږیدلو هغه ښاخ د درختي د خرما ته وویل دې کاشکې چه زه مړه وای پخوا مبی له دی ځنې

وَكُنْتُ نَسْیًا مَّنْسِیًّا ﴿٢٣﴾ فَنَادٰىهَا مِنْ تَحْتِهَآ اَلَّا تَحْزَنِیْ قَدْ جَعَلَ

او وای زه هیره هیره کړی سوی نو اواز وکړ دې ته جبرائیل علیه السلام له لاندې طرف ځنې چه مه خفه کیږه په تحقیق پیدا کړی ده

له

نقل دی چه بي بي مریمې علی نبینا وعلیها السلام ځنې بغیر د بلې ښځې نوم په قرآن کښې صراحةً نه ده ذکر سوې او د دی نوم دوه ویشت ځایه په قرآن مجید کښې ذکر سوی دی ١٢ منه حفظه

٢له

بي بي مریمه ١٢ لپاره د غسل کولو له حیض ځنې کنار ځای ته تللې وه او په دغه وخت کښې د دې عمر دیارلس یا پنځلس کاله ؤ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢

روح البیان و موضح القرآن

٣له

سبب د دې ویناد دې سره له پوهې دي چه دا کار یقیني له جانبه د خدای ځنې دي خالي له جهته د شرم ځنې له خلقو ځنې وه . او بل دا چه دا خلق به زما د متهمولو په وجه په ګمراهي کښې اخته سی ١٢

روح البیان

٤له

یو کار مقرر کړی سوی په ازل کښې . بیا جبرائیل ع یو کل وکړل په ګریوان یا خوله د دې کښې نو دا باد او د دې نطفه د واړه رحم ته ورغله او حامله سوه فی الحال او دی بیا شپږ یا اوه یا اته یا یو ساعت د موره په خیټه کښې ؤ او مفسرینو اخیرنی قول ته ترجیح ورکړی ده ، بیا چه وخت د وضع د حمل نژدې سو نو له خلقو ځنې لیری ولاړه ١٢

تفسیر لسیر و غیره

ع ٥ / ٤
وقف لازم

رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّيٓ إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسٰقِطْ عَلَيْكِ

رب ستا د لاندې ستا ېياله اوښوروه خان خپل ته د اخانګه د خرما چه را توی به کړي پر تا باندې

رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾ فَكُلِيْ وَاشْرَبِيْ وَقَرِّيْ عَيْنًا ۚ فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ

خورما لمدې نو خوره خورما او څښه اوبه او یخې کړه سترګې پر دې نوی نو که ولیدتا له

الْبَشَرِ أَحَدًا ۙ فَقُوْلِيْٓ إِنِّيْ نَذَرْتُ لِلرَّحْمٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ

سړي څخه یو کس نو ووایه ورته چه بیشکه ما نذر منلی دی خدای لره روژه نو له سره به خبرې و نکړم

الْيَوْمَ إِنْسِيًّا ﴿٢٦﴾ فَأَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا تَحْمِلُهٗ ۗ قَالُوْا يٰمَرْيَمُ لَقَدْ

نن ورځ له هیڅ سړي نو راغله دا سره له قوم خپل ته چه را اخستی ئې وو دې وویل وئې ای مریمې په تحقیق

جِئْتِ شَيْـًٔا فَرِيًّا ﴿٢٧﴾ يٰٓأُخْتَ هٰرُوْنَ مَا كَانَ أَبُوْكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَّمَا كَانَتْ

راغلئ ته یو کار بد ته ای خورې د هرون ۲ نه وو پلار ستا سړی بد او نه وه

أُمُّكِ بَغِيًّا ﴿٢٨﴾ فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ ۗ قَالُوْا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ

مور ستا بد عمله نو اشاره وکړه دې وخپل ته ووېل هغوی چه څرنګه خبرې وکړو مونږ له هغه چا سره چه دې زانګو کښې وي

صَبِيًّا ﴿٢٩﴾ قَالَ إِنِّيْ عَبْدُ اللّٰهِ ۖ اٰتٰنِيَ الْكِتٰبَ وَجَعَلَنِيْ نَبِيًّا ﴿٣٠﴾

کوچنی هلک ووېل هغه چه بیشکه زه بنده یم د خدای شه راکړی ئې دی ماته کتاب او کړی ولی ئې یم زه پیغمبر

وَّجَعَلَنِيْ مُبٰرَكًا أَيْنَ مَا كُنْتُ ۪ وَأَوْصٰنِيْ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ

او کړی ولی ئې یم زه برکتناک هر ځای کښې چه یم زه او امر ئې کړی دی ماته په لمانځه او په زکوة سره

مَا دُمْتُ حَيًّا ﴿٣١﴾ وَّبَرًّا بِوَالِدَتِيْ ۫ وَلَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿٣٢﴾ وَالسَّلٰمُ

څو چه یم زه ژوندی ته او نیکی کوونکی یم له مور خپلې سره او نه ئې یم زه ګرځولی سرکښه او بد بخته او سلام دی وي

عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُّ وَيَوْمَ أَمُوْتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا ﴿٣٣﴾ ذٰلِكَ عِيْسَى

په ما باندې په هغه ورځ چه پیدا کړی شوی یم زه او په هغه ورځ چه مړ به شم او په هغه ورځ چه پورته به کړی شم ژوندی دا عیسی

ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِيْ فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿٣٤﴾ مَا كَانَ لِلّٰهِ أَنْ

زوی د بی بی مریمې وو خبره حقه ده چه په دې کښې شک کوي دوی نه ښائی خدای لره چه

يَّتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ ۙ سُبْحٰنَهٗ ۚ إِذَا قَضٰٓى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ

ونیسي هیڅ ولد پاکی ده ده لره هرکله چه حکم وکړي د یو کار نو خبره داده چه و وائی هغه ته چه سه

له

د اکلمې چو هم خبرې وې مګر شاید چه د دوی په دین کښې دا قسم خبرې کول په روژه کښې جائز وې محکو وادیا نو کښې احکام وو چه په روژه کښې به خبرې نه کوئ یو دبل سره. بعض مفسرینو ویلی دي چه دې ته حکم و سوا ودا خبره ئې دوی ته په اشاره سره وکړه ۱۲

مسرح ۲ هرون دحضرت موسی علی نبینا و علیهما السلام ورور وو د دوی مقصد دا وو چه ته خود هرون په شان تقوی داره وې نو ګوما خور ئې ئې وو دا دی څرنګه کار وکړې ۱۲ منه رحمه الله

۳ غرض د دې دا وو چه تا سره دې هلک څخه پوښتنه وکړي دې به د رته بیان وکړي ۱۲

که جمهور و مفسرینو ویلي دي چه الله تعالی عیسی علیه السلام ته په وخت د کوچنیوالي کښې انجیل او پیغمبري ورکړې وه او بعضې عالمانو ویلي دي چه عمر د ده دیرش کاله وو والله اعلم ۱۲

۵ الله تعالی ځلو ورو هلکانو ته په ځلو ورو کار و سره شرافت ورکړی دی. یوسف علیه السلام ته په وحی کولو سره په کوهي کښې او عیسی علیه السلام ته په خبرو کولو سره په زانګو کښې او سلیمان علیه السلام ته په فهم سره او یحیی علیه السلام ته په پیغمبر و کولو سره په هلکوالي کښې ۱۲ روح

یعنې څو مره چه زه ژوندی یم نو د اعبادت به کوم په دې ایت کښې دلیل دی پر دې چه له بنده څخه تکلیف د عبادت پر ده ونکښې نه ساقطیږي او قول په سقوط د عبادت لکه چه بعضې اباحین وائي دا خبره کفر او لویه ګمراهي ده ۱۲ روح البیان

فَيَكُوْنُ ﴿٣٥﴾ وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٣٦﴾

نو هغه موجود سي ۔ او بيشكه خداى رب زما دى او رب ستاسو دى نو عبادت كوى د ده ۔ دا لاره سمه ده نو

فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ مِنْۢ بَيْنِهِمْ ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ مَّشْهَدِ

اختلاف وكړ ډلو د نصاراؤ په منځ خپل كښى نو هلاك دى هغه كسانو لره چه كافران سوي دى له حاضريدلو

يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿٣٧﴾ اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ ۙ يَوْمَ يَاْتُوْنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوْنَ

د ورځي لوئي څخه ۔ څه ښه اوريدونكي به وي دوى او څه ښه ليدونكي به وي په هغه ورځ چه راسي موږ ته دوى مګر ظالمان

الْيَوْمَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٨﴾ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ اِذْ قُضِيَ

نن ورځ په ګمراهي ښكاره كښى دي ۔ او ووېروه دوى له ورځي د ارمان څخه ۔ په هغه ورځ چه كوتاه به كړى سي

الْاَمْرُ ۘ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ وَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٩﴾ اِنَّا نَحْنُ نَرِثُ

كار او دوي په غفلت كښى دي ۔ او دوى ايمان نه راوړي له ۔ بيشكه موږ به په ميراث واخلو

الْاَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿٤٠﴾ ع وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ

ځمكه او هغه څوك چه په دى ځمكه كښى دى او موږ ته به راجع كړل سي دا خلق ۔ او ياد كړه ته په دى كتاب كښى

اِبْرٰهِيْمَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّيْقًا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ يٰۤاَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ

قصه د ابراهيم ع ۔ بيشكه دى و رښتيني پيغمبر ۔ ياد كړه هغه چه وويل ده پلار خپل ته اى پلاره زما ولى ته عبادت كوي

مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْكَ شَيْئًا ﴿٤٢﴾ يٰۤاَبَتِ اِنِّيْ قَدْ

د هغه چه نه اوري او نه ويني او نه دفع كولى سى له تا څخه هيڅ سى ۔ اى پلاره زما بيشكه زه چه يم په تحقيق

جَآءَنِيْ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَاْتِكَ فَاتَّبِعْنِيْۤ اَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾

راغلي دى ما ته له علم څخه هغه قدر چه نه دى راغلى تا لره نو اتباع وكړه زما چه وښيم تا ته لاره برابره

يٰۤاَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطٰنَ ؕ اِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾

اى پلاره زما عبادت مه كوه ته د شيطان ۔ بيشكه شيطان چه دي دى رحمن لره ۔ نافرمانه

يٰۤاَبَتِ اِنِّيْۤ اَخَافُ اَنْ يَّمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ فَتَكُوْنَ

اى پلاره زما بيشكه چه زه ويريږم چه وبه رسيږي تا ته عذاب له خداى څخه ۔ نو به ته سى

لِلشَّيْطٰنِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾ قَالَ اَرَاغِبٌ اَنْتَ عَنْ اٰلِهَتِيْ يٰۤاِبْرٰهِيْمُ ۚ لَئِنْ

شيطان لره ملګرى ۔ وويل هغه ايا مخ ګرځونكى ئى ته له معبودانو زما څخه اى ابراهيم ۔ كه چيرى

ف ۔ ۔ ۔ ع ٤٥ ۔ ۵

ف ۱ ۔ له ابو سعيد رضى الله تعالى عنه څخه روايت دي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چه هر كله جنتيان جنت ته ننوزي او دوزخيان دوزخ ته ننوزي نو مرګ به په صورت د ورى راوستل سي او په منځ د جنت او دوزخ كښى به ودرول سي او به ويل سى چه اى جنتيانو دا پيژنئ ۔ رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چه دوى به ووائي چه هو دا مرګ دي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چه بيا به دوزخيانو ته وويل سي چه دا پيژنئ نو دوى به سرونه راپورته كړي او به وائي چه هو دا مرګ دي رسول الله ص و فرمايل بيا به د هغه ورى د حلالولو حكم وسي نو حلال به كړل سي رسول الله ص فرمايلي دي بيا به دا سي اواز وكړل سي چه اى جنتيانو تاسو هميشه په جنت كښى اوسئ او مرګ به دربانده نه راسي او اى دوزخيانو تاسو هميشه په دوزخ كښى اوسئ مرګ به دربانده هيڅكله رانسى ۔ بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم دا ايت شريف وواييه چه وَاَنْذِرْهُمْ تر اخره پورې بيا ئې په لاس مبارك اشاره وكړه چه اهل دنيا په غفلت كښى دي ۔ روايت د دى حديث امام احمد كړى دي ١٢ ١٢ ٢ تفسير ابن كثير

لَمْ تَنْتَهِ لَاَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِیْ مَلِیًّا ﴿۴۶﴾ قَالَ سَلٰمٌ عَلَیْكَ سَاَسْتَغْفِرُ

منع نه سوې ته له دې کار څخه نو خامخا به سنګسار کړم تا او لیرې سه ما څخه یوه موده وته وویل سلام دې پر تا باندې ژر به بښنه

لَكَ رَبِّیْ اِنَّهٗ كَانَ بِیْ حَفِیًّا ﴿۴۷﴾ وَاَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُوْنَ مِنْ

وغواړم تا له رب خپل څخه بیشکه دی چه دی پر ما باندې مهربانه او زه کناره کیږم له تاسو او له هغو نه چه عبادت ئې کوئ تاسو

دُوْنِ اللّٰهِ وَاَدْعُوْا رَبِّیْ عَسٰۤى اَلَّاۤ اَكُوْنَ بِدُعَآءِ رَبِّیْ شَقِیًّا ﴿۴۸﴾

بې له خدای څخه او عبادت کوم زه د رب خپل امید دی چه نه به سم زه په عبادت د رب خپل باندې بد بخته

فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا یَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ

نو هر کله چه کناره سو دوی څخه او له هغه څخه چه دوی ئې عبادت کاوه بې له خدای څخه نو وبخښی مونږ ده ته اسحٰق

وَیَعْقُوْبَ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِیًّا ﴿۴۹﴾ وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِّنْ رَّحْمَتِنَا

او یعقوب او هر یو کړل ولی وو مونږ پیغمبر او ورکړی وو مونږ دوی ته له رحمت خپل څخه

وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِیًّا ﴿۵۰﴾ وَاذْكُرْ فِی الْكِتٰبِ مُوْسٰۤى

او کړ ولی مو وه دوی له ژبه د رښتینې لویه او یاده کړه ته په دې کتاب کښې قصه د موسیٰ

اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِیًّا ﴿۵۱﴾ وَنَادَیْنٰهُ مِنْ جَانِبِ

بیشکه چه دی وو خالص کړی سوی او وو دی پیغمبر نبی او اواز کړی وو مونږ ده ته له طرفه راسته

الطُّوْرِ الْاَیْمَنِ وَقَرَّبْنٰهُ نَجِیًّا ﴿۵۲﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَاۤ اَخَاهُ

د کوه طور څخه او نژدې کړی مو وو دی خبرې کونکی وو او ورکړی مو وو ده ته له رحمت خپل څخه ورور د ده

هٰرُوْنَ نَبِیًّا ﴿۵۳﴾ وَاذْكُرْ فِی الْكِتٰبِ اِسْمٰعِیْلَ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ

هرون نبی او یاده کړه ته په کتاب کښې قصه د اسمٰعیل بیشکه چه دی وو رښتینی په وعده کښې

وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِیًّا ﴿۵۴﴾ وَكَانَ یَاْمُرُ اَهْلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ وَكَانَ

او وو دی رسول نبی او وو دی چه امر به ئې کاوه اهل خپل ته په لمانځه سره او په زکوٰة سره او وو دی

عِنْدَ رَبِّهٖ مَرْضِیًّا ﴿۵۵﴾ وَاذْكُرْ فِی الْكِتٰبِ اِدْرِیْسَ اِنَّهٗ كَانَ صِدِّیْقًا

په نزد د رب د ده رضا څخه کړی سوی او یاده کړه ته په دې کتاب کښې قصه د ادریس بیشکه چه دی وو ډیر رښتینی

نَّبِیًّا ﴿۵۶﴾ وَّرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِیًّا ﴿۵۷﴾ اُولٰٓىِٕكَ الَّذِیْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَیْهِمْ

نبی او پورته کړی مو وو دی ځای لوی ته دا هغه کسان دي چه مهربانی کړې ده خدای پر دوی باندې

له
یعنی امید دی چه الله تعالیٰ به زما
دعا قبوله کړي او ستا په سزا به
ما بدنصیبه نه کړي چه بندګی
د بتانو کوې ۱۲ منه رح ۲ له روایت
دی چه ابراهیم علیه السلام له بابل
څخه کوهستان د فارس ته راغلی
او اولاد له په اطرافو د هغو
غرو کښې وکړ زیدی تر څو چه
پلار ئې وفات سو او بتخانه ئې
د تره په تصرف کښې سوه چه
نوم ئې اٰذر وو او دی بیا بابل ته
راغلی او بد ویل د بتانو ئې شروع
کړل او بتان ئې مات کړل او
اور د نمرود ته ولویدی او له
بې بی ساري او لوط سره ئې قصد
د شام وکړ ۱۲ ۳ له یعنی په دولت
حکومت او پیغمبری می د دوی
نصیب کړه محض په رحمت خپل سره
۱۲ منه رحمه الله ۴ له یو سړی
سره ده وعده کړې وه چه هر
وخت ته راسې نو زه به در ته په
دې ځای کښې ناست یم هغه
سړی نو کال راتلی دی علیه السلام
و ده ته منتظر وو ۱۲ موضح
۵ له
روایت دی چه حضرت ادریس
علیه السلام لیکل په قلم
د ده ایجاد کړی دي او علم نجوم
او حساب هم ده جاری کړی دي
او جامې ګنډل او توری جوړول
او وله کفارو سره جهاد کول هم
د ده اول کړی دي ۱۲ منه رحمه
ولنعم ما قیل
علم دین فقه است و تفسیر و حدیث
وانکه غیر گوید از بین گردد خبیث

مِنَ النَّبِيّٖنَ مِنْ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ ۗ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ۫ وَّمِنْ

له پیغمبرانو څخه له اولادې د آدم ع څخه او له اولاده د هغه چا څخه چه بار کړي مو وو سره له نوح ع او له

ذُرِّيَّةِ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْرَآءِيْلَ ۫ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا ؕ اِذَا تُتْلٰى

اولاده د ابراهیم ع څخه او د یعقوب ع څخه او د هغه چا څخه چه لاره مو ورته ښودلې وه او غوره کړي مو وو هرکله چه ووېل سي

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا ﴿٥٨﴾ فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ

پر دوی باندې آیتونه د خدای نو پرېوتل دوی سجده کوونکي او ژړا کوونکي — نو پیدا سول وروسته له دوی څخه

خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿٥٩﴾

نااهله خلق چه ضائع ئې کړ لمونځ او اتباع ئې وکړه د شهوتو نو ژر دی چه یو ځای به سي له ګمراهئ خپلې سره

اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ

مګر هغه څوک چه توبه ئې وکښله او ایمان ئې راوړی او عمل ئې وکړ نېک نو دغه کسان به ننوزي جنت ته

وَلَا يُظْلَمُوْنَ شَيْئًا ﴿٦٠﴾ جَنّٰتِ عَدْنِ ۣ الَّتِيْ وَعَدَ الرَّحْمٰنُ عِبَادَهٗ

او ظلم به نه پر کیږي هیڅ باغو د اقامت ته هغه جنتونه چه وعده ئې کړې ده خدای له بندګانو خپلو سره

بِالْغَيْبِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ وَعْدُهٗ مَاْتِيًّا ﴿٦١﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا اِلَّا سَلٰمًا ؕ

په غیبو بېشکه خدای چه دی د ده وعده ده راتلونکي — نه به اوري په هغه کښې عبث خبرې مګر سلام به اوري

وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيْهَا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿٦٢﴾ تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ نُوْرِثُ مِنْ

او وي به دوی لره روزي د دوی په هغه کښې سهار او ماښام — دا جنت هغه دی چه ورکوو ئې — له

عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾ وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ ۚ لَهٗ مَا بَيْنَ

بندګانو خپلو څخه هغه چا ته چه وي پرهیزګاره — او نه نازلیږو موږ مګر په حکم د رب ستا سره د ده لره دي هغه شیان چه

اَيْدِيْنَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾ رَبُّ

وړاندې زموږ دي او هغه چه وروسته زموږ دي او هغه شیان چه په منځ د دوا کښې دي او نه دی رب ستا هېرونکی — رب

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ؕ هَلْ

د اسمانونو دی او د ځمکې دی او د هغه چه په منځ د دوو کښې دي نو عبادت کوه د ده او صبر وکړه پر عبادت د ده — آیا

تَعْلَمُ لَهٗ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾ وَيَقُوْلُ الْاِنْسَانُ ءَاِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ اُخْرَجُ

خبر ئې ته د ده لره په همنامي (یعنې لسته) — او وائي انسان آیا په هغه وخت کښې چه مړ سم زه نو ژر به ویستل سم

ف ۱

مراد له ضائع کېدلو څخه د لمانځه دادي چه بالکل ئې پرېږدي یا دا چه رعایت د وخت د هغه نه کوي دادواړه ترجمې مفسرینو رحمهم الله کړي دي. ابن کثیر. یا ثواب د هغه لمونځونې ضائع کړ چه وروسته له لمانځه کولو څخه ئې دروغ او غیبتو او جنګړې وکړي یا ئې شروع وکړه په لمانځه بې له نیته او بې له حضوره او خشوع ئې اداء کړ ۱۲ روح البیان

ف ۲

یو واري ډېري وحئ جبرائیل علیه السلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رانغلی نو رسول الله ص ورته وویل چه ته هره ورځ ولی نه راځی نو الله تعالی جبرائیل علیه السلام ته وویل چه ورته ووایه چه وَمَا نَتَنَزَّلُ اِلَّا بِاَمْرِ رَبِّكَ الاٰیة

موضح القرآن

ف ۳ په صحیح بخاری کښې لیکلي دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه الله تعالی ج فرمائي چه انسانان نسبت د دروغ کوي ماته او دا کار د ده سره لائق نه دي او ضرر رسوي ماته او دا کار د ده سره مناسب نه دي دروغ ویل د ده ماته دا دي چه دی وائي ما به خدای ج دوباره پیدا نه کړي لکه چه اول وار ئې پیدا کړی یم او حال دا چه اول پیدا کول په ما باندې اسان نه دي له دوهم وار پیدا کولو څخه او ضرر رسول د ده ماته دا دي چه وائي نیولی دی خدای ولد. او حال دا چه زه یو یم بې حاجته یم نه له چا څخه پیدا یم او نه له ما څخه څوک پیدا سوی دي او نه زما څوک هم مثل سته. ابن کثیر او روح البیان په تفسیر د دې آیت شریف کښې چه وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ الاٰیة ۱۲ ۱۲

حِيًّا ﴿٦٦﴾ أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْئًا ﴿٦٧﴾

شوندی ایا نه یادوی انسان چه بیشکه مونږ پیدا کړی وو دی مخوا له دی نه او نه وو دی هیڅ شی

فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيَاطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾

نو قسم دی زما په رب ستا چه ضرور به یې جمع کړو دوی او شیطانان هم بیا به یې حاضر کړو چاپیره له دوزخ نه پر زنګنو پراته

ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾

بیا به وباسو خامخا له هری ډلی نه هر هغه دوی چه سخت وی پر خدای باندی له جهته د سرکشی

ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِالَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا

بیا مونږ ښه پوهیږو په هغه کسانو چه دوی ښه لائق وی له دی دوزخ سره د ننه ایستلو او نشته هیڅوک له تاسو نه مګر

وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا

ورتلونکی دی دوزخ ته دا کار دی پر رب ستا باندی یقینی حکم کړی سوی بیا به خلاصون ورکړو مونږ هغه کسانو ته چه پرهیز

وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ

کاران دی او پریږدو به ظالمان په دی دوزخ کښی پر زنګنو پراته او هر کله چه ویل کیږی پر دوی باندی ایتونه زمونږ ښکاره

قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَأَحْسَنُ

نو وائی هغه کسان چه کافران سوی دی هغه کسانو ته چه ایمان ئې راوړی دی چه کومه یوه د دوو ډلو غوره ده له جهته د ځای او

نَدِيًّا ﴿٧٣﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّن قَرْنٍ هُمْ أَحْسَنُ أَثَاثًا وَرِئْيًا ﴿٧٤﴾

ښه ده له جهته د مجلس او ډیر هلاک کړی دی مونږ مخوا له دوی نه زمانو چه هغوی ښه وه له جهته د اسبابو او له جهته د شکل

قُلْ مَن كَانَ فِي الضَّلَالَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمَٰنُ مَدًّا ۚ حَتَّىٰ إِذَا رَأَوْا

ووایه ته هغه څوک چه وی په ګمراهی کښی نو راکښول وکړی دی له ده خدای په راکښولو سره تر څو چه ووینی دوی

مَا يُوعَدُونَ إِمَّا الْعَذَابَ وَإِمَّا السَّاعَةَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ

هغه چه وعده ئې ورسره کیږی یا عذاب او یا قیامت نو ژر دی چه پوه به سی دوی چه څوک دی هغه

شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضْعَفُ جُندًا ﴿٧٥﴾ وَيَزِيدُ اللَّهُ الَّذِينَ اهْتَدَوْا هُدًى ۗ

بد له جهته د ځای او ډیر ضعیف له جهته د لښکره او زیاتوی خدای هغه کسانو ته چه لار ئې پیدا کړی ده لار پیدا کول

وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِندَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾ أَفَرَأَيْتَ

او باقی پاته کیدونکی نیک عملونه غوره دی نزد د رب ستا له جهته د ثواب او غوره دی له جهته د بیرته ورتلو ایا نو وینی ته ای

۵۱

له بی بی حفصی رضی الله تعالی عنها نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه نه به ننوځی دوزخ ته انشاء الله هغه کسان چه حاضر سوی دی غزاد بدر ته او د حدیبیې ته بی بی حفصه وائی ما ورته وویل یا رسول الله ایا الله تعالی نه دی فرمایلی چه وان منکم الا واردها. نو رسول الله ورته وفرمایل چه ته دا ایت وګوره ثم ننجی الذین اتقوا ونذر الظلمین فیها جثیا رواه احمد ۱۲ ابن کثیر ۱۲ شاید چه مطلب د الله تعالی به په ننه ایستلو متقیانو کښی دوزخ ته داوی چه دوی به دوزخ په سترګو ووینی له هغه نه وروسته چه جنت ته داخل سی نو شکر د الله تعالی به په زړه سره ادا کړی قدر د عافیت کسی داند که به مصیبتی ګرفتار شود. او دویم دا چه کفار به د دوی ننوتل وګوری او په ارمان وکړی او دریم دا چه نعمتونه د جنت به پیاد وی ته ښه خوندور کړی ۱۲

۵۳

دا ایت شریف نازل سوی دی په حق د عاص ابن وائل کښی چه پر ده باندی د خباب رضی الله تعالی عنه قرض باندی وو نو طلب ئې ورځنې وکړ نو هغه ورته وویل چه تر هغه پوری ئې نه درکوم تر څو چه ته په محمد باندی کافر سوی نه ئې نو خباب رضی الله تعالی عنه ورته وویل چه زه به کافر نه سم تر دې که شوندی یې او که مړ سم او نه چه بیا راپورته سم عاص کافر ورته وویل چه ته بیا راپورته سی یعنی ژوندی سې نو بیا راسره راشه نو دی قرضه واخله

أَفَرَءَيْتَ — الَّذِي كَفَرَ بِآيَاتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾ أَطَّلَعَ الْغَيْبَ

هغه څوک چه کافر سوی دی په ایتونو زموږ باندې او ویلي ئې دي چه ضرور به راکړی سوی ده ماته مال او اولاد ایا خبر دی پر غیب

أَمِ اتَّخَذَ عِندَ الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ

او که اخستی دی ده په نزد د خدای وعده داسې نه ده لکه چه دی وائی ژر دی چه و به لیکو موږ هغه چه وائي دی او زیات به کړو

لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾ وَنَرِثُهُ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾ وَاتَّخَذُوا

ده لره له عذابه څخه په زیاتولو سره او په میراث به واخلو له ده څخه هغه چه وائي دی او رابه سي موږ ته یوائې او نیولي دي دوی

مِن دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لِّيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾ كَلَّا ۚ سَيَكْفُرُونَ

بې له خدای څخه نور معبودان لپاره د دې چه سي دوی لره مرسته کونکي نه ده داسې ژر دی چه منکر به سي دا معبودان د دوی

٥ ع ١٧ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿٨٢﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّا أَرْسَلْنَا الشَّيَاطِينَ

په عبادت د دوی باندې او سي دا معبودان پر دوی باندې دښمنان ایا نه گوري ته چه بیشکه موږ لیږلي موږ دي شیطانان

عَلَى الْكَافِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ

په کافرانو باندې چه کشوي دوی په کشولو سره نو ته تلوار مه کوه د عذاب پر دوی بیشکه داخبره ده چه شمیرو موږ ورځې دوی لره

عَدًّا ﴿٨٤﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَٰنِ وَفْدًا ﴿٨٥﴾ وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ

په شمارلو سره یاد کړه هغه ورځ چه جمع به کړو پرهیزگاران خدای ته ډلې ډلې او روان به کړو کافران

إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾ لَّا يَمْلِكُونَ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِندَ

دوزخ ته تږي مالکان به نه وي دوی د شفاعت کولو مګر هغه څوک چه اخستې ئې وي په نزد

الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَٰنُ وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَّقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا

د خدای وعده د شفاعت او وائي دوی چه نیولي دی خدای ولد (نعوذ بالله) په تحقیق چه راغلي تاسو یو شي

إِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ السَّمَاوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ

بد ته چه نژدې دي اسمانونه چه وچاودل سي له دې خبرې څخه او وچاودل سي ځمکه او راولوېږي غرونه

هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَن دَعَوْا لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾ وَمَا يَنبَغِي لِلرَّحْمَٰنِ أَن يَتَّخِذَ

ټوټې ټوټې چه بولي دوی خدای لره ولد او نه ښائي خدای لره دا چه ونیسي دي

وَلَدًا ﴿٩٢﴾ إِن كُلُّ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمَٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾

څوک ولد نه دی ټول هغه چه په اسمانونو کښې دي او چه په ځمکه کښې دي مګر راتلونکي دي خدای لره چه بنده به وي ۲ه

ل ه

عبدالله ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما ویلي دي چه وفد سپاره ته ویل کیږي. ابو هریرة رضی الله تعالیٰ عنه ویلي دي چه دوی به پر اوښانو سپاره وي او نعمان رضی الله عنه ویلي دي چه نه له حضرت علي کرم الله وجهه سره ناست وم هغه دا ایت وواید چه يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَٰنِ وَفْدًا او وئې فرمایل چه قسم دی هیچا به د هغه به شان نه وي لیدلي چه به هغه د سرو زرو کښتي وي نو دوی به پرې سپاره سي او تر هغه چه د جنت په دروازه کښې به چوسي دا د واړه روایته ابن جریر کړي دي ۱۲

ابن کثیر
وروح

۲ه

په بل ایت کښې راغلي دي چه ټول به د هغه په مخ کښې په کوزې ځنې او عاجزه صورت سره حاضر سي یعني لکه څنګه چه مریي دخپل بادار په مخ کښې حاضر یږي په هغه طریقه سره به ټول الله تعالیٰ ته حاضر سي د لوئې مرتبې خاوندان وي او که د کمې. محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم او عیسیٰ علیه السلام او عزیر علیه السلام او پرښتې دا ټول هغه مربونه دي. او هغه خدای دي. او بنده له خدای سره څه نسبت لري ۲ ۳ ۱۲ ۲ ۳

لَقَدْ اَحْصٰىهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿۹۴﴾ وَكُلُّهُمْ اٰتِيْهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

په تحقيق حساب کړی دی ئې ځکه او شمیرلي دي دوی په شميرلو سره او ټول به راسي خدای لره په ورځ د قيامت کښي

فَرْدًا ﴿۹۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ

يوالی يوالی ته بيشکه هغه کسان چه ايمان ئې راوړی دی او عمل ئې کړی دی نيکو ښه ژر دی چه وبه ګرځوی دوی لره

الرَّحْمٰنُ وُدًّا ﴿۹۶﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِيْنَ

خدای دوستي نو بيشکه خبره داده چه آسان کړی مونږ دی قرآن په ژبه ستا لپاره ددې چه زيری ورکړې ته په ده سره متقيانو ته

وَتُنْذِرَ بِهٖ قَوْمًا لُّدًّا ﴿۹۷﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ ۭ هَلْ

او چه وويروې په ده سره قوم جګړه کونکي او ډير هلاک کړي دي مونږ مخکښي له دوی څخه له اهل د زمانو څخه ايا

تُحِسُّ مِنْهُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿۹۸﴾ ع

وينې ته له هغوی څخه يو کس او يا اورې ته هغوی لره کښهاري

سُوْرَةُ طٰهٰ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّخَمْسٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّثَمَانُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

طٰهٰ ﴿۱﴾ مَا اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ﴿۲﴾ اِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَنْ

خدای عالم دی په معنیٰ ددې نه دی نازل کړی مونږ د قرآن پر تا باندې چه ته په سختۍ کښي واچوې مګر پند لپاره ددې هغه چا چه

يَّخْشٰى ﴿۳﴾ تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى ﴿۴﴾ اَلرَّحْمٰنُ

ويريږي په راليږلو سره له هغه چا څخه چه پيدا کړي ئې ده ځمکه او اسمانونه لوی لوی الله چه دی

عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ﴿۵﴾ لَهٗ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ

په عرش باندې متصرف او غالب دي ده لره دی هغه چه په اسمانونو او په ځمکه کښي دي

وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرٰى ﴿۶﴾ وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَاِنَّهٗ يَعْلَمُ

او هغه چه په منځ د دوی کښي دي او هغه چه لاندې د ځمکې دي او که ته جهر وکړې په خبره سره نو بيشکه چه دی پوهيږي

السِّرَّ وَاَخْفٰى ﴿۷﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ لَهُ الْاَسْمَاۗءُ الْحُسْنٰى ﴿۸﴾ وَهَلْ

په پټ او په ډير پټ خدای داسې ذات دی چه نشته بل څوک لائق د عبادت مګر دی ده لره نومونه دي نيک او ايا

اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ﴿۹﴾ اِذْ رَاٰ نَارًا فَقَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا اِنِّىْٓ

راغلی دی تا ته قصه د موسیٰ ع هغه چه وليده ده اور نو وئې ويل اهل خپل ته چه ځنډ وکړئ بيشکه ما

طٰه

نسبه ئې سامان او نه لښکر او نه مال او نه اولاد دوی ۱۲ و حيد کله چه الله تعالیٰ به دوی خپل دوستان کړي ۳ منه سره کله چه به په رسول الله صلی الله وحی راغله نو ده به ډير کوښښ د عبادت کښي کاوه او د شپې به ډير ډير په پښو به ولاړ شو او د قريش په ايمان نه راوړلو به ډير خفه کيدی نو الله تعالیٰ دا آيتونه نازل کړل او حاکم ئې دادی چه ته پر خپل ځان ډير تکليف مه ښيروه په حديث شريف کښي راغلی دی چه الله تعالیٰ سورت طٰه او يٰس ويلی دی د آدم عليه السلام له پيدا ئښت څخه دوه زره کاله مخکښي نو هر کله چه پرښتو وا وريدل نو ئې وويل چه خوشحالي ده هغه ۶۰ ع ۱۶۰ ۹ سيند لره چه دا قرآن شريف بار وړي يعنې يادوي به ئې او خوشحالي ده هغه قوم لره چه دا به پرې نازليږي او خوشحالي ده هغه ژبو لره چه خبرې به کوي په دې سره دا حديث امام طبراني او صاحب د فردوس کتاب نقل کړی دی ۴ د ذکر د عرش له جهته د عظمت دي که څه هم دی په تمامو موجوداتو متصرف او غالب دی ۵ يعني سره خبرې ته ويل کيږي چه پټ نه کښي دي او اخفیٰ هغه ته ويل کيږي چه لا ده څخه هم پټ وي ۶ مونږ ته روايت کړی شوی دی چه هر کله موسیٰ عليه السلام او د شعيب عليه السلام چه صفورا نوم ئې وو په مدين ښهر کښي په نکاح کړه بيائې څه موده ورسره تيره کړه هغه ادرس د تلو مصر ته وغوښتي ليا رئې ورسره او مور خپلې نو روان سول بيا لارې له ويرې د پاچاهانو د شام نو هر کله چه طور غاړې ته چه نژدې وو او کوه طور راورسيدل او لارئ هم ورځنې ورکه کړه او دا بي بي صاحبې هم اولاد پيدا سو او په دې شپه کښي سخته يخني وه او واوره هم وريدله او شپه جمعې وه او له دوی څخه او ر نه وو چه ځان ئې پرې ګرم کړي وائي چه ناڅاپه ئې ورته لمبه په کوه طور کښي وليدله لکه چه الله تعالیٰ فرمائي وَاِذْ رَاٰ نَارًا الاٰيه ۱۲ سرواح

اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّیْٓ اٰتِیْكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ اَوْ اَجِدُ عَلَی النَّارِ هُدًی ﴿۱۰﴾

ولیدی ما یو اور بنائی چه زه به راوړم تاسو ته له هغه څخه یوه لمبه او یا به پیدا کړم زه په اور باندې لاره ښوونه

فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِیَ یٰمُوْسٰی ﴿۱۱﴾ اِنِّیْٓ اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَیْكَ اِنَّكَ

نو هر کله چه راغلی دی هغه اور ته اواز ورته و کړل شو چه ای موسیٰ بیشکه زه رب ستا یم نو وباسه دواړه چپلۍ خپلې بیشکه ته

بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًی ﴿۱۲﴾ وَاَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا یُوْحٰی ﴿۱۳﴾

په میدان پاک کښې ئې چه طویٰ دی او ما غوره کړی ئې ته نو غوږ و نیسه هغه ته چه وحی کیږي

اِنَّنِیْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِیْ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِیْ ﴿۱۴﴾

او بیشکه زه چه یم خدای یم نشته لائق د عبادت بل څوک مګر زه یم نو عبادت کوه زما او سم و دروه لمونځ لپاره د یاد ولو زما ف۱

اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِیَةٌ اَكَادُ اُخْفِیْهَا لِتُجْزٰی كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعٰی ﴿۱۵﴾

بیشکه چه قیامت راتلونکی دی نژدې یم زه چه پټ کړم هغه دی لپاره د دې چه جزا ورکړی سي هر یو نفس ته په هغه عمل چه کوي ئې

فَلَا یَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لَّا یُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ فَتَرْدٰی ﴿۱۶﴾

نو منع دي نکړي تا د ایمان راوړلو څخه په ده باندې هغه څوک چه ایمان پرده او اتباع کوي هوا خپلې نو ته به هلاک سي

وَمَا تِلْكَ بِیَمِیْنِكَ یٰمُوْسٰی ﴿۱۷﴾ قَالَ هِیَ عَصَایَ اَتَوَكَّؤُا عَلَیْهَا

او دا څه دي په ښي لاس ستا کښې ای موسیٰ ؏ وویل دا چه دا لکړه زما ده تکیه کوم پر دې باندې

وَاَهُشُّ بِهَا عَلٰی غَنَمِیْ وَلِیَ فِیْهَا مَاٰرِبُ اُخْرٰی ﴿۱۸﴾ قَالَ اَلْقِهَا

او پاڼې څنډم پر دې سره په میږو خپلو او ما لره په دې کښې مطلبونه نور دي وویل خدای چه و غورځوه

یٰمُوْسٰی ﴿۱۹﴾ فَاَلْقٰىهَا فَاِذَا هِیَ حَیَّةٌ تَسْعٰی ﴿۲۰﴾ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ

دا ای موسیٰ نو وئې غورځوله نو ناڅاپه هغه مار و چه منډې ئې وهلې وویل خدای چه و نیسه دا او مه ویریږه

سَنُعِیْدُهَا سِیْرَتَهَا الْاُوْلٰی ﴿۲۱﴾ وَاضْمُمْ یَدَكَ اِلٰی جَنَاحِكَ تَخْرُجْ

ژر دی چه و به ګرځوو دا شکل اولنی خپل ته او پیوسته کړه لاس خپل تخرګ ته چه را او به وځي

بَیْضَآءَ مِنْ غَیْرِ سُوْٓءٍ اٰیَةً اُخْرٰی ﴿۲۲﴾ لِنُرِیَكَ مِنْ اٰیٰتِنَا الْكُبْرٰی ﴿۲۳﴾

تکسپین بې له عیبه څخه علامه ده بله لپاره د دې چه وښایو تاته له علامو لویو زمونږ څخه

اِذْهَبْ اِلٰی فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰی ﴿۲۴﴾ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِیْ صَدْرِیْ ﴿۲۵﴾ وَ

ولاړ سه فرعون ته بیشکه چه دی یاغي سوی دی وویل ده ای ربه زما خلاصه کړه ما ته سینه زما

ف۱

لپاره د یاد ولو زما یا هغه وخت چه زه دی یاد سم. نو هغه وخت لمونځ کوه په صحیح حدیث شریف کښې راغلی دي چه هر کله یو له تاسو څخه بیده سي او یا و رڅخه لمونځ هیر سي نو هر وخت چه ئې په یاد سي په هغه وخت کښې دي لمونځ کوي ځکه چه الله تعالیٰ فرمائي چه هر وخت چه دی زه یاد سم نو لمونځ کوه

منه ۲

ف۲

چه هغه دا و چه له ده سره به ئې خبرې کولې چه یو اځی به وو او له لیوانو او افاتو څخه به ئې ساته او له دښمن د ده سره به ئې مقدمه او جنګ کاوه او چه کومی ته به راغلی نو دواړه شاخونه به ئې بوکه او صورت به ئې رڼ سو او دشپې به ئې دواړه ښاخونه چراغونه وو او که به ئې میوې ته شوق وسو نو لکړه به ئې جګه کړه او درخته به سوه او هره میوه چه به ده غوښته هغه به و رڅخه راتوی سوه او په کرمی کښې به ئې سوری پر جوړاوه او چه تږی به سو په ځمکه کښې به ئې ووهله او اوبه به ئې را وتلې او چه بیدې به سو نو ده به ئې ورته ساتل او دا ادم علیه السلام له جنت څخه راوړې وه چه لس ګزه اوږده او سر ئې دو شاخه وه او امیا په میراث سره شعیب علیه السلام ته راغله او هغه بیا موسیٰ ته ورکړه

۱
ع ۲۳
۱۰

يَسِّرْ لِيٓ اَمْرِيْ ﴿٢٦﴾ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِيْ ﴿٢٧﴾ يَفْقَهُوْا قَوْلِيْ ﴿٢٨﴾

اواسان کړه ماته کار زما اوبرانزه غوټه له ژبې زما څخه چه پوهيږي خلق پرخبره زما

وَاجْعَلْ لِّيْ وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِيْ ﴿٢٩﴾ هٰرُوْنَ اَخِي ﴿٣٠﴾ اشْدُدْ بِهٖٓ اَزْرِيْ ﴿٣١﴾

او وګرځوه ما لره کومکی له اهل زما څخه هرون ورور زما محکمه کړه په ده باندی ملا زما

وَاَشْرِكْهُ فِيْٓ اَمْرِيْ ﴿٣٢﴾ كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا ﴿٣٣﴾ وَّنَذْكُرَكَ كَثِيْرًا ﴿٣٤﴾ اِنَّكَ

اوشريك كړه دی په کار زما لپاره د دی چه تسبيح وايو ستا ډيره اوياد وو تا ډير بيشکه ته ئی

كُنْتَ بِنَا بَصِيْرًا ﴿٣٥﴾ قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰى ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ

پرموږ باندی ليدونکی ووېل خدای چه په تحقيق درکړی سوتا لره سوال ستا ای موسیٰ او په يقين

مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً اُخْرٰٓى ﴿٣٧﴾ اِذْ اَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّكَ مَا يُوْحٰٓى ﴿٣٨﴾ اَنِ

احسان کړی وو موږ پرتا باندی بل وار په هغه وخت کښې چه وحی وو کړه موږ ستا مور ته هغه چه وحی کيدله داچه

اقْذِفِيْهِ فِي التَّابُوْتِ فَاقْذِفِيْهِ فِي الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ

وغورزوه دي په صندوق کښې نو وغورزوه دا صندوق په درياب کښې نو ودی غورزوی هغه صندوق دريا په غاړه

يَّاْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّيْ وَعَدُوٌّ لَّهٗ ۭ وَاَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّيْ ڬ وَلِتُصْنَعَ

چه ونيسی دی دښمن زما اود ښمن د ده او واچوله ما پرتا باندی مينه له خپل طرف څخه اوچه تربيه ستا وسي

عَلٰى عَيْنِيْ ﴿٣٩﴾ اِذْ تَمْشِيْٓ اُخْتُكَ فَتَقُوْلُ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى مَنْ

وقف لازم

په سترګو زما ياد کړه هغه چه روانه سوه خور ستا نو وويل دي چه ايا ښوو وکرم زه تاسو ته پر هغه چا چه

يَّكْفُلُهٗ ۭ فَرَجَعْنٰكَ اِلٰٓى اُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ڛ وَقَتَلْتَ

تربيه وکړی د ده نو بيا رته موږ او ستالے مور خپلې ته لپاره د دی چه يخی سی سترګی دي او غمجنه نه سي او مړ کړتا

نَفْسًا فَنَجَّيْنٰكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا ڛ فَلَبِثْتَ سِنِيْنَ فِيْٓ

يو سړی نو خلاصون مو درکړ تاته له غم څخه او وموازمېلے ته په ازميلو سره نو دی ناست وکړ تا څو کلونه په

اَهْلِ مَدْيَنَ ڛ ثُمَّ جِئْتَ عَلٰى قَدَرٍ يّٰمُوْسٰى ﴿٤٠﴾ وَاصْطَنَعْتُكَ

اهل د مدين کښې بيا راغلے ته په هغه اندازه د عمر ای موسیٰ ع م او غوره مي کړی ته

لِنَفْسِيْ ﴿٤١﴾ اِذْهَبْ اَنْتَ وَاَخُوْكَ بِاٰيٰتِيْ وَلَا تَنِيَا فِيْ ذِكْرِيْ ﴿٤٢﴾

لپاره د ځان خپل ولاړ سه ته او ورور ستا په معجزو زما او سستی مه کوئ په يادولو زما کښې

ف ١

روايت دی چه يوه ورځ په زمانه د کوچنيوالي کښې فرعون موسیٰ عليه السلام په غيږه کښې واخستی ناڅاپه ده د فرعون ږيره ونيوه چه ملګرو و ربانديکښې سيلی وی لاس ور واچاوه او يو څه ئی راوکښله نو فرعون په غضب سو او خپلې ښځې ته چه بی بی آسيه وه وويل چه دا هغه دښمن زما دی چه وعده ئی له ما سره شوے ده. نو بی بی ورته وويل چه دے معصوم ملك دی سکروټی د اور او ملغلري نه سره پيژني نو د ده د امتحان لپاره دوطبقي حاضر کړل يو د سکروټو او بل د ملغلرو. نو موسیٰ عليه السلام لاس کښته کړ چه ملغلری را واخلي نو جبرائيل عليه السلام د ده لاس طبقي د اور ته کش کړ او سکروټه ئی را واخستله او په خوله ئی کيښووله او هغه وسوځيده او څه قدر ئی تو تلی پکښې پيدا سو نو ځکه ده سوال د جوړوالي د هغه وکړ چه وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِي الآية

روح البيان

ف ٢

دا د الله جل شانه احسان وو پر ده باندی چه له خپله طرفه څخه ئی پر ده باندی محبت د خلقو په زړو کښې ور واچاوه هيڅ څوک به نه وُ وليد لی مګر پری عاشق به وُ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢

روح ،،، و ،،، فتح

اِذْهَبَآ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿٤٣﴾ فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ
ولاړ شئ دواړه فرعون ته بيشکه چه ده سرکشي کړې ده نو ووايئ ده ته نرمه خبره ښايي چه دی پند واخلي له
اَوْ يَخْشٰى ﴿٤٤﴾ قَالَا رَبَّنَآ اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ اَوْ اَنْ يَّطْغٰى ﴿٤٥﴾ قَالَ
يا وويريږي ووېل دواړو ای ربه زموږ بيشکه موږ ويريږو چه زياتي به وکړي په موږ او يا به سرکشي وکړي ووېل خدای
لَا تَخَافَآ اِنَّنِيْ مَعَكُمَآ اَسْمَعُ وَاَرٰى ﴿٤٦﴾ فَاْتِيٰهُ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلَا رَبِّكَ
چه مه ويريږئ بيشکه زه له تاسو سره يم اورم او وينم نو ورشئ ده ته او ووايئ چه بيشکه موږ رسولان د رب ستا يو
فَاَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ۬ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ؕ قَدْ جِئْنٰكَ بِاٰيَةٍ
نو وليږه له موږ سره بني اسرائيل او مه په عذابوه دوی په يقين راغلي يو تا ته سره له معجزې
مِّنْ رَّبِّكَ ؕ وَالسَّلٰمُ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى ﴿٤٧﴾ اِنَّا قَدْ اُوْحِيَ اِلَيْنَآ
له رب ستا څخه او سلام دی پر هغه چا چه اتباع کوي د سمې لارې بيشکه موږ ته وحي کړې شوې ده په يقين موږ ته
اَنَّ الْعَذَابَ عَلٰى مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿٤٨﴾ قَالَ فَمَنْ رَّبُّكُمَا يٰمُوْسٰى ﴿٤٩﴾
چه بيشکه عذاب به پر هغه چا وي چه نسبت د دروغو کړي وي او وګرځيدلی وي ووېل فرعون نو څوک دی رب ستاسو اې موسی
قَالَ رَبُّنَا الَّذِيْٓ اَعْطٰى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى ﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ
ووېل موسی رب زموږ هغه ذات دی چه ورکړی يې دی هر شي ته شکل هغه بيا ئې لار ښوولې ده ووېل فرعون نو څه حال
الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى ﴿٥١﴾ قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّيْ فِيْ كِتٰبٍ ۚ لَا يَضِلُّ رَبِّيْ
د پخوانو خلقو ووېل موسی چه علم د هغه په نزد د رب زما دی په کتاب کښې نه ورک کوي رب زما
وَلَا يَنْسَى ﴿٥٢﴾ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّسَلَكَ لَكُمْ فِيْهَا
او نه هيروي هغه خدای چه ګرځولې ئې ده تاسو له ځمکه ځانګو او روانې کړې ئې دي تاسو له په دې کښې
سُبُلًا وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ؕ فَاَخْرَجْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْ نَّبَاتٍ
لارې او نازله کړې ئې دي له اسمان څخه اوبه نو را ايستلي دي موږ په دې اوبو سره اقسام دوښو
شَتّٰى ﴿٥٣﴾ كُلُوْا وَارْعَوْا اَنْعَامَكُمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي النُّهٰى ﴿٥٤﴾
تار په تار خورئ تاسو او څروئ چارپايان خپل بيشکه په دې کار کښې خامخا علامې دي خاوندانو د عقلو له
مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى ﴿٥٥﴾
له دې ځمکې څخه پيدا کړي ئې موږ تاسو او په دې کښې به ننباسو تاسو او له دې څخه به را وباسو تاسو بل وار

الله تعالی ته خو د ټولو مخکښو او وروستنيو حالات ښه معلوم دي او دا هم ورته معلوم وه چه فرعون ايمان نه راوړي نو دا لَعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ اَوْ يَخْشٰى څه معنی لري سوه؟ جواب ئې دا دی چه دا شايد تعلق د موسی او هرون عليهما السلام تر علم پوري لري يعنې تاسو اميد لرئ د دې چه ستاسو دعوه به ومني او يا به وويريږي او نصيحت به ترې سره وي ته کوښی نو ګر نو هر څه چه الله تعالی ته منظور وي هغه به کيږي ١٢ وحيدی ٥ او له دې ايت شريف څخه هم دا کيدل له قبرو څخه به صور نو څخه ثابت سول او له دې څخه سوي نو رايستونه هم په دې باب کښې راغلي دي ايمان راوړل په حشر باندې فرض دي او شک پکښې کول کفر دی په حديث شريف کښې راغلي دي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم د يو جنازې ته حاضر سو هر کله چه هغه مړی دفن سو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم له خاورو څخه يو موټی راواخستلې او د هغه په قبر کښې ئې واچولې او وئې ويل چه مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ بيا ئې بل موټی راواخستلې او په قبر کښې ئې وغورځولی او وئې ويل چه وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ بيا ئې دريم موټی راواخستلی او وئې ويل چه وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى روايت دا دي حديث اصحابو د سننو او احمد او حاکم رحمهم الله کړی دی. ابو امامه رض روايت کړی دی چه هر کله مبارکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم ام کلثوم په قبر کښې دفن کړی سوه نو رسول الله
٢ صلی الله عليه وسلم ووايه چه مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ تر
ع اخره او بسم الله وَفِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَعَلٰى
١١ مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ ووايه ١٢ فتح و کثير

ع ٥ او مه په عذابوه دوی يعنې له دې کړه له خپل خدمت اخستلو څخه چه سخت کارونه ورڅخه اخلې لکه د کوهيانو کښل او تعميرونه جوړول او پادرانه نيول ١٢ جلالين

وَلَقَدْ أَرَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَاَبٰى ﴿٥٦﴾ قَالَ اَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا

اوبې تحقیق ورښودلې موږ فرعون ته معجزې خپلې ټولې په نسبت د دغو لیکو هغه او منع ئې وکړه له ایمان او لوځني ئې وکړه ویل ایا راغلی ئې ته موږ ته چه وباسې موږ

مِنْ اَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يٰمُوْسٰى ﴿٥٧﴾ فَلَنَأْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهٖ فَاجْعَلْ

له ځمکې زموږ څخه په سحر خپل سره ای موسیٰ؏ نو خامخا به راوړو تا لره سحر په مثل د سحر ستا نو مقرر کړه

بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهٗ نَحْنُ وَلَآ اَنْتَ مَكَانًا سُوًى ﴿٥٨﴾

په منځ زموږ او ستاسو کښې یو ځای د وعدې چه مخالفت نه کوو له هغه څخه موږ او نه ته یو ځای هوار ته

قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّيْنَةِ وَاَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾ فَتَوَلّٰى

وویل موسیٰ؏ ځای د وعدې ستاسو ورځ د اختر ده او چه جمع کړل شي خلق په وخت د څاښت کښې نو وګرځېدی

فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهٗ ثُمَّ اَتٰى ﴿٦٠﴾ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰى وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوْا

فرعون نو جمع ئې کړ مکر خپل بیا راغلی وویل دې ساحرانو ته موسیٰ؏ هلاک دې وی تاسو لره مه تړئ

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ ۚ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرٰى ﴿٦١﴾

پر خدای دروغ نو هلاک به کړي تاسو په عذاب سره او په تحقیق نا امید شوله رحمت د خدای هغه څوک چه دروغ ئې وتړل پر خدای

فَتَنَازَعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ وَاَسَرُّوا النَّجْوٰى ﴿٦٢﴾ قَالُوْٓا اِنْ هٰذٰنِ

نو جګړه وکړه دوی د کار خپل په منځ خپل کښې او پټ ئې کړ مجلس وویل هغوی بیشکه دا دواړه

لَسٰحِرٰنِ يُرِيْدٰنِ اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيْقَتِكُمُ

ساحران دي اراده لري چه وباسي تاسو له ځمکې ستاسو څخه په سحر خپل سره او بوزي یعنې محوه کړي دین ستاسو

الْمُثْلٰى ﴿٦٣﴾ فَاَجْمِعُوْا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا ۚ وَقَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ

چه غوره دي نو جمع کړئ مکر خپل بیا راسئ تاسو صف صف او په تحقیق خلاص سوه نن ورځ هر څوک

اسْتَعْلٰى ﴿٦٤﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ

چه غالب سو وویل دوی ای موسیٰ یا ته وغورځوه یعنې خپله لکړه او یا به سو موږ اول

مَنْ اَلْقٰى ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ اَلْقُوْا ۚ فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ

غورځونکی ته وویل موسیٰ بلکه تاسو وغورځوئ نو ناڅاپه رسۍ د دوی او لکړې د دوی په خیال کښې راوستل سوی

اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى ﴿٦٦﴾ فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى ﴿٦٧﴾

ده ته له سحر د دوی څخه چه بیشکه دا منډې وهي نو پیدا کړه په زړه کښې ویره موسی علیه السلام

ف ١

نقل دي چه هغه جادوګرانو د موسیٰ علیٰ نبینا وعلیه السلام تعظیم وکړ چه دا خبره ئې د موسیٰ علیه السلام ته وکړه نو ځکه الله تعالیٰ دوی ته د ایمان سره لو توفیق ورکړ. مطلب دا چه ادب ډیر ښه شی دي او ډیر فوائد پکښې دي. مولانای روم په مثنوی کښې وائی

از خدا جوئیم توفیق ادب
بی ادب محروم ماند از لطف رب

یعنی له الله څخه توفیق د ادب غواړم بې ادبه د الله تعالیٰ له فضل څخه محروم دی. ای الله تا موږ ته صحیح ادب نصیب کړې

ف ٢

او پټ ئې کړ د راز او مشوره له مجلسه او د فرعون څخه او نزاع ئې مصلحت دا وو چه بعضو وویل چه دا کلام د ساحرانو نه دي بیائی په دې اتفاق وکړ چه که دی غالب سو نو پیغمبر دي تابع به ئې سو او فرعون د ننګلي لپاره وته کتل وو ئې لیدل چه جګړه دې نو اوبل بلل چه تاسو څه جګړه کوله نو دوئی له ویرې څخه وته شر به وا ئې وله نو قالوا الایه ١٢ ٣

تفسیر السیر

قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنْتَ الْأَعْلٰى ﴿٦٨﴾ وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا

وویل مونږ چه مه ویریږه ته بیشکه چه ته ئی غالب او وغورزوه ته هغه چه په راسته لاس ستا کښې دی چه ونغاړی هغه

صَنَعُوا ۖ إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سٰحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتٰى ﴿٦٩﴾ فَأُلْقِيَ

چه جوړ کړی دی دوی اخبره ده چه جوړ کړی دوی مکر د ساحر او بری نه بیا کوی ساحر هر ځای چه راسی نو وغورزول سوه

السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هٰرُونَ وَمُوسٰى ﴿٧٠﴾ قَالَ آمَنْتُمْ

ساحران سجده کونکي وویل دوی چه ایمان راوړی دی مونږ په رب د هرون او موسی باندې وویل فرعون چه ایمان راوړی تاسو

لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۖ

ده لره مخکې له هغه نه چه اجازه می کړی وی تاسو ته بیشکه چه دی هغه مشر ستاسو دی چه ښودلی دی تاسو ته سحر

فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي

نو خامخا به پرېکړم لاسونه ستاسو او پښې ستاسو مخالفې (یو د بل نه) او خامخا به په دار کړم تاسو په

جُذُوعِ النَّخْلِ ۖ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقٰى ﴿٧١﴾ قَالُوا لَنْ

تنو د خرما کانو کښې او خامخا پوه به سئ تاسو چه کوم یو له مونږ نه سخت دی جهته د عذاب او باقي کیدونکی دی وویل هغوی چه هیڅ کله به نه

نُؤْثِرَكَ عَلٰى مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا ۖ فَاقْضِ مَا أَنْتَ

خوښ نکړو تا په هغه چه راغلی دی مونږ ته له ښکاره معجزو څخه او پر هغه خدای چه پیدا کړی ئی یو مونږ نو حکم وکړه ته هغه چه ته ئی

قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِي هٰذِهِ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿٧٢﴾ إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا

حکم کونکی بیشکه خبره داده چه حکم کوی ته په دی ژوند نژدی کښې بیشکه مونږ ایمان راوړی دی په رب خپل چه وبخښي مونږ ته

خَطٰيٰنَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ۗ وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَأَبْقٰى ﴿٧٣﴾ إِنَّهُ

گناهونه زمونږ او هغه چه زور راباندې کړی دی تا په کولو د هغه سره له سحر څخه او خدای غوره دی او ښه باقي پاته کیدونکی دی بیشکه شان دا دی

مَنْ يَأْتِ رَبَّهُ مُجْرِمًا فَإِنَّ لَهُ جَهَنَّمَ ۖ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيٰى ﴿٧٤﴾

هر څوک چه راغلی رب خپل ته کافر نو بیشکه وی به هغه لره دوزخ نه به مری په هغه کښې او نه به ژوندی پاته کیږی

وَمَنْ يَأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَأُولٰئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ

او هغه څوک چه راغلی ده لره ایمان راوړونکی چه په یقین کړی ئی وی نیک کارونه نو دغه کسان چه دی دوی لره دی مرتبې

الْعُلٰى ﴿٧٥﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا ۚ

لوړې چه باغونه د همیشه استوګنې دی چه بهیږی لاندې د ونو د هغه بیالې همیشه به وی دوی په هغه کښې

ط

له جندب رضی الله عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه هر وخت تاسو ساحر ونیسی نو وژنئ ئی بیا ئی دا آیت تلاوت وکړ چه ولا یفلح الساحر حیث اتی روایت د دی حدیث ابن ابی حاتم کړی دي ۱۲ ابن کثیر ۲ ابن کثیر ویلی دی چه ظاهره داده چه فرعون ملعون ددوی سره هم داسی کار وکړ الله پاک په هغوی باندې رحمت وکړ ابن عباس او نورو سلفو ویلی دي چه په سهار کښې دوی په حالت د سحر کښې وو او ماښام ته شهیدان سول و مصنف د تفسیر وجیز ویلی دي ظاهره دا ده چه الله تعالی ددوی له مکر څخه سلامت وساتل ددوی عدد یا دوا ویا یا څلور سوه یا نه سوه یا دولس زره یا څوارلس زره کسان وو، په ابتدا کښې د بعضو هم دا رائی وه چه موسی جادو ګر نه دي مګر چه دا اضافه معجزه ئی ولیدله نو یقین ئی راغلی چه موسی ع پیغمبر برحق د خدای دي ۔ تفسیر ابو سعود ویلی دي چه مفسرینو ویلی دي چه له قران پاک څخه معلومیږي چه فرعون له دوی سره هغه کار وکړ چه پر ویرولی ئی وو او په حدیث سره دا خبره نه ده ثابته سوي ۱۲ ابن کثیر و فتح و جامع

۳ یعنې هم داسې به کړېږي ځکه چې په حدیث شریف کښې راغلي دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه ویله بیا ئی دا آیت وواېه وئی فرمایل دوزخیان چه دی کافران دوی به نه مری په دوزخ کښې او نه به ددوی ژوندی کاوي مګر هغه کسان چه اهل د دوزخ نه وي یعنې ګنهګاران مسلمانان هغوی به یو وار اور د دوزخ وسوځی سکاره به سي بیا به د هغوی پیغمبران او صالحان سفارش د هغوی وکړي او شفاعت چه ئی قبول سي نو په نهر الحیوة کښې به وا چول سي او وبه لمبول سي او وبه حیږي شین لکه دانه په سیلاب کښې ۱۲

وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنۡ تَزَكّٰى ﴿٧٦﴾ وَلَقَدۡ اَوۡحَيۡنَاۤ اِلٰى مُوۡسٰۤى ۙ اَنۡ اَسۡرِ

او دغه جزا دهغه چا ده چه ځان ئې پاك كړې وي او په يقين وحي كړې وه موږ موسیٰ ته چه روان كړه د شپې

بِعِبَادِىۡ فَاضۡرِبۡ لَهُمۡ طَرِيۡقًا فِى الۡبَحۡرِ يَبَسًا ۙ لَّا تَخٰفُ دَرَكًا

بندګان زما او جوړه كړه ليارۀ دوى لاره په دريا كښې وچه چه نه به ويرېږې ته له رسيدلو د فرعون څخه

وَّلَا تَخۡشٰى ﴿٧٧﴾ فَاَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ بِجُنُوۡدِهٖ فَغَشِيَهُمۡ مِّنَ الۡيَمِّ

او نه به ويرېږې له غرقيدلو څخه نو ورغلي په دوى پسې فرعون سره له لښكرو خپلو نو لاندې كړل دوى له دريا څخه

مَا غَشِيَهُمۡ ﴿٧٨﴾ وَاَضَلَّ فِرۡعَوۡنُ قَوۡمَهٗ وَمَا هَدٰى ﴿٧٩﴾ يٰبَنِىۡۤ

هغه شي چه لاندې ئې كړل دوى او ګمراه كړې وو فرعون قوم خپل او لاره ورته نه وه ښودلې اى اولاده

اِسۡرَآءِيۡلَ قَدۡ اَنۡجَيۡنٰكُمۡ مِّنۡ عَدُوِّكُمۡ وَوٰعَدۡنٰكُمۡ جَانِبَ الطُّوۡرِ

د يعقوب په تحقيق خلاص مو دركړ تاسو ته له دښمن ستاسو څخه او وعده مو وكړه له تاسو سره د كوه طور

الۡاَيۡمَنَ وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ الۡمَنَّ وَالسَّلۡوٰى ﴿٨٠﴾ كُلُوۡا مِنۡ طَيِّبٰتِ

د راسته طرف او نازل مو كړې پر تا من او سلوىٰ خورئ له پاكو

مَا رَزَقۡنٰكُمۡ وَلَا تَطۡغَوۡا فِيۡهِ فَيَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبِىۡ ۚ وَمَنۡ

د هغه څخه چه دركړې مو دي تاسو ته او سركشي مه كوئ په هغه نو نازل به شي په تاسو باندې غضب زما او هر څوك

يَّحۡلِلۡ عَلَيۡهِ غَضَبِىۡ فَقَدۡ هَوٰى ﴿٨١﴾ وَاِنِّىۡ لَغَفَّارٌ لِّمَنۡ تَابَ

چه نازل شو پر ده غضب زما نو په تحقيق چه هلاك سو او بيشكه چه زه خاما بخښونكى يم هغه چا لره چه توبه وكاږي

وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهۡتَدٰى ﴿٨٢﴾ وَمَاۤ اَعۡجَلَكَ عَنۡ قَوۡمِكَ

او ايمان راوړي او عمل وكړي نيك بيا پر سمه لاره روان وي په استقامت سره او څه شي په تلوار راوستلې ته له قوم ستا څخه

يٰمُوۡسٰى ﴿٨٣﴾ قَالَ هُمۡ اُولَاۤءِ عَلٰٓى اَثَرِىۡ وَعَجِلۡتُ اِلَيۡكَ رَبِّ لِتَرۡضٰى ﴿٨٤﴾

اى موسىٰ وويل ده چه دوى دغه دي ورپسې زما او تلوار مې وكړه ما تاته اى ربه زما چه ته راڅخه راضي سې

قَالَ فَاِنَّا قَدۡ فَتَنَّا قَوۡمَكَ مِنۡ بَعۡدِكَ وَاَضَلَّهُمُ السَّامِرِىُّ ﴿٨٥﴾

وويل خداى چه بيشكه موږ په فتنه كښې واچاوه قوم ستا وروسته له تا څخه او ګمراه كړل دوى سامري زرګر

فَرَجَعَ مُوۡسٰۤى اِلٰى قَوۡمِهٖ غَضۡبَانَ اَسِفًا ۚ قَالَ يٰقَوۡمِ اَلَمۡ يَعِدۡكُمۡ

نو راوګرځيدى موسىٰ قوم خپل ته غضبناك افسوس كونكى وويل ده اى قومه زما ايا وعده نه ده كړې له تاسو سره

ـله

روايت دى چه موسىٰ سره له بني اسرائيلو په اوله شپه كښې ووتل او دوى شپږ سوه اويا زره كسان وو نو فرعون په دا خبر سو سره له لښكره په دوى پسې روان سو او لښكر د ده اويا كروړه نو دوى مرګ ته نژدې ور رسيدل چه دوى وډار سو وليدل نو موسىٰ عليه السلام دريابحر قلزم په لكړه باندې ووهه نو دولس لارې پكښې جوړې سوې او دوى په دول پكښې ننوتل او په امن بلې غاړې ته ووتل او فرعونيان پكښې ننوتل نو اوبه ور باندې راواوښتلې او ډوب پكښې ډوب سول ١٢ روح البيان ٢ ابن عباس رضي الله تعالىٰ عنه وايي چه هر كله رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينې طيبې ته راغلى نو يهوديان ئې وليدل چه د عاشورې ورځې روژه نيسي نو له دوى څخه ئې پوښتنه د سبب هغه وكړه دوى ورته وويل چه دا هغه ورځ ده چه موسىٰ عليه السلام ته الله تعالىٰ فتح پكښې وركړې وه په فرعون باندې نو رسول الله وفرمايل چه زما مناسبت له موسىٰ عليه السلام سره له تاسو څخه ډېر دى تاسو اى اصحابو دورځې د عاشورې روژې ونيسى دا حديث شيخين امام بخاري او امام مسلم نقل كړى دى ١٢ ١١ ابن كثير سره روايت دى چه موسىٰ عليه السلام چه ليارۀ د راوړلو د تورات كوه طور ته روان سو او اويا كسان ئې هم له ځانه سره كړل نو دوى له ډېره شوقه د ديدار الهي له دوى څخه مخته سو نو الله تعالىٰ ورته وويل چه وما اعجلك الاية ١٢ منه

رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۚ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ أَمْ أَرَدْتُّمْ أَنْ يَحِلَّ عَلَيْكُمْ

رب ستاسو وعده نیکه نو اوږده شوه پر تاسو باندې وعده او که اراده وکړه تاسو چه نازل سي پر تاسو باندې

غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِي ﴿٨٦﴾ قَالُوا مَا أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ

غضب له طرفه د رب ستاسو نو تاسو مخالفت وکړ تاسو وعدې زما څخه ووېل دوي چه مخالفت نه دی کړی مونږ له وعدې ستا څخه

بِمَلْكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَا أَوْزَارًا مِّنْ زِينَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنَاهَا فَكَذَٰلِكَ

په اختیار خپل سره مګر مونږ بار کړی شوي وو په پیټو له ګېڼو د قوم د فرعون څخه نو وموغورځول هغه نو هم دا رنګه

أَلْقَى السَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾ فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُ خُوَارٌ فَقَالُوا

وغورځوله هغه ګېڼه سامري یعنې په دوکان کښې نو راوویسته دوی لره یو خوسی جسد چه هغه لره آواز وو نو ووېل دوی

هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾ أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ

چه دا معبود ستاسو دی او معبود د موسیٰ هم دی نو ده هیر کړی دی ایا نو نه ویني دوی چه بېرته نه ګرځوي دا خوسی دوی ته

٤ ع ١٣ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾ وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَارُونُ مِنْ

خبره او مالك نه دی دوی لره د ضرر د فع کولو او نه د ګټې رسولو او په تحقیق چه ویلي وو دوي ته هرون ؑ له

قَبْلُ يَا قَوْمِ إِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهِ ۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمَٰنُ فَاتَّبِعُونِي

دې څخه اې قومه زما بیشکه خبره دا ده چه ازمېښت او ستل سوي پر تاسو دي سره د دې او بیشکه رب ستاسو رحمن دی نو اتباع وکړئ زما

وَأَطِيعُوا أَمْرِي ﴿٩٠﴾ قَالُوا لَنْ نَبْرَحَ عَلَيْهِ عَاكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا

او اطاعت وکړئ د حکم زما ووېل دوي چه همېشه به او سو مونږ پر ده باندې ولاړ په عبادت د ده تر څو چه بېرته راسي مونږ ته

مُوسَىٰ ﴿٩١﴾ قَالَ يَا هَارُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوا ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِ

موسیٰ راله کوه طور څخه و ووېل موسیٰ ای هرون څه شي منع کړي ته هغه وخت کښې چه ولیدل دې دوی چه ګمراه سوي دي چه نه اتباع

أَفَعَصَيْتَ أَمْرِي ﴿٩٣﴾ قَالَ يَا ابْنَ أُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِي وَلَا بِرَأْسِي

زما پسې ایا نو نافرماني وکړه تا له حکمه زما څخه و ووېل هرون ای زویه د مور زما مه نیسه ږیره زما او نه ویښته د سر زما

إِنِّي خَشِيتُ أَنْ تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ

بیشکه چه زه وېریدم چه و به وائې راته چه بېلتون دې راوستی په منځ د بني اسرائیلو کښې او ودې نه کتل

قَوْلِي ﴿٩٤﴾ قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَا سَامِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا

خبرې زما ته و ووېل موسیٰ ؑ نو څه کار ستا اې سامریه و ووېل ده چه لیدلي دي ما هغه شی چه نه وو لیدلی دوی

ف١

روایت دي چه بنځو د بني اسرائیلو په وخت د تلو کښې په یوه بهانه سره له بنځو قبطیانو څخه ګېڼې غوښتي وې نو چه فرعون هلاك سو نو دوی له حضرت هرون علیه السلام څخه پوښتنه وکړه چه دا ګېڼې به څه کوو ده ورته وویل چه دا مال د لوټ دي حلال نه دي بهتره دا ده چه دا په یو کوهي کښې واچول سي او وسوزول سي چه موسیٰ علیه السلام راسي بیا به کتل کیږي ١٢ منه رحمه ربه

ف٢

یعني دی ورپسې په کوه طور کښې ګرځي او دی دلې راغلی دی ١٢ منه

ف٣

حضرت موسیٰ علیه السلام او هرون علیه السلام سره سکنې وروڼه وو مګر ده ورته یا ابن أُمّ ځکه وویل چه مهرباني ئې ډېر را باندې راسي ځکه چه مور ډېره مهربانه وي ١٢ ابن کثیر و روح البیان

ف٤

مه نیسه ږیره زما، دا ځکه وویل چه په چپه لاس ئې ږیرې تر ونیښتا او په راسته لاس ئې د سر تر وښتا نو نو وا او ده ډېره قهره ئې را اکښا وه ١٢ تفسیر یسیر

بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ

هغه نو واخستله ما يو موټى خاوره له قدمه د جبرائيل په وخت د غرق د فرعون نو ومى غورځوله دا خاوره په خوسى كښى او همداسى ښكلى كړه

لِىْ نَفْسِىْ ﴿٩٦﴾ قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِى الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ

كړدا كار ما ته نفس زما وويل موسى نو ځه له مونږ نه نو بيشكه چه مقرره سوه تا لره په دې ژوند كښى چه وائى ته هر چا ته مه نژدې كېږه ما ته

وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهٗ ۚ وَانْظُرْ اِلٰٓى اِلٰهِكَ الَّذِىْ ظَلْتَ

او بيشكه دې تا لره ځاى د وعدې چه ورسته به نكړى سى له هغه نه او وګوره دې معبود خپل ته هغه معبود چه ګرزيدلى وې ته د عبادت

عَلَيْهِ عَاكِفًا ۗ لَنُحَرِّقَنَّهٗ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ فِى الْيَمِّ نَسْفًا ﴿٩٧﴾ اِنَّمَآ

ولاړ خامخا به مونږ وسوځو دې بيا به ئى تار په تار كړو په درياب كښى په جلا كولو سره بيشكه دا خبره ده چه معبود ستاسو

اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِىْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۗ وَسِعَ كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾ كَذٰلِكَ

هغه خداى چه نشته بل معبود مګر دى دې چا پيره دى پر هر شى له جهته د علمه همدا رنګه

نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا

بيانوو مونږ پر تا باندې له خبرو د هغه څه چه مخواتير سوى دي او په تحقيق چه دركړى دى مونږ تا ته له نزد خپل څخه

ذِكْرًا ﴿٩٩﴾ مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ فَاِنَّهٗ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ﴿١٠٠﴾

پند هر څوك چه وګرځيدى له ده څخه نو بيشكه چه دى به بار كړى په ورځ د قيامت لوى بار

خٰلِدِيْنَ فِيْهِ ۗ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حِمْلًا ﴿١٠١﴾ يَّوْمَ يُنْفَخُ فِى

هميشه به وى دوى په هغه كښى او بد دى هغه وى لره په ورځ د قيامت له جهته د بار په هغه ورځ چه پو كل به وكړل سى په

الصُّوْرِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ﴿١٠٢﴾ يَّتَخَافَتُوْنَ بَيْنَهُمْ

شپيلۍ كښى او جمع به كړو مونږ كافران په دغه ورځ كښى شين سترګى پټې خبرى به كوى په منځ خپل كښى

اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا عَشْرًا ﴿١٠٣﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ اِذْ يَقُوْلُ اَمْثَلُهُمْ

چه درنګ نه دى كړى تاسو په دنيا كښى مګر لس ورځې مونږ ښه پوهيږو پر هغه چه وائى دوى په هغه وخت كښى چه وائى كامل دوى

طَرِيْقَةً اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا يَوْمًا ﴿١٠٤﴾ ع وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ ٥ ١٥ ١٤

په عقل كښى چه درنګ نه دى كړى تاسو مګر يوه ورځ او پوښتنه كوى دوى له تا څخه له حاله د غرو څخه نو ووايه

يَنْسِفُهَا رَبِّىْ نَسْفًا ﴿١٠٥﴾ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾ لَّا تَرٰى فِيْهَا

ته تار په تار كړى به دى هغه رب زما په تار تار كولو سره نو به پرېږدى دا ځمكه دا ك هوار نه به وينې ته په دې كښى

ف ١

په دنيا كښى به جزا پيدا كړه چه له خلقو څخه به جلا ګرزيدى او دا به ئى په ژبه وويل چه لامساس يعنى له ما سره مه نژدى كيږئ او كه به څوك په خطائى ورسره يو ځاى سو نو د دواړو به في الحال تبه سوه او دويمه وعده د عذاب ورسره سوى ده چه هغه به په اخرت كښى پيدا كړي ١٢ موضح وروح

ف ٢ له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه چا پوښتنه وكړه چه چه صفائى د زړه په څه شى راځى نو رسول الله ص وفرمايل په يادولو د خداى او په ويلو د قران عظيم باندې او په درود ويلو پر ما باندې

نقل دى چه موسى عليه السلام له خداى څخه پوښتنه وكړه چه ما ته داسى وظيفه و ښيه چه تا پرې يادوم الله تعالى ورته وويل چه لا اِلٰه اِلّا الله ووايه ده وويل چه دا كلمه خو هر څوك وائى نو الله تعالى وفرمايل چه كه چيرې اسمانونه او ځمكى په يوه طرف د تلې كښى كيښودل سى او په بل طرف كښى دا كلمه كيښودل سي نو دا كلمه به په هغه ټولو باندې درنه سي ١٢ روح البيان

ف ٣ يعنې اوږد والى د ورځې د قيامت چه وګوري نو د اول عمر به يو ورځ ورته ښكاره سى ١٢ السير

ف ٤ له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه چا پوښتنه وكړه چه دا غرونه به په ورځ د قيامت څه سى نو دا ايت شريف نازل سو چه وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْجِبَالِ الاية ١٢ روح

ف ٥ يعنې بيا به ئى ميده كړي لكه شګه او بيا به باد پر را والوزوي نو محوه به ئى كړي چه څكر د به ئى هم پاته نه سى ١٢

عِوَجًا وَّلَآ اَمْتًا ﴿١٠٧﴾ يَوْمَئِذٍ يَّتَّبِعُوْنَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهٗ ۚ وَخَشَعَتِ

کوږوالی اونه ډېره کی په دغه ورځ به تابعداري وکړي د هغه بلونکي چه نه به وي کوږوالی هغه لره او چپ به سي

الْاَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ فَلَا تَسْمَعُ اِلَّا هَمْسًا ﴿١٠٨﴾ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنْفَعُ

اوازونه خدای لره نو نه به اورې ته مګر اواز (کښهاري) په دغه ورځ به نفع نه کوي

الشَّفَاعَةُ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَرَضِيَ لَهٗ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾ يَعْلَمُ

شفاعت مګر شفاعت د هغه چا چه اجازه وکړي هغه ته رحمن او راضي سوی وي د ده لره د جهته د خبرې نو هېڅ خدای

مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِهٖ عِلْمًا ﴿١١٠﴾ وَعَنَتِ

پوهېږي په هغه چه مخکښې د دوی دي او هغه چه وروسته له دوی دي او چاپېره نه دي اخلوق دي خدای باندې د جهته د علم او ذليل سوه

الْوُجُوْهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّوْمِ ۭ وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾ وَمَنْ

مخونه ژوندي خدای ته چه ولاړ دي تدبير د خلقو باندې او په تحقيق ناامیده سو هغه څوک چه بار ئي کړ ظلم او هغه څوک

يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخٰفُ ظُلْمًا وَّلَا هَضْمًا ﴿١١٢﴾

چه عمل ئي وکړ د نیکو کارو او دی مؤمن وي نو نه به وېرېږي د له ظلم څخه او نه له کمید لو د نیکیو څخه

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا وَّصَرَّفْنَا فِيْهِ مِنَ الْوَعِيْدِ

او هم دا رنګه نازل کړی دی موږ دا قران په عربي ژبه او مکرر بیان کړي دي موږ په ده کښې له وېرولو څخه

لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ اَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿١١٣﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ

چه بنائی دوی ووېرېږي او یا پیدا کړي دا قران دوی لره پوهنه نو لوی دی خدای چه پاچا دی حق دی

وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰٓى اِلَيْكَ وَحْيُهٗ ۡ وَقُلْ

او تلوار مه کوه ته په ویلو د قران مخکښې له دې څخه چه پوره کړل سي تا ته وحي د ده او وایه

رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ﴿١١٤﴾ وَلَقَدْ عَهِدْنَآ اِلٰٓى اٰدَمَ مِنْ قَبْلُ فَنَسِيَ

ای ربه زیات کړه ما له جهته د علم او په تحقيق سره حکم کړی وو موږ ادم ته مخکښې له دې څخه نو هېر سو هغه

وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا ﴿١١٥﴾ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا

او نه کړ پیدا موږ ده لره صبر او یاد کړه هغه چه وویل موږ پرښتو ته چه سجده وکړئ ادم ته نو دوی سجده وکړه

اِلَّآ اِبْلِيْسَ ۭ اَبٰى ﴿١١٦﴾ فَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ اِنَّ هٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا

مګر ابلیس منع وکړه له سجدې کولو څخه نو وویل موږ ای ادمه بیشکه دا ابلیس دښمن ستا دي او د ښځې ستا نو

ناله روایت دی چه اسرافیل علیه السلام به په صخره د بیت المقدس و درېږي او په شپېلۍ به خوله کېږدي او اواز به وکړي ای وراسته شوي هډوکو او نرم شوي پوستو او خور منو او ای ټوټه ټوټه غوښو او ای بند و جلا سوي و الله تعالی ته لپاره د فیصلې کولو حاضر سئ نو دا خبره چه خلق ئې واوري نو له هر ځای څخه به راوغلي او یو به بل خوا ته نه به ګوري ١٢ سرح

راجح قول دا دی چه مراد له بلونکي څخه جبرائیل علیه السلام دی. او بلونکي د شپېلۍ اسرافیل علیه السلام دي او له عوج څخه مراد کوږوالی دي حاصل دا چه هر کله دی خلقو ته اواز د دوی ځای کېدلو وسي نو دوی به منډې وهي او راسته او حبه طرف ته به کتلي نه سي. دا خبره ډېرو مفسرینو خوښه کړې ده ١٢

فتح البیان ٣ له ابی امامه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمایل چه تاسو طلب د اسم اعظم د خدای په دې درېو سورتو کښې کوئ په سورة بقره او سورة ال عمران او سورة طٰه کښې راوی ویلي دي چه شریک نوم د خدای په درې سورتو کښې اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ دی یعنې دا اسم اعظم دي ١٢ روح البیان....

٤ ظلم وی دی هم په ذات او هم په صفاتو کښې ابن عباس ١٢ او د ډېرو سلفو دا معنی خوښه کړې ده ١٢ وحیز ٥ یا معنی دا چه پیدا نکړ موږ ده لره خلاف کول په قصد سره یعنی دا کار ئې په هېره سره کړی وو ١٢ منه ٦ روایت دی چه هر کله جبرائیل ع به ایتونه د قران راوړل او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به ئې ویل نو ده لویری نه هېرېدلو او خطا کېدلو له جبرائیل علیه السلام سره ډېره تلوار کوله نو نازل سو چه وَلَا تَعْجَلْ الاية ١٢

ع ١٦ ١١ ١٥

یسیر

يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقٰى ﴿١١٧﴾ إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَ
ودی نه باسی تاسو دواړه له جنت نه نو په سختئ کښې به ولوېږې نو بیشکه چه دی تا لره چه به وږې کیږې په دې جنت کښې او نه به

لَا تَعْرٰى ﴿١١٨﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِيهَا وَلَا تَضْحٰى ﴿١١٩﴾ فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ
بربنډ ېږې او بیشکه چه ته به نه تږی کیږې په ده کښې او نه به دې ګرمی کیږې نو وسوسه واچوله ده ته

الشَّيْطٰنُ قَالَ يٰٓادَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلٰى ﴿١٢٠﴾
شیطان وئی ویل وے ای آدمه ایا و نه ښیم تا ته په ونه د همیشه والی او پاچاهی چه نه زړه کیږی

فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ
نو خوراک وکړو دواړو له دې ونې نه نو ښکاره شول دوی ته عورتونه د دوی او شروع وکړه دواړو چه پورې کولی په ځان پورې له

وَّرَقِ الْجَنَّةِ وَعَصٰىٓ ادَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى ﴿١٢١﴾ ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ
پاڼو د ونو د جنت نه او نافرمانی وکړه آدم له رب خپل نه نو تیر وتلې بیا خوښ کړو دی رب د ده

فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدٰى ﴿١٢٢﴾ قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ
نو رجوع ئی وکړه په رحمت سره په ده او لاره ئی وښوده ده ته ووېل خدای چه کښته شئ دواړه له جنت نه ټول بعضې ستاسو لپاره د بعضو

عَدُوٌّ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِّنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ
دښمنان دی نو که راغلې تاسو له طرفه زما نه لارښوونکی نو هر چا چه اتباع وکړه د لارښوونکی زما نو ګمراه به نه سی

وَلَا يَشْقٰى ﴿١٢٣﴾ وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهٗ مَعِيشَةً ضَنْكًا
او نه به بدبخته سي او هر څوک چه وګرځیدی له پنده زما نه نو بیشکه ده لره دی معاش تنګ

وَّنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ أَعْمٰى ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيٓ أَعْمٰى وَقَدْ
او راپورته به کړو دی په ورځ د قیامت ړوند وبه وائي دی ای ربه زما ولی دی راپورته کړم زه ړوند او یقین

كُنْتُ بَصِيرًا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذٰلِكَ أَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيتَهَا وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ
وم زه لیدونکی په دنیا کښې به وائی خدای هم دارنګه راغلي وو تا ته ایتونه زمونږ نو هیر کړل تا هغه او هم دارنګه نن ورځ

تُنْسٰى ﴿١٢٦﴾ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي مَنْ أَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ
ته به هم هیر کړل شې وهم دارنګه جزا ورکوو مونږ هغه چا ته چه اسراف کوي یعنی کافران او نه ئی راوړی ایمان په ایتونو د رب خپل

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبْقٰى ﴿١٢٧﴾ أَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ
او خامخا عذاب د اخرت ډیر سخت او پاته کیدونکی دی ایا نو لاره نه ده ښوولې دوی ته دی خبرې چه څومره هلاک کړل مونږ پخوا د دوی نه

ف۱ حضرت آدم علی نبینا و علیه السلام چه خوراک وکړو له دې درختې څخه دا کار په قصد سره نه وو بلکه دا ګمان ئی وکړ چه واشیطان به رښتیا وائي ځکه چه په دروغو قسم پر خدای څوک وا خلی نو ځکه ئی وکړ سو۲ منه ۲ له ابی ابن کعب څخه روایت دئ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به ویل چه پلار ستاسو آدم علیه السلام یو لوړ قد سړی وو لکه درخته د خورما په ویښتانو ئی ډیر وو ئی پټ وو هر کله چه ئی خطائی وکړه نو ئی وزرغستل او په زغاسته کښې پر یوه درخته باندې راغلی نو هغې ونیوی او له ځانه سره ئی کیښوده بیا ورته خپل خدای اواز وکړ چه ای آدمه ته ماڅخه تښتې. ده وویل نه ای ربه بلکه له جهته د شرم له تا څخه ۱۲ روح البیان

ف۲ ابن عباس رضی الله عنه روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه هر چا چه اتباع د قرآن مجید وکړه نو الله تعالی به دی په دنیا کښې له ګمراهی څخه وساتی او په اخرت کښې به ئی له بده حسابه څخه په امن کړي ځکه چه الله تعالی فرمائی فمن اتبع الآیه. دا روایت ابن ابی شیبه او طبرانی او نعیم او ابن مردویه کړی دی ۱۲ فتح

ف۳ یعنی لکه چه تا قرآن شریف او حدیث نبوی تمثالی کړی وه او عمر دی په عبث کارو او بی ځایه قصو کښې مصرف کړی نو نن به ته هم په دوزخ کښې پریښودل سې چه هیڅوک به دې خبر نه اوری او په کښې به ونډ سوی سوځید لی به ئی ۱۲ منه رح

مِّنَ الْقُرُوْنِ يَمْشُوْنَ فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي

لا اهل دي مانو څخه چه دوي به ګرځېدل د هغوئ کښي بېشکه په دې کار کښي نخښي دي یعني لوی عبرت دی څښتنانو

النُّهٰى ۝١٢٨ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَّاَجَلٌ مُّسَمًّى ۝١٢٩ ٧ ع ١٣ ١٦

د عقلونو لره او که نه وې خبره چه مخکې سوې ده له طرفه د رب ستا څخه نو وو به عذاب لازم او نه وې نیټه په نامه کړې سوې

فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ

نو صبر کوه ته په هغه خبرو چه وائي دا کفار او تسبیح وایه یو ځای له حمد سره د رب خپل ۱ مخکې له ختو د لمر څخه

وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ۚ وَمِنْ اٰنَآئِ الَّيْلِ فَسَبِّحْ وَاَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ

او مخکې له پرېوتلو د ده څخه او په بعضي ساعتو د شپې کښي نو تسبیح وایه او په طرفو د ورځې کښي بنائي چه ته به

تَرْضٰى ۝١٣٠ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ

راضي سې او مه اوږدوه دواړه سترګې خپلې هغه شي ته چه فایده ورکړې ده مونږ په هغه سره قسم قسم خلقو ته له دوی څخه

زَهْرَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ڏ لِنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ۭ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ۝١٣١

بنائست د ژوند نژدې لیاره د دې چه وازمیو دوی په هغه کښي او روزي د رب ستا ډېره ښه او باقي پاته کېدونکې ده

وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۭ لَا نَسْـَٔــلُكَ رِزْقًا ۭ نَحْنُ

او امر کوه عیال خپل ته په لمانځه کولو سره او په خپله هم صبر کوه په لمانځه باندې نه غواړو له تا څخه روزي مونږ

نَرْزُقُكَ ۭ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ۝١٣٢ وَقَالُوْا لَوْلَا يَاْتِيْنَا بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ۭ

روزي درکوو تا ته او ښه خاتمه پرهېزګارانو لره ده او وائي دوی چه ولې نه راوړي مونږ ته معجزه له طرفه د رب خپل څخه

اَوَلَمْ تَاْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا فِي الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ۝١٣٣ وَلَوْ اَنَّآ اَهْلَكْنٰهُمْ

ایا نه دي راغلي دوی ته دلیلونه د هغه چه په سپارو مخکنیو کښي وو او که چېرې مونږ هلاک کړي وای دوی

بِعَذَابٍ مِّنْ قَبْلِهٖ لَقَالُوْا رَبَّنَا لَوْلَآ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ

په عذاب سره مخکې له دې قرآن څخه خامخا به ویلي وو دوی ای ربه زمونږ ولې نه دې رالېږلی تا مونږ ته رسول چه اتباع ئې کړې وې مونږ

اٰيٰتِكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ وَنَخْزٰى ۝١٣٤ قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوْا ۚ

د آیتونو ستا مخکې له دې چه ذلیل سوي وای مونږ او شرمنده سوي وای مونږ ووایه چه هر یو انتظار کوونکی دی تاسو هم انتظار کوئ

فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ اَصْحٰبُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهْتَدٰى ۝١٣٥ ٨ ع ١٧

نو ژر دی چه پوه به سئ تاسو چه څوک دي یاران د سمې لارې او څوک دي چه لاره ئې پیدا کړې ده

ـــــــــــــــ

۱ مراد له تسبیح مخکې له ختو د لمر څخه لمونځ د سهار دی او له مخکې د پرېوتو د لمر څخه لمونځ د مازیګر دی. له جریر ابن عبد الله رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه نبي رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو او د څوارلسم سپوږمۍ وه رسول الله ۱ سپوږمۍ ته وکتل وئې ویل چه تاسو به یقیني په رښتیا سره خپل رب وویني لکه چه د غه سپوږمۍ ګورئ شپه وینئ او تاسو ته به د هغه په لیدلو کښي هیڅ تکلیف نه وي که موږ په توان کښي وی چه مخکې له ختلو د لمر څخه او وروسته له بلکه مخکې له لوېدلو ئې هم لمونځ وکړئ بیا ئې آیت کریمه ووایه چه وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ الاية رواه البخاري ومسلم ۱۲ ابن کثیر ۲ ابو رافع نقل کړی دی چه یوه ورځ یو میلمه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلی مګر هیڅ شی موجود نه وو چه هغه ته ئې ورکړي وای نو ئې زه یو یهودي ته ور ولېږلم چه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم وائي چه ماته یو څه اوړه قرض راکړه د رجب تر میاشتې پورې هر کله چه هغه یهودي ته ما داخبره ورسوله نو هغه یهودي راته وویل چه هغه وخت به قرض درکوم چه څه ګرو راسره کېږدي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه زه خو امین د خدای یم په اسمان کښي او امین یم په ځمکه کښي که ده له ما سره قرضداری کړې وای نو ادا کړې به می وه وروسته له هغه ئې خپله زغره لیاره ګرو کولو ور ولېږله نو دا آیت شریف نازل سو چه وَلَا تَمُدَّنَّ الاية ۱۲ ابن کثیر رح ۳ هر کله چه دا آیت شریف نازل سو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به تر اتو میاشتو پورې برابر ور تلی او

د علی کرم الله وجهه ته تشریف راوړي او وائي به ئې کاوه چه الصلوٰة رحمکم الله یعنې لمونځ وکړئ الله تعالی دې پر تاسو رحمت وکړي ۱۲ مسند رحمه الله ب

سُوْرَةُ الْاَنْبِيَآءِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّاثْنَتَا عَشْرَةَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورت الانبیاء مکی دی او یوسل دولس ایته او اووه رکوع دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه دخدای چه بخښونکی دي مهربان دي

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ①

نژدې سو خلقو ته حساب د دوی او دوی په غفلت کښي مخ گرځوونکی دي

مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ وَهُمْ

نه راځي دوی ته هیڅ پند له طرفه د رب د دوی تازه نوی مګر غوږ نیسي دوی هغه ته او دوی

يَلْعَبُوْنَ ② لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ۭ وَاَسَرُّوا النَّجْوَى ۖ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ

لوبې کوي غافل دي زړونه د دوی او پټ کوی مجلسونه هغه کسان چه ظلم ئې کړی دي

هَلْ هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۚ اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ③

چه نه دی دا محمد ص مګر یو بشر په مثل ستاسو ایا نو تاسو راځئ سحر له او تاسو وینئ

قٰلَ رَبِّيْ يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۡ وَهُوَ

وویل پیغمبر ع رب زما پوهیږی په خبره بانديې په اسمان کښي او په ځمکه کښي او دي

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ④ بَلْ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍۭ بَلِ

اوریدونکی دی عالم دی بلکه وائی دوی چه دا قرآن ګډ وډ خوبونه دي بلکه

افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ۚ فَلْيَاْتِنَا بِاٰيَةٍ كَمَآ اُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ ⑤

له ځانه ده جوړ کړی دی بلکه دی شاعر دي نو راوړي دي موږ ته یوه معجزه لکه چه لیږلی سوي وو مخواني پیغمبران

مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ يُؤْمِنُوْنَ ⑥

ایمان نه دی راوړی مخوالد دوی څخه هیڅ اهل دکلي هلاك مو کړل هغوي ایا نو دوی به ایمان راوړي

وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ فَسْئَلُوْٓا

او نه دی لیږلی موږ مخوالد تا څخه مګر سړي چه وحی به مو کوله هغوی ته نو پوښتنه وکړئ تاسو

اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ⑦ وَمَا جَعَلْنٰهُمْ

له اهل کتابو څخه که ئې تاسو نه پوهیږئ ع او نه وو ګرځولي موږ هغوی

ف ۱

حضرت امام قتادة رضی الله تعالیٰ عنه ویلی دي چه اهل مکه و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل چه که چیري دا خبري چه ته ئې کوی حقي وي او ته پردی خوشحاله کیږی چه موږ ستا پیروي وکړو نو ته د صفا غونډئ سره زر کړه. یعني نو بیا به موږ ایمان راوړو نو جبرائیل علیه السلام راغلی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئې وویل که ستا خوښه وي نو دا کار چه دوی ئې طلب کوي وبه سي مګر که ئې بیا هم ایمان نه راوړ نو فی الحال به هلاك سي او که دي خوښه وي نو انتظار ورته وکړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چه زه انتظار ورته کوم نو الله تعالیٰ دا ایت شریف نازل کړ چه مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ الاٰية ۱۲ ۱۲

فتح البيان

ف ۲

یعني که ستاسو یقین پردي خبره نه کیږي نو له عالمانو د یهودو او نصارا وو څخه پوښتنه وکړئ چه کله هم پرښته پیغمبر خلقو ته راغلی ده بلکه پخواني خلق هم تول بني آدم پیغمبران وو. صلوٰت الله تعالیٰ علیٰ نبینا وعلیهم اجمعین ۱۲

منه رح

جَسَدًا لَّا يَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوا خٰلِدِينَ ﴿۸﴾ ثُمَّ
داسې صورت تو نه چه نه به ئې خوړه حوراك او نه وو هغوی همیشه پاته کیدونکی بیا مي

صَدَقْنٰهُمُ الْوَعْدَ فَأَنْجَيْنٰهُمْ وَمَنْ نَّشَآءُ وَأَهْلَكْنَا
رښتینې کړه له هغوی سره وعده او خلاص مو کړل دوی او هغه څوك چه زموږ خوښه وه او هلاك مو کړل

الْمُسْرِفِينَ ﴿۹﴾ لَقَدْ أَنْزَلْنَآ إِلَيْكُمْ كِتٰبًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ ط
اسراف کونکي خامخا په یقین سره نازل کړی دی موږ تاسو ته یو کتاب چه په هغه کښې پند ستاسو دی [1]

ع ۱۰ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿۱۰﴾ وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً
ایا نو تاسو عقل نه لرئ او ډیر هلاك کړی دی موږ له اهل د کلي څخه چه وُو دوئ ظالمان

وَّأَنْشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا اٰخَرِينَ ﴿۱۱﴾ فَلَمَّآ أَحَسُّوا بَأْسَنَآ إِذَا هُمْ
او پیدا کړی دی موږ وروسته له دوی څخه قوم بل نو هر کله چه وبه لیدے هغوی عذاب زموږ نا څاپه دوی به

مِّنْهَا يَرْكُضُونَ ﴿۱۲﴾ لَا تَرْكُضُوا وَارْجِعُوٓا إِلٰى مَآ أُتْرِفْتُمْ فِيهِ
له هغه څخه زغستل مه زغلی او بیرته ورګرځی هغه ته چه معاش درکړی سوی وو په هغه کښې

وَمَسٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْئَلُونَ ﴿۱۳﴾ قَالُوا يٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا ظٰلِمِينَ ﴿۱۴﴾
او کورو خپلو ته بنائی چه له تاسو څخه به پوښتنه وکړل سي وبه ویل هغوی ای هلاکه زموږ بیشکه موږ وُو ظالمان

فَمَا زَالَتْ تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ حَتّٰى جَعَلْنٰهُمْ حَصِيدًا خٰمِدِينَ ﴿۱۵﴾
نو همیشه وه دا دعا د هغوی ترڅو چه وګرځول موږ هغوی رېبلی یخ مړه پراته

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِينَ ﴿۱۶﴾ لَوْ أَرَدْنَآ
او نه دی پیدا کړی موږ اسمان او ځمکه او هغه شیان چه په منځ د دواړو کښې دي لوبې کونکي یو که اراده کړې وای موږ

أَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا لَّاتَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّآ ق إِنْ كُنَّا فٰعِلِينَ ﴿۱۷﴾ بَلْ
چه ونیسو یوه لوبه [3] نو نیولی به مو وه هغه له طرفه خپله څخه که وای موږ کونکي د دی کار بلکه

نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهٗ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ ط وَلَكُمُ
ویشتل کوو موږ په حق [4] سره په باطل باندي نو محوه کړی دا حق باطل نو ناڅاپه دی هلاك وي او تاسو لره دي

الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُونَ ﴿۱۸﴾ وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ط
هلاك له هغه څخه چه بیان ئې کوئ او خاص د هٔ لره دی هغه چه په اسمانو کښې دي او چه په ځمکه کښې دي

[1] مراد په دی کتاب سره قرآن کریم دي حضرت ابوهریره رضی الله تعالیٰ عنه ویلے دي په روایت مرفوع سره چه هر چاچه په کوچنوالي کښې قرآن شریف زده کړ نو دی به ګډ سی له غوښو او وینو د ده سره. او هر چا چه په لویوالی کښې یاد کړ نو دي به ورڅخه هیر سي او دي به ئې بیا بیا یادوی نو د ده لپاره دوه اجره دي ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَّشَآءُ ۱۲ روح

[2] یعنی له هغه عذابه څخه به تښتیدل په تلوار او ملائکې به ئې وهلي لکه چهارپایان نو پرښتو به ورته په طریقه د مسخرو سره وویل چه لَا تَرْكُضُوا الاٰية ۱۲ لیسیر

[3] حضرت حسن رضی الله عنه او قتاده رضی الله عنه او نورو مفسرینو ویلي دي چه مراد له لهوًا څخه په عربي ژبه کښې ښځه ده. امام سدی رحمه الله ویلي دي چه مراد ورڅخه ولد دي یعنی که زموږ د اراده وای چه ښځه یا ولد ځان ته پیدا کړو نو له حورو عینو څخه به مو نیولی وُو یا له پرښتو یا له ځانه څخه چه ستاسو په نظر کښې به نه راتلو ۱۲ جامع وروح وابن کثیر

[4] په حق سره چه ایمان یا اسلام یا قرآن یا مطلق خیر دي. او باطل چه کفر یا شرك یا شیطان یا مطلق شر دی له باطل څخه مو دی الله وساتي آمین ۱۲

وَمَنْ عِنْدَهٗ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَلَا يَسْتَحْسِرُوْنَ ﴿١٩﴾

او هغه پرښتې چه په نزد د ده دي تکبر نه کوي له عبادته د ده څخه او نه ستومانه کيږي

يُسَبِّحُوْنَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُوْنَ ﴿٢٠﴾ اَمِ اتَّخَذُوْٓا اٰلِهَةً مِّنَ

تسبيح وائي له[1] په شپه او په ورځ کښې نه ستړي کيږي ايا نيولي دي دوی نور خدايان له

الْاَرْضِ هُمْ يُنْشِرُوْنَ ﴿٢١﴾ لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا

ځمکې څخه چه دوی به ژوندي کوي مړي که چيرې وای په دې ځمکه وآسمان کښې نور خدايان بې له

اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿٢٢﴾

خدای څخه نو خامخا به وران سوي وو دواړه نو پاکي ده خدای ته چه رب د عرش دی له هغه څخه چه دوی ئې ورته بيانوي

لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُوْنَ ﴿٢٣﴾ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ

پوښتنه نه کيږي له ده څخه د هغه چه کوي ئې دي او له دوی څخه به پوښتنه وکړل سي ايا نيولي دي دوی بې له ده څخه

اٰلِهَةً ۭ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ ۚ هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ وَذِكْرُ

نور خدايان ووايه ته چه راوړئ دليل خپل[2] دا قرآن پند د هغه چا دي چه له ما سره دي او پند

مَنْ قَبْلِيْ ۭ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ الْحَقَّ فَهُمْ

د هغه چا دي چه پخوا او وله ما څخه بلکه ډيرات د دوی نه پوهيږي په حق باندې نو دوی

مُّعْرِضُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا

مخ گرځونکي دي له قرآن څخه او نه دي ليږلي موږ پخوا له تا څخه هيڅ رسول مگر

نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ﴿٢٥﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ

وحي به کوله موږ هغه ته چه بيشکه نسته معبود برحق مگر زه يم نو عبادت کوئ زما او وائي دوی چه نيولي دي

الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ۭ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ لَا يَسْبِقُوْنَهٗ

خدای اولاد پاکي ده ده لره بلکه دوی بندگان دي عزت ورکړي سوي دي نه وړومبی کيږي له ده څخه

بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٧﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

په خبره کښې او دوی په حکم د ده باندې عمل کوي پوهيږي خدای پر هغه چه په مخکښې د دوی دي

وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُوْنَ ۙ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى وَهُمْ مِّنْ

او پر هغه چه شا ته د دوی دي او شفاعت نه کوي دوی مگر هغه چا لره چه راضي وي ور څخه خدای او دوی له

سـ۱ه
تسبيح ويل پرښتو لره داسې دي لکه چه انسان ته غزا خوړل دي فرق ئې داده چه انسان هر وخت خوراک نه سي کولی او پرښتې هر وخت په خپله غزا کښې مصروفې وي. کعب احبار ويلي دي چه تسبيح ويل فرښتو ته داسې دي لکه انسانانو ته ساه کښل ۱۲

سـ۲ه
له جابر رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم دا آيت شريف ووايه او وئې فرمايل چه زه به په خپل امت کښې هغه چا ته شفاعت کوم چه گناه کبيره کوي صلی الله عليه واله واصحابه اجمعين

سـ۳ه
په صحيح بخاري کښې ثابته سوې ده چه پرښتې به په ورځ د آخرت کښې شفاعت کوي حضرت قتاده او مجاهد رضي الله عنهما ويلي دي چه د هغه چا به شفاعت کوي چه لا اله الا الله ئې ويلي وي ۱۲ فتح البيان

سـ۴ه
يعنې له هغه شيانو څخه چه له جنسه د ځمکې څخه وي سره يا سپين زر يا ډبره لرگي چه دي ۱۲ عـ۵ـه
دليل خپل يا عقلي يا نقلي او دواړه ته هيڅ لاره نسته ځکه چه عقلي خو مخکې تېر سوه چه لَوْ كَانَ فِيْهِمَا دي. نقلي دا دي چه هيڅ پيغمبر له توحيد او تنزيه څخه بغير پر بل شي نه دي مامور سوي ۱۲ تفسير لسير

خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ مِّنْ

لہ ویری د دہ څخه ویریدونکی وي اوهغه څوک چه ووائی ویل له دوی څخه چه بیشکه زه معبود یم بی له دہ څخه

ع ۲ ۲۹ ۲

دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۹﴾

نو دغه کس چه دی جزا به ورکړو ده لره دوزخ همدارنګه جزا ورکوو ظالمانو ته ایا نه

اَوَلَمْ يَرَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ كَانَتَا

ګوری هغه کسان چه کافران سوی دي چه بیشکه دا اسمانونه او ځمکه وو دواړه پیوسته

رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ۭ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاۗءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۭ

نو جلا کړل مونږ دوی او ګرزولی دی مونږ له اوبو څخه هر شی ژوندي ایا نو نه

اَفَلَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَجَعَلْنَا فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ

راوړي دوی ایمان او پیدا کړي دی مونږ په ځمکه کښی غرونه محکم چه ونه سوری دا ځمکه

بِهِمْ ۠ وَجَعَلْنَا فِيْهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَّعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۳۱﴾

پر دوی او پیدا کړي دی مونږ په دی ځمکه کښی فراخی لاری بنائی چه دوی لاره پیدا کړی

وَجَعَلْنَا السَّمَاۗءَ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا ښ وَّهُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا

او ګرزولی دی مونږ اسمان چت ساتلی سوی له نږدیلو څخه او دوی له علاموددہ څخه مخ ګرزوونکی دي

مُعْرِضُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ

او دی هغه ذات دي چه پیدا کړی ئی ده شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ هر یو

وَالْقَمَرَ ۭ كُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ

په اسمانانو کښی لامبو وهي یعنې ځي، او نه دی ګرزولی مونږ هیڅ سړی لره پخواله تا څخه

قَبْلِكَ الْخُلْدَ ۭ اَفَا۟ىِٕنْ مِّتَّ فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ ﴿۳۴﴾ كُلُّ نَفْسٍ

همیشه والی ایا نو که ته مړسي نو دوی به همیشه پاته کیدونکی وي هر یو نفس

ذَاۗىِٕقَةُ الْمَوْتِ ۭ وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ۭ وَاِلَيْنَا

څکونکی دی د مرګ او ازمیو تاسو په سختی او په راحت په ازمیلو سره او مونږ ته به

تُرْجَعُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِذَا رَاٰكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا

تاسو بیا راوستل کیږی او هغه وخت چه ووینی تا هغه کسان چه کافران سوی دي نه نیسی تا مګر

سلہ نقل دی چه داؤد علیه السلام خپلی عبادتخانی ته ننوتی نو یو کوچنی چینجی په نظر ور غلی نو په پیدا ئینت د هغه کښی په سوچ کښی سوا او وئی ویل چه د الله تعالی د دی خزی په پیدا کولو کښی څه غرض دی نو الله تعالی هغه چینجی ګویان کړ او وئی ویل ای داود ته خپل نفس په خود بینی کښی وا چولی والله چه زه په دی کوچنی صورت الله تعالی تر تا ډیر یاد وم ۱۲ روح البیان

سلہ ۲ له بی بی عائشی رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چه ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه ننوتی او رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات سوی وو نو ده محمد صلی الله علیه وسلم ښکل کړ او وئی ویل وانبیاه واخلیلاه واصفیاه بیا ئی دا ایت شریف وو ایه وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ اَفَاۡئِنْ مِّتَّ فَهُمُ الْخٰلِدُوْنَ دا روایت امام بیهقی او نورو عالمانو او شمائل ترمذی هم راوړي دي ۱۲ فتح وابن کثیر

سلہ ۳ روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ په ډله د کفارو تیر سو نو ابوجهل پوری وخندل او خپلو ملګرو ته ئی وویل چه وګورئ دا پیغمبر دی د بنی عبد مناف نو نازل سو چه وَاِذَا رَاٰكَ الَّذِيْنَ الایة ۱۲

تیسیر افغانی

هُزُوًا ۭ اَهٰذَا الَّذِيْ يَذْكُرُ اٰلِهَتَكُمْ ۚ وَهُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ
په مسخره سره دا هغه څوک دی چه یادوی خدایان ستاسو بدئ او دوی په یادولو دخدای

هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿٣٦﴾ خُلِقَ الْاِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ۭ سَاُورِيْكُمْ اٰيٰتِيْ
دوی کافران دی پیدا سوی دی انسان له تلواری څخه ردی چه وبه ښیم تاسو ته علامی خپلی

فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿٣٧﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ
نو تلوار مه کوئ د عذاب له ماڅخه او وائی دوی چه کله به وی دا وعده که ئی تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿٣٨﴾ لَوْ يَعْلَمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا حِيْنَ لَا يَكُفُّوْنَ عَنْ
رښتینی که پوهید لی هغه کسان چه کافران سوی دی په هغه وخت کښی چه نه به سی منع کولی له

وُّجُوْهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٣٩﴾
مخو خپلو څخه اور او نه له شاګانو خپلو څخه او نه به له دوی سره مرسته وکړله سی

بَلْ تَاْتِيْهِمْ بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ رَدَّهَا وَلَا
بلکه رابه سی عذاب دوی ته ناڅاپه نو حیران به کړی دوی نو توان به نه لری دوی د رد کولو د هغه او نه به

هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿٤٠﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ
دوی ته انتظار وکړل سی او خامخا په تحقیق ټوکی کړی سوی وی په رسولانو پوری پخواله تاڅخه

فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٤١﴾
نو چاپیره سو پرهغه کسانو باندی چه ټوکی به ئی کولی په دوی پوری هغه چه وو پرهغه به ئی مسخری کولی

قُلْ مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمٰنِ ۭ بَلْ هُمْ
ووایه ته څوک دی هغه چه وساتی تاسو په شپه کښی او په ورځ کښی له رحمٰن څخه بلکه دوی

عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٤٢﴾ اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِّنْ
له یاده د رب خپل څخه مخ ګرځونکی دی ایا سته دوی لره نور خدایان چه منع به کړی دوی له

دُوْنِنَا ۭ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَ اَنْفُسِهِمْ وَلَا هُمْ مِّنَّا
مونږ څخه طاقت نه لری دوی د مرستی د خپل ځان او نه به له دوی سره له مونږ څخه

يُصْحَبُوْنَ ﴿٤٣﴾ بَلْ مَتَّعْنَا هٰٓؤُلَاۗءِ وَاٰبَاۗءَهُمْ حَتّٰى طَالَ عَلَيْهِمُ
ملګرتیا وکړل سی بلکه نفع ورکړی ده مونږ دی کسانو ته او پلارانو د دوی ته تر څو چه اوږده سول پر دوی

ف ١
روایت دی چه نضر ابن حارث به په راتللو د عذاب کښی ډېر تلوار کوله نو نازل سو چه خُلِقَ الْاِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ. بعضو مفسرینو ویلی دی چه له انسان څخه مراد آدم علیه وعلی نبینا السلام دی چه د ده په سر کښی روح واچول سو او لا پښو ته ئی لا نه وو رارسیدلی چه د ده اراده د پورته کیدلو وکړه نو راوغورځید ئی الله تعالیٰ فرمائی انسان تلوار ونکی دی۔

ف ٢
مِنْ عَجَلٍ. له تلواری څخه دا مبالغه ده یعنی دا سی تلواری دی چه ته به وائی عین تلوار دی. لکه چه عرب سخی ته وائی خُلِقَ مِنَ الْكَرَمِ یعنی پیدا دی دا سړی له سخاوت څخه. یعنی ډیر سخی دی ۱۲ تیسیر

ف ٣
ایا نوئی ته خدایان دی. او په دی ام کښی معنی د استفهام انکاری ده یعنی نسته دا سی الهه چه وساتی دوی سوی له مونږ څخه له عذابه څخه که راسی
٣ ع ١٢ ٣
بیا ئی څپله وویل چه طاقت نه لری الخ خدایان د دوی د مرستی له خپلو ځانو سره که څوک بد وړه کوی لکما تول یا نړول یا داسی نور. دوی څه نسی کولی مطلب دا چه څوک خپل ځان نه کښه نه سی ساتلی نو بل ته به څه کښه وساتی ۱۲ تیسیر

ف ٤
دی کفار و د ه کے ته او هم پلارانو د دوی ته په انواع و د نعمتو مال نو دوی په دی غره سو چه همیشه به دا سی او سیږو
۱۲ ۱۲ ۱۲

الْعُمُرُ ۗ اَفَلَا يَرَوْنَ اَنَّا نَاْتِى الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا ۗ
عمره ایا نو نه وینی دوی چه بیشکه مونږ راځو ځمکې ته چه کموودا له طرفو ددی ځنه

اَفَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٤٤﴾ قُلْ اِنَّمَاۤ اُنْذِرُكُمْ بِالْوَحْيِ ۖ وَلَا يَسْمَعُ
ایا نو دوی به غالب سي ووایه ته چه بیشکه خبره دادم چه ویروم تاسو په وحی باندی او نه اوری

الصُّمُّ الدُّعَآءَ اِذَا مَا يُنْذَرُوْنَ ﴿٤٥﴾ وَلَئِنْ مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ
کوڼ بلنه هرکله چه ویرول کیږی دوی او که ورسیږی دوی ته لږ غوندی له

عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ يٰوَيْلَنَاۤ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَنَضَعُ
عذابه د رب ستا ځنه نو به وائی دوی ای هلاکت زمونږ بیشکه مونږ وو ظالمان او کیږدو

الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ۗ
تلې د انصاف لپاره د ورځې د قیامت نو ظلم به نه کیږي په هیڅ نفس باندي د هیڅ شي

وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفٰى بِنَا
او که وی عمل په قدر د دانې د اوربشې نو را به وړو دا او بس یو مونږ

حٰسِبِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ وَضِيَآءً
حساب کونکي او خامخا په تحقیق ورکړی وو مونږ موسیٰ ته او هارون ته کتاب فرق کونکی د حق او د باطل او رڼا

وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ
او پند لپاره د پرهیزګارانو هغه کسان چه ویریږی له رب خپل ځنه په غیب سره او دوی

مِّنَ السَّاعَةِ مُشْفِقُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ ۗ
له قیامت ځنه ویریدونکي دي او دا قرآن پند دی برکتناک دي نازل کړی دی مونږ

اَفَاَنْتُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَاۤ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ
ایا نو تاسو له ده ځنه انکار کونکی یئ او خامخا په یقین ورکړی وو مونږ ابراهیم ع ته لاره د ده

مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ ﴿٥١﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا
پخوا له دی ځنه او وو مونږ په ده باندي عالمان یاد که هغه وخت چه وویل ده پلار خپل ته او قوم خپل ته چه دي

هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ الَّتِيْۤ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ ﴿٥٢﴾ قَالُوْا
دا صورتونه چه تاسو په عبادت د دوی ولاړ یئ ئے وویل هغوی

ع ٤ / ٩

له روایت کړی سوی دی چه داود علیه السلام له خدای ځنه سوال وکړ چه ماته میزان وښایه نو خدای تعالیٰ ورته وښوو چه هره یوه تله ئې دومره غټه وه لکه منځ د مشرق او مغرب نو دی بیهوښه او لوید بیا چه په خود سو نو ئې وویل چه ای الله د چا به دومره توان وي چه دا تله له نیکیو ځنه ډکه کړي نو الله تعالیٰ ورته وویل چه ای داوده هرکله چه زه له بنده ځنه راضی سسم نو په یوه دانه د خرما باندی به دا تله ډکه کړم. په حدیث شریف کښې راغلي دي چه دوه کلمې دي په ژبه اسانې دي درنې دي په میزان کښې ډیری خوښی دي پروردګار ته هغه دا دي چه سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيْمِ ١٢ روح

سه نقل دی چه امام شبلی رح ئې خوب ولیدی ورو سته له وفات کیدلو ځنې ئې پوښتنه وکړه له ده ځنه چه ستا څرنګه حال دي ده وویل چه په اول وار کښی خو دوی ښه ښه حساب راسره وسو. مګر بیائې احسان را سره وکړ او ازاد ئې کړم هر یو مالک له خپل غلام سره هم داسی معامله کوي په مهربانی سره ١٢ ٣ سه

په حدیث شریف کښی راغلي دي چه هغه څوک چه په سینه د ده کښی لږ قرآن هم نه وي یعنې یاد ئې نه وي نو دی داسې دی لکه وران کور په بل حدیث شریف کښې راغلي دی چه تاسو مه کوئ ورکوئ کورونه خپل په شان د قبرو یعنې چه تلاوت د قرآن او ذکر د الله تعالیٰ پکښې نه وي ١٢ روح ٤ سه حضرت علی کرم الله وجهه په یو مجلس باندي تیریدی چه هغوی په شطرنج سره لوبی کولي نو وئې فرمایل مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ الَّتِيْۤ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ بیشکه که یو له

تاسو سکروټه د اور په لاس کښې ونیسي او تر مړکیدلو پورې ئې په لاس کښې نیولي وي دا ښه ده له دې ځنې ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢

وَجَدْنَا آبَاءَنَا لَهَا عَابِدِينَ ﴿٥٣﴾ قَالَ لَقَدْ كُنتُمْ أَنتُمْ

چه پیدا کړي دي موږ پلاران خپل دې لره عبادت کونکي   وویل ده   چه خامخا ئ تاسو

وَآبَاؤُكُمْ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٥٤﴾ قَالُوا أَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ أَمْ

او پلاران ستاسو په ګمراهۍ ښکاره کښې   وویل هغوی ایا راغلې ئې موږ ته په حقه   او که

أَنتَ مِنَ اللَّاعِبِينَ ﴿٥٥﴾ قَالَ بَل رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

ئې ته له لوبو کونکو څخه   وویل ده چه رب ستاسو رب د اسمانو دي او د ځمکې دي

الَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ ﴿٥٦﴾ وَتَاللَّهِ

هغه خدای چه پیدا کړي ئې دي ا   او زه پر دې باندې   له شاهدانو څخه یم   او قسم دي پر خدای

لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُم بَعْدَ أَن تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ ﴿٥٧﴾ فَجَعَلَهُمْ

چه خامخا حیله به جوړه کړم بتانو ستاسو ته وروسته له هغه څخه چه وګرځئ تاسو شا کونکي نو وئي ګرځول هغه

جُذَاذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ﴿٥٨﴾ قَالُوا مَن

ذره ذره ټکړې مګر لوی بت هغوی لره وو بنائي چه دوئ لوی بت ته بېرته راسي یعني مخ واړوي   وویل دوئ چه چا

فَعَلَ هَٰذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿٥٩﴾ قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى

وکړ دا کار پر خدایانو زموږ بیشکه دی له ظالمانو څخه دي   وویل هغوی چه اورېدلي دي موږ له یو ځوان څخه

يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ ﴿٦٠﴾ قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلَىٰ

چه یادول به ئې د بتان چه ویل کېږي هغه ته ابراهیم ع   وویل هغوی چه نو راولئ دی په

أَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ ﴿٦١﴾ قَالُوا أَأَنتَ فَعَلْتَ هَٰذَا

سترګو د خلقو   بنائي چه دوی به شاهدي ورکوي پر ده   وویل هغوی ایا تا کړي دي دا کار

بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ ﴿٦٢﴾ قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا فَاسْأَلُوهُمْ

پر خدایانو زموږ ای ابراهیم ع   وویل ده بلکه کړی دی دا کار مشر د دوئ چه دا دي نو پوښتنه وکړئ له دوی څخه

إِن كَانُوا يَنطِقُونَ ﴿٦٣﴾ فَرَجَعُوا إِلَىٰ أَنفُسِهِمْ فَقَالُوا إِنَّكُمْ أَنتُمُ

که وي دوی چه خبرې کوي   نو رجوع وکړه دوی ځانو خپلو ته   او وویل   چه بیشکه تاسو ئې

الظَّالِمُونَ ﴿٦٤﴾ ثُمَّ نُكِسُوا عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰؤُلَاءِ

ظالمان   بیا نسکور کړل شو هغوی په سرو خپلو   چه خامخا پوه ئې ته   چه نه دي دا کسان

ف۱ ابو هریرة رضی الله تعالی عنه روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه ابراهیم علیه السلام دروغ نه دي ویلي مګر په دریو ځایو کښې دوه ځایه خالص لپاره د خدای ئې دروغ ویلي دي یو دروغ دا وو چه ده وویل چه د بتان ماتولو دي مات کړي بلکه مشر ورته مات کړي دي دویم دا وو چه ده ویلي وو چه اِنِّي سَقِيمٌ یعنی زه ناجوړه یم دا دواړه دالله جل لپاره وو دریم دروغ دا وو چه دی یوه ورځ سره له خپلې ښځې بي بي ساري د یوه ظالم په وطن کښې وا وو په یو ځای کښې میشت سو نو هغه پاچا ته چا وویل چه د لته یو سړی دی ډیره ښائسته ښځه ورسره ده نو ئې په ده پسې خوك ورولیږل نو دی راغلې هغه ورڅخه پوښتنه وکړه چه دا ښځه څوك ده ابراهیم علیه السلام وویل چه دا زما خور ده هغه ظالم وویل چه ته ولاړ سه او خور دي ماته راولیږه او ده راغلې او بي بي صاحبې ته ئې وویل چه دی ظالم ستا پوښتنه را څخه وکړه ما ورته وویل زما خور ده او ورس چه ته وهم نو ګوره چه ما دروغ ثابت نه کړي او په کتاب د خدای کښې زما خور ئې حکم چه په ځمکه کښې له ما او تا څخه سوا هیڅوك مسلمان نسته نو بي بي ئې روانه کړه او هغه ظالم ته ئې بوتلله وچلئ په لماځه باندې شروع وکړه هر کله چه بي بي ساره هغه ظالم ولیدله نو په بد نیت ورپسې را روان سو نو في الحال ځمکې ونیوه وکښل کړ دي ته ئې وویل چه دعا وکړه چه زه خلاص شم او په تا باندې کار نه لرم نو هغې دعا وکړه او دی خلاص سو او بي بي هاجره ئې ورته خادمه ورکړه او راغله ابراهیم علیه السلام ته او د احال ئې ورته بیان کړ رح اه بخاري ومسلم ۱۲ روح وابن کثیر ۲ یعنی دې خلقو له ځانه سره فکر وکړ وئې ویل چه تاسو په خپله ظالمان ئې چه داسې شي پرستش کوئ چه ژبه هم نه لري او داچې د ابي نه

شیان موږ ـ خو کیدار ولي پر بنوول او تاسو ورڅخه ولاړئ چه یو چا مات کړل دا هم ستاسو خپل قصور دی ۱۲ اللّٰهم اغفر لکاتبه ولمن یجهد وبوانسه

يَنْطِقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ

خبرې کوونکي وويل ده ايا نو تاسو عبادت کوئ بې له خدای نه د هغه چه فايده نه رسوي تاسو ته

شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ أُفٍّ لَكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ

د هيڅ شي او نه ضرر رسوي تاسو ته هلاک دې وي تاسو لره او هغه لره چه عبادت ئې کوی بې له خدايه

أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانْصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ

ايا نو تاسو عقل نه لرئ وويل هغوی چه وسوځئ دي او مرسته وکړئ له خدايانو خپلو سره که يئ تاسو

فَاعِلِينَ ﴿٦٨﴾ قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ﴿٦٩﴾

کوونکي د دی کار وويل موږ اي اوره سړه شه يخ او سلامتيا په ابراهيم عليه السلام باندي

وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ ﴿٧٠﴾ وَنَجَّيْنَاهُ وَلُوطًا

او اراده وکړه هغوی په ده د مکر نو وګرځول موږ دوئ تاوانيان او خلاص موو کړه ده لره او لوط ع لره

إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا لِلْعَالَمِينَ ﴿٧١﴾ وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ

هغه ځمکې ته چه برکت موا ايښی و په هغه کښي لپاره د خلقو چه هغه شام دی ط او وبخښو موږ ده ته اسحق

وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً ۖ وَكُلًّا جَعَلْنَا صَالِحِينَ ﴿٧٢﴾ وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً

او يعقوب ع زيات او دا ټول کړل موږ صالحان او وګرځول موږ دوی امامان

يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ

چه لاره به ئې ښووله په حکم زموږ او وحي کړې وه موږ دوئ ته کولو د نيکو کارو او درولو د لمانځه

وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ ۖ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ ﴿٧٣﴾ وَلُوطًا آتَيْنَاهُ حُكْمًا

او ورکولو د زکوة او وو دوی موږ لره عبادت کوونکي او لوط ع ورکړی موو ده ته پيغمبري

وَعِلْمًا وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ تَعْمَلُ الْخَبَائِثَ

او علم او خلاص کړی موو دی له هغه کلي نه چه وو عمل به ئې کاوه د مردارو کارو

إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ فَاسِقِينَ ﴿٧٤﴾ وَأَدْخَلْنَاهُ فِي رَحْمَتِنَا ۖ إِنَّهُ

بيشکه دوئ وو قوم بد فاسقان او داخل کړی موو دی په رحمت خپل کښي بيشکه دی

مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٧٥﴾ وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ

له صالحانو څخه وو او ياد کړه نوح ع هغه چه آواز وکړ ده مخکښي د دوی څخه نو قبول موو کړل ده لره

ع ٥ ٢٥ ٥

ف ١

روايت دی چه هر کله نمرود مشوره د سوځولو وکړه نو ئې په خپل رعيت امر وکړ او لرګي او بوټي ئې پر راټول کړل او يوه لويه چار ديواري ئې جوړه کړه او لرګي ئې پکښې واچول او له پاسه ئې ډير تيل پرتوی کړل بيائې اور ورته کړ او ابراهيم عليه السلام ئې ته وړ ته غاړې او لوڅ بربنډ لاس او پښې ئې ورته وتړلې او په څانګو کښې ئې وا چاوه او ورته ئې وغورځاوه او په هوا کښې جبرائيل عليه السلام ورته راغلي او ورته ئې وويل چه هَلْ لَكَ حَاجَةٌ يعني څه حاجت لري ده وويل أَمَّا إِلَيْكَ فَلَا تا ته خو مي حاجت نشته بيا جبرائيل ورته وويل فَسَلْ رَبَّكَ يعني نو سوال وکړه له رب خپل څخه ده وويل حَسْبِي مِنْ سُؤَالِي عِلْمُهُ بِحَالِي يعني بس دی له سوال زما څخه علم د ده په حال زما او په ټول لار کښې ئې ويل چه حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ نو په برکت د دې هغه اور پر ده د خدای باغ وګرځاوه رسيکچه وائي يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا الآية اي الله د خپل خليل خواص په موږ ګنهګارانو کښې موجود کړه ١٢ تيسير

ف ٢

لپاره د خلقو چه هغه ځمکه د شام ده او يوله برکتو څخه ئې دا دي چه پيغمبران پکښې ډير دي او هم بيا لي وني او اسباب اوسنه د عيش پکښې ډير پيدا دی په فلسطين کښې ديره سوا او لوط عليه السلام په مؤتفکا تو کښې او د دواړو په منځ کښې يوه ورځ لاره وه ١٢ تيسير

ف ٣

يعني نيکوالد ابراهيم او لوط على نبينا وعليهما السلام څخه ١٢

فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿٧٦﴾ وَنَصَرْنٰهُ مِنَ الْقَوْمِ

نو خلاص مو کړ دی او اهل د ده له غمه لویه څخه او مدد کاری مو وکړه له ده سره له قوم د هغه

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فَاَغْرَقْنٰهُمْ

کسانو څخه چه نسبت د دروغو کړی وو دوی آیتونو زمونږ ته بیشکه دوی وو قوم بد نو غرق کړل مونږ دوی

اَجْمَعِيْنَ ﴿٧٧﴾ وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اِذْ يَحْكُمٰنِ فِى الْحَرْثِ اِذْ

ټول او یاد کړه داؤد علیه السلام او سلیمان ع هغه چه دواړو حکم وکړ په کښت کښی چه

نَفَشَتْ فِيْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ ﴿٧٨﴾

څریدلی وی په هغه کښی میږی د یو قوم او وو مونږ حکم د دوی ته حاضر

فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا ؗ وَّسَخَّرْنَا مَعَ

او پوه کړ مونږ په دی حکومت سلیمان او هر یو لاته ورکړی وه مونږ پیغمبری او علم او تابع کړی وو مونږ له

دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ؕ وَكُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿٧٩﴾ وَعَلَّمْنٰهُ

داؤد ع سره غرونه چه تسبیح به ئی ویله او مرغان هم او وو مونږ کوونکی دی کار او ښوولی وو ده ته

صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْۢ بَاْسِكُمْ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ

جوړول د جامو تاسو لره لپاره د دی چه وساتی له ضرره د جنګ څخه ستاسو ایا نو ئی تاسو

شٰكِرُوْنَ ﴿٨٠﴾ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ عَاصِفَةً تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖٓ اِلَى

شکر کښونکی او تابع کړی وو مونږ سلیمان لره باد تند او تیز چه روانیدی په حکم د ده هغه

الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عٰلِمِيْنَ ﴿٨١﴾

ځمکے ته داسی ځمکه چه برکت اچولی وو مونږ په هغے کښی او وو مونږ په هر شی باندی عالمان

وَمِنَ الشَّيٰطِيْنِ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ لَهٗ وَيَعْمَلُوْنَ عَمَلًا دُوْنَ

او له شیطانانو څخه هغه وو چه غوټی به ئی وهلے په دریاب کښی لپاره د ده او کول به ئی نور کارونه بے

ذٰلِكَ ۚ وَكُنَّا لَهُمْ حٰفِظِيْنَ ﴿٨٢﴾ وَاَيُّوْبَ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ

له دی څخه او وو مونږ دوی لره ساتونکے او یاد کړه ایوب ع هغه چه آواز وکړ ده رب خپل ته چه بیشکه زه

مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿٨٣﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَكَشَفْنَا

مسه کړم ضرر او ته بنه رحم کونکی د مهربانو ئی نو قبول مو وکړل هغه لره نو دفع کړ مونږ

له ابو هریرة رضی الله تعالی عنه روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی دی چه په یوه ځنګل کښی دوه ښځی او د دواړو سره ئی ماشوما وه نو یو شرمخ لیوه راغلو او یو هلك ئی وتښتولو هغوی دواړو د فیصلے لپاره داؤد علیه السلام ته راغلے نو داؤد ع هغه پاتی هلك هغه مشری ښځی ته ورکړو مګر کله چه هغه ښځی له محکمی څخه راووتلی او سلیمان علیه السلام هغه راوبللے او وئی ویل چه چلوه راوړئ چه دا هلك تاسو ته نیمی کړم نو هغه کشرے ښځی ورته وویل چه الله دی پر تا رحم وکړی مه ئی نیمی کوه دا د دی لور دی نو سلیمان علیه السلام هغه هلك کشری ښځی ته واخست او کشری ته ئی ورکړو. رواه احمد فی مسنده ١٢ ابن کثیر له روایت دی چه د دوی په زمانه کښے د یو سړی وزو د بل سړی کښت خوړلے و نو داؤد علیه السلام داسی فیصله وکړه چه اوزی دی د کښت مالك واخلی او سلیمان علیه السلام وویل چه نه بلکه دا وزی مالك دی تر بیت او حفاظت د دی کښت وکړی او وزے دی د کښت مالك ته ورکړی او کله چه کښت هغه خپلے حالت ته ورسیږی نو خپلے وزی دی واخلی او کښت دی مالك ته وسپاری نو داؤد علیه السلام د فیصله خوښه کړه او دا حکم ئی منسوخ کړ چه ده کړی وو ١٢

س ٣ ایوب علیه السلام ته په دنیا کښی په الله تعالی هر قسم نعمت ورکړے وو ځمکه مال مریونه زامن ښځی د طبیعت موافقے هر څه ئی ډیر وو او دی شکر گذار وو. ناڅاپه امتحان الهی پرے راغلے اختیار ئی د شیطان پر لاس ورغلے. نو کښت ئی وسوځیدی مال ئی تول هلاك سو او لادئی ټول په یوه وار فات سول او دوستان ورڅخه بیزاره سول او پر بدن ئی دانی راوختلے فقط یوه بی بی رضا ورسره پاته سوی وه چه خدمت ئی ورسره کاوه. بیا ئی څه موده ورسته ادعا وکړه نو هغه اولادئی ئی ورکړ سول او نور هم الله ورکړل او دومره زیات ملخان الله تعالی وربانده راووریدل او ډیرا باد سو ٣

موضح القرآن

مَا بِهٖ مِنْ ضُرٍّ وَّاٰتَيْنٰهُ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً

هغه چه په ده وو له ضرر څخه او ورمو کړه ده ته اهل د ده او په مثل د هغوی سره په رحمت سره له

مِّنْ عِنْدِنَا وَذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ ﴿٨٤﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِدْرِيْسَ وَذَا الْكِفْلِ

نزده زموږ څخه او پند ورکولو لپاره د عبادت کوونکو او یاد کړه اسماعیل ع او ادریس ع او ذا الکفل ع

كُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿٨٥﴾ وَاَدْخَلْنٰهُمْ فِيْ رَحْمَتِنَا ۚ اِنَّهُمْ

ټول دوی له صبر کوونکو څخه وو او داخل کړل موږ دوی په رحمت خپل کښې بیشکه چه دوی

مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَذَا النُّوْنِ اِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ

له صالحانو څخه وو او یاد کړه خاوند د ماهي چه ولاړې په قهر نو ګمان وکړ ده

اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ

چه له سره به تنګي رانه ولو پر ده نو اواز وکړ ده په تیارو کښې داسې چه نشته معبود برحق مګر ته ئې

سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٧﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَنَجَّيْنٰهُ

پاکي ده تا لره بیشکه چه زه وم له ظلم کوونکو څخه نو قبول موو کړل ده لره او خلاصون موو ورکړ ده لره

مِنَ الْغَمِّ ۗ وَكَذٰلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٨٨﴾ وَزَكَرِيَّآ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ

له غمه څخه او هم داسې خلاصون ورکوو موږ مؤمنانو ته او یاد کړه ذکریا ع هغه چه اواز وکړ ده رب خپل ته

رَبِّ لَا تَذَرْنِيْ فَرْدًا وَّاَنْتَ خَيْرُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿٨٩﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ

ای ربه مه پریږده ما یواځې او ته ئې بهتر د میراث اخستونکو نو قبول موو کړل ده لره

وَوَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى وَاَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ ۗ اِنَّهُمْ كَانُوْا يُسٰرِعُوْنَ

او ورمو کړه ده لره یحیی ع او لائقه کړه موږ ده لره ښځه د ده بیشکه دوی وو چه تلوار به ئې کوله

فِي الْخَيْرٰتِ وَيَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا ۗ وَكَانُوْا لَنَا خٰشِعِيْنَ ﴿٩٠﴾

په نیکو کښې او بللو به ئې موږ په مینه او په ویره او وو دوی له موږ څخه ویریدونکي

وَالَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهَا مِنْ رُّوْحِنَا وَجَعَلْنٰهَا

او یاد کړه هغه ښځه (بي بي مریم) چه پاک ئې ساتلې وو اندام خپل نو پو کړل موږ هغې کښې له روح موږ څخه او وګرځوله موږ

وَابْنَهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٩١﴾ اِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۖ وَّاَنَا

دا او زوی د دې نښه د قدرت خپل لپاره د خلقو بیشکه دا چه دی امت ستاسو دي امت یو سره او زه

سله

هر هغه چه ده ته ورپورې وو له مرض او سختۍ څخه یعنې روغ کړ موږ او ورکړ موږ ده ته هغه عیال د ده او زامن او لونړه د ده موږ بېرته ورته شوندي کړل او په مثل یعنې په شمار د دوی له دوی سره نور هم داسې ښځه د ده بېرته ځوانه سوه او اوه ۱۲ من اوه لونړه ئې نور هم پیدا سوه .. او ابن عباس رضی الله تعالی عنه ویلي دي چه اولاد ئې دو چند سوا و هغه زنده سره ئې هم دو چند سوا و ویځ راغله او د سرو زرو ملخ پر ده باندې وورېدل لپاره د رحمت او انعام سوله ده ته ۱۲ لیسیر

ے۲ یعنې که فرضاً ما تاسو څخه اولاد انکړي هم به ته وریت له ما څخه د خپل دین د حفاظت لپاره څه انتظام جوړ کړې ۱۲ منه

ے۳ یعنې لپاره د حمل اخستلو ۱۲

ے۴ دا خبره ثابته سوې ده چه قوم د ابراهیم علیه السلام وروسته له هغه څخه او یا دېرش فرقې سوي دي او قوم د موسی علیه السلام یو او یا او قوم د عیسی علیه السلام دوا او یا فرقې سوې وو او امت د رسول الله صلی الله علیه وسلم به دری او یا فرقې کیږي او ټولې به په اور کښې وی مګر یوه به په جنت وي او دا هغه فرقه ده چه له شریعته د الله او د رسول د ده سره له خپله ځانه هیڅ هم نه کړوي او پابندي د شریعت کوي - او د خپل خواهش پیروي نه کوي ۱۲ ۱۲ ۱۲

روح البیان

رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْنِ ﴿۹۲﴾ وَتَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ ؕ كُلٌّ اِلَيْنَا

رب ستاسو یم نو عبادت کوئ زما او پریکړه دی خلقو کار د دین خپل په منځ خپل کښې ټول به موږ ته

رٰجِعُوْنَ ﴿۹۳﴾ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ

بیاراسی نو هرڅوک چه عمل وکړله نیکو کارو څخه او دی مؤمن وُو نو نسته پټوالی

لِسَعْيِهٖ ۚ وَاِنَّا لَهٗ كٰتِبُوْنَ ﴿۹۴﴾ وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَآ اَنَّهُمْ لَا

کوښښ د ده لره او بیشکه موږ عمل د ده لره لیکونکی یو او حرام دی په هغه کلی باندی چه هلاک کړی موږ وو بیشکه دوی چه به نه سی

يَرْجِعُوْنَ ﴿۹۵﴾ حَتّٰٓى اِذَا فُتِحَتْ يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ

واپس (بیرته به نه سی) موږ ته ترڅو چه خلاص سی یاجوج او ماجوج ته او دوی به له هري

حَدَبٍ يَّنْسِلُوْنَ ﴿۹۶﴾ وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَاِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ

لوړی ځای څخه په تلوار را کښته کیږی او نژدی سوه وعده حقه چه (هغه قرب قیامت دی) نو ناڅاپه نیغي (جګی) به وي

اَبْصَارُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا بَلْ كُنَّا

سترګی د هغه کسانو چه کافران سوی وی ای افسوس دی زموږ په تحقیق چه وُو موږ په غفلت کښې بلکه وُو موږ

ظٰلِمِيْنَ ﴿۹۷﴾ اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ؕ

ظالمان بیشکه چه تاسو او هغه معبودان چه عبادت ئې کوی تاسو بی له خدای څخه خاشاک دی د دوزخ

اَنْتُمْ لَهَا وٰرِدُوْنَ ﴿۹۸﴾ لَوْ كَانَ هٰٓؤُلَآءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا ؕ وَكُلٌّ

تاسو به په ده کښې ننوتونکی ئی که چیری وی دا کسان خدایان نو نه به وُو ننوتی په دوزخ کښې او ټول به

فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۹۹﴾ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّهُمْ فِيْهَا لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۱۰۰﴾

په دې دوزخ کښې همیشه وي وی به دوی لره په دوزخ کښې اواز ونه (زګیروی او فریاد) او دوی به په هغه کښې نه اوری اواز د بل چا

اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنٰٓى ۙ اُولٰٓئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُوْنَ ﴿۱۰۱﴾

بیشکه هغه کسان چه مخکی سوی ده دوی ته له موږ څخه نیکی دغه کسان به له دی دوزخ څخه لیری کړی سوی وي

لَا يَسْمَعُوْنَ حَسِيْسَهَا ۚ وَهُمْ فِيْ مَا اشْتَهَتْ اَنْفُسُهُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۲﴾

نه به اوری دوی شرنګهار د ده او دوی به په هغه معاش کښې چه شوق کیږی ورته د نفسو د دوی همیشه به وي

لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَتَتَلَقّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ هٰذَا

نه به غمجن کوی دوی هغه غم لوئ او ملاقات به کوی له دوی سره پرښتی دا هغه

له حاصل دا چه دا اهلاک سوي خلق به بیا راځي نو نیکه نه سی ترڅو چه یاجوج او ماجوج رانسی یا چه هغه راسی نو به دوی په ورځ د حشر کښې را حاضر سي. د دی قصه په یولسم رکوع د سورة کهف کښې تېره سوې ده ۱۲ منه ۲ له په حدیث شریف کښې را غلي دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو وخت خوبه څخه را پورته سو او مخ مبارک ئې سور وُو ویل ئې چه لا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ عربو له خرابي ده له هغه فتنی څخه چه نژدی را غلې ده یاجوج او ماجوج څخه دومره قدره دیوال سوری سو. او ځپله ګوته مسبحه او ابهام ئې سره کړی کړه راوی وائی چه ما ووېل چه موږ به هلاک یو او حال دا چه په موږ کښې به صالحان موجود وي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل هو هر کله چه مردار ئې زنا، زیات سی رواه بخاری و مسلم ۱۲ ابن کثیر

ع ۶ ۱۸ ۶

۳ اکثرو مفسرینو رحمهم الله ویلي دي چه هر کله دا ایت شریف نازل سو چه اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ اَنْتُمْ لَهَا وٰرِدُوْنَ. نو ابن زبعری رسول الله صلی الله علیه وسلم ته را غلی او ئې ویل چه ای محمد (ص) ته وائی چه عزیرؑ نیک بنده وو عیسیٰؑ نیک بنده وُو بی بی مریمه نیکه وه بیائی وویل چه بیا نو ویل چه تاسو او معبودان به مو خاشاک (لرګی) د دوزخ ئی نو الله تعالی په جواب د هغه کښې دا ایتونه راولیږل چه اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنٰى الاٰیة ابن عباس رضی الله عنهما روایت کړی دی فتح البیان ۴ نه به غمجن کوی دوی هغه ویره ډیره لویه چه دوزخیان دوزخ ته وبلل سي یا چه دروازه د دوزخ بنده سی یا چه مرګ ذبح کړل سي او غږ وسی چه یَا اَهْلَ النَّارِ لَكُمْ خُلُوْدٌ وَّيَا اَهْلَ الْجَنَّةِ لَكُمْ خُلُوْدٌ وَّلَا مَوْتَ

یعنی ای دوزخیانو تاسو به په دوزخ کښې همیشه ئی او ای جنتیانو تاسو به په جنت کښې همیشه ئی او مرګ به تاسو لره نه وي ۱۲ تیسیر

يَوْمُكُمُ الَّذِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ يَوْمَ نَطْوِي السَّمَآءَ
ورځ ستاسو ده چه وې تاسو وعده ئې درسره کیدله ‏ یا دکړه هغه ورځ چه وبه نغاړو موږ اسمان
كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ۚ كَمَا بَدَاْنَآ اَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيْدُهٗ ۚ وَعْدًا
لکه نغښتلو دکاغذ لپاره دلیکلو لکه چه ‏ ابتداء کړې ده موږ د اول پیدا ایښت بیا به ئې اعاده وکړو ‏ وعده ده
عَلَيْنَا ۚ اِنَّا كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۱۰۴﴾ وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُوْرِ مِنْۢ بَعْدِ
پر موږ بانډې بیشکه موږ یو کونکي ددې کار او خامخا په تحقیق لیکلې دي موږ په زبور کښې ورپسته له
الذِّكْرِ اَنَّ الْاَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصّٰلِحُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِنَّ فِيْ
پند نصیحت دا چه بیشکه دا ځمکه به میراث واخلي ‏ بندګان زما چه صالحان وي ‏ بیشکه په
هٰذَا لَبَلٰغًا لِّقَوْمٍ عٰبِدِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً
دې بیان کښې خامخا بس والی دې لپاره دقوم عبادت کونکي ‏ او نه ئې لیږلی موږ ته ‏ مګر رحمت ئې
لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ قُلْ اِنَّمَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ
لپاره دمخلوق ووایه ته چه بیشکه هم دا خبره ده چه وحي کیږي ماته داسې خبره ده چه معبود ستاسو معبود یو دی
فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى
کډ ئې تاسو اسلام راوړونکي نو که وګرځیدل دوی له ایمان راوړلو نو ووایه چه خبر وم تاسو په
سَوَآءٍ ۗ وَاِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ اَمْ بَعِيْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ اِنَّهٗ
برابرې سره او نه پوهیږم زه چه ایا نزدې دي او که لیرې دې هغه شې چه ستاسو سره ئې وعده کیږي بیشکه دا خدای
يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ وَاِنْ
پوهیږي په ښکاره له ‏ خبرې څخه ‏ او پوهیږي په هغه چه پټوئ ئې تاسو ‏ او نه
اَدْرِيْ لَعَلَّهٗ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿۱۱۱﴾ قٰلَ
پوهیږم زه بنائي چه دا وروسته والي دعذاب ازمیښت دې تاسو لره او نفعه ده تر وخته د مرګ پورې ‏ وویل رسول
رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ ۗ وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ الْمُسْتَعَانُ
ای ربه زما حکم وکړه ‏ په حقه سره ‏ او رب زموږ مهربان دی کومک ورڅخه غوښتل شوی دی
عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿۱۱۲﴾ ع
پر هغه چه تاسو ئې بیان کوئ

ع ۷ ‏ ۱۹ ‏ ۷

۵۱
اعاده به ئې وکړو او دا مې په قول شوندې کړه فائده په دې کښې دا ده چه په اول پیدا کولو خو تاسې هم قائل ئې او هغه خو بې مادې او صورته وو او اعاده خو نسبت هغه ته پیراسانه دے نو تاسو ولې ورڅخه منکر ئې. تیسیر.

۵۲ عبدالله ابن عباس رضي الله تعالی عنهما وائی دی چه ورځ وعظ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ته ولاړ وم چه وئې فرمایل بیشکه تاسو به الله تعالی ته ورپسته بې برښډې پښې لوڅ بدنونه او نا سنته. بیائې دا آیت شریف په طریقه د استشهاد ووایه چه کما بدأنا اول خلق نعیده ط رواه احمد رح ۱۲ ابن کثیر

۵۳
ورپسته له ثبت په لوح محفوظ کښې چه اول هلته دا خبره لیکلې وه چه بیشکه ځمکه د جنت یاد شام چه ده میراث به واخلي دا ځمکه هغه بندګان زما چه نیکان دي. یعنې امت محمدي یا عام مؤمنان ۱۲ تیسیر

۵۴
مګر رحمت لپاره د ټول مخلوق انسانان وي که پیریان انسانان نو مؤمنانو ته خو ظاهر دي. او کافرانو ته په دې وجه چه بیخ کنده نه سول لکه نور امتونو په غوښتلو دعذاب سره ۱۲ تیسیر

سُوْرَةُ الْحَجِّ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّعَشْرُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم پر نامه دخدای چه بخښونکی دی مهربان دی

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۚ اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيْمٌ ①

ای خلکو وویریږئ له رب ستاسو څخه بیشکه زلزله د قیامت ده یو شی دی لوی

يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ اَرْضَعَتْ وَتَضَعُ

په هغه ورځ چه ووینئ دا غافله به شي هره تی ورکونکې له هغه ولده چه تی ورکوي او وبه غورځوي

كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى وَمَا هُمْ

هره خاونده د حمل حمل خپل او وبه وینې ته سړی بیهوښه او نه به وي دوئ

بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ② وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ

بیهوښه لیکن عذاب د خدای ډیر سخت دي او بعضې له سړو څخه هغه دی چه جنګ کوي

فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطٰنٍ مَّرِيْدٍ ③ كُتِبَ عَلَيْهِ

په خدای کښې بې له علم څخه او اتباع کوي د هر شیطان سرتیلي سوي چه مقرر سوی ده پر ده

اَنَّهُ مَنْ تَوَلَّاهُ فَاَنَّهُ يُضِلُّهُ وَيَهْدِيْهِ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ④

چه بیشکه هغه کس چه دوستي کوي له ده سره نو بیشکه دی ګمراه کوي هغه او لاره به وښیي هغه ته عذاب د اور ګرم ته

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَاِنَّا خَلَقْنٰكُمْ

ای خلکو که یئ تاسو په شك کښې له بیا ژوندي کېدلو څخه نو بیشکه چه مونږ پیدا کړي مونږ تاسو

مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ

له خاورې څخه بیا له نطفې څخه بیا له توټې د وینې څخه بیا له یوې د غوښې څخه چه پوره پیدا کړی سوې وي

وَّغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۭ وَنُقِرُّ فِي الْاَرْحَامِ مَا نَشَآءُ

او پوره پیدا کړی سوې نه وي لپاره د دې چه بیان وکړو تاسو ته او قرار ورکوو په رحمو کښې هغه څه چه خوښه مونږ وي

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا اَشُدَّكُمْ

تر هغه نیټې نامه کړی سوې پورې بیا را وباسو تاسو واړه بیا چه ورسېږئ تاسو قوت خپل ته

سله
حضرت علقمه او شعبي او ابراهیم رضي
الله عنهم ویلي دي چه دا زلزله به په دنیا
کښې راځي نژدې د قیامته بعضې علماؤ
ویلي دي چه مراد له دې څخه هغه زلزله ده
چه په ورځ د قیامت کښې به پیدا نو کله
واقع سي ورسته له راپورته کیدلو د خلقو
له قبرو څخه ابن جریر دا قول خوښ کړی دی
دی دواړو طرفو ته احادیث موجود دي
عمران ابن حصین رض روایت کړی دی چه رسول
الله صلی الله علیه وسلم په یو سفر کښې و
صحابه کرام هم ورسره وو نو ده دواړه
آیتونه په لوړ آواز سره وویل تر شدید پورې
هر کله چه اصحاب کرامو آواز مبارك د رسول
الله ص واورید نو خپل مرکبونه ئې را تیز کړل دا ګمان
ئې سو چه زلزله فی الحال را غله هر کله چه
رسول الله ص را ورسیدل نو هغه ورته
وویل چه تاسو پوهیږئ چه دا کومه ورځ
ده چه الله تعالی به آدم ته آواز وکړي چه یو
ټولی اور د دوزخ ته روان کړه دئ به
ووائي چه ای خدایه دوی څخه څومره
دي الله تعالی به وفرمائي چه په زرو کښې نو
نهه نوي دوزخ ته پوره الحدیث ۱۲ ابن کثیر
سله۲ روایت دی چه دا آیت نازل سوی دي
په حق د یو لوی به سرکښه کافر کښې چه ده
وویل ای محمده صلی الله علیه وسلم ستا خدای د سرو
زرو دی او که د سپینو او که ستا نې دی په
آخر کښې هغه مردود باندې تکه سته ولوېده
او فی النار و السقر سو والحمد لله علی ذلك ۱۲
سله۳ له عبدالله ابن مسعود رض څخه روایت
دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي
دي چه پیدا ښت د یو له تاسو څخه داسي دي
چه څلوېښت ورځې نطفه وي په رحم کښې
د مور ورپسته هغه بیا علقه وي سي بیا
څلوېښت ورځې هغه وسي بیا څلوېښت
ورځې توټه د غوښې سي بیا الله ج یو فرښته
په څلورو حکمو سره ورته راولیږي چه رزق
عمل اجل او دا ولیکي چه دی به بد وي
او به نیك وي بیا پکښې روح وپو کل سي
روایت د دې حدیث امام بخاری او
امام مسلم رحمهما الله کړی دی ۱۲ ابن کثیر
کتبه اقل الوری عبدالکریم حقاني غفرالله له ولوالدیه

وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا

او بعضې له تاسو څخه هغه دي چه وفات کيږي او بعضې له تاسو څخه هغه دي چه رد کړی شي بد عمر ته لپاره د دې چه

يَعْلَمَ مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ۗ وَتَرَى الْاَرْضَ هَامِدَةً فَاِذَآ

نه پوهيږي دی وروسته له علم څخه په هيڅ شي باندې او وينې ته ځمکه وچه کلکه نو هر کله

اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَاَنْۢبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍۭ

چه نازل کړو مونږ پر دې باندې اوبه نو وښوريږي او وپړسيږي او زرغونه کړي له هر قسم څخه

بَهِيْجٍ ⑤ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَاَنَّهٗ

تازه. دا کار په سبب د دې دی چه بيشکه الله دی حق دی او بيشکه دی ژوندي کوي مړي او بيشکه چه دی

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ⑥ وَّاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا

په هر شي باندې قادر دی له او بيشکه چه قيامت راتلونکی دی. چه نشته هيڅ شك په دې کښې

وَّاَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ⑦ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ

او بيشکه چه خدای به پورته کړي هغه څوك چه په قبرو کښې دي او بعضې له سړو څخه هغه څوك دي چه جنګ کوي

فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ⑧ ثَانِيَ عِطْفِهٖ

په خدای کښې بې له علمه څخه او بې له لارې ښودلو څخه او بې له کتابه روښانه څخه تاوونکی دی د ډډې خپلې

لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۗ لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّنُذِيْقُهٗ

چه ګمراه کوي خلق له لارې د خدای څخه ده لره په دنيا کښې شرمندګي ده او وبه څکو پر ده باندې

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ الْحَرِيْقِ ⑨ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ

په ورځ د قيامت عذاب سوځونکی. دا عذاب په سبب د هغه عمل دی چه مخکې ليږلي وو لاسو ستاسو

وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ⑩ ع وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ

او بيشکه چه خدای نه دی ظلم کونکی په بندګانو باندې او بعضې له خلکو څخه هغه څوك دي چه عبادت کوي

اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ ۚ فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ ۨاطْمَاَنَّ بِهٖ ۚ وَاِنْ اَصَابَتْهُ

په غاړه باندې نو که ورسيږي ده ته نيکي نو ارام وکړي دی په دې عبادت او که ورسيږي ده ته

فِتْنَةُ ۨانْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ۗ ذٰلِكَ هُوَ

سختي نو وګرځي دی په مخ خپل باندې بيرته تاواني شوی دی په دنيا کښې او په اخرت کښې دا کار دا

ع ١٠ ٨

٥١

ابو رزين رضی الله تعالى عنه وئيلي دي چه ماله رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چه دا مړي به بيا څرنګه ژوندي کيږي او مثال ئې په دې مخلوق کښې څرنګه دی نو رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل چه تيريږې په وادي وچ ميدان باندې تير سوي ئې ما ورته وويل هو تير سوی يم بيا ئې راته وويل چه پر هغه ځمکه وروسته له شنيوا او ابادي د هغه څخه تير سوي ئې ما وويل هو ما يا هغه ابادته او شنه ليدلې ده دا ده نو رسول الله صلى الله عليه وسلم او فرمايل چه هم داسې به الله تعالى مړي بيا ژوندي کړي او دا کار لخپوه علامه لپاره د خلقو د دوباره پيدا ايښت مقرره کړې ده رواه احمد ١٢

ابن کثير رح

٥٢

روايت دی چه يو يهودي اسلام راوړی وروسته له هغه څخه سترګې د ده ړندې سوې او مال ئې هم ضائع سو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلی وئې ويل چه زما اسلام مات کړه رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل اسلام څرنګه ماتيږي. هغه ورته وويل چه ما په دې دين کښې هيڅ پيدا نکړل سترګې مې ولاړې مال مې هم ولاړ او اولاد مې هم مړ سو... نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل چه اسلام هم داسې وي لکه کوره چه سره او سپين زر خالص کوي لپاره د ښيري کولو دا ايت په حق د هغه کښې نازل سوی دی چه ومن الناس من يعبد الاية ١٢ منه رحمه الله تعالى

الْخُسْرَانُ الْمُبِينُ ﴿١١﴾ يَدْعُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُ وَمَا لَا

ناوان ښکاره دی (١) عبادت کوی دی بی له خدای څخه د هغه شی چه نه ضرر رسولی شی ده ته او نه د هغه چه نه

يَنْفَعُهُ ذَٰلِكَ هُوَ الضَّلَالُ الْبَعِيدُ ﴿١٢﴾ يَدْعُوا لَمَنْ ضَرُّهُ

نفع ورته رسولی شی دا کار هم دا ګمراهی لیری له حق څخه ۔ عبادت کوی دی د هغه چه ضرر د هغه

أَقْرَبُ مِنْ نَفْعِهِ لَبِئْسَ الْمَوْلَىٰ وَلَبِئْسَ الْعَشِيرُ ﴿١٣﴾ إِنَّ اللَّهَ

ډیر نژدی دی له نفعی د هغه څخه خامخا بد مددګار دی او خامخا بد ملګری دی ۔ بیشکه چه خدای ج

يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ

داخلوی هغه کسان چه ایمان ئی راوړی وی او عمل کوی د نیکو باغونه چه بهیږی به د

تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿١٤﴾ مَنْ كَانَ يَظُنُّ

لاندی د هغه ویالی بیشکه چه خدای ج کوی هغه چه اراده ئی وسی ۔ هغه څوک چه ګمان کوی

أَنْ لَنْ يَنْصُرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى

د دی چه هیڅکله به مرسته و نکړی له ده سره خدای په دنیا کښی او په اخرت کښی نو ودی غوړ زوی یوه رسئ

السَّمَاءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُ مَا يَغِيظُ ﴿١٥﴾

طرف د اسمان ته بیا دی پریکړی نو ودی ګوری چه ایا بوبه زی مکر د ده هغه شی چه دی ئی په قهر کړی دی

وَكَذَٰلِكَ أَنْزَلْنَاهُ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ وَأَنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يُرِيدُ ﴿١٦﴾

او هم دا رنګه نازل کړی دی مونږ دا قرآن ایتونه ښکاره او بیشکه چه خدای لار ښائی هغه چاته چه اراده ئی وسی

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّابِئِينَ وَالنَّصَارَىٰ

بیشکه هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او هغه کسان چه یهودیان دی او ګرځیدونکی له یو دین څخه بل دین ته او نصاری

وَالْمَجُوسَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا إِنَّ اللَّهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ

او مجوسیان او هغه کسان چه شریک ئی پیدا کړی دی بیشکه چه خدای به بیلتون وکړی په منځ د دوی کښی

يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿١٧﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ

په ورځ د قیامت کښی بیشکه چه خدای تعالی په هر شی باندی شاهد دی ۔ ایا نه وینی ته چه بیشکه

اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ

خدای ج ته سجده کوی هغه څوک چه په اسمانو کښی دی او هغه څوک چه په ځمکه کښی دی او لمر

ابن عباس رضی الله تعالی عنه
ویلی دی چه یو سړی به هجرت
کونکی مدینی منوری ته راغلو
د هغه له ښځی څخه به زامن واده
پیدا شوه او اسپه د ده به هم لنګه
سوه نو به ئی وویل چه دا ښه
دین دی او که به ښځه د ده و نه
زیږیده او اسپه به ئی هم لنګه نه
سوه نو به ئی ویل چه دا بد
دین دی نو دا ایت شریف په حق
د دامی کسانو کښی نازل سوی
دی. رواه البخاری رحمه الله
روح و ابن کثیر

٢ له ابن عباس د دی ایت شریف
دامی معنی کړی ده چه د هر چا
دا ګمان وی چه الله تعالی به له
خپل حبیب محمد مصطفی صلی الله علیه
وسلم سره مدد و نکړی نه په
دنیا او نه په اخرت کښی نو هغه
دی ځان په دار کړی او مړ دی
ئی کړی چه ډیره قهر ئی ... حاصل
دا چه الله تعالی له خپل حبیب
او خپل دین سره خامخا مرسته
کوی او ترقی ورکوی او که څوک
پر دی غمجن کیږی نو خپل ځان
دی مړ کړی ځکه ډیره غم څخه ځکه
چه الله تعالی فرمائی چه انا
لننصر رسلنا والذین امنوا
یعنی په یقین مونږ لخپلو سرو لانو
او له هغه کسانو سره چه ایمان
ئی راوړی دی مرسته کوو ١٢
روح و ابن کثیر

٣ له مراد له سجدی څخه په
دی ځای کښی فرمانبرداری
او حکم منل دی. یا مراد و څخه
حقیقی سجده ده. په حدیث شریف
کښی راغلی دی چه تاسو شاګانا
د ګنو مه ممبرونه کوی یعنی
چه هر وخت پر سپاره ئی په بعضی
وختو کښی مرکب له هغه سپاره
څخه پر خدای تعالی یاد وی ١٢ منه ج

وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَآبُّ وَكَثِيرٌ

او سپوږمۍ او ستوري او غرونه او درختې او چارپایان هم او ډیر

مِّنَ النَّاسِ ۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ۗ وَمَن يُهِنِ اللَّهُ

له خلقو څخه او ډیر دي چه ثابت سوی دی په ده باندې عذاب او هر څوک چه سپک ئې کړي خدای

فَمَا لَهُ مِن مُّكْرِمٍ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ ۩ ﴿١٨﴾ هَٰذَانِ خَصْمَانِ

نو نسته ده لره هیڅوک عزت ورکوونکی بیشکه چه خدای کوي هغه کار چه ده خوښ سي دا دواړه دي جګړه کوونکي دي

اخْتَصَمُوا فِي رَبِّهِمْ ۖ فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن

نو جګړه ئې وکړه په رب خپل کښې نو هغه کسان چه کافران سوي دي سکښتل سوي دي دوی لره جامې له

نَّارٍ يُصَبُّ مِن فَوْقِ رُءُوسِهِمُ الْحَمِيمُ ﴿١٩﴾ يُصْهَرُ بِهِ مَا فِي

اور څخه اول کیږي به بالا پر سرو د دوی اوبه ګرمې ویلي کیږي به په دې سره هغه چه په

بُطُونِهِمْ وَالْجُلُودُ ﴿٢٠﴾ وَلَهُم مَّقَامِعُ مِنْ حَدِيدٍ ﴿٢١﴾ كُلَّمَا أَرَادُوا

خیټو د دوی کښې دي او پوستونه د دوی او وي به د دوی لپاره ګرزونه له اوسپنې څخه هر کله چه اراده وکړي دوی

أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ أُعِيدُوا فِيهَا وَذُوقُوا عَذَابَ

د دې چه ووزي له دوزخ څخه له غمه څخه نو بیرته به وګرزول سي دوی په هغه کښې او وڅکئ تاسو عذاب

٢ ع ١٢ ٩

الْحَرِيقِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

د اور سوځونکي بیشکه چه خدای ننباسي هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دی او عمل کوي د نیکو

جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن

باغونو چه بهیږي به لاندې د درختو د هغه بیالې ګینه دار کیږي به په هغه کښې له بامو کانو څخه له

ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٢٣﴾ وَهُدُوا إِلَى الطَّيِّبِ

سرو زرو څخه او په ملغلرو سره او جامې د دوی به په دې باغو کښې ورېښم وي او لارښوونه سوې ده دوی ته پاکې ته

مِنَ الْقَوْلِ وَهُدُوا إِلَىٰ صِرَاطِ الْحَمِيدِ ﴿٢٤﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا

له خبرو څخه او لارښوونه کیږي د دوی ته لارې د خدای ته چه ثنائي ویلي سوی دی بیشکه هغه کسان چه کافران سوي دي

وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِي جَعَلْنَاهُ

او منع کوي خلق له لارې د خدای څخه او له مسجد حرام څخه هغه مسجد حرام چه ګرځولی موږ دی

سله
حضرت ابوذر رضی الله عنه
قسم کړی دی چه دا آیت،
هٰذَانِ خَصْمَانِ اخْتَصَمُوا فِي
رَبِّهِمْ الآية په حق د حضرت
حمزه رض او د وو ملګرو د ده
کښې چه حضرت علي او حضرت
عبیده رضي الله عنهم وو نازل
سوی دي او هم په حق د عتبه
او ملګرو د ده کښې چه شیبه
بن ربیعه او ولید ابن عتبه
نازل سوي دي چه دوی په
ورځ د بدر سره مخامخ سوي
دي او جنګونه ئې سره کړي
دي. حضرت علي کرم الله وجهه
ویلي دي چه لمړی لو څخه به اول
زه په زنګنو باندې و دیږم
په مخکښې د رحمٰن لپاره د جګړې
کولو. قیس رحمه الله تعالیٰ
ویلي دي چه دا آیت په حق د
دوی کښې نازل سوي دي چه
هٰذَانِ اِلَی اٰخِرِهٖ. دوی هغه
کسان دي چه په ورځ د بدر
په جنګ کښې مخامخ سوي وو
د مسلمانانو له طرفه علي رض
او حمزه رض او عبیده رض
وو. او د مشرکانو له طرفه څخه
شیبه ابن ربیعه او عتبه
ابن ربیعه او ولید ابن عتبه
وو. روایت د دی د واړو
حدیثو امام بخاري کړی دی ١١
ابن کثیر سله رحمه الله
نو بیرته به را وګرزول سي
په دې اور کښې په ګذار د
ګرزونو باندې او یا کاله مزل
کښته ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢

لِلنَّاسِ سَوَآءَ ۨالْعَاكِفُ فِيْهِ وَالْبَادِ ؕ وَمَنْ يُّرِدْ فِيْهِ بِاِلْحَادٍۢ

لپاره د خلقو چه برابر دی او سیدونکی په دٙه کښې او لیرې ته راتلونکی او هرچا چه اراده وکړه په دٙه کښې د کږوالي

بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢٥﴾ وَاِذْ بَوَّاْنَا لِاِبْرٰهِيْمَ مَكَانَ

په ظلم نو وبه څکوو مونږ په ده باندې له عذابه دردناکه څخه او یاد کړه هغه چه ښکاره کړو مونږ ابراهیم ته ځای

ع ٣ / ١٠

الْبَيْتِ اَنْ لَّا تُشْرِكْ بِيْ شَيْئًا وَّطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ

د کعبې شریفې چه شریك مه پیدا کوه له ما سره هیڅ شی او پاك کړه کور زما لپاره د طواف کونکو

وَالْقَآئِمِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿٢٦﴾ وَاَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ

او لپاره د او سیدونکو او لپاره د رکوع کونکو سجده کونکو او اواز وکړه په خلقو کښې په حج سره

يَاْتُوْكَ رِجَالًا وَّعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ يَّاْتِيْنَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ ﴿٢٧﴾

چه راځي دوی تا له پیاده کان او سپاره په هر اوښ نګر باندې چه راځي دا اوښان له هرې لارې لیرې څخه

لِّيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ

لپاره د دې چه حاضر سي د اخلاق نفعو د دوی ته او چه یاد کړي دوی نوم د خدای په هغه ورځو معلومو کښې

عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۚ فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا

په هغه باندې چه ورکړي ئې دي دوی ته له بې ژبي چهارپایانو څخه نو خورئ تاسو له هغه څخه او ورکوئ

الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ﴿٢٨﴾ ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ

وږي فقیر ته بیا دې لیرې کړي دوی خیرې خپل او وردې کړي دوی نذرونه خپل

وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿٢٩﴾ ذٰلِكَ ۗ وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ

او طواف دې وکړي په کور ښخواني باندې خبره هم داده او هرچا چه تعظیم وکړ د حکمونو د خدای

فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ؕ وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ اِلَّا مَا يُتْلٰى

نو دا کار خیر دی ده لره په نزد د رب د ده او حلال کړی سوی دي تاسو لره چارپایان مګر هغه چه ویل کیږي

عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ

پر تاسو باندې نو ځان ساتئ له مرداری څخه له بتانو څخه او ځان ساتئ له خبرې

الزُّوْرِ ﴿٣٠﴾ حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ

د دروغ څخه چه مائل ئې غاړه ایښوونکي خدای لره نه ئې مشرکان په ده پورې او هرچا چه شریك ونیوی له خدای سره

ف ١ له بتانو او مرداری څخه تری چاپیره دی اچولی ١٢ روح ف ٢ حضرت ابراهیم علی نبینا و علیه السلام ورسته له جوړولو د کعبې په بوغره باندې ودریدی او اواز ئې وکړ چه ای خلقو راځئ حج ته نو الله تعالی د ده اواز تولو خلقو ته ورساوه تر اوس واحو د ملا ترانوله شا کانو څخه جواب ورکړ چه لبیك د هغه چا چه په قسمت کښې حج وُو د چا یو وار د چا دوه واره د چا زیات ف ٣ ډیر کونه خلق پیاده حج ته راځي مګر فرض هغه وخت دي چه د سوارلی او سیدلو توان ئې وي او که چاته مکه معظمه نژدې وه یا ئې طاقت پیاده مزل کولو وو نو په مذهب د امام مالك پر هغه حج فرض دي ١٢ موضح ف ٤ دا قاعده ده چه هر کله ډنګر په او بده سفر ولاړ سي نو پاته سي نو ځکه الله تعالی وفرمایل چه وعلی کل ضامر الآیه ١٢ ف ٥ یعنې طواف الافاضة دې وکړي چه ورته طواف زیارت هم ویل کیږي دا طواف فرض او رکن د حج دی وخت د ده په لسمه د ذوالحجې ورسته له قربانۍ کولو او جمرو ویشتلو او سر خریلو څخه شروع کیږي ١٢ ف ٦ ویلې سوی دي چه مراد په دې قول د دروغو شاهدي ویل په دروغه سره دي روایت دي چه رسول الله ص فرمایلې دي چه برابر کړې سوې ده شاهدي د دروغو له شرك د خدای سره دا خبر ئې درې ځله وکړ د ډیر تاکید لپاره ١٢ روح ف ٧ هغه احکام د خدای چه هتك د حرمت ئې روا نه دي یا عام په ټولو تکلیفو کښې یا خاص په مناسکو د حج کښې او څوك وائي چه حرمات د خدای دا پنځه دي بیت حرام، مسجد حرام، بلد حرام، مشعر حرام، شهر حرام ١٢ تفسیر لسیر

فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ

نو لکه چې راوغورځېده دی له اسمان څخه نو وتښتاوه دی مرغانو او یا وغورځاوه دی باد

فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴿٣١﴾ ذٰلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَإِنَّهَا مِنْ

په ځای لیری کښې کار هم داسې دي او هر چاچه تعظیم وکړو نخښو د خدای نو بیشکه دا تعظیم له

تَقْوَى الْقُلُوبِ ﴿٣٢﴾ لَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ إِلٰى أَجَلٍ مُسَمًّى ثُمَّ

پرهیزګاری د زړو څخه دي ستاسو تر په دی کښې چارپایانو کښې نفعې تر نیټې ټاکلې نامه کړې سوې پورې بیا

ع ٨ مَحِلُّهَا إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴿٣٣﴾ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِيَذْكُرُوا

ځای د حلال لولو د وی هغه پخوانی کور څخه دي او لپاره د هر یو امت مقرر کړی دی موږ قرباني لپاره د دې چه یاد وي

اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ فَإِلٰهُكُمْ إِلٰهٌ

نوم د خدای په هغه چه ورکړی دي دوی له په بې ژبانو چهارپایانو څخه نو معبود ستاسو معبود

وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ

یو دی نو خاص ده ته غاړه کیږدی او زیری ورکړه عاجزی کوونکو لره هغه کسان چه کله یاد سی نوم د خدای

وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَالصَّابِرِينَ عَلٰى مَا أَصَابَهُمْ وَالْمُقِيمِي

نو ډېر دي زړونه د دوی او صبر کوونکی وي په هغه باندی چه رسیږي دوی ته او درونکی وي

الصَّلٰوةِ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا لَكُمْ

لمانځه او بعضی له هغه چه ورکړی دی موږ دوی ته خیرات کوي او اوښان د قربانی کړل موږ لی دی موږ د لپاره ستاسو

مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيهَا خَيْرٌ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ

له نخښو دین د خدای څخه تاسو ته په دی کښې خیر دي نو یاد وی تاسو نوم د خدای پر دی باندی چه پښې ئې تړلی وي

فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ

نو هر کله چه ولوېدل اړخونه د دوی نو خورئ تاسو له دوی څخه او خوروئ ئې په صبر کوونکی فقیر باندې او په سوال کوونکي باندې

كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٣٦﴾ لَنْ يَنَالَ اللّٰهَ لُحُومُهَا

هم داسې تابع کړی دی موږ تاسو ته دا څاروی ترڅو چه تاسو شکر وکاږئ بالکل به ونه رسیږي خدای ته غوښې د

وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ

دوی لیکن رسیږي ده ته پرهیزګاری له تاسو څخه هم دا رنګ تابع کړی ئې دی دا تاسو لره

ف ١
یعنې په دی قربانیو کښې ستاسو لپاره
قسم قسم فائدې سته چه شیدې
په ئې خورئ سوارئ په ورباندي
کوئ تر وخت د اختر پورې په صحیح
بخاری او مسلم کښې له انس رضی الله
عنه څخه روایت دی چه یو سړی اوښ
له جلب څخه وایسته روان وو او نو
رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته
وویل چه پر سپور سه ده وویل دا
قربانی ده بیا رسول الله صلی ورته
وویل چه پر سپور سه ویلک او یا ویحک
دا کلمې د ترحم دي دوه یا دری وار
ئې ورته وویل ١٢ ابن کثیر
ف ٢ یا معنی دا چه ولاړ وي او پښې
پښه ئې تړلې سوې وي. تکبیر په وخت
د ذبح کښې داسې دی الله اکبر
لا اله الا الله والله اکبر اللهم منک و
الیک. یعنی ای خدایه دا ستا بخښش
او ورکړه ستا ده او موږ په دی
سره نږدیکت غواړو تا ته ١٢ روح البیان
ف ٣ حلال لول د اوښانو په دی قسم
سره سنت دی څکه چه پښې ئې
وتړي او په ولاړ بسم الله پر و وائي
او په چاړه ئې په سینه کښې ووهي
او یا ئې څي (چو) کړي او یا ئې
څملوی او حلال ئې کړي دا هم جائز
دي ١٢ منه رح ف ٤ له ابن جریج رض
څخه روایت دی چه اهل جاهلیت
خلقو به د خپلو قربانیو غوښې او
وینې په کعبه شریفه باندي اچولې نو
اصحابو ١٢ رسول الله صلی الله علیه وسلم
ته وویل چه په دی کار دوی څخه بنه لائق
یو نو الله ج دا آیت نازل کړ چه لن ینال
الله لحومها الآیة. ف ٥ ابن ابی حاتم
په بخاری شریف کښې راغلی دي چه
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی
دي چه بیشکه الله تعالی نظر نه کوي
صورتو او مالو ستاسو ته لیکن نظر
کوي زړونو ستاسو ته ١٢ ١٢ ١٢
تفسیر ابن کثیر

لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ۗ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۷﴾ اِنَّ اللّٰهَ

لپاره د دې چه لوئي ووائی خدای لره پر هغه چه لارښوونه ئی کړې ده تاسو ته او زیری ورکړه نیکی کوونکو — بیشکه چه خدای ج

يُدٰفِعُ عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۗ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُوْرٍ ﴿۳۸﴾ ع

دفع کوی مکر د کفارو له هغه کسانو څخه چه ایمان ئی راوړی دی بیشکه چه خدای دوستی نه کوي له هر خائن ناشکره سړي

اُذِنَ لِلَّذِيْنَ يُقٰتَلُوْنَ بِاَنَّهُمْ ظُلِمُوْا ۗ وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰى نَصْرِهِمْ

اذن ورکړل سوده هغه کسانو ته چه جنګ ورسره کېږي ده دې بیشکه دوی ظلم پرې کړې شوی دی او بیشکه چه خدای د مرستې د دوئي د

لَقَدِيْرُ ۙ ﴿۳۹﴾ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ اِلَّآ اَنْ يَّقُوْلُوْا

خامخا قادر دی — دوی هغه کسان دي چه ایستلي سوي دي له کورونو خپلو څخه — په ناحقه — مګر چه وائی دوی

رَبُّنَا اللّٰهُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ

رب زموږ خدای دی او که نه وای دفع کول د خدای د خلقو بعضي د دوی په بعضو نورو باندې نو خامخا به نړول سوي وو

صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَّصَلَوٰتٌ وَّمَسٰجِدُ يُذْكَرُ فِيْهَا اسْمُ اللّٰهِ كَثِيْرًا ۗ

عبادت خاني د راهبانو او کرجي د نصاراوو او مسجدونه د مسلمانانو چه یادیږي په هغه کښې نوم د خدای ډیر

وَلَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ ۗ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۴۰﴾ اَلَّذِيْنَ

او خامخا مرسته به وکړي خدای له هغه چا سره چه مرسته کوي له دین د ده سره بیشکه چه خدای خامخا غالب دی — هغه کسان دي

اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِى الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَاَمَرُوْا

که چیری ځای ورکړو موږ دوی ته په ځمکه کښې نو سم به ودروی لمونځ او ورکړی به زکات او امر به وکړي

بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ۗ وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿۴۱﴾ وَاِنْ

په نیکي سره او منع به وکړي له ناروا څخه — او خدای لره دی اخیر د ټولو کارو — او که نسبت

يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ وَّعَادٌ وَّثَمُوْدُ ۙ ﴿۴۲﴾ وَقَوْمُ

د دروغو کوی دوی تا ته نو په تحقیق سره نسبت د دروغو کړی و وړاندې د دوی څخه قوم د نوح او عادیانو او ثمودیانو او قوم د

اِبْرٰهِيْمَ وَقَوْمُ لُوْطٍ ۙ ﴿۴۳﴾ وَّاَصْحٰبُ مَدْيَنَ ۚ وَكُذِّبَ مُوْسٰى

ابراهیم علیه السلام او قوم د لوط ع م — او یارانو د مدین ښهر او نسبت د دروغو کړې سوی و و موسیٰ ع م ته

فَاَمْلَيْتُ لِلْكٰفِرِيْنَ ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ ۚ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۴۴﴾ فَكَاَيِّنْ

نو مهلت ورکړ ما کافرانو ته بیا می — ونیول هغوی نو څرنګه وو عذاب زما پر دوی باندي — نو ډیر دی

ع ۵ — ۵۸ — ۱۲

وقف غفران

۱ھ
د الیت شریف نازل سوی دی په حق د اصحابو د رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم کښې چه دوی به رسول اللہ ته راغلل څوک به وهلي سوي و څوک به زخمیان وو د کفارو له لاس څخه او دیر فریاد به ئی پوره وکړ نو هغه به وویل چه تاسو صبر کوی ما ته حکم په جهاد کولو نه دی سوی هر کله چه دوی هجرت وکړ نو اللہ تعالیٰ د ایت د جهاد نازل کړ ۱۲ روح البیان

۲ھ
یعنی که چیری اللہ پاک شر د مشرکانو په هره زمانه کښې له دینداروخلقو څخه دفع کولی نو په هره زمانه کښې به لا سه دمشرکانو څخه عبادتخانی د خدای پرستو برباد سوی وي مګر اللہ تعالیٰ د خپل دین مرسته کوي په مسنه رحمه اللہ

۳ھ
لحضرت ابی موسیٰ اشعری رضی اللہ تعالیٰ عنه نه روایت سوی دی چه رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم به فرمایل چه اللہ تعالیٰ ظالم ته مهلت ورکوی تر څو پوری چه یو وار ئی ونیسی بیائی نه پریږدي بیا رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم ایت تلاوت ووایه چه وكذلك اخذ ربك اذا اخذ القرى وهي ظالمة ان اخذه اليم شديد ۵ رواه مسلم وصحیح البخاری ۱۲
ابن کثیر

مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا

له کلیو نه چه هلاک کړي دي مونږ هغه او هغه ظالمان وو نو هغه لویدلي وي پر چتو خپلو باندي

وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ ﴿٤٥﴾ أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ

او ډیر کوهي دي چه معطل کړی سوي دي او ماڼۍ دي محکمي آیا نو نه ګرځي دوی په ځمکه کښي

فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا

نو وي به دوی لره زړونه چه عقل و کړي دوی پر هغه او یا غوږونه چه اوري دوی پر هغه

فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي

نو شان دادي چه ړندی نه دي سترګي مګر ړانده دي زړونه هغه چه په

الصُّدُورِ ﴿٤٦﴾ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ وَعْدَهُ

سینو کښي دي او تلوار کوي دا کفار له تا څخه په غوښتلو د عذاب او له سره به مخالفت نه کوي خدای د وعدي خپلي

وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾ وَكَأَيِّن

او بیشکه چه یوه ورځ په نزد د رب ستا په مثل د زرو کالو دي چه تاسو ئې شماري او ډیر دي

مِّن قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذْتُهَا ۚ وَإِلَيَّ

له کلیو څخه چه مهلت ورکړی دی هغه ته او هغه ظالمان وو بیا نیولي دي ما هغه او طرف زما ته دي

الْمَصِيرُ ﴿٤٨﴾ قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٩﴾

راتلل د هر چا ووایه ته چه ای سړو بیشکه خبره داده چه زه تاسو ته ویرونکی یم ښکاره

فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ

نو هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دی او عمل کوي دي نیکو سته هغوی لره بخښنه او روزي

كَرِيمٌ ﴿٥٠﴾ وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ

نیکه او هغه کسان چه سعي کوي په آیتو زمونږ کښي چه عاجزونکي وي زمونږ د هغه کسان ملګري

الْجَحِيمِ ﴿٥١﴾ وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِيٍّ إِلَّا

د دوزخ دي او نه دي لیږلي مونږ مخوا له تا څخه هیڅ رسول او نه نبي مګر

إِذَا تَمَنَّىٰ أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِي أُمْنِيَّتِهِ فَيَنسَخُ اللَّهُ مَا يُلْقِي

په هغه وخت کښي چه لوستل به ئې کول نو اچول به شیطان په ویلو د ده کښي نو منسوخ کوي خدای هغه چه غورځوي ئې

ف۱ روایت دی چه مراد په دی کوهي سره کوهی د حضرموت ښهر دی چه هغه قوم د صالح علیه السلام جوړ کړی وُو او دوی به هغه ځای کښي په پروخت استوګنه کړی وه بیا هغوی بت پرسته سول نو الله تعالی ور ته حنظله او صفوان علیهما السلام پیغمبران راولیږل نو هغوی دوي په بازار کښي قتل کړل نو الله تعالی دوی ټول هلاک کړل او بنګلی ئې ټولي ورانی سوي ۱۲ روح البیان

ف۲ نقل دي چه هر کله سورت وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ نازل سو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په حلقه د قریشو باندي په حرم شریف کښي په آرام وایه چه دوی پکښي فکر وکړي او ډیر ئې واوري نو په منځ کښي به ئې توقف کاوه هر کله چه ئې دا آیت شریف ووایه چه أَفَرَأَيْتُمُ اللَّاتَ وَالْعُزَّىٰ وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَىٰ او توقف ئې وکړ نو
٦ شیطان پکښي دا ووایه او کړه چه
ع ١٠ تِلْكَ الْغَرَانِيقُ الْعُلَىٰ وَإِنَّ
١٣ شَفَاعَتَهُنَّ لَتُرْتَجَىٰ. معنی دا چه دا بتان بزرګان دي او د دوی شفاعت ته امید سته. نو مشرکانو دا ګمان وکړ چه دا خبره هم رسول الله ﷺ وکړه نو ډیر خوشحاله سول چه زمونږ د بتانو ئې صفت وکړ هر کله چه په اخیر د صورت کښي رسول الله صلی الله علیه وسلم سره له مومنانو سجده د تلاوت وکړه نو مشرکانو هم ورسره وکړه نو جبرائیل علیه السلام راغلی او دا حال ئې دوی ته بیان کړ نو ډیر غمجن شو نو لپاره د تسلي د ده الله تعالی دا آیتونه نازل کړل حاصل دا چه ته مه پر خپه کیږه دا زمونږ پخوانی طریقه ده ۱۲ روح وابن کثیر

الشَّيْطٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۵۲﴾ لِّيَجْعَلَ

شیطان بیا محکموی خدای ایتونه خپل او خدای عالم دی خاوند د حکمت دی لپاره د دی چه وګرځوی دی

مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْقَاسِيَةِ

هغه چه اچوی ئی شیطان ازمښت لپاره د هغه کسانو چه په زړو د دوی کښی مرض د نفاق وی او چه سخت وی

قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَفِيْ شِقَاقٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۵۳﴾ وَّلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ

زړونه د هغوی بیشکه ظالمان خامخا په مخالفت لیری کښی دی له حق نه او چه پوه سی هغه کسان

اُوْتُوا الْعِلْمَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوْا بِهٖ فَتُخْبِتَ لَهٗ

چه ورکړ سوی دی دوی ته علم چه بیشکه قران حق دی له رب ستا څخه ایمان راوړی دوی پر ده نو نرم سی قران ته

قُلُوْبُهُمْ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۴﴾

زړونه د دوی او بیشکه چه خدای خامخا لار ښوونکی دی هغه کسانو ته چه ایمان ئی راوړی وي لاری سمی ته

وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ

او همیشه به وی هغه کسان چه کافران سوی دی په شک کښی له دی قران څخه تر څو چه راسی دوی ته قیامت

بَغْتَةً اَوْ يَاْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيْمٍ ﴿۵۵﴾ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ؕ

ناڅاپه او یا راشی دوی ته عذاب د ورځی شنډی پاچاهی په دغه ورځ خاص خدای لره به وی

يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ جَنّٰتِ

حکم به کوی په منځ د دوی کښی نو هغه کسان چه ایمان ئی راوړی وی او عمل کوی د نیکو په باغو

النَّعِيْمِ ﴿۵۶﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

د نعمتو کښی به وی او هغه کسان چه کافران سوی دی او نسبت د دروغو کوی ایتونو زمونږ ته نو دغه کسان مقرر دی دوی لره عذاب

مُّهِيْنٌ ﴿۵۷﴾ وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ قُتِلُوْٓا اَوْ مَاتُوْا

سپکوونکی او هغه کسان چه هجرت ئی کړی دی په لاره د خدای کښی بیا قتل کړی سي او یا مړه سی دوی ته

لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللّٰهُ رِزْقًا حَسَنًا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۵۸﴾

نو خامخا به روزي ورکړی دوی ته خدای روزي ښه او بیشکه چه خدای خامخا دی ښه د روزي ورکونکو

لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿۵۹﴾

خامخا به داخل کړی دوی په داسی ځای کښی چه خوښ به کړی دوی هغه او بیشکه چه خدای خامخا عالم دی صبرناک دی

ع ۹ ۱۴

له یعنی نن ورځ په دنیا کښی یو بل دعوه کوی چه زه پاچا یم او په اخرت کښی به هیڅوک نه وی چه دعوه د پاچاهی وکړی نو اواز به وسی چه لمن الملک الیوم لله الواحد القهار. نن چا لره ده پاچاهی خاص خدای لره ده چه یو دی غالب دی ۱۲ روح ۲له روایت دی چه اصحابو رضی الله عنهم وویل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ چه په غزا کښی سره ولاړ سو نو بعضی ورو به زمونږ شهیدان سی او لوی ثوابونه پیدا کړی او که مونږ په خپل مرګ باندی مړه سو نو څه حال به موږ وی نو الله تعالی دا ایت شریف نازل کړ حاصل دا چه مقتول او په خپل مرګ باندی مړ غازی سره برابر دی ۱۲ روح البیان

۳له حلیم دا معنی چه تلوار نه کوی په نیولو د ګنهګار کښی سره له قدرت ئی. روایت دی چه ابراهیم علیه السلام یو سړی په ګناه باندی ولید نو وئی ویل چه ای خدایه دی هلاک کړی بیا ئی دویم ولید بیا ئی ښاو سړی هم ولید نو منو کښته ئی هم سبیرا وکړی نو الله تعالی ورته وویل چه که ما په سبب د هری ګناه څوک هلاک ولی نو په دنیا کښی به هیڅوک نه وو پاته سوی مګر لږ. مونږ مهلت ورکوو ګنهګار ته چه توبه وکا بیا ئی نو قبوله به ئی کړو او که بخښنه ئی و غوښتله نو عذاب به ورځنه وروسته کړو ځکه چه مونږ پوه یو چه دی نه زمونږ له ملک څخه نه وزی. او که نیول راسی نو زمونږ نیول ډیر سخت دی ان بطش ربک لشدید ۱۲ روح البیان

ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوقِبَ بِهٖ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ

کار داسې دي او هغه چا چه عذاب ورکړي په مثل د هغه چه عذاب ورکړي سوی وو ده ته بيا ظلم وکړي شو پر ده باندې

لَيَنْصُرَنَّهُ اللّٰهُ ۗ اِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿۶۰﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ يُوْلِجُ

نو خامخا به مرسته وکړي له ده سره خدای بېشکه چه خدای خامخا عفوه کوونکی او بخښونکی دي دا کار په سبب د دې چه الله ننباسي

الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ

شپه په ورځ کښې او ننباسي ورځ په شپه کښې او بېشکه چه خدای اورېدونکی دي

بَصِيْرٌ ﴿۶۱﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ

ليدونکی دی [۳] دا کار په سبب د دې دی چه بېشکه خدای دی حق دی او بېشکه هغه بتان چه بولي ئې دوی بې

دُوْنِهٖ هُوَ الْبَاطِلُ وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿۶۲﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ

له ده څخه هغه باطل دي او په يقين چه خدای دی لوی مرتبې دی لوی دي او نه وينې ته چه بېشکه

اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۫ فَتُصْبِحُ الْاَرْضُ مُخْضَرَّةً ۗ

خدای نازل کړی دی له اسمانه څخه اوبه نو وګرځي ځمکه تکه شنه تروتازه

اِنَّ اللّٰهَ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ﴿۶۳﴾ ۚ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۗ

بېشکه چه خدای خامخا مهربانه خبردار دی ده لره هغه شيان دي چه په اسمانونو کښې دی او هغه شيان چه په ځمکه کښې دی

ع ۸ ۷ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۶۴﴾ ع اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا

15 او بېشکه چه خدای خامخا دی غني دی ثنا ئې ويلې سوې ده ايا نه وينې ته چه بېشکه خدای تابع کړي دي تاسو ته هغه شيان

فِي الْاَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ ۗ وَيُمْسِكُ السَّمَآءَ

چه په ځمکه کښې دي [۴] او بېړۍ ګرځي په درياب کښې په حکم د ده سره او نيولی ئې دی اسمان

اَنْ تَقَعَ عَلَى الْاَرْضِ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ۗ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ

له دې څخه چه را ولوېږي په ځمکه مګر په حکم د ده سره بېشکه چه خدای پر خلقو باندې خامخا مهربان دی

رَّحِيْمٌ ﴿۶۵﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ اَحْيَاكُمْ ۫ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ۗ

رحمت کوونکی دي او دی هغه ذات دي چه ژوندي کړي ئې ئې تاسو بيا به وژني تاسو بيا به ژوندي کړي تاسو

اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ ﴿۶۶﴾ لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا هُمْ نَاسِكُوْهُ

بېشکه چه انسان خامخا ناشکره دی [۵] لپاره د هر يوه امت مقرر کړي دي موږ طريقې د عبادت چه دوی عمل کوونکی دي پر هغه

سله
روايت دي چه يو وخت مسلمانان په سفر روان وو مشرکان ورته مخکې شول او مياشت د محرم وه چه جنګ کول پکښې حرام وو او مشرکانو له دوی سره جنګ شروع کاوه مسلمانانو ورته قسمونه واخستل مګر هغوی نه و منل جنګ ئې وکړ په اخير کښې مشرکان ذليل سول. دا ايت نازل شو لمنه

سله۲ يعنې هغه قادر مطلق چه ليدونه طرفه کموي شپه او زياتوي ورځ او له بل طرفه په عکس هغه قادر دی په مرسته د مظلوم ۱۲

سله۳ هغه چه په وچه کښې دي له چارپايانو لپاره د سوارلي دپاره

سله۴ حاصل دا چه الله تعالی څخه هيڅ شی پټ نه دی ټول ورته ښکاره دي په لوح محفوظ کښې ئې ليکلي دي. له عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چه الله تعالی اندازې د ټولو مخلوقاتو له پيدا کولو د اسمانونو او ځمکې څخه پنځوس زره کاله مخکې ليکلې وې او مقرر کړي ئې وي. او په هغه وخت کښې عرش د ده پر اوبو باندې وو. او په کتابو د احاديثو کښې يوې بلې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړی دی چه وويلي ئې دی اول له هر څه څخه الله تعالی قلم پيدا کړ بيائې ورته حکم وکړ چه وليکه نو هغه ووېل چه څه وليکم الله تعالی ورته حکم وکړ چه وليکه هغه چه پيدا کوونکی دي. نو قلم جاري سو پر ليکلو د هغه چه تر قيامته به پيدا کيږي ۱۲
تفسير ابن کثير

فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى

نو جګړه دې نه کوي دوئ له تاسره په کار د دین کښې — او بلنه کوه ته رب خپل ته بیشکه ته چه یې خامخا پر لاره

مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾ وَإِن جَادَلُوكَ فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾

سمه باندې یې — او که جنګ کوي دوئ له تاسره نو ووایه ته چه خدای ښه پوهیږي پر هغه چه تاسو یې کوئ

اللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾

خدای تعالی به حکم وکړي په منځ ستاسو کښې په ورځ د قیامت په هغه کښې چه وی — تاسو اختلاف به مو کاوه

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ إِنَّ

ایا نه پوهیږې ته چه بیشکه خدای پوهیږي — پر هغه چه په اسمان کښې دي — او چه په ځمکه کښې دي — بیشکه

ذَٰلِكَ فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾ وَيَعْبُدُونَ

چه دا کار په کتاب کښې دی په یقین — دا کار پر خدای باندې اسان دی — او عبادت کوي دوئ

مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَمَا لَيْسَ لَهُم

بې له خدای څخه د هغه بتانو چه نه دی نازل کړی خدای پر عبادت د هغوی باندې هیڅ دلیل او د هغه چه نشته دوی لره

بِهِ عِلْمٌ ۗ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ

په هغه باندې علم او نشته ظالمانو لره هیڅوك مددګار — او په هغه وخت کښې چه ویل کیږي په دوی باندې

آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ الَّذِينَ كَفَرُوا الْمُنكَرَ ۖ يَكَادُونَ

ایتونه زمونږ ښکاره نو پیژنې ته په مخو د هغه کسانو کښې چه کافران شوي دي انکار — نژدې وي دوی

يَسْطُونَ بِالَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا ۗ قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ

چه حمله وکړي په هغه کسانو باندې چه لولي پر دوی — ایتونه زمونږ ووایه ته ایا نو زه خبر کړم تاسو په بدشی

مِّن ذَٰلِكُمُ ۗ النَّارُ وَعَدَهَا اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ۖ وَبِئْسَ

له دې څخه — اور دی وعده کړې ده د دې خدای له هغه کسانو سره چه کافران شوي دي او بد ځای

الْمَصِيرُ ﴿٧٢﴾ يَا أَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ ۚ إِنَّ ع ٩ ٨ ١٦

دور تلو دی دا دوزخ — ای خلقو بیا نو ومونږ بیان کړی یو مثال نو غوږ ونیسئ ده ته — په یقین

الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ لَن يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا

هغه بتان چه بولئ تاسو بې له خدای څخه له سره به بیا پیدا نکړي دوی یو مچ هم که څه هم جمع سي دوی پیدا کود

ف ١
یعنی اصل د دین همیشه یو رنګ راغلی دی او احکام د هر یوه جلا جلا راغلي دي نو دوئ ولې له تاسره په هر کار کښې اختلاف کوي ١٢
موضح القرآن

ف ٢
په کار د دین کښې یا په ذبح کښې چه مشرکان وائی مسلمانانو ته تاسو خپله وژلې خورئ او د خدای وژلې نه خورئ. نو دا ولې نه خورئ نو ته ورته ووایه چه ستا خپل خدای له دې څخه منع کړې یم چه حلال حیوان بې ذبحې په خپله مړ سي نو هغه ته او ستا امت مه خوری ١٢ منه رحمه الله

ف ٣
بیشکه دا ټول چه ذکر سوي دي په لوح محفوظ کښې لیکلي دي ١٢

اللهم اغفر لکاتبه ولوالدیه ولمن لحق علیهم اجمعین

لَهٗ ؕ وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ؕ ضَعُفَ

هغه ته او که وتښتوي له دوی څخه مچ یو شی نو خلاصی نه کړای سی دا بتان هغه شی له هغه څخه ضعیف دي

الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ ﴿۷۳﴾ مَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

طلب کوونکی او طلب سوی څخه کړی سوی نه دي پېژندلی دوی خدای حق پېژندلو سره د ده بیشکه چه خدای

لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۷۴﴾ اَللّٰهُ يَصْطَفِيْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَّمِنَ

خامخا قوي دی غالب دی خدای تعالی خوښوي له پرښتو څخه رسولان او له

النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ﴿۷۵﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَ

خلکو څخه هم بیشکه چه خدای اورېدونکی دي لیدونکی دي پوهیږي خدای پر هغه چه په وړاندی د دوی دي

مَا خَلْفَهُمْ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۷۶﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

او چه شاته د دوی دي او خاص خدای ته بېرته وګرځول سي ټول کارونه ای هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دي

ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا وَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ

رکوع کوئ سجده کوئ او عبادت کوئ د رب خپل او کوئ تاسو نیکی بنا ئې چه تاسو به

تُفْلِحُوْنَ ﴿۷۷﴾ ۩ السجدة وَجَاهِدُوْا فِى اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ ؕ هُوَ اجْتَبٰىكُمْ

خلاص سئ له عذابه څخه او جهاد کوئ په لاره د خدای کښې حق جهاد د ده سره ده غوره کړي ئې تاسو

وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِى الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ ؕ مِلَّةَ اَبِيْكُمْ

او نه ئې دي مقرر کړي پر تاسو باندي په دین کښې هیڅ سختي لازم شئ له دین د پلار ستاسو

اِبْرٰهِيْمَ ؕ هُوَ سَمّٰىكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ ۙ مِنْ قَبْلُ وَفِيْ هٰذَا

ابراهیم ع م ته د ده نوم ایښی د ه پر تاسو باندي مسلمانان مخکي له دي څخه او په دي قرآن کښې هم

لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى

لپاره د دي چه شي رسول علیه السلام شاهد پر تاسو باندي او چه شئ تاسو شاهدان پر

النَّاسِ ۖۚ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ؕ هُوَ

خلقو باندي نو سم ودروئ لمونځ او ورکوئ زکات او منګلی ښخی کړئ په فضل د خدای باندي

مَوْلٰىكُمْ ۚ فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿۷۸﴾ ع

دی مددګار ستاسو دي نو ښه بادار دی او ښه مددګار دی

۱ه روایت دی چه کفارو د مکي
دا عادت وو چه بتان به ئې په عسلو
او قسم قسم عطرو ولړل او دروازي
د بتخانې به ئې بندی کړې نو مچان به
په سوري یا نو د کوټو کښې ننوتل او
هغه ښات او خوشبوئي به ئې وړی څخه
وخوړل نو هر کله چه مشرکان به څه
وخت ور سته ورغلل نو خوشحال
به سول چه دا شیان دوئ خوړلي
دي نو الله تعالی په بدی د دوی کښې
دا ایت شریف نازل کړ چه وان یسلبهم
الذباب شیئا الآیة ۱۲ روح ۲ه یا
معنی دا چه تعظیم ونکړ دوی د خدای په
حق د تعظیم د هغه سره څکه چه شریکان
ئې ورته مقرر کړل او حال دا چه هغه
واحد احد صمد دی ۱۲ روح ۳ه مراد
له طالب څخه بت دي او مراد له مطلوب
څخه مچ دی یعنی طلب کوونکی او خلاصوونکی
د دې شي هم ضعیف دي او مچ چه
ورڅخه طلب د دې شي ور څخه کیږي هم
ناتوان دی دوا ړه یو برابر دي ۱۲ منه
۳ه لکه اسرافیل، جبرائیل، میکائیل
علیهم السلام ۱۲ ۳ه له عقبه بن
عامر رض څخه روایت دی چه ما له رسول
الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ چه
ایا سورة حج په دوو سجدو سره غوره
کړی سوی دی ده ص وویل هو هر
څوک چه په دی دوو ایتو باندي اغلي
او سجدې ئې ونکړي نو ګویا چه د ه دا ایتونه
پر ئې نه وو ل. رواه احمد وابوداود
ترمذی. په نزد امام شافعي رح په
دې ځای کښې هم سجده سنت ده او
په نزد د امام اعظم رح په دې ایت باندي
سجده نسته. ټولی سجدي په قرآن مجید
کښې پنځلس دي په نزد د امام شافعي
رحمة الله علیه سنت دي او په نزد د امام
اعظم رحمة الله علیه واجب دي ۱۲ ۱۲
ابن کثیر ۶ه ابراهیم علیه السلام ته لو
عرب پلار وو او د نورو مسلمانانو
پلار محمد مصطفی ص دي. او ابراهیم ع
د محمد ص پلار وو نو ګویا ابراهیم علی نبینا
وعلیه السلام د ټولو مسلمانانو پلار سو ۱۲ منه رح

ع ۱۰ ۶ ۱۷

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّثَمَانَ عَشَرَةَ اٰيَةً وَّسِتَّةُ رُكُوْعَاتٍ
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿١﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ﴿٢﴾
په تحقیق خلاص سو مؤمنان هغه چه په لمانځه خپل کښي عاجزي کونکي وي ٢
وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ﴿٣﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ
او هغه کسان چه دوی له عبثو کارو څخه مخ گرزونکي وي او هغه کسان چه دوی زکات لره
فٰعِلُوْنَ ﴿٤﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ﴿٥﴾ اِلَّا عَلٰٓى
ورکونکي وي او هغه کسان چه دوی عورتو خپلو لره ساتونکي وي مګر په
اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ﴿٦﴾ فَمَنِ
ښځو خپلو باندې او یا په هغه مینځو چه مالکان وی ور لره لاسونه د دوی نو بیشکه چه دوی نه دي ملامت کړل سوي نو هغه څوک
ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ﴿٧﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ
چه طلب کوی غیر له دی څخه نو دغه کسان دوی تجاوز کونکي دي له حد څخه او هغه کسان چه دوی امانتو خپلو لره
وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ﴿٨﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿٩﴾ اُولٰٓئِكَ
او وعدې خپلې لره رعایت کونکي وی او هغه کسان چه دوی په لمونځو خپلو باندې ساتنه کوی دغه کسان
هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ﴿١٠﴾ الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿١١﴾
دوی میراث اخستونکي دي او هغه کسان چه په میراث اخلې جنت وی به دوی په هغه کښي همیشه پاته کیدونکي
وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ طِيْنٍ ﴿١٢﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰهُ
او خامخا په تحقیق سره پیدا کړی دی مونږ انسان له خالصي صافې خټې څخه بیا گرزولی دی مونږ دی
نُطْفَةً فِيْ قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ﴿١٣﴾ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ
نطفه په ځای د قراری محکم کښې بیا وگرزوله مونږ دا نطفه توته د وینی بیا مو وگرزوله هغه توته
مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوْنَا الْعِظٰمَ لَحْمًا ثُمَّ
بوټۍ د غوښي نو وگرزوله مونږ هغه بوټۍ هډوکی نو وا غوستل مونږ په هغه هډوکی باندې غوښه بیا
اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ ﴿١٤﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ
پیدا کړ مونږ دی په پیدایښت بل سره نو ډیر برکتی دی خدای چه ډیر ښه پیدا کونکو دي ٣ بیا بیشکه تاسو چه ئې

١ نصاب او اندازه د زکات د ورکولو په مدینه منوره کښي مقرر سوی دی او وجوب د نفس زکات په مکه معظمه کښي مقرر سوی وُو نو دفع د اعتراض سوه چه دا سورت مکے دی او زکات په مدینه منوره کښي فرض سوی دی ١٢ منه رح
٢ حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه په مرفوع روایت سره ویلی دي چه هر کله الله تعالیٰ جنت پیدا کړ نو وئې ویل چه وایه نو هغه وویل چه قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلٰوتِهِمْ خٰشِعُوْنَ. رواه البیهقی ١٢ روح ٣ ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما معنیٰ د خشوع په ویره سره کړی ده هم دا رنګه له مجاهد او له حسن او له قتادة او له زهری رضی الله عنهم څخه هم دا خبره مروی ده. علی کرم الله وجهه ویلی دی چه له خشوع څخه ویره د زړه مراد ده دا قول د ابراهیم او د حسن بصری هم دي. علامه د ویرې د زړه دا ده چه سترګی کښته ونیسی او پورته نه کوړ ے. محمد ابن سیرین رح ویلی دي چه اصحابو د رسول الله صلی الله علیه وسلم به په لمانځه کښي اسمان ته کتل هر کله چه دا آیت نازل سو چه قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلٰوتِهِمْ خٰشِعُوْنَ. نو هغوی به بیا خای د سجدې ته کتل ١٢ ابن کثیر ٣ چه ډیر ښائسته صورت سره دا انسان پیدا کونکی دي. فائده: د تعجب ځای دا چه الله تعالیٰ دا ټول موجودات چه ځمکی، عرش، اسمانونه، کرسی، لوح، قلم، جن، پرښتي، لمر، سپوږمۍ، ستوري، غرونه، درختی، بیالی او اسی نور ټول په ښایسته سره پیدا کړل او په هغوی هم دا ثنا په ذات خپل ونه ویله لکه په پیدا کولو د انسان نو له دی څخه معلومه سوه چه انسان ورته ډیر معززدي ځکه چه ویلی ئې دی چه وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ الاية ١٢ تیسیر

بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ ⑮ ثُمَّ اِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ ⑯ وَلَقَدْ

وروسته له دې کاره مره کېدونکي ئې بيا به تاسو په ورځ د قيامت پورته کېږئ او خامخا په تحقيق

خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ ۖ وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ⑰

پيدا کړي دي مونږ اوه طبقه (يعنې اسمانونه) او نه يو مونږ له خلقو څخه ناخبره

وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَاَسْكَنّٰهُ فِى الْاَرْضِ ۖ وَاِنَّا عَلٰى

نازل کړي دي مونږ له اسمان څخه اوبه په اندازه نو ودرولې مونږ دا اوبه په ځمکه کښې او بېشکه چه مونږ په

ذَهَابٍۢ بِهٖ لَقٰدِرُوْنَ ⑱ فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ بِهٖ جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ

بېولو دې اوبو باندې خامخا قادر يو نو پيدا کړي دي مونږ تاسو لره په دې اوبو سره باغونه له خرماو څخه

وَّاَعْنَابٍ ۘ لَكُمْ فِيْهَا فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ⑲ وَشَجَرَةً

او له انګورو څخه ستاسو لره په دې باغو کښې مېوې ډېرې او بعضې له هغه څخه تاسو خورئ او پيدا مو کړه ونه

تَخْرُجُ مِنْ طُوْرِ سَيْنَآءَ تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْاٰكِلِيْنَ ⑳

چه راوځي له کوه طور څخه چه سينا نسته دی چه زرغونېږي په تېلو سره او کټ دی لپاره د خوړونکو

وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِىْ بُطُوْنِهَا وَلَكُمْ

او بېشکه ستاسو لره په چارپايانو کښې عبرت څښوو مونږ تاسو له هغه شيدو څخه چه په ګېډو د دوی کښې دي او د تاسو لره

فِيْهَا مَنَافِعُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ㉑ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ

په دوی کښې فايدې ډېرې او بعضې له دوی څخه خورئ تاسو او پر دوی باندې او په بېړئ باندې

تُحْمَلُوْنَ ㉒ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا

تاسو باړېږئ او خامخا په تحقيق لېږلی وو مونږ نوح ع قوم خپل ته نو وويل ده اې زما قومه عبادت کوئ

اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ㉓ فَقَالَ الْمَلَؤُا الَّذِيْنَ

د خدای نسته تاسو لره هېڅ محبوب بر حق بې له ده څخه ايا نو نه وېرېږئ له خدای څخه نو وويل هغه ډلې

كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ يُرِيْدُ اَنْ يَّتَفَضَّلَ

چه کافران سوي و له قومه د ده څخه چه نه دی دی مګر يو سړی په مثل ستاسو چه اراده لري چه مشر سي

عَلَيْكُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً ۖۚ مَّا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِىْٓ اٰبَآئِنَا

پر تاسو باندې او که اراده سوی وای د خدای نو خامخا نازل کړي به وی پرښتې نه دی اورېدلې مونږ دا خبره په پلرانو زمونږ کښې

ف ۱

عکرمه له ابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روايت کړی دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي چه الله تعالی له جنت څخه پينځه بيالی ويالی را ګښته کړي دي جيحون، سيحون، فرات، نيل دجله دا پنځه دريابونه الله تعالی له يوې چينې څخه چه په بيخ د کښته جنت کښې دي نازل کړي دي په وزرو د جبرائيل عليه السلام باندې او ئې په غرو کښې امانت کېښوول بيائې جاري کړل لپاره د فائدې د خلقو لکه چه الله تعالی فرمائي وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَاَسْكَنّٰهُ فِى الْاَرْضِ. هر کله چه بيا ياجوج ماجوج راسي نو الله ج به جبرائيل عليه السلام راولېږي او له ځمکې څخه به قرآن و خيرونه او علم به هم پورته کړي او حجر اسود او مقام ابراهيم عليه السلام او تابوت د موسی عليه السلام سره له تبرکاتو او دا پنځه دريابونه لکه چه الله فرمائي وَاِنَّا عَلٰى ذَهَابٍۢ بِهٖ لَقٰدِرُوْنَ. نو هر کله چه دا شيان له ځمکې څخه ولاړ سي نو دا به بالکليه بې برکته پاته سي دا حديث حسن دی کما فی بحر العلوم ۱۲ روح البيان

ف ۲

يعنې په ورو ويښتانو او په پشمو د هغه کښې قسم قسم فائدې دي ستاسو لپاره نو له دې څخه عبرت حاصل کړئ او د خدای تعالی شکريه ادا کړئ ۱۲ روح البيان،

وقف لازم

ع ۲۲

الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۴﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلٌۢ بِهٖ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوْا بِهٖ حَتّٰى

چه مخکنی وُو ۱ نه دی دی مګر یو سړی دی چه پر ده لیونتوب دی نو انتظار کوئ ده ته تر وخته

حِيْنٍ ﴿۲۵﴾ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِىْ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿۲۶﴾ فَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِ اَنِ

د مرګ پورې وویل ده اے ربه زما مرسته وکړې له ماسره په دې وجه چه نسبت د دروغو نی وکړ ماته نو وحی وکړه مونږ ده ته چه

اصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَاِذَا جَآءَ اَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّوْرُ ۙ

جوړه کړه کښتئ په لیدلو زمونږ او په وحی زمونږ نو هر کله چه راغله امر زمونږ او راوایشید و تنور

فَاسْلُكْ فِيْهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ

نو سپاره کړه په دې کشتئ کښې له هر قسم څخه جوړې (نر او ښځه) او عیال خپل هم سپاره کړه مګر هغه څوک چه رومبے سوې دی

عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ ۚ وَلَا تُخَاطِبْنِىْ فِى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ

پر هغه خبره د عذاب له دوی څخه او خبرې مه کوه له ماسره په باب د هغه کسانو کښے چه ظلم ئې کړی دی بیشکه چه دوی

مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَاِذَا اسْتَوَيْتَ اَنْتَ وَمَنْ مَّعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ

غرق کړے سوی دی نو په هغه وخت کښې چه وختلے ته او هغه څوک چه له تاسره دي په بېړئ باندې نو ووایه ته

الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ نَجّٰنَا مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۸﴾ وَقُلْ رَّبِّ

چه ثنا ده خدای لره چه نجات ئې راکړ مونږ ته له قومه ظالمانو څخه وو وایه ته ای ربه زما

اَنْزِلْنِىْ مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا وَّاَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

ارام کړه ما پا استوګه مبارکه سره او ته بنه د ارامونکوئی بیشکه چه په دې قصه کښې خامخا نخښے دي د قدرت زمونږ

وَّاِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِيْنَ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ﴿۳۱﴾

او بیشکه چه یو مونږ از میښت کونکي بیا پیدا اکړل مونږ وروسته له دوی څخه اهل د زمانو نور ۵

فَاَرْسَلْنَا فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ

نو ولیږو مونږ په هغوی کښې پیغمبر له دوی څخه او وئې ویل دوی ته چه عبادت کوئ د خدا نسته تاسو لره هیڅ معبود بر حق

غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ

بی له ده څخه آیا نو تاسو نه ویریږئ له خدایه څخه او وویل بوډاګانو له قومه د ده څخه هغه کسانو چه کافران سوی وو

كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ وَاَتْرَفْنٰهُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ مَا هٰذَآ اِلَّا

او نسبت د دروغو ئې کړی وو په ملاقات د اخرت باندے او اباد کړي وو مونږ دوی په ژوندون دی کښې چه نه دی دا مګر

۱

یعني د اخبرې چه نوح علیه السلام ئې کوی چه الله پاک یو دئی بل شریک ئې نسته دا مونږ له خپلو مشرانو څخه هم نه ده اوریدلي او پادا مونږ نه دی اوریدلي چه سړی خدای پیغمبر کړي او راالیږ ئې دی نو د اخبره ئې له عناده او حسده څخه کوله ځکه چه په منځ دادریس علیه السلام او د دوئې کښې خو د بره موده نه وه تیره سوی دائې اوریدلي وو چه د ے له اولاده د ادم څخه پیغمبر ووه

تفسیر حسیني

۲

روایت دی چه حضرت نوح علیه السلام داکشتئ په دوه کاله کښې جوړه کړه او ورته درے پوړه ئې دری سوه ګزه وو او پلنوالے ئې پنځوس ګزه وو او جګوالے ئې دیرش ګزه وو او دریے طبقے پکښې وې په لاندینئ طبقه کښے درندګان چارپایان او حشرات وو او په منځئ کښې چارپایان او په پورتنئ کښې انسانان وو

۳

چه هغه بنځه دده واعله او زوی دده کنعان وو چه دوی په طوفان کښې غرق سول

روح

۵

چه هغه عادیان وو قوم د هود علیه السلام ۱۲ روح البیان سره ونعمتونه ورکړي وو مونږ دوی ته قسم قسم

تیسیر

ع ۲ ۱۰ ۲

بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ ﴿٣٣﴾

يو سړی دی په مثل ستاسو چه خوري له هغه څخه چه خورئ تاسو له هغه څخه او څښي له هغه څخه چه تاسو يې څښئ

وَلَئِنْ أَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَّخٰسِرُونَ ﴿٣٤﴾ أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ

او كه اطاعت وكړ تاسو د يو سړي چه ستاسو په شان دی بيشكه تاسو به په دغه وخت كښې خامخا تاوانيان يئ آيا وعده كوي دی تاسو سره

إِذَا مِتُّمْ وَكُنتُمْ تُرَابًا وَّعِظٰمًا أَنَّكُم مُّخْرَجُونَ ﴿٣٥﴾ هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ

چه تاسو به هغه وخت كښې چه مړه شئ او شئ تاسو خاوري او هډوكي نو بيشكه تاسو وايستل شئ له قبرو څخه ډېر لرې دي ډېر لرې دي

لِمَا تُوعَدُونَ ﴿٣٦﴾ إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا

هغه چه تاسو سره ئې وعده كيږي نه ده دا ژوند مګر ژوند زمونږ د دنيا دی چه مرو مونږ او ژوندي كيږو او نه يو

نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٣٧﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا وَّ

مونږ پورته كړی شوي له قبرو څخه نه دی دی مګر يو سړی دی چه تړلی ئې دی په خدای باندې دروغ او نه يو

مَا نَحْنُ لَهُ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ انصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٣٩﴾ قَالَ عَمَّا

مونږ ده لره ايمان راوړونكي وويل ده اى ربه زما مرسته وكړې زما په سبب د هغه چه نسبت د دروغو ئې وكړ ما ته وويل خدای چه له

قَلِيلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نٰدِمِينَ ﴿٤٠﴾ فَأَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنٰهُمْ

لږ موده څخه پس وګرځي به دوی پښيمانه نو ونيول دوی اواز د جبرائيل په حقه سره نو وګرځول مونږ دوی

غُثَاءً ۚ فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِينَ ﴿٤١﴾ ثُمَّ أَنشَأْنَا مِن بَعْدِهِمْ قُرُونًا

ذره ذره نو لېري والی دی قوم ظالمانو لره بيا پيدا كړل مونږ وروسته له دوی څخه اهل زمانه

اٰخَرِينَ ﴿٤٢﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَأْخِرُونَ ﴿٤٣﴾ ثُمَّ

نور نه مخكې كيږي هيڅ امت له نيټې خپلې څخه او نه تري وروسته كيږي بيا وليږل

أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ۖ كُلَّمَا جَاءَ أُمَّةً رَّسُولُهَا كَذَّبُوهُ فَأَتْبَعْنَا

مونږ پيغمبران زمونږ پرله پسې هركله چه راغلی يو امت ته پيغمبر د هغه نو نسبت د دروغو ئې وكړ هغه ته نو تابع به كړل مونږ

بَعْضَهُم بَعْضًا وَجَعَلْنٰهُمْ أَحَادِيثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٤٤﴾

بعضي ئې په بعضو پسې په هلاك كښې او وګرځول مونږ دوی قصې نو ليري والی دی له رحمت څخه لپاره د هغه قوم چه نه ايمان راوړي

ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هٰرُونَ ۙ بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٤٥﴾

بيا وليږل مونږ موسى ع م او ورور د ده هرون په معجزو زمونږ او په دليل ښكاره سره

ك ١
عما قليل يعني ژر به عن به معنى د بعد دی او ما زائده خالص لپاره د تاكيد د قلت راغلی ده ١٢ ١٢
فتح البيان

٢
په حقه سره يعني هغه سزا چه دوی ته وركړی شوه واجبه وه او عين عدل وو بی انصافي نه وه ١٢

٣
يعني له رحمته د خدای ئې څخه ١٢ منه

ع ٥
يعني د ابو كارخانه ده چه پخواني خلق مري او ورپسې نور پيدا كيږي لكه ګلونه چه مړاوي كيږي او غوټې ئې او ورځنې چه لوئيږي او وچيږي ١٢ منه رحمه

٦
يعني چه تر ډيري زمانې پورې به دوی خلق يادوي چه په سبب د نه ايمان راوړو سره هلاك سوي دي ١٢ حسينی

٧
سره له نهو معجزو څخه چه مخكې بيان سوی دی ١٢
يسير

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِ فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا عَالِينَ ﴿٤٦﴾ فَقَالُوا
طرف د فرعون ته او د ملي د ده ته نو تکبر وکړ هغوی — او وو هغوی یو قوم متکبر — نو وویل هغوی
أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ ﴿٤٧﴾ فَكَذَّبُوهُمَا
ایا مونږ ایمان راوړو په دوو سړو لره چه په مثل زمونږ دي او قوم د دوی مونږ لره عبادت کونکی دی نو نسبت د دروغو ئې وکړو دوارو ته
فَكَانُوا مِنَ الْمُهْلَكِينَ ﴿٤٨﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ لَعَلَّهُمْ
نو شول هغوی له هلاک کړی شوو نه — او خامخا په تحقیق ورکړی وو مونږ موسیٰ ته کتاب ښائی چه دوی
يَهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾ وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً وَآوَيْنَاهُمَا إِلَىٰ
لاره سمه پیدا کړی — او وګرځولو مونږ زوی د بی بی مریمی او مور د ده علامه او ځای ورکړی وو مونږ دی دواړو ته
رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴿٥٠﴾ يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ ع١٨
هغه لوړې ځمکې ته چه خاونده د قرار وه او د اوبو جاری ته — ای رسولانو — خورئ تاسو له پاکو شیانو نه
وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٥١﴾ وَإِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ
او عمل کوئ نیك — بیشکه چه زه په هغه چه تاسو ئې کوئ عالم یم — او بیشکه چه دا امت ستاسو دئ له
أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ ﴿٥٢﴾ فَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ
امت یو — او زه رب ستاسو یم نو ووېرېږئ له ما نه — نو ټوټې کړو دوی کار د دین خپل په منځ خپل کښی
زُبُرًا كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٥٣﴾ فَذَرْهُمْ فِي غَمْرَتِهِمْ حَتَّىٰ
ټوټې ټوټې هره ډله په هغه دین چه د دوی نزد دی خوشحاله دی — نو پرېږده ته دوئ په ګمراهی خپله کښی تر وخته
حِينٍ ﴿٥٤﴾ أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهِ مِنْ مَالٍ وَبَنِينَ ﴿٥٥﴾ نُسَارِعُ
د مرګ پورې — ایا ګمان کوی دوی چه بیشکه هغه شئ چه ورکوو ئې دوی لره له مال نه او له زامنو نه تلوار کوو مونږ
لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ بَلْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ هُمْ مِنْ
دوی لره په نیکو کښی — بلکه نه پوهیږی دوی — بیشکه هغه کسان چه دوئ له
خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُشْفِقُونَ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٨﴾
وېرې د رب خپل نه ویریدونکی وی — او هغه کسان چه دوی په ایتو د رب خپل باندې ایمان راوړي
وَالَّذِينَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ ﴿٥٩﴾ وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَّ
او هغه کسان چه دوئ له رب خپل سره شریك نه پیدا کوی — او هغه کسان چه ورکوی هغه چه ورکوی ئې

ف١ مراد له دې ځنه ځمکه د شام ده چه ډیره مبارکه ده ١٢ روح ٢ه مراد له دې ځنه هغه بیاله ده چه الله تعالیٰ فرمایلی دي چه قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا یعنې په تحقیق ګرځولی دی رب ستا بیاله جاری ١٢ ابن کثیر ٣ه روایت دی چه د یو بلاچاله وېرې ځنی بی بی مریمی رضی الله عنها حضرت عیسیٰ علیه السلام له مصر ځنه یووړه او یو چشمه د ارګلی وو په لوري چه رمله ورته ویل کیدے هلته ئی لالی عیسیٰ علیه السلام هلته ځوان شوی دی بیا وروسته له مرګه د هغه ظالم پاچا دوی خپل وطن ته بیا راغلل ١٢ ٤ه مراد له دې امت ځنه دین دي یعنی ستاسو ټولو دین یو دی د ځکه چه ټول پیغمبران علیهم السلام په اصولو د دین کښی سره متفق وو چه وحدانیت د خدای حق بلل، حرام نه خوړل او اخلاق د دوی په فروعو د دین کښی وو ١٢ منه ٥ه حضرت عائشی رضی الله تعالیٰ عنها ویلی دی چه ما تپوس وکړو چه ای رسوله د خدا صلی الله علیه وسلم دا چه الله تعالیٰ فرمائی چه وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ. ایا له دې ایت ځنی هغه کسان مراد دی چه غلا کوے او زنا کوی او شراب څښی او بیا سره له دې لا الله ځنه ویریږے رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل نه ای د صدیق لورے لیکن په دې ایت کښی د هغه کسانو ذکر دی چه لمونځ کوی، روژه نیسی او صدقه ورکوی او سره له دې د دوی زړه نه ویریږی چه زمونږ د اعمالو نه به قبول نه شی د غه کسان په تلوار سره ښه کارونه کوی. رواه احمد رحمة الله علیه تفسیر ابن کثیر

قُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ ۝٦٠ أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ

او زړونه ئې د دوئ ویریدونکي وي چه بیشکه دوئ د رب خپل ته تلونکي دي دغه کسان تلوار کوی

فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ ۝٦١ وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا

په نیکو کښي او دوی هغه نیکو ته مخته کیدونکي دي او تکلیف نه کوو مونږ په هیڅ نفس باندي مګر په قدر د توان د هغه

وَلَدَيْنَا كِتَابٌ يَنطِقُ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ۝٦٢ بَلْ قُلُوبُهُمْ

او نزد مونږ څخه یو کتاب دی چه خبری کوی په حقه سره او پر دوی به ظلم نه کیږی بلکه زړونه د دوی

فِي غَمْرَةٍ مِّنْ هَٰذَا وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمْ لَهَا

په غفلت کښي دي له دی قران څخه او دوی لره عملونه دي بې له دی څخه چه دوی هغه لره

عَامِلُونَ ۝٦٣ حَتَّىٰ إِذَا أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِم بِالْعَذَابِ إِذَا هُمْ يَجْأَرُونَ ۝٦٤

کونکي وي ترڅو چه ونیسو مونږ غنیان د دوی په عذاب سره ناڅاپه دوی به فریاد کوی

لَا تَجْأَرُوا الْيَوْمَ إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ ۝٦٥ قَدْ كَانَتْ آيَاتِي تُتْلَىٰ

فریاد مه کوئ تاسو نن ورځ بیشکه تاسو له مونږ څخه مرسته درسره نه کیږی په تحقیق وو ایتونه زما چه ویل کیدل به

عَلَيْكُمْ فَكُنتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ تَنكِصُونَ ۝٦٦ مُسْتَكْبِرِينَ بِهِ سَامِرًا

پر تاسو باندي نو وئ تاسو چه پر پوندو خپلو باندي به مو غستل تکبر کونکي به وئ په دې قران باندي د شپې قصې کونکي به وئ

تَهْجُرُونَ ۝٦٧ أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ أَمْ جَاءَهُم مَّا لَمْ يَأْتِ آبَاءَهُمُ

پرېښو وئ به مو قران ایا نو فکر نه کوي دوی په دې خبره کښي چه قران دی او که راغلی دی دوی لره هغه شئ چه نه وو راغلی پلارانو د دوی

الْأَوَّلِينَ ۝٦٨ أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا رَسُولَهُمْ فَهُمْ لَهُ مُنكِرُونَ ۝٦٩ أَمْ

پخوانو ته او که نه پیژنی دوی پیغمبر خپل نو دوی لره د ده څخه انکار کوی او که

يَقُولُونَ بِهِ جِنَّةٌ بَلْ جَاءَهُم بِالْحَقِّ وَأَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ

وائی دوی چه پر ده باندي لیونتوب دي بلکه راغلی دی دوی ته په حقه سره او زیات د دوی حق لره

كَارِهُونَ ۝٧٠ وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَاءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ

بدلیدونکي دي او که پیروی وکړی حق د هواو د دوی نو خامخا به خراب سی اسمانونه او ځمکه

وَمَن فِيهِنَّ بَلْ أَتَيْنَاهُم بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَن ذِكْرِهِم مُّعْرِضُونَ ۝٧١

او هغه څوک چه په دوی کښي دي بلکه راوړی مو دوی ته دوی لره پند د دوی نو دوی له پند خپل څخه مخ ګرزونکي دي

ف۱
د ا استفهام انکاری دی
یعنی بنه ئی پیژنی چه حق دی
ابو صالح رضی الله تعالی عنه
ویلی دی چه قریش ټول
بنه پوه او خبر وو چه محمد
صلی الله علیه وسلم رښتینی
دی مګر د حسد له وجهی ئی
انکار کاوه ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

ف۲
یعنی د اسی خو هم نه ده بلکه
د ده له خوی او خصلت
څخه بنه خبر دي چه ډیر
امین، رښتینی او نیک خویه
دی او علم ئی کامل دی سره
له دی چه له هیچا څخه ئی سبق
نه دی ویلی ۱۲ تفسیری
موضح القران و روح البیان

ف۳
حضرت مجاهد، حضرت
صالح او حضرت سدی رضی
الله عنهم ویلی دی چه له حق
څخه مراد الله تعالی دی.
معنی دا چه که چیری الله
تعالی د دوی د نفسو اتباع
کړی وای نو ځمکه اسمانونه
او هغه چه په منځ د دوی
کښي دی خراب سوی به وو
ځکه چه دوی وائی ولی نه
نازلیږی دا قران په یو
غټ سړی باندي له دوو
کلیو څخه چه مکه او طائف
دی. یا د اسی نوری خبرې
د نفسو د دوی ۱۲ ۱۲ ۱۲
تفسیر ابن کثیر

أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٧٢﴾ وَإِنَّكَ

اوكه ته غواړې له دوى څخه اجرت نو اجرت د رب ستا غوره دى او دى غوره د روزي وركوونكو دى او بيشكه ته چه ئې

لَتَدْعُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٣﴾ وَإِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ

خامخا بولې دوى لارې سمې ته او بيشكه هغه كسان چه ايمان نه راوړي

بِالْآخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنَاكِبُونَ ﴿٧٤﴾ وَلَوْ رَحِمْنَاهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِم

په آخرت باندې له لارې سمې څخه چپيدونكي دي او كه مهرباني كړې واى موږ په دوى باندې او دفع كړې وا موږ هغه چه په دوى دي

مِّن ضُرٍّ لَّلَجُّوا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٥﴾ وَلَقَدْ أَخَذْنَاهُم

له ضرر څخه نو ټينګ به سوي وو دوى په سركشۍ خپله كښې چه متردد به وو او خامخا په تحقيق نيولي وو موږ دوى ف١

بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ﴿٧٦﴾ حَتَّىٰ

په عذاب سره نو غاړه ئې نه كښېښووله رب خپل ته او نه ئې عاجزي وكړه ترڅو چه

إِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيدٍ إِذَا هُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٧﴾ ع

پرانستله موږ په دوى باندې دروازه چه خاوند د عذاب سخت وه ناګاه دوى په هغه كښې بې هانا اميده وو

وَهُوَ الَّذِي أَنشَأَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۚ قَلِيلًا مَّا

او دا خداى هغه ذات دي چه پيدا كړي ئې دي تاسو له غوږونه او سترګې او زړونه په لږ وختو كښې

تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾ وَهُوَ الَّذِي ذَرَأَكُمْ فِي الْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٧٩﴾

تاسو شكر وكاږئ او دا خداى هغه ذات دى چه پيدا كړي ئې تاسو په ځمكه كښې او دده په طرف به تاسو جمع كړل سئ

وَهُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ وَلَهُ اخْتِلَافُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ ۚ

او دا خداى هغه ذات دى چه ژوندي كول كوي او وژل كوي او دده له پاره دي اختلاف د شپې او د ورځې ف٢

أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٨٠﴾ بَلْ قَالُوا مِثْلَ مَا قَالَ الْأَوَّلُونَ ﴿٨١﴾ قَالُوا أَإِذَا

آيا نو تاسو فكر نه كوئ (پاندلرئ) بلكه وائي دوى په مثل د هغه چه ويل به اولنو خلقو وائي دوى آيا هر كله

مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿٨٢﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ

چه مړه شو موږ او شو موږ خاورې او هډوكي آيا موږ به خامخا پورته كړل سو خامخا په تحقيق وعده كړې سوې ده له موږ سره

وَآبَاؤُنَا هَٰذَا مِن قَبْلُ إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٨٣﴾ قُلْ

او پلارانو زموږ سره دا وعده مخكې له دې څخه نه دي دا اخبري مګر قصې د پخوانو خلقو دي ف٣ وواېه ته

ف١

يعني موږ په دوى قسم قسم سختي خالې د امتحان په وجه راوستي وي مګر دوى بيا هم له خپلې سركشۍ څخه منع نه سول. ابن عباس رضي الله تعالى عنهما روايت كړي دى چه ابو سفيان رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلى (په زمانه د قحط كښې) وئې ويل اى محمد صلى الله عليه وسلم زه تا ته قسم اخلم او وېروم دې له پريكولو د خپلوۍ څخه. وخوړل موږ ځښانې د اوښانو او وينې. غرض ئې دا وو چه ته الله تعالى څخه زموږ د ابلۍ سوال وكړه نو الله تعالى دا آيت شريف نازل كړ چه وَلَقَدْ أَخَذْنَاهُم بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ﴿٧٦﴾ رواه ابن حاتم، ابن كثير

ف٢

يعني چه يوه يو ځي او بله راځي يا يوه كموي او بله زياتوي ما شاء الله لا حول ولا قوة الا بالله روح البيان

ف٣

يعني دى منكرينو د بعث دې يو شبهه وكړه چه د ځمكا و څه چه پكښې دي چالره دي. حاصل د جواب دا دي چه هر كله دې خداى د و مره ځمكا او د اشياء پيدا كړل او سلسله عظيمه ئې جاري كړه نو پر ده ستاسو دو بلره پيدا كول څه مشكل دي

١٢ منه الرحيم الرحمه

لِمَنِ الْأَرْضُ وَمَنْ فِيهَا إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُولُونَ لِلّٰهِ ۚ

چه چا لره ده ځمکه او هغه څوك چه په دې کښې دي که تاسو پوهیږئ ژر دی چه وبه وائي دوی چه خدا لره دي

قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَنْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبُّ

ووایه ته ایا تاسو پند نه اخلئ ووایه ته چه څوك دی رب د اسمانو اوو او رب

الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ لِلّٰهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٨٧﴾ قُلْ

د عرش لوی ژر دی چه وبه وائي دوی خدای لره دی ووایه ته ایا نو نه ویریږئ ووایه ته

مَنْ بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ

چه څوك دی هغه چه په لاس د ده کښې باچاهي د هر شي ده او دی پناه ورکوي او پناه نه سي ورکولی پر ده

إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾ سَيَقُولُونَ لِلّٰهِ ۚ قُلْ فَأَنّٰى تُسْحَرُونَ ﴿٨٩﴾

که تاسو پوهیږئ ژر دی چه وبه وائي دوی چه خدای لره دی ووایه ته نو کوم طرف ته سحر باندي کیږئ

بَلْ أَتَيْنٰهُمْ بِالْحَقِّ وَإِنَّهُمْ لَكٰذِبُونَ ﴿٩٠﴾ مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنْ وَلَدٍ

بلکه راوړی موږ دوی ته دوی لره حق او بیشکه دوی خامخا دروغژن دي نه دی نیولی خدای هیڅ ولد

وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلٰهٍ إِذًا لَذَهَبَ كُلُّ إِلٰهٍ بِمَا خَلَقَ وَ

او نسته له ده سره هیڅ معبود بلکه په دغه وخت کښې به بیوولی وه هر یو خدا هغه مخلوق چه پیدا کړی ده او خامخا به غالب سوی وو

لَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۚ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾ عٰلِمِ

بعضې دوی پر بعضو نورو باندي پاکی ده خدای لره له هغه څخه چه دوی ئې بیانوی عالم دي

ع ١٥ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٩٢﴾ قُلْ رَبِّ إِمَّا

پر غیب باندی او په حاضر باندي نو لوی دی له هغه څخه چه دوی ئې ورسره شریکوي ووایه ته ای ربه زما که

تُرِيَنِّي مَا يُوعَدُونَ ﴿٩٣﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِي فِي الْقَوْمِ الظّٰلِمِينَ ﴿٩٤﴾

ښائې ته ما ته هغه عذاب چه له دوی سره ئې وعده کیږی ای ربه زما نو مه لره ما په د له د ظالمانو کښې

وَإِنَّا عَلٰى أَنْ نُرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقٰدِرُونَ ﴿٩٥﴾ اِدْفَعْ بِالَّتِي هِيَ

او بیشکه چه موږ په دې کار چه وښایو تاته هغه عذاب چه وعده ئې کوو له دوی سره قادر یو دفع کوه ته په هغه خبره چه هغه

أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ ۚ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴿٩٦﴾ وَقُلْ رَبِّ أَعُوذُ

ډیره ښه ده بدی لره موږ ښه خبر یو پر هغه چه دوی ئې وائي او ووایه ته ای ربه زما زه پناه غواړم

ف ۱

او هغه وخت چه دوی به ویل چه دا قرآن دروغ دی چه نفی د ولد کوي او موږ د خدایانو بلکه خدای ولد لری او دا زموږ خدایان هم حق دي نو ایت راغلی چه دا سی نه ده بل اتینهم بالحق الایة ۱۲ تفسیر یسیر

ف ۲ حال دا چه هیڅ یو پیغمبر له ګنهګارانو سره شامل سوی نه دي او نه په عذاب کښې چه په مشرکانو راغلی دی شریك سوی دي مګر دا دعا الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وفرمایل لپاره د تعلیم د امت د ده چه تاسو دا دعا کوئ ۱۲ روح البیان

ف ۳ یعنې که دا کفار له تا سره جفا کوي ته ورته عفوه کوه او مخ مه ورڅخه ګرزوه موږ د دوی حال ښه خبر یو جزاء به ورکړو په دې ایت شریف کښې تسلی ده رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته ۱۲ روح

ف ۴ ابن کثیر ویلی دي چه فائده په ویلو د اعوذ بالله کښې دا ده چه کړ پوسته بدی یا عبث خبرې وکړي نو پردی ئې خوله پاکیږي ابو سعید ؓ ویلی دي چه هر کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم د شپې لمانځه ته پورته کیدی نو دا دعا به ئې ویله چه اعوذ بالله السمیع العلیم من الشیطن الرجیم من همزه ونفخه ونفثه دا د حدیث روایت اهل سننو کړی دي معنی د همز جیرل د شیطان دی او نفخ جادو ده او نفث شعر ده دی ۱۲

تفسیر روح البیان وتفسیر ابن کثیر

بِكَ مِنْ هَمَزٰتِ الشَّيٰطِيْنِ ﴿٩٧﴾ وَاَعُوْذُ بِكَ رَبِّ اَنْ يَّحْضُرُوْنِ ﴿٩٨﴾

په تا پورې له وسوسو د شيطانانو نه — او پناه غواړم په تا پورې اى رب زما له دى نه چه حاضر سى دوى ما ته

حَتّٰۤى اِذَا جَآءَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّیْۤ

تر هغو چه راسى يو د دوى — ته مرګ نو وائى دى اى رب زما بيرته وګرزوه ما — سبائى چه زه

اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا تَرَكْتُ كَلَّا ؕ اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ؕ وَمِنْ

عمل وکړم نيک په هغه شى کښى چه پرېښى مى دى — داسى نه ده بيشکه دا خبره يو چه دى ويونکى دى د هغه — او په

وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿١٠٠﴾ فَاِذَا نُفِخَ فِى الصُّوْرِ فَلَاۤ

مخکې د دوى پرده ده تر هغه ورځى پورې چه پورته کيږى به دا خلق — نو په هغه وخت کښى چه پو کل وکړل سى په شپيلى کښى نو نه به وي

اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَّلَا يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿١٠١﴾ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ

نسبونه منځ د دوى کښى په دغه ورځ کښى او نه به پوښتنه کوى دوى يو له بل څخه — نو هغه څوک چه درانه سول نيک عملونه دده

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٢﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

نو دغه کسان دوى خلاصيدونکى دى له عذابه — او هغه څوک چه سپک وختل عملونه دده نو دغه کسان هغه دي

خَسِرُوْۤا اَنْفُسَهُمْ فِىْ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿١٠٣﴾ تَلْفَحُ وُجُوْهَهُمُ النَّارُ

چه تاوانى کړى ئى دى ځانونه خپل په دوزخ کښى به هميشه پاته کيدونکى وي — سوځى به مخونه د دوى اور

وَهُمْ فِيْهَا كٰلِحُوْنَ ﴿١٠٤﴾ اَلَمْ تَكُنْ اٰيٰتِیْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ بِهَا

او دوى به په دى اور کښى بدشکله وي — ايا نه وُو ايتونه زما چه ويل کيدل به پر تاسو باندې نو وئ به تاسو هغه نو

تُكَذِّبُوْنَ ﴿١٠٥﴾ قَالُوْا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَآلِّيْنَ ﴿١٠٦﴾

نسبت د دروغو کاوه — وبه وائى دوى اى ربه زموږ غلبه کړى ده پر موږ بدبختى زموږ او وُو موږ يو قوم ګمراهان

رَبَّنَاۤ اَخْرِجْنَا مِنْهَا فَاِنْ عُدْنَا فَاِنَّا ظٰلِمُوْنَ ﴿١٠٧﴾ قَالَ اخْسَئُوْا فِيْهَا

اى ربه زموږ راوباسه موږ له دوزخ څخه نو که بيا وګرزيدلو موږ نو بيشکه موږ — به ظالمان يو — وبه وائى خدائ چه خوار اوسى

وَلَا تُكَلِّمُوْنِ ﴿١٠٨﴾ اِنَّهٗ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِیْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَاۤ

او خبرې مه کوئى له ما سره — بيشکه چه وه يوه ډله له بندګانو زما څخه چه ويل به هغوى اى ربه زموږ ايمان راوړى دى موږ

اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿١٠٩﴾ فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ

نو بخښنه وکړه موږ ته رحمت وکړه پر موږ باندې او ته بهتر د رحمت کوونکو ئې — نو ونيول تاسو هغوى

ف ١
كالحون كلوح تبتيد لسود شونډو ته ويل کيږى له غاښو څخه. په حديث شريف کښى راغلى دى چه سر ونه د دوى به په اور کښى پاخه سى نو کښته شونډه به ئې تر نامه پورې ورسيږى او پورته شونډه به ئې تر نيمى سره ډکرى پورې ورسيږى
روح البيان

ف ٢
روايت دى چه تر ډيره وخته به دوى په دوزخ کښى د دى سوال جواب پيدا نکړى او زر دوه کاله يا دري سوه شپيته کاله له هغه څخه وروسته له هغه څخه به الله تعالى جواب ورکړى چه اخسئوا فيها ولا تكلمون ١٢ ١٢ ١٢

ف ٣
حضرت مقاتل رح ويلى دى چه دا ايت چه دا ايت شريف په په حق د حضرت بلال او حضرت صهيب او حضرت عمار او حضرت ياسر رضى الله تعالى عنهم کښى نازل سوى دي او په حق د نورو ضعيفانو مؤمنانو کښى چه ابو جهل او نورو مشرکانو به په هغوى پورې مسخرې او خندا کولې ١٢ ١٢ ١٢
روح البيان

سِخْرِيًّا حَتّٰٓى اَنْسَوْكُمْ ذِكْرِيْ وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ اِنِّيْ

په ټوکو سره تر څو چه هیر ئی کړله تاسو څخه یاد زما او وئ تاسو چه په دوی پورې به موخندل بیشکه زه چه

جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوْٓا اَنَّهُمْ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۱۱۱﴾ قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ

جزاء می ورکړه هغوی ته نن ورځ په سبب د هغه چه دوی صبر کړی و او بیشکه دوی دی برمنده ونکی وبه وائی خدای چه څو موره ځنډ کړی دی تاسو

فِي الْاَرْضِ عَدَدَ سِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَسْـَٔلِ

په ځمکه کښې په شمار د کلو وبه وائی چه ځنډ کړی دی موږ یوه ورځ او یا بعض د ورځې نو پوښتنه وکړه ته

الْعَآدِّيْنَ ﴿۱۱۳﴾ قٰلَ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا لَّوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۱۴﴾

له شمار کونکو څخه وبه وائی خدای چه درنګ نه دی کړی تاسو مګر لږ که ئی تاسو چه پوهیږئ

اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱۵﴾

ایا نو ګمان کوئ تاسو دی چه بیشکه پیدا کړی ئی موږ تاسو عبث او بیشکه چه تاسو به موږ ته بیا رانه وستل شئ

فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ﴿۱۱۶﴾

نو لوی دی خدای پاچا حق نشته بل خدای مګر هم دی دی رب د عرش لوی دی

وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ

او هر څوک چه بولی له خدای سره خدای بل نشته دلیل هغه لره په دی عبادت د بل چا نو بیشکه دا خبره ده چه حساب د ده

عِنْدَ رَبِّهٖ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ

په نزد د رب د ده دی بیشکه چه خلاص به نه شی کافران او ووایه ته ای ربه زما بخښنه وکړه او رحمت وکړه

۶ ع ۶ وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۱۸﴾

او ته بهتر د رحمت کونکو ئی ته

سُوْرَةُ النُّوْرِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّسِتُّوْنَ اٰيَةً وَّتِسْعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا وَاَنْزَلْنَا فِيْهَآ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمْ

دا یو سورت دی چه نازل کړی دی موږ دا او فرض کړی دی موږ دا او نازل کړی دی موږ په ده کښې واضح احکام ښکاره چه تاسو

تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱﴾ اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ

پند واخلئ زناکاره ښځه او زناکار سړی نو وهئ تاسو هر له دی دواړو څخه سل

ف ۱

ابراهیم ابن حارث رضی الله عنه وبلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو لښکر کښې زه لیږلی وم او راته ئی فرمایلی وو چه هم سحر او هم ماښام دا آیتونه وایه چه افحسبتم تر اخیره پورې دی نو ابراهیم رح وبلی دی چه ما به دا ویل نو موږ ته الله تعالیٰ ډیر غنیمتونه راکړل او سلامت ئی کړو وته را ورسولو ۔ رواه ابو نعیم ۱۲

ابن کثیر

ف ۲

په حدیث شریف کښې راغلی دی چه د الله تعالیٰ سل رحمته دی یو ئی له هغو څخه را الیږلی دی دنیا ته چه د هغه له وجهې څخه موږ و پکار به اولاد او مخلوق یو پر بل رحم کوي. نه نوی به پر بندګانو خپلو په ورځ د قیامت کښې کوي. والحمد لله رب العلمین ۱۲

جَلْدَةٍ ۖ وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ

دُرّې او دې نه نیسي تاسو لره پرې دواړو مهرباني په دین د خدای کښې که یئ تاسو

تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۖ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ

چه ایمان مو راوړی وي پر خدای او پر ورځ د قیامت او حاضر دې سي عذاب د دې دواړو ته یو تولی له

الْمُؤْمِنِينَ ② الزَّانِي لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً وَالزَّانِيَةُ

مؤمنانو څخه زنا کار سړی ته په نکاح کوي زنا کاره ښځه او یا مشرکه ښځه او زنا کاره ښځه چه ده

لَا يَنكِحُهَا إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ ۚ وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ③

په نکاح نه اخلي دا مګر زنا کار سړی او یا مشرک او حرام کړی سوی دی دا کار پر مؤمنانو باندې

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ

او هغه کسان چه نسبت د زنا کوي پاکو ښځو ته بیا رانه ولی دوی څلور شاهدان پر دې خبره

فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا ۚ

نو ووهئ دوی اتیا دُرّې او مه قبلوئ تاسو دوی لره شاهدي هیڅکله

وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ④ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ

او دغه کسان هم دوی فاسقان دي مګر هغه کسان چه توبه ئي وکښله وروسته له دې کاره څخه

وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ⑤ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ

او نیك ئي کړ عمل نو بیشکه چه خدای بخښونکی دی مهربانه دی او هغه کسان چه ولي په زنا سره ښځې خپلې

وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ

او نه وي دوی لره شاهدان مګر یوازې ځانونه د دوئ نو شاهدي د یو د دوی څلور

شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ ۙ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ⑥ وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَتَ

شاهدي دي په نامه د خدای دا سې چه بیشکه دی خامخا له رښتینو څخه دی او پنځمه شاهدي به دا سې وي چه لعنت

اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ⑦ وَيَدْرَأُ عَنْهَا الْعَذَابَ

د خدای دې وي پر ده باندې که وي دی له دروغ ژنو څخه او دفعه کوي له دې ښځې څخه عذاب

أَن تَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ ۙ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ⑧

دا چه شاهدي ووائي دا څلور شاهدي پر نامه د خدای چه بیشکه دا سړی له دروغ ویونکو څخه دی

۱

دا ایت شریف نازل سوی دی په حق د فقیرانو مهاجرو کښې چه دوی اراده کړې وه چه په نکاح سره هغه بدعملي ښځې واخلي چه په مدینه منوره کښې وې په دې طمعه چه د دوی په مالو باندې موږ آسوده شو نو ئي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اجازه وغوښتله نو الله تعالی په منع د دې کار کښې دا ایت شریف نازل کړ او س دا ایت محکم دی چه حکم ئي خاص وو په هغه مؤمنانو پورې. یا دا منسوخ سوی دی په دې ایت شریف سره چه وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ الآیة ۱۲ روح البیان

۲

یعني وروسته له توبې څخه دوی ته بدکاره مه وائی مګر شاهدي د دوی مه قبلوئ او بعضو علماؤ رحمهم الله ویلي دي چه شاهدي د محدود في القذف وروسته له توبې کښلو قبوله ده والله اعلم وعلمه اتم منه رحمه الله

۳

یعني نسبت د زنا ورته کوي ۱۲ نکته د دا چه څلور شاهدي حکم مقرر شوی چه په اصل کښې خو څلور شاهدان وو هر کله چه هغه پیدا نه سو نو د اهره یوه شاهدي پر ځای د یوه سړي ودرېدله او طریقه د ادا ئي دا سې ده چه میړه ووائي اشهد شاهد وایم په الله د خدای چه زه رښتینی یم په دې نسبت د زنا کښې خپلې دې ښځې ته ۱۲ یسیر

وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ إِنْ كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۹﴾

او پنځمه شاهدي به دا ووائي چه بیشکه غضب د خدای دی وی پردي باندې که وی دا سړی له رښتینا نو څخه

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَأَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۰﴾ ع ۱۰ ۸

او که نه وای فضل د خدای پر تاسو باندې او مهرباني د ده او بیشکه چه خدای توبه قبلونکی دی خاوند د حکمت دی

إِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنْكُمْ ۚ لَا تَحْسَبُوْهُ شَرًّا لَّكُمْ ۚ

بیشکه هغه کسان چه راوړی دوی دروغ یوه ډله ده له تاسو څخه گمان مه کوی په دی دروغو چه بدی ده تاسو لره

بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ ۚ

بلکه دا خیر دی تاسو لره مقرر دی هر سړی ته له دوی څخه هغه چه کسب ئې کړی دی له گناه څخه

وَالَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ مِنْهُمْ لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۱﴾ لَوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوْهُ

او هغه څوک چه متولی سوی وی لوی د دروغو له دوی څخه دی ده لره عذاب لوی ولی نه په هغه وخت کښې چه اورېدلی مو وی

ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا ۙ وَّقَالُوْا هٰذَآ

دروغ گمان کړی وی مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو په ځانو خپلو باندې د خیر او ویلی ئې وی چه دا

إِفْكٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۲﴾ لَوْلَا جَآءُوْ عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ۚ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوْا

دروغ دی ښکاره ولی نه را وستل دوی په دی دروغو باندې څلور شاهدان نو هر کله چه رانه وستل دوی

بِالشُّهَدَآءِ فَأُولٰٓئِكَ عِنْدَ اللّٰهِ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ

شاهدان نو دغه کسان په نزد د خدای هم دوی دروغژن دي او که چیری نه وای فضل

اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِيْ مَآ

د خدای پر تاسو باندې او رحمت د ده په دنیا کښې او په اخرت کښې نو رسیدلی به وو تاسو ته په هغه کښې

أَفَضْتُمْ فِيْهِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۴﴾ إِذْ تَلَقَّوْنَهٗ بِأَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُوْلُوْنَ

چه ننوتی وی تاسو په هغه کښې عذاب لوی په هغه وخت کښې چه رانیولی به مو دا خبر په ژبو خپلو او ویل به مو

بِأَفْوَاهِكُمْ مَّا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ وَّتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا ۖ وَّهُوَ عِنْدَ

په خولو خپلو باندې هغه څه چه نه وو تاسو لره پر هغه علم او شمیرل به تاسو هغه اسانه او هغه په نزد

اللّٰهِ عَظِيْمٌ ﴿۱۵﴾ وَلَوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوْهُ قُلْتُمْ مَّا يَكُوْنُ لَنَآ أَنْ

د خدای ډیر لوی دئ او ولی نه وه دا خبره په هغه وخت کښې چه اوریدلی مو وو دا دروغ نو ویلی به مو وو چه نه ښائی موږ لره چه

ف ۱

ښځه او خاوند چه لعان سره وکړي نو دا ښځه له ده څخه جلا سوه بیا نو ل عمر ده ته نه ده روا نه ده که چیری خیښتن له لعان څخه انکار وکړ نو پر ده حد د قذف دی او که ښځې ورڅخه انکار وکړ نو پر هغې حد د زنا کولو دی ۱۲ ف ۲ جواب لو محذوف دی یعنې که فضل او رحمت د خدای پر تاسو باندې نه وی نو په عذاب کړی به ئې وی ۱۲ رح

ف ۳

روایت دی چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت و او چه په سفر به تلی نو د بیبیانو په منځ کښې به ئې قرعه یعنی پچه واچوله نو هر کله چه د اراده د غزا د بنی مصطلق وکړه نو د بی بی عائشې رضی الله عنها پچه وختله نو هغې ئې له ځانه سره روانه کړه هر کله چه ورسته له غزا څخه بیرته راوگرځېدل اتفاقا په وخت د کوچ د قافلې کښې لبې بی صاحبې رضی الله تعالی عنها څخه د غاړې همیل ورک سو دا په طلب د هغه پسی ولاړه چه قافله روانه سوه هر کله چه دا خپلې دیری ته بیرته راغله نو هیڅوک نه وو نو ما لته کښېنستله شپه وه. نو صفوان ابن معطل چه ورسته له قافلې به راتلی راغلی او بی بی صاحبه ئې ولیدله چه حیرانه ناسته وه. إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّآ إِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ئې وویل او خپل اوښ ئې خپ چوا کړ او بی بی صاحبه پر سپره سوه دغرمې په قافلې پسی ورسیدل. نو منافقانو بی بینانو په دی کار کښې ډیر تاړ روا مجلسونه جوړ کړل نو الله تعالی ورسته له نو څو شپو په پاکی د دې کښې د ایتونه نازل کړل إِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ بِالْإِفْكِ اه رح بخاری مختصرا امام سهیلی ویلی دی چه دا ایتونه ورسته له دیرش شپو څخه راغلی دی په قول د مفسرینو رحمهم الله

نَّتَكَلَّمَ بِهٰذَا ۖ سُبْحٰنَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۶﴾ يَعِظُكُمُ اللّٰهُ

خبری وکړو مونږ په دې سره پاکی دې تا لره دا دروغ دی لوی پند درکوی تاسو ته خدای ج

اَنْ تَعُوْدُوْا لِمِثْلِهٖۤ اَبَدًا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷﴾ وَيُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ

چه بیا ونکړئ مثل د دې دروغو ته هیڅکله که یئ تاسو مؤمنان او بیانوی خدای تاسو ته

الْاٰيٰتِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ اَنْ تَشِيْعَ

آیتونه او خدای عالم دی خاوند د حکمت دی بیشکه هغه کسان چه خوښه ئې وي داچه خپره سی

الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۙ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ

بدکاری خبره په باب د هغه کسانو کښې چه ایمان ئې راوړی دی مقرری دی دوی لره عذاب دردناک په دنیا کښې او په آخرت کښې

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

او خدای پوهیږی او تاسو نه پوهیږئ او که چیری نه وای فضل د خدای پر تاسو باندی

وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۰﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او رحمت د ده او بیشکه چه خدای مهربانه دی بخښونکی دی ای هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دی مه کوئ

لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ وَمَنْ يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ

اتباع د قدمو د شیطان او هر چا چه اتباع وکړه د قدمو د شیطان

فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

نو بیشکه چه دی امر کوی پر بدو کارو او په منکراتو او که چیری نه وای فضل د خدای ج پر تاسو باندی

وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ

او رحمت د ده نو پاک سوی به نه وُو له تاسو څخه هیڅوک هیڅکله ولیکن خدای ج پاکوی هغه څوک

يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۱﴾ وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ

چه اراده ئې وسی او خدای اوریدونکی دی عالم دی او قسم دې نه اخلی خاوندان د فضل له تاسو څخه

وَالسَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْٓا اُولِي الْقُرْبٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ

او د پراخی په مال کښې له دې څخه چه نه به ورکوی خپلوانو لره او مسکینانو ته او هجرت کونکو ته

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ وَلْيَعْفُوْا وَلْيَصْفَحُوْا ؕ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ

په لار د خدای کښې او عفوه دې کوی دوی او مخ دې ګرځوی دوی ایا تاسو نه یئ خوښوی داچه بخښنه وکړی خدای ج تاسو ته

ا یعنی چه هیڅ کار د ده له حکمته خالی نه دی پدی قصه کښې هم دا حکمت وُو چه یو خو کامل مؤمن او دروغژن سره معلوم سول بل داچه مرتبه د بی بی عائشې رضی الله عنها بلنده سوه او تر قیامته پوری به دا عزت دی په کلام الله کښې ویل کیږی سبحان الله دا څومره عالی درجه ده ۱۲ منه رحمه الله

۲ روایت دی چه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل چه الله تعالی رحمه دی پر نه پرېښی چه ستا په بدن کښېنی ځکه چه ککړوی ئې نو څرنګه به ئې ته نه ساتلې له هغه چا څخه چه په داسی فاحشې ککړ وي. او حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه وویل چه ستا سیوری خدای … کړی چه څوک قدم پر کښېږدی نو څرنګه به ئې ته لادی څخه نه ساتلې چه څوک ستا په حرم کې لاس کیږدي او حضرت علی رضی الله عنه وویل چه جبرائیل علیه السلام ته مامور کړی چه چپلی … ځکه چه مردار ده نو څرنګه به ئې ته نه مامور کولی په ایستلو … څخه د هغه چا چه په داسی مردار ککړ سوی وي. او ابو ایوب انصاری رضی الله تعالی عنه خپلې ښځې ته وویل چه که صفوان پر ځای ته وای نو دا د لاسه … دی داسی کار د حرم د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره سوی وُو نو ده وویل حاش لله … بیا دی ورته وویل چه که … بی بی عائشې پر ځای وای نو خیانت به … محال له رسول الله سره نه وُو کړی او … دی چه صفوان تر تا غوره دی او بی بی عائشه تر ما غوره ده نو هغو بیا کا … دروغ د منافقانو … ئې په تصدیق د دې کښې نازل سوه … لَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ الی یسیر ۳ دا آیت کریمه … حق د ابوبکر صدیق کښې نازل سوې … چه ده له مسطح څخه نفقه بنده کړې … ځکه چه هغه هم پخوا د بی بی عائشې کښې بدې خبری کړی وي. په حدیث شریف

کښې راغلی دی چه رسول الله … دا آیت شریف پر ابوبکر صدیق رضی الله عنه باندی وواییه نو هغه وویل چه هو زه ماخو دا خبره خوښه ده چه خدای ج ما ته بخښنه وکړي نو هغه
خو … نفقه د مسطح …

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ الْغٰفِلٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ

او خدای بخښونکی دی مهربانه دی بیشکه هغه کسان چه تهمت وائی پر پاکو ښځو له زنا ځنې پرمؤمنو باندی

لُعِنُوْا فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۳﴾ يَّوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ

لعنت کړی سوی دی پر دوی باندی په دنیا کښې او په آخرت کښې او مقرر دی دوی لره عذاب لوی په هغه ورځ کښې چه شاهدی به وائی پر دوی

اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۴﴾ يَوْمَئِذٍ يُّوَفِّيْهِمُ

ژبې د دوی او لاسونه د دوی او پښې د دوی پر هغه چه وو دوی کول به ئې په دغه ورځ به پوره ورکړی دوی ته

اللّٰهُ دِيْنَهُمُ الْحَقَّ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ﴿۲۵﴾

خدای جزاء د دوی چه لائقه وي او پوه به سی دوی چه بیشکه خدای حق دی بیانونکی دی

اَلْخَبِيْثٰتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ ۚ وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ

خبیثی ښځې لپاره د ناپاکو سړو دي او ناپاک سړي لپاره د ناپاکو ښځو دي او پاکی ښځې لپاره د پاکو سړو دی

وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ ۚ اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا يَقُوْلُوْنَ ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ

او پاک سړي لپاره د پاکو ښځو دي دغه کسان پاک دي له هغه ځنې چه دوی وائی په حق د هغو کښې مقرر دی دوی لره بخښنه

وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۲۶﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ

او روزي نیکه ای هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دي مه ننوځئ کورو ته غیر له کورو ستاسو ځنې

حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ

ترڅو چه اجازه وغواړئ او سلام واچوئ پر اهل د هغه کورو باندې دا کار خير دی تاسو لره سبائی چه تاسو

تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فِيْهَاۤ اَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوْهَا حَتّٰى يُؤْذَنَ

پند واخلئ نو که پیا نه کړل پیدا تاسو په دی کورو کښې هیڅوک نو مه ننوځئ په دی کښې ترڅو چه اجازه ورکړل سي

لَكُمْ ۚ وَاِنْ قِيْلَ لَكُمُ ارْجِعُوْا فَارْجِعُوْا هُوَ اَزْكٰى لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا

تاسو ته او که وویل سي تاسو ته چه وګرځئ نو بیرته وګرځئ دا کار ډیر پاک دی تاسو لره او خدای پر هغه

تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۲۸﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ

چه تاسو ئې کوئ عالم دئ نسته پر تاسو باندې ګناه په دی کښې چه ننوځئ به کورو ته چه څوک پکښې نه

مَسْكُوْنَةٍ فِيْهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۲۹﴾

اوسیږي چه وی په هغه کښې اسباب ستاسو او خدای پوهیږي پر هغه چه ښکاره کوی تاسو او پر هغه چه پټ کوئ تاسو

سله

علماء کرامو او مفسرینو رحمهم الله ویلی دي چه هرچا په تهمت باندې بیبیانی د رسول الله صلی الله علیه وسلم یادی کړی وی یعنې تهمت ئې پر لګولی وی د هغه په حق کښې دا ایت نازل سوی دي. او توبه د هغه هیڅکله قبوله نه ده او که پر نورو مسلمانانو سړو یا په ښځو باندې چا تهمت ووایه نو توبه د هغه قبوله ده ۱۲ ۱۲

وحیدی سله یعنی ناپاکه او بدکاره ۱۲

سله ۲ له ابن عباس رضی الله تعالی عنه ویلی دي چه معنی د دی ایت شریف دا سی ده چه پلیتې ښځې لپاره د مردارو سړو دي او مردار سړي لپاره د مردارو ښځو دي او پاکی ښځې لپاره د پاکو سړو دی او پاک سړي لپاره د پاکو ښځو دي حاصل دا چه منافقانو چه وائی قول د دروغ دی او ۳ بی بی عائشه رضی الله تعالی عنها دی ځنې پاکه ده ۱۲ ۱۲

ع ۶ ۹

ابن کثیر

سله ۳

غرض دا چه ای مؤمنانو تاسو د پردو خلقو کورو ته مه ننوځئ ترڅو چه اذن د ورتلو و غواړئ او بیا په وخت د ورتلو کښې السلام علیکم ووائی حضرت کلدة رض ویلی دي چه زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلم او اجازه می نه وه غوښتې او سلام می هم نه وو اچولی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته وفرمایل چه بیرته ولاړ سه او بیا راشه او ووایه چه السَّلَامُ عَلَيْكُمْ ایا ننوزم روایت امام احمد رحمه الله ۱۲

ابن کثیر

قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ذٰلِكَ
ووایه ته مؤمنانو ته چه پټې دې کړي سترګې خپلې او ساتي دې اندامونه خپل دا کار

اَزْكٰى لَهُمْ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ﴿٣٠﴾ وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ
ډیر پاك دی دوی لره بیشکه چه خدای خبر دی په هغه چه دوی ئې کوي ووایه مومنو ښځو ته چه پټوی دی دوی

مِنْ اَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا
سترګی خپلې او ساتی دی دوی اندامونه خپل او نه دی ښکاره کوی دوی زینت خپل هیڅ ته مګر هغه

ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ
چه ښکاره وی له دی ځنې او وا دې چوی پړونی خپل پر ګریوانو خپلو باندې او نه دی ښکاره کوی دوی

زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اٰبَآئِهِنَّ اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اَبْنَآئِهِنَّ
زینت خپل هیچا ته مګر میړو خپلو ته یا پلرو خپلو ته یا پلرانو د میړو خپلو ته یا زامنو خپلو ته

اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِيْٓ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِيْٓ اَخَوٰتِهِنَّ
یا زامنو د میړو خپلو ته یا وروڼو خپلو ته یا زامنو د وروڼو خپلو ته یا زامنو د خویندو خپلو ته

اَوْ نِسَآئِهِنَّ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ اَوِ التّٰبِعِيْنَ غَيْرِ اُولِي الْاِرْبَةِ
یا ښځو خپلو ته یا هغه ته چه مالکان وی د هغه ښی لاسونه دوی یا هغو تابعانو ته چه نه وی خاوندان د حاجت د ښځو

مِنَ الرِّجَالِ اَوِ الطِّفْلِ الَّذِيْنَ لَمْ يَظْهَرُوْا عَلٰى عَوْرٰتِ النِّسَآءِ
له سړو ځنې یا هغه هلکانو ته چه خبر نه وي دوی په عورتو د ښځو باندي

وَلَا يَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِيْنَ مِنْ زِيْنَتِهِنَّ وَتُوْبُوْٓا
او نه دی وهي دا ښځې پښې خپلې (په ځمکه) لپاره د دې چه معلوم کړل سي هغه شی چه پټوي ئې دوی له زینت خپله ځنې او توبه و کا دي

اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٣١﴾ وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى
خدای ته ټول ای مؤمنانو ښائي چه تاسو به خلاص سی له عذابه او په نکاح ور کوئ بی نکاحو لره

مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِيْنَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَاِمَآئِكُمْ اِنْ يَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ
له تاسو ځنې او صالحانو له مریانو ستاسو ځنې او له وینځو ستاسو ځنې که چیری وای دوی فقیران

يُغْنِهِمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿٣٢﴾ وَلْيَسْتَعْفِفِ
نو غنیان به کړي دوی خدای له فضل خپل ځنې او خدای پراخ دی رحمت ده عالم دی او ځان دی ساتي

ف١
یعني چه نامحرمو نارینه و ته دی نه ګوری ١٢ ف٢ چه هغه ګوتی دی او پیڅکی د جامو او ړانجه دی او رنګ دلاسو دی چه ښکاره ول دی شیانو بیګانه سړو ته هم جائز دي مګر چه خوف د شهوت پکښې وي ځکه چه په پټولو دی شیانو کښې لوی حرج دی ١٢ روح البیان

ف٣
اکثرو مفسرینو او سلفو ویلي دي چه مراد له نسائهن ځنې مسلمانانی ښځې دي ځکه چه له یهودیې، نصرانی، مجوسی او بت پرستی ښځې ځنې ستر د مؤمنې واجب دی چه خپله مینځه ئې نه وي ١٢ روح

ف٤
مراد له دوی ځنې هغه پیر سپین ږیری سړی دی چه هیڅ شهوت ئې نه وی پاته شوی او په دی حکم د دوی کښې نر ښځیان هم داخل دی او په ستر د نر ښځیانو کښې علماؤ اختلاف کړی دی مختار قول دا دی چه د دوی ځنې هم ستر کول واجب دی ١٢ روح البیان

ف٥
ایامی جمع د ایم دی په عربو کښې هغه بنځه ته ویل کیږي چه بې جوړې وی. که سړی وی بې ښځې. یا ښځه وي بې سړي خپله ١٢ ماشاءالله لاقوة الا بالله

الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ نِكَاحًا حَتّٰى يُغْنِيَهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَالَّذِيْنَ

هغه کسانو چه نه سي پيدا کولی نکاح (مهرا و نفقه ئي) ترڅو چه غنيان کړي دوی خدای له فضل خپل څخه او هغه کسان

يَبْتَغُوْنَ الْكِتٰبَ مِمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوْهُمْ اِنْ عَلِمْتُمْ فِيْهِمْ

چه طلب د مکاتبوالی کوی له هغه مينځو مريانو څخه چه مالکان ئي وی استه لاسو ستاسو نو مکاتبان ئي کوی دوی که پوه وی تاسو دوی کښی

خَيْرًا ۖ وَّاٰتُوْهُمْ مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ ؕ وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ

دخير او ورکوی دوی له مال د خدای څخه هغه چه درکړی ئي دی تاسو له او مه زوروی تاسو په مينځو خپلو

عَلَى الْبِغَآءِ اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوْا عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ؕ

په زنا باندي که چيری اراده لری دوی د ځان پاك ساتلو لپاره د دے چه لټوئ به تاسو مال د ژوندد دنيا

وَمَنْ يُّكْرِهْهُّنَّ فَاِنَّ اللّٰهَ مِنْۢ بَعْدِ اِكْرَاهِهِنَّ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ

او هغه څوك چه زوری وکړی دوی نو بيشکه چه خدای وروسته له زوره د مالکانو څخه دوی بخښونکے مهربان دے او خامخا په تحقيق

اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ وَّمَثَلًا مِّنَ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ

نازل کړي دي موږ تاسو ته ايتونه بيانونکی او مثالونه له هغه کسانو څخه چه تير سوی دی مخوا له تاسو څخه

ع ٤ ٨ ١٠ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۴﴾ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ مَثَلُ نُوْرِهٖ

او پند لپاره د پرهيزگارانو خدای نور دی د اسمانو او د ځمکے مثال د نور د ده داسی دي

كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ ؕ اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ ؕ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا

لکه طاق چه په هغه کښی ئي ډيوه وي دا ډيوه بيا په شيشه کښی پرته وی دا شيشه چه وی گويا چه

كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا

دا يو ستوری وی ځليدونکے چه بليږی دا ډيوه د تيلو د ونی برکتناکی څخه د زيتون څخه چه نه د مشرق طرف ته وی او نه

غَرْبِيَّةٍ ۙ يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕ نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ ؕ

مغرب طرف ته وی نږدی دی تيل د دی چه رڼا وکړی که څه هم نه وی رسيدلی دی ته اور يو نور دی بالا پر بل نور

يَهْدِي اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ؕ

لاره ښيئ خدای نور خپل ته هغه چاته چه اراده ئي وشي او بيانوی خدای مثالونه لپاره د خلقو

وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۳۵﴾ فِيْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ

او خدای په هر شی باندی عالم دی په کورو کښی چه اذن کړی دی خدای چه پورته دی کړل سی او ياد دے

ف١

روايت دی چه صبيحی غلام د حويطب ابن عبد العزیٰ سوال ئي د مکاتبوالی وکړ خو حويطب منع وکړه نو الله تعالیٰ دا ايت شريف نازل کړ نو حويطب دئی په سلو اشرفيو باندی مکاتب کړ هر کله چه دا ايت شريف نازل سو چه وَاٰتُوْهُمْ مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ نو شل اشرفئی ده ته وبخښلے او باقی هغه ادا کړي او دی بيا په ورځ د حنين په غزا کښی شهيد سوی دی ١٢ روح

ف٢

د عبد الله ابن ابی شرمناسته مينځی وي او ده به په هغوی باندی په زور سره زنا کوله او پيسی ئي ورباندی مقرری کړی وي نو دوو مينځوله دوی څخه چه معاذه رض او مسيکه رض وي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ئي فرياد وکړ دی کار نو الله تعالیٰ دا ايت شريف نازل کړ چه وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ الاٰية ١٢ روح البيان

ف٣

مراد له دی کورو څخه مسجد ونه دي ځکه چه حضرت عبد الله ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما ويلے دي چه مسجد ونه کورونه د خدای دي په ځمکه کښی او دا د اسمان خلقو ته داسی ځليږي او رڼا کوی لکه د ځمکے خلقو ته ستوری ١٢ تفسير روح البيان

فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ﴿٣٦﴾ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ

په هغه کښې نوم د ده تسبيح وائي ده لره په دې کورونو کښې سحر او ماښام کښې سړي چه نه مشغولوي دوي

تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ

سوداګري او نه خرڅول له ياده دخداي څخه او له درولو دلمانځه څخه او له ورکولو دزکات څخه

يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ ﴿٣٧﴾ لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ

ويرېږي دوي له هغه ورځي څخه چه پريشانه به سي په هغه کښې زړونه او سترګي لپاره ددې چه جزا ورکړي دوي ته خداي

أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَن

بښه جزا دهغه چه کړي دي دوي او چه زيات کړي دوي ته له فضل خپل څخه او خداي روزي ورکوي هغه چاته

يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ بِقِيعَةٍ

چه اراده وسي د ده بې حسابه او هغه کسان چه کافران سوي دي عملونه د دوي لکه سراب اسي دي په بيابان کښې

يَحْسَبُهُ الظَّمْآنُ مَاءً حَتَّىٰ إِذَا جَاءَهُ لَمْ يَجِدْهُ شَيْئًا وَوَجَدَ اللَّهَ عِندَهُ

چه ګمان کوي پر هغه تږي سړي د اوبو تر هغه وخته چه راسي هغه ځاي ته نو نکړي پيدا دي هيڅ شي او پيدا کړي خداي په نزد دهغه

فَوَفَّاهُ حِسَابَهُ وَاللَّهُ سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٣٩﴾ أَوْ كَظُلُمَاتٍ فِي بَحْرٍ لُّجِّيٍّ

نو پوره ورکړي ده ته جزاء دعمل ده او خداي ژر حساب کوونکي دي او يا لکه تاريکي د دريا چه ژبي وهونکي وي

يَغْشَاهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِ سَحَابٌ ظُلُمَاتٌ

چه پټ کړي وي دي يو څپې د پاسه دهغه بله څپه وي بالا پر هغه څپه وريځ وي دا تيارې دي

بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ إِذَا أَخْرَجَ يَدَهُ لَمْ يَكَدْ يَرَاهَا وَمَن لَّمْ يَجْعَلِ

بعضي دوي پاس پر بعضو نوروي ته هغه وخت کښې چه راوباسي دي لاس خپل نژدې نه دي چه ويني او څوک چه هغه ته نه وي مقرر کړي

٥ع١١ اللَّهُ لَهُ نُورًا فَمَا لَهُ مِن نُّورٍ ﴿٤٠﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَن فِي

خداي هغه لره نور نو نه وي هغه لره هيڅ نور ايا نه ويني چه بيشکه خداي تسبيح وائي ده لره هغه څوک چه په

السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَ

اسمانو کښې دي او په ځمکه کښې دي او مرغان چه خپرونکي دي وزر خپلو دا ټول چه دي په تحقيق پوه دي خداي په لمانځه هغه

تَسْبِيحَهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٤١﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

او په تسبيح دهغه او خداي عالم دي پر هغه چه دوي ئې کوي او خداي لره ده پاچاهي د اسمانو او د ځمکي

---

١ د اتعلق لري له يُسَبِّحُ سره چه مخکښې راغئ معنئ ئې دا سي سو چه تسبيح وائي دخداي په کورو کښې بعضو خلق چه نه وي مشغوله کړي دوي سوداګري تر اخره پوري ١٢ ١٢ ١٢

روح

بلقیس نه بره هوښیاره ښځه وه چه خپل تخت ئې وپیژانده چه دا دی مګر چه لا دې څخه یو داسي نو ښتنه وسوه چه ایا ستا تخت دا دې او نو ځکه دې داسې جواب ورکړ سمدستي حضرت سلیمان علیه السلام او ویلی وو چه پر پنډیو بڅلکو د دې بلقیس ویښتان دي نو لپاره د معلومولو د دې خبرې دې په خپل دفتر کښې کښېنستې او لاندې د هغه ئې دا اوبو ویاله جاري کړه او پر فرش د هغه باندې ئې په ځای د پرږو کانو شیشې ولګولې چه له ورایه داوبو چینې ښکاریدلې هر کله چه بی بی بلقیسه ملاقات د سلیمان علیه السلام ته راغله نو جامه ئې د بڅلکو څخه پورته کړه یعنې چه پر دې اوبو کښې ننه شي نو سلیمان علیه السلام ورته وویل چه اِنَّهٗ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّنْ قَوَارِيْرَ نو هغه خبره رښتیا وه چه پر پنډیو د هغه ولښته ویښته نو د ویښتو دوره کولو دس څخه د علاج د هغه وکړه نو هغوي ورته وویل چه په پاکئ دي وخریل سي سلیمان علیه السلام وویل چه پر هغه به زخمي شي بیائي له پیریانو څخه پوښتنه وکړه نو هغوی ورته وویل چه موږ لې په علاج نه پوهیږو وبیائي له شیطانانو څخه پوښتنه وکړه نو هغوی نوره ته ملګه او حمام جوړ کړل او وئي ویل چه داسي علاج به ئې وکړو چه داسې به شي لکه صافه تخته د سپینو زرو ١٢ روح وموضح،،

ف ٣ یعنې څوك مسلمانان او څوك کافران شول او په کوم کښې ئې جګړې او بې اتفاقي شروع کړې ١٢ منه

ف ٤ یعنې په غوښتلو د عذاب سره مخکې له نیکئ څخه یعنې له توبې څخه او د ا ځکه چه دوی به ویل چه موږ ته عذاب ورسوئ نو توبه به وکا بزو ١٢

تفسیر یسیر

فِي الْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿٤٨﴾
پۀ ښار کښې د ثمود یا نو کسان نهٔ سړي چه فساد به ئې کاوه په ځمکه کښې او صلاحیت به ئې نهٔ کاوه

قَالُوا تَقَاسَمُوا بِاللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُ وَأَهْلَهُ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ
وئیل هغوی چه قسمونه ئې سره وخوړل په خدای چه خامخا شپې به قتل کړو دے او اهل د ده بیا به وایو مونږ ولي د ده ته چه نهٔ وو حاضر مونږ ځائے د هلاک

أَهْلِهِ وَإِنَّا لَصَادِقُونَ ﴿٤٩﴾ وَمَكَرُوا مَكْرًا وَمَكَرْنَا مَكْرًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٥٠﴾
د اهل د ده او بیشکه چه مونږ خامخا رښتني یو او فریب وکړو دوی په مکر کولو سره او جزا د فریب ورکړه مونږ جزا ورکولو سره او دوی نه پوهیدل

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ أَنَّا دَمَّرْنَاهُمْ وَقَوْمَهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٥١﴾
نو وګوره چه څرنګه سوا انجام د فریب د دوئ چه بیشکه مونږ هلاک کړل هغوی او قوم د دوی ټول

فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥٢﴾
نو دا کورونه د هغوی دي خالي پراته دي په سبب د هغه چه ظلم ئې کاوه بیشکه چه په دې کار کښې خامخا علامه ده لپاره د هغه قوم چه پوهیږي

وَأَنْجَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴿٥٣﴾ وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ
او نجات ورکړو مونږ هغه کسانو ته چه ایمان ئې راوړے وو او پرهیزګاري ئې کښې او یاد کړه قصه د لوط ع چه ووئیل قوم خپل ته

أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ وَأَنْتُمْ تُبْصِرُونَ ﴿٥٤﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً
ایا راځئ تاسو بدکار ته او تاسو پوهیږئ ایا تاسو راځئ سړو ته لپاره د شهوت

مِنْ دُونِ النِّسَاءِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿٥٥﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ
بې له ښځو نه بلکه تاسو چه ئې یو قوم ئې چه نه پوهیږئ نو نهٔ وو جواب د قوم د ده

إِلَّا أَنْ قَالُوا أَخْرِجُوا آلَ لُوطٍ مِنْ قَرْيَتِكُمْ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٥٦﴾
مګر دا چه وئې وئیل چه وباسئ آل د لوط ع له ښهره ستاسو نه بیشکه دوی سړي دي چه ځان پاک ساتي

فَأَنْجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَاهَا مِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٥٧﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ
نو نجات ورکړو مونږ ده او اهل د ده ته مګر ښځې د ده ته چه مقرر کړي وه مونږ له پاتې کیدونکو نه او اورولو مونږ پر دوی باندې

ع ٤ ١٩ مَطَرًا فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِينَ ﴿٥٨﴾ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ وَسَلَامٌ عَلَى
باران د کاڼو نو بد دی باران د ویرول شویو وو وایه ته چه ټول ثنا خدای لره ده او سلام دې پر

عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَى آللَّهُ خَيْرٌ أَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٥٩﴾
بندګانو د هغه چه خوښ کړي دي خدای ایا خدای ښه دی او که هغه بتان چه تاسو ئې ورسره شریکوي

ف ١
روایت دے چه صالح علیه السلام په
هغه ښهر کښې یو مسجد لپاره د لمانځه
کولو جوړ کړے وو هر کله چه دوی ونه
قتل کړه نو صالح علیه السلام ورته
ووئیل چه تاسو به ورځ ستلو دریو
ورځو څخه هلاك شئ نو دوی نهه
کسانو بد معاشانو مشوره وکړه
او وئې وئیل چه د صالح ع دا نیت
دے چه د ورسته له دریو ورځو څخه
به راڅخه خلاص شي نو راځئ چه دی
تر ځان دمخه کړو او هغه مسجد د صالح
علیه السلام ته روان شول چه دی
هلته قتل کړي او بیائې عیال ته ورشي
او په کور کښې ئې قتل کړي نو الله تعالیٰ
پر دوی باندې یو لوئي کاڼې له اسمانه
راواچاوه چه ټول تری لاندې شول
او نور په اواز د جبرائیل علیه السلام
فنا شول ١٢ روح ف ٢ روایت دے
هر کله چه هغو نهو کسانو بد بختانو
هغه اوښه زخمي کړه بیا په حضرت صالح
علیه السلام او اهل د ده پسې روان
شول چه دوی وژني نو الله تعالیٰ
په لاره کښې پرښتې پرې مسلطې کړې
چه په کاڼو ئې وویشتل او ختم ئې
کړل هغه نور قوم هم هلاك سو
صالح ع حضرموت ته ځنې ولاړه او
هلته وفات شو انا لله وانا الیه راجعون ١٢ مظ

ف ٣
له ابن عباس رضي الله تعالیٰ عنه څخه
روایت دے چه مراد له خوښ شو یو
بندګانو څخه اصحاب د رسول الله صلی
الله علیه وسلم دي چه الله تعالیٰ
لپاره د ملګري د خپل حبیب غوره
کړي دي. رواه بزار ١٢ ابن کثیر
ف ٤ عادت د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وو چه
هر کله به ئې دا آیت شریف ولوستو نو
وبه ئې وئیل چه بَلِ اللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى وَاَجَلُّ
وَاَكْرَمُ یعني دا سی نه ده بلکه خدای
تعالیٰ غوره دی باقي پاتې کیدونکے
لوی دی او بزرګ دی ١٢ روح

أَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَأَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً

اوکه هغه څوك غوره دی چه پیدا کړی ئی دی اسمانونه او ځمکه او راکښته کړی ئی دی ستاسو لپاره له اسمان څخه اوبه

فَأَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ مَّا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا ۗ

نو شنه کړی مونږ په هغه سره باغونه خاوندان د تازګئ نه دی کیدونکی له تاسو څخه دا چه زرغونی کړی د درختو د هغه باغو

ءَإِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ ﴿٦٠﴾ أَمَّنْ جَعَلَ الْأَرْضَ

ایا شته بل معبود سره له خدای بلکه دی دا کفار داسی قوم چه ګرځی له حق څخه اوکه هغه څوك غوره دی چه ګرځولی ئی ده ځمکه

قَرَارًا وَّجَعَلَ خِلٰلَهَآ أَنْهٰرًا وَّجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ

ځای د ارام او ګرځولی ئی دی ده په منځ د دې کښی ولی (بیالی) او ګرځولی دی ده د دغه ځمکې لره غرونه محکم او ګرځولی ئی ده په منځ

الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗ ءَإِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٦١﴾

د دوو دریابو کښی پرده ایا شته بل معبود سره له خدای یه بلکه زیات د دوی نه پوهیږی

أَمَّنْ يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوْٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ

اوکه څوك هغه غوره دی چه قبلوی سوال د عاجز په هغه وخت کښی چه راوبولی دی او لیری کوی دی هغه سختی او ګرځوی دی

خُلَفَآءَ الْأَرْضِ ۗ ءَإِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۚ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٦٢﴾

تاسو خلیفګان د ځمکی ایا شته بل معبود سره له خدای لږ غوندی پند اخلی تاسو

أَمَّنْ يَّهْدِيْكُمْ فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَنْ يُّرْسِلُ الرِّيٰحَ

او که هغه څوك غوره دی چه لاره ښیی تاسو ته په تاریکیو د بیابان کښی او د دریاب کښی او هغه څوك چه رالیږی بادونه

بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ۗ ءَإِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۚ تَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا

زیری کونکی په مخکی د رحمت د ده ایا سته بل معبود سره له خدای لوی دی خدای ج له هغه څخه

يُشْرِكُوْنَ ﴿٦٣﴾ أَمَّنْ يَّبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ

چه دوی ئی ورسره شریکوی او که هغه څوك غوره دی چه ابتدائی وکړه د پیدا ئښت بیا ئی پیدا کوی لمر څخه او هغه چه روزی

مِّنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ ۗ ءَإِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۚ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ

درکوی تاسو ته له اسمان څخه او له ځمکی څخه ایا سته بل معبود سره له خدای ج ووایه ته چه راوړئ دلیل خپل

إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٦٤﴾ قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

که ئی تاسو رښتینی ووایه ته چه نه پوهیږی هغه څوك چه په اسمانونو کښی دی او چه په ځمکه کښی دی

ف

په نفائس المجالس کتاب کښی لیکلی دی چه
چه په حدیث شریف کښی راغلی دی چه
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی
دی چه خوښ شوی دی ما ته له دنیا
ستاسو څخه دری شیان بوی د عطرو
او ښځوالی او سړګی د ماله لمانځه کښی
ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه چه دا
خبره واوریده نو وئی ویل یا رسول الله
ماته له دنیا ستاسو څخه دری شیان
محبوب دی کتل تاته او مصرفول د
مال خپل پر تا باندی او کښیناستل په مخکی
ستا او عمر رضی الله عنه وویل چه ما
له دنیا ستاسو څخه دری شیان پر
محبوب دی تقرکول د وستاو د خدای
ته قهرکول پر دښمنانو د خدای باندی
او ښتنه د حق او د وو د خدای عثمان رضی
الله تعالی عنه وویل چه ما ته ای مالکه
سره د لاره زما د دغه شیان له دنیا ستاسو
څخه خوښ شوی اچول د سلام په هر چا
باندی او ورکول د ډوډی او په شپه
کښی لمونځ کول چه خلق ویده وی علی
کرم الله وجهه وویل چه ای سره د لاره
مالکه ما ته خوښ شوی دی په
دنیا ستاسو کښی دری شیان تو کل
په تورو باندی یعنی جهاد روژه نیول
په دوبی کښی او عزت ورکول میلمه ته
نو جبرائیل علیه السلام حاضر سو وئی ویل
چه لیسیدی محبوب سوی دی ما ته له دنیا
ستاسو څخه دری شیان لاره ښوول
لاره ورکونکو ته مدد کول له مسکینانو
سره او ویل د کلام رب العلمین بیا
دی غائب سو یو ساعت وروسته را غلی
او وئی ویل چه الله تعالی پر تاسلام وائی
او وائی چه زما له دنیا ستاسو څخه دری
شیان خوښ دی او ښکی د ګنهګارانو او
عذاب د ګنهګارانو چه توبه نه کاری او
دعاد عاجزی کونکو محتاجانو ١٢ مرتب
٢ یعنی ورځی درکوی تاسو ته له اسمان
څخه په باران او روزی له ځمکی څخه په
شنه کولو د فصلو او میوو. یا په ذریعه
د اسبابو سماوی او ارضیو سره تاسو ته رزق درکوی ٢ حسبه غیره ٣ که ئی تاسو رښتینی په دی خبره کښی چه بل خدای هم سته ځکه چه کمال قدرت له لوازمو د الوهیت څخه دی او هغه چاته نه دی

Scanned with CamScanner

الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ ۚ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿٦٥﴾ بَلِ ادَّارَكَ
په غیب باندې مګر خدای او نه پوهیږي دا کفار چه کله به پورته کیږي دوی بلکه ګډ شوی دی

عِلْمُهُمْ فِي الْآخِرَةِ ۚ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِّنْهَا ۖ بَلْ هُم
علم د دوی په باب د قیامت کښې بلکه دوی په شك کښې دی له قیامت څخه بلکه دوی له دغه قیامت څخه

۵ مِّنْهَا عَمُونَ ﴿٦٦﴾ ع وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَإِذَا كُنَّا تُرَابًا وَآبَاؤُنَا أَئِنَّا
ړانده دي او وهغه کسان وائی چه کافران شوي دي آیا په هغه وخت کښې چه شو موږ خاورې او پلاران زموږ آیا موږ به

لَمُخْرَجُونَ ﴿٦٧﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا هَٰذَا نَحْنُ وَآبَاؤُنَا مِن قَبْلُ إِنْ
خامخا راویستل شو خامخا په تحقیق وعده کړی شوې ده موږ ته د دې قیامت او هم له پلارانو زموږ سره مخکې له دې څخه نه دی

هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾ قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا
دا خبرې مګر قصې د اولنو خلقو و وایه ته چه وګرځئ په ځمکه کښې نو وګورئ

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ ﴿٦٩﴾ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُن
چه څرنګه سوا خیر کار د کافرانو او مه خفه کیږه ته پر دوی باندې او مه اوسه ته

فِي ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿٧٠﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ
په تنګۍ له هغه څخه چه دوی مکر کوي او وائی دوی چه کله به وي دا وعده د راتلو د عذاب که یئ تاسو

صَادِقِينَ ﴿٧١﴾ قُلْ عَسَىٰ أَن يَكُونَ رَدِفَ لَكُم بَعْضُ الَّذِي
رښتینې و وایه ته چه نژدې ده دا خبره چه وي به نژدې شوې تاسو ته بعضې هغه عذاب

تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٧٢﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ
چه په تلوار غواړئ ئې او بیشکه چه رب ستا خامخا خاوند د فضل دی پر خلقو باندې مګر

أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ
ډیریان د دوی شکر نه اداء کوي او بیشکه چه رب ستا خامخا پوهیږي پر هغه چه پټوي ئې

صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٤﴾ وَمَا مِنْ غَائِبَةٍ فِي السَّمَاءِ
سینې د دوی او پر هغه چه ښکاره کوي دوی او نشته هیڅ پټ په آسمان کښې

وَالْأَرْضِ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ﴿٧٥﴾ إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَقُصُّ عَلَىٰ
او په ځمکه کښې مګر لیکلې دی په کتاب ښکاره کښې بیشکه دا قرآن بیانوي پر

ف۱
عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهما وائی دی چه ردف په معنی د قرب دي یعنې شائی تاسو ته به هغه عذاب نژدې شوي وي چه تاسو ئې غواړئ په تلوار سره د هم دا هسې او ضحاك رض او عطا رح او نور مفسر هم دا قول دی عسی او لعل او سوف په وعده د پاچاهانو کښې استعمالیږي یعنې مدخول د دوی یقینی وي ۱۲
تفسیر حسینی

ف۲
چه په تلوار غواړئ تاسو هغه عذاب په ورځ د بدر وو چه اوویا کسان مشران د قریشو څخه هلاك شول او اوویا کسان بندیان شول او اوه کاله قحط وو ۱۲
تیسیر

ف۳
مګر چه هغه ټول لیکلی پروت دی په ښکاره کتاب کښې چه لوح محفوظ دی داوه آسمانونو څخه پورته ۱۲
تیسیر مختصراً

بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَكۡثَرَ ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴿٧٦﴾ وَإِنَّهُۥ

بنی اسرائیلو باندې زیات هغه شی چه دوی په هغه کښې اختلاف کوی او بیشکه چه دا قرآن

لَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٧٧﴾ إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُم

خامخا لارښوونکی دی او رحمت دی لپاره د مؤمنانو بیشکه چه رب ستا به فیصله وکړی په منځ د دوی کښې

بِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٧٨﴾ فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۖ إِنَّكَ

په حکم خپل سره او دی غالب دی عالم دی نو توکل وکړه ته پر خدای باندې بیشکه چه ته

عَلَى ٱلۡحَقِّ ٱلۡمُبِينِ ﴿٧٩﴾ إِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ

پر حق ښکاره باندې یې بیشکه چه ته او رولی نه سی خبره مړیو ته او اورولی نه سی کڼو ته

ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ﴿٨٠﴾ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِي ٱلۡعُمۡيِ عَن

اواز د نارو په هغه وخت کښې چه وګرزي دوی پرشا او نه یې ته لاره ښوونکی ړندو ته له

ضَلَٰلَتِهِمۡۖ إِن تُسۡمِعُ إِلَّا مَن يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسۡلِمُونَ ﴿٨١﴾

ګمراهۍ د دوی څخه نه اوروې ته نصیحت مګر هغه چا ته چه ایمان راوړي پر آیتونو زمونږ نو دوی غاړه ایښوونکی وحکم د خدا ته او په هغه وخت کښې

وَإِذَا وَقَعَ ٱلۡقَوۡلُ عَلَيۡهِمۡ أَخۡرَجۡنَا لَهُمۡ دَآبَّةٗ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ تُكَلِّمُهُمۡ أَنَّ

چه نژدې شي واقع کیدل د قیامت پر دوی باندې نو راوبه باسو مونږ دوی ته یو ګرځیدونکی له ځمکې څخه چه خبرې به کوي له دوی سره چه بیشکه

ٱلنَّاسَ كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿٨٢﴾ وَيَوۡمَ نَحۡشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٖ

دا خلق وو چه پر آیتونو زمونږ باندې یقین یې نه کاوه او یاد کړه هغه ورځ چه راټول به کړو مونږ له هرې ډلې څخه

فَوۡجٗا مِّمَّن يُكَذِّبُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُمۡ يُوزَعُونَ ﴿٨٣﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُو

یو ټولی له هغه چا څخه چه دروغ وائي آیتونه زمونږ نو دوی به راحصار ول کیږي ترڅو چه راشي دوی ټول

قَالَ أَكَذَّبۡتُم بِـَٔايَٰتِي وَلَمۡ تُحِيطُواْ بِهَا عِلۡمًا أَمَّاذَا كُنتُمۡ

وبه وائي ورته خدای آیا تکذیب کړی وو تاسو د آیتونو زما او تاسو چاپیره نه وي پر هغه له جهته د علم او که څه کار وو هغه چه وی تاسو

تَعۡمَلُونَ ﴿٨٤﴾ وَوَقَعَ ٱلۡقَوۡلُ عَلَيۡهِم بِمَا ظَلَمُواْ فَهُمۡ لَا يَنطِقُونَ ﴿٨٥﴾

کول به مو او واقع به سی خبره د عذاب پر دوی باندې په سبب د هغه چه ظلم یې کړی وو نو دوی به خبرې نه شی کولی

أَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا جَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ لِيَسۡكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبۡصِرًاۚ

آیا نه وینی دوی چه بیشکه مونږ ګرځولې ده شپه لپاره د دې چه آرام وکړي دوی په هغې کښې او ګرځولې مو ده ورځ ښوونکی د شیانو

ف ۱

حضرت قتادة رضی الله تعالیٰ عنه ویلی دي چه ثابت شی غضب پر دوی باندې. ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما ویلی دي چه هغه دابة الارض به داسې وائي چه أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ له ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه پوښتنه وشوه چه معنیٰ د تُكَلِّمُهُمۡ خبرې کول دی او که زخمي کول. نو هغه وویل چه والله دا دواړه کار به وي له مسلمانانو سره به خبرې کوي او کافران به زخمي کوي. په تفسیر جامع البیان

ع ۶ ۱۶ ۲

کښې لیکلي دي چه په صفت د دابة الارض کښې او په ځای د راوتلو د هغې کښې او په دې کښې چه څه کار به کوي او کله به راځي ډیر احادیث وارد شوي دي بعضې صحیح بعضې حسن بعضې ضعیف دي هر څو مره احادیث چه په باب د راتلو د هغې کښې دي او چه هغه علامت د قیامت دی وارد شوي دي تول صحیح دي"

فتح البیان

اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوْمٍ یُّؤْمِنُوْنَ ﴿٨٦﴾ وَیَوْمَ یُنْفَخُ فِی

بیشکه چه په دې کار کښې خامخا علامې دي پر قدرت زمونږ لپاره د هغه قوم چه ایمان راوړي او یاد کړه هغه ورځ چه پو کل و کړے

الصُّوْرِ فَفَزِعَ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِی الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ

په شپېلۍ کښې نو وبه ویرېږي هغه څوک چه په اسمانو کښې وي او هغه څوک چه په ځمکه کښې وي مګر هغه څوک له

شَآءَ اللّٰهُ ؕ وَکُلٌّ اَتَوْهُ دٰخِرِیْنَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَی الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا

چه اراده وشي د خدای او ټول به راشي خدای له عاجزان او وینې به ته غرونه ګمان به کوې ته پر هغه

جَامِدَةً وَّهِیَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ؕ صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِیْۤ اَتْقَنَ کُلَّ

چه ولاړ وي او دوي به تېرېږي لکه تېرېدل د وریځې کار د خدای دي هغه خدای چه محکم کړي ئې دي هر

شَیْءٍ ؕ اِنَّهٗ خَبِیْرٌۢ بِمَا تَفْعَلُوْنَ ﴿٨٨﴾ مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَیْرٌ مِّنْهَا ۚ

شي بیشکه چه دی خبر دی پر هغه چه تاسو ئې کوئ هر چا چه راتلل وکړه په نیکۍ سره نو مقرره ده له جزا ښه له هغه څخه

وَهُمْ مِّنْ فَزَعٍ یَّوْمَىِٕذٍ اٰمِنُوْنَ ﴿٨٩﴾ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّیِّئَةِ فَکُبَّتْ

او دوي به له ویرې څخه په د غه ورځ په امان وي چه ویره د عذاب ده او هر چا چه الله ته وکړل په بدۍ سره نو نسکورې به وغورځول شي

وُجُوْهُهُمْ فِی النَّارِ ؕ هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٠﴾ اِنَّمَاۤ

مخونه د دوي په اور کښې نه درکېږي جزا تاسو ته مګر د هغه چه وئ تاسو کول به مو بیشکه دا خبره ده

اُمِرْتُ اَنْ اَعْبُدَ رَبَّ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ الَّذِیْ حَرَّمَهَا وَلَهٗ

چه امر کړې شوی دی ماته چه عبادت کوم د رب د دې ښهر هغه رب چه حرام کړې ئې دی دا او د ده لره دی هر

کُلُّ شَیْءٍ ۫ وَّاُمِرْتُ اَنْ اَکُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ﴿٩١﴾ وَاَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ ۚ

شی او امر کړې شوی دي ماته چه شم زه له غاړه اېښوونکو څخه خدای ته او دا دي چه زه وایم قران

فَمَنِ اهْتَدٰی فَاِنَّمَا یَهْتَدِیْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ اِنَّمَاۤ

نو هغه چا چه سمه لاره پیدا کړه لپاره د ځان خپل او هغه څوک چه ګمراه شو نو و وایه ته چه بیشکه

اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِیْنَ ﴿٩٢﴾ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَیُرِیْکُمْ اٰیٰتِهٖ

ع ٧ زه له ویرونکو څخه یم او و وایه ته چه ټوله ثنا خدای لره ده خامخا به وښیي تاسو ته علامې خپلې

١١

٣ فَتَعْرِفُوْنَهَا ؕ وَمَا رَبُّکَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٣﴾ ع

نو به یې پېژنئ تاسو هغه او نه دی رب ستا بې خبره له هغه څخه چه تاسو ئې کوئ

ف ١ چه هغه انبیاء علیهم الصلوات والتسلیمات دي او اولیاء دي او شهداء دي او هغه کسان دي نه به وي هیڅ ویره پر هغوی او نه به هیڅ غم ژن شي او څلور پرښتې دي او پرښتې بار وړونکې د عرش او مقربې دي ١٢ والله اعلم ١٢ روح

ف ٢ لما بو هریرة رضي الله تعالی عنه څخه مرفوعاً روایت شوی دي چه مراد له حسنې څخه کلمه د لا اله الا الله ده او له سیئې څخه مراد شرک دي. دا روایت عبد ابن حمید رح او ابن جریر رح او ابن مردویه رح کړې دی ١٢ ابن کثیر و فتح البیان

ف ٣ بعضو عالمانو رحمهم الله تعالی ویلي دي چه مراد له نیکۍ څخه اخلاص دی له الله تعالی سره. او یا هر قسم نیکۍ چه وي ١٢ منه رحمه الله

ف ٤ چه عبادت کوم د پروردګار د دغه ښهر چه مکه معظمه ده هغه خدای چه ګرزولی دی ده دا ښهر حرام په امن چه وابسته او اوغزي او ښکار ئې ټول په امن دي او ظلم او خونریزي پکښې څوک نه شي کولی ١٢ یسیر

ف ٥ ښهر دی چه ورته ښیي تاسو څخه ښې د قدرت خپل لکه چاودل د اسمان او ځمکې. او راتلل د دابة الارض او داسې نور. او یا څخه په د ښې د قهر په دنیا کښې لکه واقعه د جنګ بدر او په اخرت کښې عذاب آبد ١٢ یسیر

سُوْرَةُ الْقَصَصِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ وَّثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا تِسْعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم پر نامه دخدای چه بخښونکی دی مهربان دی

طٰسٓمّٓ ۞۱ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ۞۲ نَتْلُوْا عَلَيْكَ مِنْ

خدای عالم دی پر معنے ددے دا ایتونه دکتاب بیانونکی دي وایو مونږ پرتا باندي له

نَّبَاِ مُوْسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۞۳ اِنَّ فِرْعَوْنَ

قصي د موسیٰ؈ اودفرعون څخه په رښتیا سره لپاره دهغه قوم چه ایمان راوړي بیشکه چه فرعون

عَلَا فِي الْاَرْضِ وَجَعَلَ اَهْلَهَا شِيَعًا يَّسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً

تکبر کړی وو په ځمکه کښی اوګرځولی ئی وو اهل د هغې ډلی ډلی چه ضعیفه به ئی بلله یوه ډله

مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيٖ نِسَآءَهُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ

له هغوی څخه حلالول به ئې زامن د هغوی او ژوندئ به ئی پرېښودلی لوڼه د هغوی بیشکه چه دئ وو

مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ۞۴ وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ عَلَى الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا

له فساد کوونکو څخه او اراده لرو مونږ دی چه احسان وکړو پر هغه کسانو باندي چه ضعیفان کړی سوي وو

فِي الْاَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ اَئِمَّةً وَّنَجْعَلَهُمُ الْوٰرِثِيْنَ ۞۵ وَنُمَكِّنَ

په ځمکه کښی او چه وګرځوو دوی اماما ن په ځمکه کښی او چه وګرځوو دوی وارثان د ملك او چه قدرت ورکړو

لَهُمْ فِي الْاَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا مِنْهُمْ

دوی ته په ځمکه کښی او چه وښیو فرعون ته او هامان ته او لښکر د دوی ته له دوی څخه

مَّا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ ۞۶ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّ مُوْسٰٓى اَنْ اَرْضِعِيْهِ ۚ

هغه چه وو دوی ویریدل به له هغه څخه او وحی وکړه مونږ مور د موسیٰ؈ ته د دی چه تی ورکړه ده ته

فَاِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَاَلْقِيْهِ فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِيْ وَلَا تَحْزَنِيْ ۚ

نو هر کله چه ویریږې ته پر ده باندي نو غورځوه دی په دریاب کښې او مه ویریږه او مه خفه کیږه

اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَيْكِ وَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۞۷ فَالْتَقَطَهٗۤ

بیشکه چه مونږ به بیرته راولوونکي یو دا تاته او ګرځونکي یو ده له پیغمبرانو څخه نو رااخیست ده لره کورني د

ف ۱

فرعون ته یو کاهن وویل چه په بنی اسرائیلو کښی به یو هلك پیدا شي چه د هغه له لاسه به ستا باچاهی ولاړه شي نو هغه د بنی اسرائیلو د هلکانو پر قتل شروع وکړه په شمار ئی نوی زره هلکان قتل کړل او لوڼه د بنی اسرائیلو به ئې ژوندئ پرېښودلې لپاره د خپل خدمت مګر د هغه تدبیر هیڅ فائده ونکړه هر څه چه الله تعالیٰ په تقدیر کښی مقرر کړی وو هم هغه وشول الله تعالیٰ فرمائی وَاللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰۤى اَمْرِهٖ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ. یعنی الله تعالیٰ په خپل کار کښی غالب دی مګر اکثر خلق نه پوهیږي ۱۲

روح البیان وغیره

ف ۲

فرعون مردود دي خبري ته فکر ونکړ چه د غه کاهن به یا رښتینی وی او یا به دروغژن وی که چیری رښتینی وی نو خامخا به د املك لوی سړی او باچاهی به ولخلی او که دروغژن وی نو د دی دومره خلقو خونو نه اختیار وژلو ئې څه فائده لری ۱۲ منه رحمه

ربه

آلَ فِرْعَوْنَ لِيَكُوْنَ لَهُمْ عَدُوًّا وَّحَزَنًا ۭ اِنَّ فِرْعَوْنَ

ال دفرعون چه شي دی دوی لره دښمن او غم بیشکه چه فرعون

وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا كَانُوْا خٰطِـِٕيْنَ ⑧ وَقَالَتِ امْرَاَتُ

او هامان او لښکری د دوی وو خطا کونکي او وویل ښځې

فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّيْ وَلَكَ ۭ لَا تَقْتُلُوْهُ ۖ عَسٰٓى اَنْ يَّنْفَعَنَآ

دفرعون چه یخوالی د سترګو دی د ما لره او تا لره مه وژنئ دی شاید چه

اَوْ نَتَّخِذَهٗ وَلَدًا وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ⑨ وَاَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ

فائده به ورسوی موږ ته یا به ونیسو دی زوی او دوی نه پوهیدل ده او شو زړه د

مُوْسٰى فٰرِغًا ۭ اِنْ كَادَتْ لَتُبْدِيْ بِهٖ لَوْلَآ اَنْ رَّبَطْنَا عَلٰى

د مور د موسیٰ خالی له صبره څخه بیشکه چه نژدی شوه دا چه ښکاره کړی دی چه ما زوی دی که چیری نه وی تړلی موږ صبر بر

قَلْبِهَا لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ⑩ وَقَالَتْ لِاُخْتِهٖ قُصِّيْهِ

زړه د دی باندی لپاره د دی چه شي د الباور کونکو څخه او وویل دی خور د ده ته چه پسی ځه په ده پسی

فَبَصُرَتْ بِهٖ عَنْ جُنُبٍ وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ⑪ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ

نو کتل به ئی ده ته له لیری ځای څخه او دوی نه پوهیدل (چه دا ئی خور ده) او حرام کړی وو موږ پر ده

الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰٓى اَهْلِ بَيْتٍ

شیدی دائیګانو مخکي له دی څخه نو وویل دی خور ایا زه خبر کړم تاسو په اهل د یو کور ی باندی

يَّكْفُلُوْنَهٗ لَكُمْ وَهُمْ لَهٗ نٰصِحُوْنَ ⑫ فَرَدَدْنٰهُ اِلٰٓى اُمِّهٖ كَيْ

چه تربیت وکړی د ده تاسو لره او دوی به ده لره خیر خواهان وي نو بیرته راوستی موږ دی مور خپلي ته لپاره د دی

تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّلٰكِنَّ

چه یخي سترګي د دی او چه خفه نه سی او چه پوه شي چه بیشکه وعده د خدای رښتینی ده او مګر

اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ⑬ وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَاسْتَوٰٓى اٰتَيْنٰهُ

زیات د دوی نه پوهیږي او هر کله چه ورسیدی موسیٰ ځوانی خپلي ته او برابر سو په عقل کښی نو ورکړه موږ ده لره

حُكْمًا وَّعِلْمًا ۭ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ⑭ وَدَخَلَ

پیغمبری او علم او همدا رنګه موږ جزا ورکوو نیکی کونکو لره او راننوتی دی

ساله

روایت دی چه سرکشه مشرانو د مجلس دفرعون ده ته وویل چه موږ په دی هلاك باندی د هغه هلاك ګمان راځي چه ته ځنی ویریږې ستا له ویری ځنی په دریاب کښی غورځول شوی دی راشه قتل ئی کړه نو فرعون د ده د قتل قصد وکړ نو ښځې د ده چه بی بی اسیه وه ورته ئی وویل چه دی د بنی اسرائیلو له اولادی څخه نه دي چاورته وویل چه تا ته څه معلومه ده دی ورته وویل چه ښځې د بنی اسرائیلو په اولاد د پری مینی وي نو دا کله ممکنه ده چه موږ خپل زوی د دریاب ته وغورځوي نو د فرعون هم اعتبار ورسوا او دی ئی پریښودی ۱۲ روح ۲ یعنې په هغه ضرور باندی چه هغه لیم موسیٰ علیه السلام څخه دوی ته ورسیږی چه هغه غرقید ل او نور افتونه وو ۱۲ روح ۳ حضرت ابن عباس رض، مجاهد رض، عکرمه رض، سعید ابن جبیر رض، ضحاك رض، حسن رض او نورو مفسرو رضی الله تعالیٰ عنهم فرمائیلي دی چه زړه د ده بی د مور د موسیٰ ع له خیال څخه له نورو دنیوی امورو څخه خالی شو ۱۲ ابن کثیر ۴ حضرت ابو امامة مرفوعًا روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم بی بی خدیجی رض ته وویل چه ته نه ئی خبر کړه چه الله تعالیٰ تا بهتری در کړه په مریمه لور د عمران او کلثوم خور د موسیٰ او اسیه ښځه د فرعون نو بی بی خدیجی رض وویل مبارك دی وی تا لره. هکذا انشره الطبرانی ۱۲ فتح ورح ۵ روایت دی چه فرعون له خلقو څخه پوښتنه وکړه چه د غه اهل بیت څوك دی خور د موسیٰ ع وویل چه زه او مور د ده وویل چه د هغې شیدی په څه وجه دی دي وویل چه زما ورور دی هرون ع چه له موسیٰ څخه یو کال مخکښه پیدا شوی وو او په هغه کال کښی فرعون ۱۹

الْمَدِيْنَةَ عَلٰى حِيْنِ غَفْلَةٍ مِّنْ اَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيْهَا رَجُلَيْنِ

ښهر د مصر ته په وخت د غفلت د اهل د هغه ښهر کښې (يعنې د غرمې) نو بيا اوموندل ده په هغه ښهر کښې دوه سړي

يَقْتَتِلٰنِ ۙ هٰذَا مِنْ شِيْعَتِهٖ وَهٰذَا مِنْ عَدُوِّهٖ ۚ فَاسْتَغَاثَهُ

چه جګړه يې کوله دا يو له تابعانو د ده نه ؤ او دا بل له دښمنانو د ده نه ؤ نو فرياد وکړ موسیٰؑ ته

الَّذِيْ مِنْ شِيْعَتِهٖ عَلَى الَّذِيْ مِنْ عَدُوِّهٖ ۙ فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى

هغه سړي چه له تابعانو د ده نه ؤ پر هغه سړي چه له دښمنانو د ده نه ؤ نو په سوک ووهه دې موسیٰؑ

فَقَضٰى عَلَيْهِ ۖ قَالَ هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ عَدُوٌّ

نو مړ يې کړ ووېل موسیٰؑ چه دا کار له عمل څخه د شيطان دی بيشکه چه دی دښمن دي

مُّضِلٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْ لِيْ فَغَفَرَ

لغزوونکی دی ښکاره ووېل موسیٰؑ ای ربه زما بيشکه زه چه يم ظلم مي کړی دی پر ځان خپل نو بخښنه وکړه ما نو بخښنه

لَهٗ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۶﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ

وکړه ده ته خدای بيشکه چه دی بخښونکی دی مهربانه دي ووېل ده ای ربه زما قسم دی پر دغه انعام ستا پر ما نو هيڅکله

اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۷﴾ فَاَصْبَحَ فِي الْمَدِيْنَةِ خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ

به نه شم زه مدد ګار لپاره د ګنهګارانو نو سهار کړ موسیٰؑ په هغه ښهر کښې ويريدونکی چه انتظار به يې کاوه

فَاِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهٗ بِالْاَمْسِ يَسْتَصْرِخُهٗ ؕ قَالَ لَهٗ

نو ناڅاپه هغه سړی چه مرسته يې غوښتې وه له ده څخه پرون بيا يې فرياد کاوه ده ته ووېل هغه ته

مُوْسٰٓى اِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۸﴾ فَلَمَّآ اَنْ اَرَادَ اَنْ يَّبْطِشَ

موسیٰؑ چه بيشکه ته خامخا ګمراه ښکاره يې نو هر کله چه اراده وکړه موسیٰؑ چه ونيسي

بِالَّذِيْ هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ۙ قَالَ يٰمُوْسٰٓى اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِيْ

هغه سړی چه ؤ دښمن د دوی دواړو نو ووېل هغه تابع د ده ای موسیٰؑ ايا اراده لرې ته د دې چه مړ کړې ما

كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْاَمْسِ ۖ اِنْ تُرِيْدُ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ جَبَّارًا

لکه چه مړ کړی دې يو سړی په پرون ورځ کښې اراده نه لرې ته مګر د دې چه شې ته سرکښه

فِي الْاَرْضِ وَمَا تُرِيْدُ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴿۱۹﴾ وَجَآءَ

په ځمکه کښې او اراده نه لرې ته د دې چه شې ته مصلحينو څخه او راغلی

ف ۱
له عبدالله ابن عباس رضي الله تعالی عنهما څخه روايت شوی دی چه حضرت موسیٰ عليه السلام انشاءالله لره دی خبری سره ونه ويل ځکه نو دی بيا پر مرسته د مجرمانو باندې مبتلا سو لکه چه مخسته بيان راغی ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲
روح البيان

ف ۲
دا خبره موسیٰ عليه السلام ځکه ده ته وکړه چه پرون هم هغه قبطي د ده په سبب قتل سوی ؤ او اون بيا دی له بل چا سره پر جنګ دي. هر کله چه موسیٰ عليه السلام اراده د وهلو د قبطي وکړه دغه اسرائيلي داګمان سو چه دی ما وهي نو ويې ويل چه اترید ان تقتلني تر اخره پوری. نو په خلقو کښې مشهوره شوه چه هغه پرونی سړی هم موسیٰ عليه السلام وژلی دی نو د ده د نيولو و قتل اراده يې وکړه. نو دی په طرف د مدين روان شو ۱۲ ۱۲
روح وغيره

رَجُلٌ مِّنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ يَسْعٰى قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنَّ الْمَلَاَ
یو سړی له لیرې طرف د هغه ښهر څخه چه منډې ئې راوهلې وویل هغه ای موسیٰ ع بیشکه مشران د قوم

يَاْتَمِرُوْنَ بِكَ لِيَقْتُلُوْكَ فَاخْرُجْ اِنِّىْ لَكَ مِنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿۲۰﴾
مشوره کوی ستا چه مړ کړی تا نو ووځه بیشکه چه زه تاته له نصیحت کوونکو څخه یم

فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ قَالَ رَبِّ نَجِّنِىْ مِنَ الْقَوْمِ
نو ووتی موسیٰ ع له دغه ښهر څخه ویریدونکی چه کتل به ئې هر طرف ته وئې ویل ای ربه زما خلاصی راکړه ما له قومه

ع ۲ ۸ ۵ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۱﴾ وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسٰى رَبِّىْٓ
ظالمانو څخه اوهر کله چه مخ کړه طرف د مدین ښهر ته وویل دا نژدې دی رب زما

اَنْ يَّهْدِيَنِىْ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿۲۲﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ
چه وبه ښیی ماته سمه لاره اوهر کله چه ورسیده اوبو د مدین ښهر نو پیدائې کړه

عَلَيْهِ اُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُوْنَ ۥ وَوَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ امْرَاَتَيْنِ
پر هغه اوبو یوه ډله له سړو څخه چه اوبول ئې څهارپایان او پیدائې کړې نژدې هغوی ته دوه ښځې

تَذُوْدٰنِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لَا نَسْقِىْ حَتّٰى يُصْدِرَ
چه منع کولې ئې پسونه له اوبو څخه وویل موسیٰ ع څه دی حال ستاسو وویل هغه دواړو چه اوبه نه ورکوو مونږ پسو ته خلو تر څو چه بیرته بوتلی نه سی

الرِّعَآءُ وَاَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ ﴿۲۳﴾ فَسَقٰى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلّٰىٓ اِلَى
داشپانه او پلار زمونږ زوړ سړی دی ډیر نو اوبه ئې ورکړې رمه دی دواړو له لره نو ولاړ

الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّىْ لِمَآ اَنْزَلْتَ اِلَىَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ﴿۲۴﴾
سیوری ته نو وئې ویل ای ربه زما بیشکه زه هغه شی ته چه راوئې لیږې ماته له خیر څخه محتاج یم

فَجَآءَتْهُ اِحْدٰىهُمَا تَمْشِىْ عَلَى اسْتِحْيَآءٍ قَالَتْ اِنَّ اَبِىْ
نو راغله موسیٰ ع له یوه له هغه دواړو څخه چه تله په حیا سره وویل هغه چه بیشکه پلار زما

يَدْعُوْكَ لِيَجْزِيَكَ اَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا فَلَمَّا جَآءَهٗ وَقَصَّ عَلَيْهِ
بولي تا لپاره د دې چه درکړي تا لره مزدوري د هغه چه رمه دې اوبه کړه مونږ لره نو هر کله چه راغلی موسیٰ شعیب ع لره او بیان ئې کړه

الْقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفْ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵﴾
هغه قصه وویل شعیب مه ویریږه ته خلاص شوی ته له قومه ظالمانو څخه

۵۱

هر طرف ته یعنې د افکر وو و سړه چه اوس به گرفتار شم روایت دی چه حضرت موسیٰ علیه السلام لځي پښې وُواو خرځ خوراك هم ورسره نه وُو او مدین ته ورو شو چه د اتو ورځو منزل وُو او په هغه ځای کښې حکومت د فرعون نه وُو ۱۲ منه ح ۲ روایت دی چه هر کله موسیٰ ع هغه اوبو د مدین ته ورسیدی او نو خلق ئې ولیدل چه د کوهي څخه ئې اوبه کښلې او چه فارغیدل شول نو به ئې د کوهي پر سر دوه مره غټه ډبره واړوله چه لسو کسانو هم نه شوای پورته کولی د کوهي د خولې څخه نو هر کله چه خلق ولاړو نو دوه ښځې ولیدلې چه حیرانې ولاړې وې او پسونه ئې درولي وُو نو دی ورته راغلی هغوی بیان ورته وکړ نو دی راغلی او هغه ډبره ئې سره له ستومانی او سختی او لوږې یوازې د کوهي له خولې څخه پورته کړه او اوبه ئې راوکښلې او هغه پسونه ئې اوبه کړل بیا دوی ولاړې او خپل پلار ته ئې دا حال بیان کړ نو هغه یوه لور و رپسی ولیږله چه ماته ئې راوله ۱۲ روح وابن کثیر

ح ۳ روایت دی چه موسیٰ علیه السلام شعیب علیه السلام ته راغلی او هغه ته ډوډۍ ایښې وه نو ئې ده ته وویل چه راځه ډوډۍ راسره وخوره ده ورته وویل زه ویریږم چه د امزدوری نه ما د عمل نه شي چه خدای الیاره می کړی دی یعنې چه پسو ته می اوبه لوکښلې شعیب ورته وویل چه زما او د نیکه اعادت دی چه میلمنو ته ډوډۍ ورکوو نو موسیٰ ع ډوډۍ وخوړه او حال ئې پوره ورته بیا کړ ۱۲

قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ

ووېل يو د هغو دوو ښځو اې پلاره مزدور ونيسه دې بيشکه چه ښه د هغه چا چه مزدور کوې ته هغه څوک دې

الْقَوِيُّ الْأَمِينُ ﴿٢٦﴾ قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ

چه قوي وي او امانتګير وي وويل شعيب ع چه بيشکه زه اراده لرم دا چه نکاح درکړم يوه له دوارو لونو خپلو څخه

هَاتَيْنِ عَلَىٰ أَن تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ ۖ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ

چه دادي په دې چه ته مزدوري شې زما اته کاله نو که پوره کړل تا لس کاله نو هغه به

عِندِكَ ۖ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ ۚ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ

له طرفه ستا څخه وي او اراده نه لرم زه چه سختي را ولم پر تا زر دې چې پيدا به کړې ما که اراده وکه د خدای له

الصَّالِحِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ ذَٰلِكَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ ۖ أَيَّمَا الْأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا

صالحانو څخه وويل موسی ع چه دا وعده ده په منځ زما او په منځ ستا کښې هر يو له دې دواړو نېټو چه پوره کړه ما نو نه به وي

عُدْوَانَ عَلَيَّ ۖ وَاللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴿٢٨﴾ فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى ع ۳ ۶

زياتي پر ما باندې او خدای پر هغه باندې چه وايو مونږ شاهد دی نو هر کله چه پوره کړه موسی ع

الْأَجَلَ وَسَارَ بِأَهْلِهِ آنَسَ مِن جَانِبِ الطُّورِ نَارًا ۚ قَالَ

هغه نېټه او روان سو دی سره له عيال خپل وې ليده له طرفه د کوه طور څخه اور ده وويل

لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّي آتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ جَذْوَةٍ

عيال خپل ته چه درنګ وکړئ بيشکه ما وليد اور ښايي چه زه راوړم تاسو ته له دې اور څخه خبر د لارې يا به راوړم لمبه

مِّنَ النَّارِ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ مِن شَاطِئِ

له اور څخه ښايي چه تاسو پرې تاوده شئ نو هر کله چه راغلی موسی ع هغه اور ته اواز ورته وکړل سو له کناره

الْوَادِ الْأَيْمَنِ فِي الْبُقْعَةِ الْمُبَارَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ أَن يَا مُوسَىٰ

د کنډۍ څخه چه پر ښي طرف د ده وه په هغه ټوټه د ځمکه کښې چه برکتناکه وه له درختي څخه چه اې موسی بيشکه

إِنِّي أَنَا اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٣٠﴾ وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَلَمَّا رَآهَا

زه چه يم زه يم خدای رب د مخلوقاتو او چه وغورځوه لکړه خپله نو هر کله چه وې ليده هغه

تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَانٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ ۚ يَا مُوسَىٰ أَقْبِلْ

چه ښوروېده ګوياکه هغه نری مار دی نو شا ئې کړه چه تښتېده او نه ګرځېده واوېر ته ونه ګرځېده اې موسی مخ کړه

ف ۱

حضرت موسی علیه السلام لس کاله له شعیب علیه السلام سره تېر کړل. بیا ئې شوق د خپل وطن په زړه کښې پیدا شو نو شعیب علیه السلام او وئې ویل ای موسی ته به څرنګه څی له ما څخه او حال دا دی چه زه ډېر ضعیف یم او کم طاقته یم نو موسی علیه السلام ورته وویل چه مور، ورور، او ترور می یادیږي چه په ملک د فرعون کښې دي. نو شعیب علیه السلام ولاړ په سوا او لاس ئې د دعائي پورته کړل او دا دعائی وکړه چه یا رب بحرمة ابراهیم الخلیل واسمعیل الصفي واسحق الذبیح ویعقوب الکظیم ویوسف الصدیق رد قوتي وبصري او حضرت موسی علیه السلام امین پری وایه نو الله تعالی سترګې هغه هم جوړې کړې او قوت ئې هم بیا ورکړ او موسی علی نبینا وعلیه السلام ئې په باب خپله لو کښې وصیت وکړ ۱۲

تفسیر روح البیان

وَلَا تَخَفْ قف إِنَّكَ مِنَ الْآمِنِينَ ﴿۳۱﴾ اُسْلُكْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ

او مه ویریږه بیشکه چه ته له امان پیدا کونکو څخه یې   ننباسه لاس خپل په ګریوان خپل کښې

تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ وَاضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ

چه راووځي تک سپین   بې له عیبه څخه او پیوسته کړه ځان ته خپل یعني مینځ خپل لاس خپل له

الرَّهْبِ فَذَانِكَ بُرْهَانَانِ مِنْ رَبِّكَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ ۚ إِنَّهُمْ

ویرې څخه نو دا دواړه دلیلونه دی له رب ستا څخه   فرعون ته او ډلې د ده ته بیشکه چه دوی

كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴿۳۲﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَأَخَافُ

دی ډله   فاسقان   ووئیل موسی ع ای ربه زما بیشکه زه چه یم وژلی دی ما له دوی څخه یو سړے نو ویریږم

أَنْ يَقْتُلُونِ ﴿۳۳﴾ وَأَخِي هَارُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ

چه ما به وژني دوی ما   او ورور زما هارون هغه ډیر فصیح دی زما څخه له جهته د ژبې   نو ولیږه ته هغه

مَعِيَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِي ۖ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُكَذِّبُونِ ﴿۳۴﴾ قَالَ سَنَشُدُّ

له ما سره مددګار چه تصدیق کوي زما بیشکه چه زه ویریږم له دې څخه چه دروغژن به کړي دوی ما   ووئیل رب خدای ژر دی چه محکم به کړو

عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَانًا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا ۚ

مونږ مټ ستا په ورور ستا   او ورکړو به مونږ تاسو له غلبه   نو وبه نه رسیږي دوی تاسو ته

بِآيَاتِنَا ۚ أَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغَالِبُونَ ﴿۳۵﴾ فَلَمَّا جَاءَهُمْ

په دلیلونو زمونږ   تاسو دواړه او هغه څوک چه اتباع کوي ستاسو غالب به یئ   نو هر کله چه راغلی دوی ته

مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا بَيِّنَاتٍ قَالُوا مَا هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُفْتَرًى وَمَا

موسیٰ په معجزو زمونږ چه ښکاره وی نو ووئیل دوی چه نه دی دا مګر سحر دی چه تړلی شوی دی پر خدای او نه دی

سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي آبَائِنَا الْأَوَّلِينَ ﴿۳۶﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ رَبِّي أَعْلَمُ

اوریدلی مونږ دا په پلار نو خپلو کښې چه مخکښې وو   او ووئیل موسیٰ ع چه رب زما ښه خبر دی

بِمَنْ جَاءَ بِالْهُدَىٰ مِنْ عِنْدِهِ وَمَنْ تَكُونُ لَهُ عَاقِبَةُ

پر هغه چا چه راوړے ئې وی لاره سمه له نزده د هغه څخه   او پر هغه چا باندی چه وي هغه لره ښه خاتمه

الدَّارِ ۖ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿۳۷﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَا أَيُّهَا

د دنیا بیشکه چه خلاص به نه شی ظالمان له عذابه څخه   او ووئیل فرعون   ای ټولیه

ل۱ یعنی د اسپینوالی ستا د لاس له وجهې د کوم مرض څخه نه دی لکه برص بلکه د الله کار دی او یوه معجزه ده لپاره د فرعون او قوم د ده۔
منه ۲

حضرت عبد الرحمن ابن زید او ابن جریر رضی الله تعالیٰ عنهما وائی دی چه مراد له رهب څخه ویره ده چه موسیٰ ع ته به راتله په لیدلو د هغه مار سره۔ مګر ظاهره دا ده چه مراد څنې عامه ویره ده یعنی موسیٰ علیه السلام ته حکم شوی وو چه ته هر وخت له یو شی څخه وویریدلې نو ته خپل لاس پورته کړه کیږده نو هغه ویره به دی ورکه شی او س هم که څوک خپل لاس په اقتدا د موسیٰ علیه السلام پر حالت د ویرې کښې خپل لاس پر زړه باندی کیږدی نو ویره به ئې بالکل ختمه شی او یا به کمه شی مجاهد رح روایت کړی دی چه د موسیٰ ع زړه د فرعون له ویرې څخه ډک وو کله چه به ئې هغه ولید نو دا دعا به ئې ویله چه اللّٰهُمَّ إِنِّي أَدْرَأُ بِكَ فِي نَحْرِهِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ یعنی ای الله زه د فع کوم دی په مدد ستا سره او پناه غواړم په تا پوری له شره د ده څخه نو نتیجه د دی د عا دا شوه چه الله تعالیٰ د ده له زړه څخه بالکل د فرعون ویره ورکه کړه او د ده زړه ئې له ویرې د موسیٰ علیه السلام څخه ډک که چه هغه به ئې لیدے نو متیازی به ئې کولی لکه د خره په شان۔ رواه ابن ابی حاتم رح

ابن کثیر رح

مع ۱۱ ب

الْمَلَاُ مَا عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ فَاَوْقِدْ لِيْ يٰهَامٰنُ

د مشرانو نه پیژنم زه تاسو لره هیڅ خدای بی له ما نه نو بل کړه اور زما لپاره ای هامانه

عَلَى الطِّيْنِ فَاجْعَلْ لِّيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَطَّلِعُ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى

پر خټه (یعنی خښتی جوړی کړه) نو جوړه کړه ما ته ماڼۍ بنائی ما ته چه وخیژم خدای (ج) د موسیٰ ته

وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۳۸﴾ وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُوْدُهٗ فِي

او بیشکه زه ګمان کوم په ده د دروغژنو نه او تکبر وکړه ده او لښکر د ده په

الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ اِلَيْنَا لَا يُرْجَعُوْنَ ﴿۳۹﴾

ځمکه کښی په ناحقه او ګمان وکړ دوی دے چه بیشکه دوی به موږ ته رانه وستل شي

فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ فَانْظُرْ كَيْفَ

نو ونیوه موږ دی او لښکر د ده نو وغورځول موږ دوی په دریاب کښی وګوره ته چه څرنګه

كَانَ عَاقِبَةُ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۰﴾ وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّدْعُوْنَ اِلَى النَّارِ

شوه خاتمه د ظالمانو ته او وګرځول موږ دوی پیشوایان چه بولی خلق اور ته

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۱﴾ وَاَتْبَعْنٰهُمْ فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا

او په ورځ د قیامت مدد به ونکړل شي دوی سره او وروسته مو ولیږله په دوی پسی په دنیا کښی

لَعْنَةً وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ﴿۴۲﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا

لعنت او په ورځ د قیامت دوی له قبیح کړی شوو څخه به وي او خامخا په تحقیق ورکړی وو موږ

مُوْسَى الْكِتٰبَ مِنْ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى بَصَآئِرَ

موسیٰ ع ته کتاب وروسته له هغه نه چه هلاک کړل موږ اهل د زمانی اولنی دلیلونه ښکاره

لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۳﴾ وَمَا كُنْتَ

لپاره د خلقو او لار ښوونکی او رحمت بنائی چه دوی پند واخلي او نه وې ته

بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ اِذْ قَضَيْنَآ اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ وَمَا كُنْتَ

په طرف د مغرب په هغه وخت کښی چه وکړه موږ موسیٰ ته وحی او نه وې ته

مِنَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۴۴﴾ وَلٰكِنَّآ اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ

له حاضرو څخه مګر موږ پیدا کړی وو اهل زمانه نو اوږده شول پر دوی

۱ روایت دی چه هر کله فرعون دا خبره وکړه نو جبرائیل علیه السلام دده د هلاکت ایجازه د هلاک د فرعون له الله تعالیٰ څخه وغوښتله حکم وشو چه اوس نی لا وخت نه دی. او هر کله چه ئی اَنَا رَبُّکُمُ الْاَعْلٰی وویل نو حکم وشو چه اوس ئی وخت پوره شو. د دی د واړو خبرو په مینځ کښی څلوېښت کاله موده وه ۲ ویل شوی دی چه پخی خښتی جوړول اول ده ایجاد کړی دی په دنیا کښی چه ده و ویل چه څه ښکله جوړه کړی چه د دروند والی د وبره څخه ونه نړیږی ۳ موضح

ف ۳

حاصل دا چه هغوی په سبب د کبر او سرکښی سره هلاک شول ځکه چه لوئی د الله تعالیٰ ملک الملک دی بل چاته لوئی نه ښائی. په حدیث شریف کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه الله تعالیٰ فرمائی چه لوئی څادر زما دی او بزرګی ښکته زما دی هر څوک چه بوله دی څخه له ما څخه اخلی نو زه به ئی اور ته داخل کړم ۴ دا روایت امام مسلم کړی دی. د کبر بدوالی په ډیرو حدیثونو کښی بیان شوی دی. بوله هغو څخه دا دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه ایا زه نه خبروم تاسو پر جنتیانو باندی هغه هر هغه څوک دی چه خلق ئی ضعیف بولی او که دا قسم د الله د پاره قسم وکړی چه چیری دی قسم پر الله تعالیٰ وکړی نو الله به دی ښتینی کړی ایا نه خبروم زه تاسو په دوزخیانو باندی هر سخت جنګ کونکی په باطل باندی. بخیل تکبر کونکی دی. روایت امام بخاری ومسلم رحمهما الله تعالیٰ

فوائد

الْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنْتَ ثَاوِيًا فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ

عمرونه او نه وې ته اوسيدونكى په اهل مدينو كښې چه وائې ته پردوى باندې

اٰيٰتِنَا ۙ وَلٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّوْرِ اِذْ

اٰيتونه زمونږ مګر يو موږ ليږونكى د پيغمبرانو اونه وې ته په طرف د كوه طور كښې په هغه وخت كښې

نَادَيْنَا وَلٰكِنْ رَّحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰهُمْ مِّنْ

چه اواز وكړ مونږ موسى ته مګر وليږلے مونږ ته لپاره د رحمت له طرفه د رب ستا څخه لپاره د دې چه ووېروې ته هغه قوم چه نه دے راغلے هغوى ته هيڅ

نَّذِيْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَلَوْلَآ اَنْ تُصِيْبَهُمْ

وېرونكى مخوا له تا څخه له سبائې چه دوى پند واخلي له او كه چيرې نه وای دا چه وبه رسيږي دوى ته

مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ فَيَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَوْلَآ اَرْسَلْتَ

غم يعني عذاب په سبب د هغه ګناه چه وړاندې ليږلي دي لاسو د دوى نو وبه وائې دوى اى ربه زمونږ ولې نه ليږلو تا

اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾ فَلَمَّا

مونږ ته يو رسول نو اتباع به كړې وه مونږ د اٰيتونو ستا او وُو به مونږ له ايمان راوړونكو څخه نو هر كله

جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوْا لَوْلَآ اُوْتِيَ مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ

چه راغلو دوى ته حق له نزده زمونږ څخه نو ووېل دوى چه ولې نه دے وركړې شوے ده ته په مثل د هغه چه وركړې شوے دى

مُوْسٰى ۭ اَوَلَمْ يَكْفُرُوْا بِمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى مِنْ قَبْلُ ۚ قَالُوْا

موسى ته ايا نه وو كافران شوى په هغه چه وركړې شوى وو موسى ته مخكې له دې څخه ووېل قبطيانو

سِحْرٰنِ تَظٰهَرَا ۣ وَقَالُوْٓا اِنَّا بِكُلٍّ كٰفِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ قُلْ فَاْتُوْا

دوه جادو ګردې چه يو تر بله كومك كوى او وائې دوى چه بيشكه مونږ په دواړو باندې كافران يو ووايه ته نو راوړئ

بِكِتٰبٍ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ هُوَ اَهْدٰى مِنْهُمَآ اَتَّبِعْهُ

يو كتاب له نزده د خداى څخه چه هغه لاره ښودونكى وى له دى دواړو څخه چه زه تابع شم

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۹﴾ فَاِنْ لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكَ فَاعْلَمْ

د هغه كه يئ تاسو رښتينې نو قبوله ئې نكړه دا خبره ستا نو پوه شه

اَنَّمَا يَتَّبِعُوْنَ اَهْوَآءَهُمْ ۭ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيْرِ

چه بيشكه دا خبره چه اتباع كوى دوى د هوا او خيالو او څوك دى زيات ګمراه له هغه چا څخه چه تابع شوے دى د هوا خپلے

ف ۱

يعني وروسته له عيسى عليه السلام څخه تر تا پورې بل نبي نه دى تير شوى، او دى ته زمانه د فطرت وېل كيږي يعني زمانه د قطع د وحي او د انجنيم سوه كاله وه ۱۲

روح البيان

ف ۲

په بعضو كتابو كښې شپږ سوه كاله وېل شوي دي والله اعلم ۱۲

عبد الحق

ف ۳

يعني كتاب په يوه وار با ندې تا ولې نه راووړ لكه چه موسى عليه الصلوٰة والسلام ته په يوه وار راوړے وو ۱۲ ۱۲ ۱۲

روح البيان

ف ۴

حاصل دا چه الله تعالى فرمائي چه پر دوى به حتماً عذاب راشي مګر صرف لپاره د ترېلې بندولو د دوئ مو د وى ته پيغمبران راوليږل چه بيا دا ونه وائې چه كه مونږ ته پيغمبران راغلي واى نو ايمان به مونږ راوړي وو او له تا څخه وروسته به نو هيڅ عذر پاتې نه سي ۱۲

اللهم اغفر لكاتبه ووالديه وجميع المؤمنين امين

منه

هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝۵۰ وَلَقَدْ

بې له لارې ښودنې د خدای بېشکه خدای نه لاره ښیي قوم ظالمانو ته او خامخا په تحقیق سره

وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۝۵۱ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ

پرله پسې راولېږلې دي موږ دوی ته خبرې د نصیحت ښایي چه دوی پند واخلي هغه کسان چه ورکړی دی موږ هغوی ته

الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۝۵۲ وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ قَالُوْٓا

کتاب مخکې له قرآن نه دوی په دې قرآن ایمان راوړي او په هغه وخت کښې چه ویل کېږي دا قرآن پر هغوی نو وائي

اٰمَنَّا بِهٖٓ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَآ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ ۝۵۳

ایمان راوړی دی موږ په ده بېشکه چه دی حق دی له ربه زموږ نه بېشکه چه موږ وو مخکې تر نازلېدو د ده غاړه اېښوونکي

اُولٰۗىِٕكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوْا وَيَدْرَءُوْنَ

دا کسان ورکوله به شي دوی ته اجر د دوی دوه ځله په سبب د دې چه صبر ئې کړی وو او دفع کوي دوی

بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۝۵۴ وَاِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ

په نېکۍ بدي او بعضې له هغه څه چه ورکړي موږ دوی ته خیراتوي او په هغه وخت کښې چه واوري دوی عبث خبره

اَعْرَضُوْا عَنْهُ وَقَالُوْا لَنَآ اَعْمَالُنَا وَلَكُمْ اَعْمَالُكُمْ ۡ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ۡ

نو ګرځي دوی له هغه څخه او وائي دوی موږ لره دي عملونه زموږ او تاسو لره دي عملونه ستاسو سلام دې وي پر تاسو باندې

لَا نَبْتَغِي الْجٰهِلِيْنَ ۝۵۵ اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ

نه غواړو موږ جاهلان (یعنې ملګرتیا د دوی) بېشکه چه ته لاره نه شې ښوولی هغه چاته چه خوښه دې وي ستا مګر

اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۚ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ۝۵۶ وَقَالُوْٓا اِنْ

خدای لاره ښیي هغه چاته چه خوښه شي د ده او دی ښه خبر دی په لاره پیداکوونکو باندې او وائي دوی که

نَّتَّبِعِ الْهُدٰى مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ اَرْضِنَا ۭ اَوَلَمْ نُمَكِّنْ

اتباع وکړه موږ د لارې د حق له تا سره نو وبه ایستل شو موږ له ځمکې زموږ نه ایا موږ ځای نه دی ورکړی

لَّهُمْ حَرَمًا اٰمِنًا يُّجْبٰٓى اِلَيْهِ ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا مِّنْ لَّدُنَّا

دوی ته حرم خاوند د امن چه راحلول کېږي دې ته میوې د هر شي روزي له طرفه زموږ نه

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۵۷ وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍۢ بَطِرَتْ

مګر زیات د دوی نه پوهېږي او ډېر هلاك کړي دي موږ له اهل د ښهر څخه چه کافران شوي وو

ف ۱

مراد له دې کسانو څخه مؤمنان دي د اهل کتابو لکه عبد الله ابن سلام او ملګري د هغه ۱۲

روح

ف ۲ له ابي موسی رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه درې کسان دي چه هغوی ته به دوه واره اجر ورکېږي یو هغه سړی چه له اهل کتابو څخه ئې پر خپل نبي ایمان راوړی وي دویم هغه څوك مریی دی چه هغه حق د خدای او حق د مالکانو اداء کړي وي دریم هغه سړی چه له ده سره مینځه وي او دې هغې ته ادب ښیي او ښه ادب ورته وښیي بیا ئې ازاده کړي له هغه څخه پس ئې په نکاح سره واخلي رواه امام بخاري رحمه الله ۱۲

ابن کثیر وغیره

ف ۳

روایت دی چه دا آیت شریف په باب د ابو طالب کښې نازل شوی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا ارزو وه چه دی ایمان راوړي او ووائي کلمه د شهادت و وائي مګر هغه ورته غاړه نه اېښووله ترمرګه پورې ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

مَعِيشَتَهَا ۚ فَتِلْكَ مَسٰكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَنْ مِّنْ بَعْدِهِمْ إِلَّا

په معاش خپل کښې نو دا دي کورونه د هغوی چه ورانې پراته دي چه استوګنه پکښې نه ده کړې شوې وروسته له هغوی نه مګر

قَلِيلًا ۖ وَكُنَّا نَحْنُ الْوٰرِثِينَ ﴿۵۸﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى

لږ، او وو موږ خپله موږ میراث اخستونکي اونه دی رب ستا هلاکونکی د اهل د کلیو

حَتّٰى يَبْعَثَ فِىٓ أُمِّهَا رَسُولًا يَتْلُوا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ۚ وَمَا كُنَّا

ترڅو چه ولیږي په لوی د دې ښهرو کښې یو رسول چه وائي پر هغوی باندې آیتونه زموږ او نه یو موږ

مُهْلِكِى الْقُرٰىٓ إِلَّا وَأَهْلُهَا ظٰلِمُونَ ﴿۵۹﴾ وَمَآ أُوتِيتُمْ مِّنْ

هلاکونکي د کلیو یا ښهر و مګر چه اهل د هغو کلیو ظالمان وي او هغه چه درکړې شوې دي تاسو ته له

شَىْءٍ فَمَتٰعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَزِينَتُهَا ۚ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّأَبْقٰى ؕ

کوم شی څخه نو هغه نفع د دې ژوند نژدې دې او ښائست د دې دنیا دی او هغه چه په نزد د خدای ښه دی او باقي پاتې کیدونکي دی

ع ۶ ۱۰ ۹ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿۶۰﴾ أَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيهِ كَمَنْ

ایا نو تاسو عقل نه لرئ ایا نو هغه څوک چه وعده وکړه موږ له ده سره وعده ښه نو وي پیداکونکی د هغه وعدې لکه هغه څوک

مَّتَّعْنٰهُ مَتٰعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ

چه نفع مو ورکړې وي هغه لره نفع د دې ژوند نژدې بیا به دی په ورځ د قیامت له

الْمُحْضَرِينَ ﴿۶۱﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ الَّذِينَ

حاضر کړې شویو څخه وي او ته او یاد کړه هغه ورځ چه اواز به وکړي دوی ته خدای نو به وائي ورته خدای چیرې دي شریکان زما هغه

كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿۶۲﴾ قَالَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ

چه وي تاسو ګمان به مو کاوه وبه وائي هغه کسان چه ثابته شوې ده پر دوی باندې خبره د عذاب اې ربه زموږ دا هغه

الَّذِينَ أَغْوَيْنَا ۚ أَغْوَيْنٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۚ تَبَرَّأْنَآ إِلَيْكَ ۖ مَا كَانُوٓا

کسان دي چه ګمراه کړي مو وو ګمراه کړي وو موږ لکه چه ګمراهان وو موږ بیزاره یو موږ تا ته نه وو دوی

إِيَّانَا يَعْبُدُونَ ﴿۶۳﴾ وَقِيلَ ادْعُوا شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ

چه موږ ته به ئې عبادت کاوه او وبه ویل شي چه راوبولئ شریکان خپل نو راوبه بولي دوی نو ورته به نه کړي

يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ وَرَأَوُا الْعَذَابَ ۚ لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا يَهْتَدُونَ ﴿۶۴﴾

جواب دوی لره او وبه ویني دوی عذاب که چیرې دوی وی لاره ئې پیدا کړې وي

١ف

په حدیث شریف کښې راغلي دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه په الله تعالی مې دې قسم وي چه نه دی مال د دنیا په مقابل د اخرت کښې مګر چه یو له تاسو څخه ګوته په دریاب کښې کښته کړي او بیا وګوري چه د ده په ګوته پورې به څومره اوبه راخستل شوې وي. رواه امام مسلم رح یعني داخرت په مقابل کښې دنیا ډیره لږ ده لکه د دریاب په مقابل کښې چه نیم څاڅکی لږ دی

له ابو هریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه ځای د کروړې لینبو ستاسو بهتر دي په جنت کښې له دنیا او هغه څه چه په دنیا کښې دي. رواه امامان بخاري ومسلم رحمهما الله تعالی

روح البیان ۱ء وابن کثیر

۲ف

روایت دی چه دا آیت شریف په باب د محمد صلی الله علیه وسلم او ابوجهل کښې او یا په باب د هر یو مؤمن او کافر کښې نازل شوی دی. حاصل دا چه معاش د اخرت دائمي دی او د دې دنیا چند روزه دی ۱۲

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَا أَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِينَ ﴿٦٥﴾ فَعَمِيَتْ

او یاد کړه هغه ورځ چه اواز به وکړی خدای دوی ته نو وبه وائی چه څه جواب ورکړی وو تاسو پیغمبرانو ته نو پټ به شی

عَلَيْهِمُ الْأَنبَاءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَاءَلُونَ ﴿٦٦﴾ فَأَمَّا مَن تَابَ

پر دوی ټول خبرونه په دغه ورځ نو دوی به پوښتنه نه کوی یو د بل نه هغه چاچه توبه وکښله له کفره څخه

وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَعَسَىٰ أَن يَكُونَ مِنَ الْمُفْلِحِينَ ﴿٦٧﴾

او ایمان ئی راوړے وی او عمل ئی وکړ نیک نو شائی چه وی به دی له خلاصیدونکو څخه ۲

وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ ۗ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ۚ سُبْحَانَ

او رب ستا پیدا کوی هغه چه اراده ئی وشی او خوښوی ئی ۳ نه دی دوی لره اختیار ۴ پاکی ده

اللَّهِ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٨﴾ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ

خدای لره او اوچت دی له هغه څه چه دوی ئی ورسره شریکوی او رب ستا پوهیږی پر هغه چه پټوی ئی سینے د دوی

وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٦٩﴾ وَهُوَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْأُولَىٰ

او پر هغه چه ئی ښکاره کوی دوی او دغه خدای دے او نشته هیڅ معبود لائق د عبادت مګر خاص دے ده لره ثنا ده په دنیا کښی

وَالْآخِرَةِ ۖ وَلَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٧٠﴾ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن

او په اخرت کښی او ده لره دی حکم او ده ته به بوتلل کیږئ تاسو ورځ د قیامت وواېه ته ایا وبینئ تاسو که چیری

جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ

وګرزوی خدای پر تاسو شپه همیشه تر ورځی د قیامت پورې نو څوک دی بل

إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَاءٍ ۖ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴿٧١﴾ قُلْ أَرَأَيْتُمْ

خدای بی له خدای څخه چه راوړی تاسو ته رڼا ایا نو تاسو نه اوری وواېه ته ایا وبینی تاسو

إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ

که چیری وګرزوی خدای پر تاسو باندی ورځ همیشه تر ورځی د قیامت پورې نو څوک دی بل

إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٧٢﴾

خدای بی له خدای څخه چه راولی تاسو ته شپه چه ارام وکړی تاسو په هغه کښی ایا نو تاسو نه وینئ

وَمِنْ رَحْمَتِهِ جَعَلَ لَكُمُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا فِيهِ

او له رحمته د ده څخه پیدا کړی ده تاسو ته شپه او ورځ لپاره د دې چه ارام وکړئ په دی شپه کښی

ا مجاهد څخه روایت دے چه مراد له انباء څخه دلیلونه دی یعنی حجتونه به له دوی څخه بند شی او دوی له چا څخه پوښتنه هم نه شی کولی چه حجت جواب څرنګه ورکړو چه دوی هم دی ورځ ته پوهیږی چه ټول به ویره کښی سره یو شان وی فتح وابن کثیر

۲ یعنی هر چاچه توبه وکښله له شرک څخه او ایمان ئی راوړو او نیک عمل ئی وکړ نو دیر بختیار به اخرت کښی. لعل علیه څخه خلاص شی کلمه د عسی پر جانب د الله کښی لپاره د یقین ده حکه چه لعل څخامخا چه مؤمن وی په فضل د خدای سره له خلاصیدونکو څخه دی. ابن کثیر وغیره

۳ کافرانو وویل چه ولی الله تعالی محمد صلی الله علیه وآله وسلم لپاره د پیغمبری ولی خوښ کړه مناسب داوه چه دا منصب ئی ولید ابن مغیره ته چه لوی سړی دی په مکه کښی ورکړی وای یا نی عروه ابن مسعود ثقفی ته ورکړی وای چه غټ سړی دی په طائف کښی. نو الله د خبری دوی رد وکړ او وئی ویل چه والله یخلق ما یشاء و یختار ۴ مرح ۴ له ایت شریف څخه معلوم شو چه اختیار هر یو کار په واک د الله تعالی کښی دی بل چا ته توان نشته چه چاته نفع یا نقصان ورسوی بی له حکمه د رب العزة ابن کثیر وغیره

۵ حاصل د دی ایت شریف دا شو چه کله اخلاق په زړه کښی پټ ساتلی شی د کفر او شرک لری او په ښکاره د عمل د مسلمانی کوی نو هیڅ فائده به ورنکړی حکه الله تعالی ته پټ او ښکاره دواړه یو قسم دی یعنی په هر څه باندی خبردار دی. ۲ منه

وَلِتَبْتَغُوا مِنْ فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ

او چه طلب وکړئ په ورځ کښې له فضله د هغه ځنې او ښايي چه تاسو شکر ادا کړئ او ياد کړه هغه ورځ چه آواز به وکړي خدای دوی ته

فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَائِيَ الَّذِينَ كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٧٤﴾ وَنَزَعْنَا

نو وبه وائي چه کوم دي شريکان زما هغه چه وی تاسو چه ګمان به موکاوه پر هغو د شريکانو او راوبه باسو مونږ

مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا فَقُلْنَا هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ فَعَلِمُوا أَنَّ الْحَقَّ

له هر يو امت ځنې يو شاهد[1] نو وبه وايو مونږ چه راوړئ دليل ستاسو نو پوه به شي دوی چه بيشکه حق

ع ۷/۱۵ ۱۰
لِلَّهِ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٧٥﴾ إِنَّ قَارُونَ كَانَ

خدای لره دی او ورک به شي له دوی ځنې هغه چه وو دوی دروغ به ئې جوړول بيشکه چه قارون[2] وو

مِنْ قَوْمِ مُوسَى فَبَغَى عَلَيْهِمْ وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ

له قومه د موسیٰ ع ځنې نو سرکشي ئې وکړه پر هغو باندې او ورکړي وو مونږ ده ته له خزانو ځنې دومره قدر چه بيشکه

مَفَاتِحَهُ لَتَنُوءُ بِالْعُصْبَةِ أُولِي الْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُ قَوْمُهُ

کلياني[3] د هغه به درنيدلې پر ډله باندې چه خاوندان د قوت وو ياد کړه هغه چه وويل ده ته قوم د ده

لَا تَفْرَحْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾ وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ

چه مه خوشحالېږه بيشکه چه خدای نه خوښوي خوشحاليدونکي (تکبر کونکي) او وغواړه په هغه کښې چه ورکړي دي تا ته

اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِنْ

خدای کور د آخرت او مه هيروه برخه ستا له دنيا ځنې[4] او ښيګړه

كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ إِنَّ

کوه لکه چه احسان کړی دی خدای له تاسره او مه غواړه فساد په ځمکه کښې بيشکه

اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿٧٧﴾ قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَى عِلْمٍ

چه خدای نه خوښوي فساد کونکي و ويل ده چه بيشکه دا خبره ده چه راکړي شوی ده ماته دا مال په علم[5] باندې

عِنْدِي أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهِ مِنَ

چه زما ځنې دي ايا نه پوهيدو ده چه بيشکه خدای په تحقيق هلاک کړي دي پخوا له ده ځنې له

الْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا وَلَا يُسْأَلُ

امتونو زمانو ځنې هغه چه سخت وو له ده ځنې له جهته د قوت او زيات وو له جهته د جمع د مال او نه به پوښتل کيږي

ف ۱ چه هغه شاهد به پيغمبر د هغوی وي چه شاهدي به پر وائي په حديث شريف کښې راغلي دي چه عملونه د خپل امت د رسول الله صلی الله عليه وسلم په دربار باندې په هره شپه د پير او د پنجشنبې وړاندې کيږي ۱۲ روح البيان

ف ۲ قارون د موسیٰ عليه السلام د تره زوی وو ايمان ئې پر موسیٰ عليه السلام باندې راوړی وو او تورات به ئې ډير ښه وايه مګر په سبب د ډير مال سره په آخير کښې منافق شو او له موسیٰ عليه السلام سره ئې ډير عناد پيدا شو لکه د سامري ۱۲ روح

ف ۳ له حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه ځنې روايت شوی دي چه مراد له عصبه ځنې په دی ځای کښې څلوېښت کسان دي او خزانې د ده څلوېښت لکه وي هره يوه سړي به لس زره کلياني وړلې ويل شوی دي چه هغه کلياني د ده له څرمنو ځنې جوړې کړي وې او سپکې وې ۱۲ روح البيان

ف ۴ يعنې په دنيا باندې آخرت ځان ته حاصل کړه يا له دنيا ځنې دومره قدر اخله چه ستا بسبيږي او باقي په لاره د خدای کښې مصرفوه يا دا چه مه هيروه حصه خپله چه د کفن قدر وي نور به تول د ده ځنې پاته شي ۱۲ روح

ف ۵ مراد له دی علم ځنې علم د کيميا دی چه د ده زده وو او علم د زميندارئ، تجارت او د ماسونو چه ده ته حاصل وو ۱۲ ۱۲ روح البيان

عَنْ ذُنُوْبِهِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۷۸﴾ فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ فِىْ زِيْنَتِهٖ ط
له ګناهو خپلو څخه کافران له نو راووتی دی پر قوم خپل باندی په زينت خپل کښی

قَالَ الَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا يٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ
وويل هغه کسانو چه غوښتونی دا ژوند نږدی ای کاشکی وای مونږ لره په شان د هغه

اُوْتِىَ قَارُوْنُ ۙ اِنَّهٗ لَذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ﴿۷۹﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ
چه ورکړل شوی دی قارون لره بيشکه چه دی خاوند د حصی لوئی دی وويل هغه کسانو

اُوْتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ
چه ورکړی شوی وو علم افسوس دی تاسو لره ثواب د الله ښه دی هغه چا لره چه ايمان ئی راوړے وی او عمل ئی کړی وی

صَالِحًا ۚ وَلَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا الصّٰبِرُوْنَ ﴿۸۰﴾ فَخَسَفْنَا بِهٖ وَبِدَارِهِ
نيک او نه ښوول کيږی دا خبره مګر صبر کوونکو ته نو ډوبه کړه مونږ پرده او پر کور د ده باندی ځمکه

الْاَرْضَ قف فَمَا كَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ق
نو نه وه ده لره هيڅ ډله چه مدد ئی کړی وی له ده سره بی له خدای څخه

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ﴿۸۱﴾ وَاَصْبَحَ الَّذِيْنَ تَمَنَّوْا مَكَانَهٗ
او نه وو دی له بدله اخستونکو څخه او سهار پورته شول هغه کسان چه آرزو ئی کوله د مرتبې د ده

بِالْاَمْسِ يَقُوْلُوْنَ وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ
په پرون ويل ئی تعجب دی چه خدای پراخوی روزی هغه چا لره چه ئی خوښه وی

مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ ۚ لَوْلَآ اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ط
له بندګانو خپلو څخه او تنګوی ئی کچيرته وے نه دا چه احسان کړی وے ای خدای پر مونږ نو ډوبه کړی به ئی وه ځمکه پر مونږ باندی

وَيْكَاَنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۲﴾ ع تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا
تعجب دی چه نه خلاصيږی کافران له عذابه دا کور د آخرت چه ورسته ئی مقرروو مونږ

لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِى الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ط وَالْعَاقِبَةُ
ليپاره د هغه چا چه اراده نه لری د لوئی په ځمکه کښی او نه د فساد او ښه خاتمه چه ده

لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۸۳﴾ مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ وَمَنْ جَآءَ
پرهيزګارانو لره ده هرچا چه وکړه نيکي نو هغه لره ده ښه له هغه څخه او هرچا چه وکړه

ف ۱
يعنی له مجرمانو څخه به پوښتنه
او سوال ونشی بلکه بی پوښتنې
به په دوزخ کښی وغورزول شی
ځکه چه پوښتنې به دوی په
علاموسره پيژنی چه دوی
دوزخيان دی. بعضو ويلے
دی چه پوښتنه د اعمالو به
ورڅخه کيږی مګر په داسی شکل
چه هيڅ اميد د معافی به
پکښی نه وی ۱۲ منه رحمه

ف ۲
قارون ته چه هر کله د زکات
حکم وسو چه د زرو ديناره
څخه يو دينار او له زرو درهمو
څخه يو درهم زکات ورکړی
نو ده لره اندازه څخه
ئی هم انکار وکړ او بيائی
داخترپه ورځ پر موسیٰ
عليه السلام د دروغو تهمت
ولګاوه نو الله تعالیٰ ته موسیٰ
عليه السلام سوال وکړ
چه زما انتقام له ده څخه واخله
نو وحی راغله چه ځمکه می ستا
تابع کړه نو موسیٰ عليه السلام
ځمکے ته حکم وکړ چه يا ارض
خذيه ای ځمکے نيسه ئی
نو قارون تر زنګنو پکښی ننوخ
شو بيائی وويل چه نيسه ئی
نو تر نامه ډوب شو بيا تر غاړه
پوری ډوب شو او هغه ټولی
خزانی ورسره جبرائيل عليه السلام
کښينولی او سره له کوره څخه
غرق شو او هره ورځ په اندازه
د قد خپل ښکته کيږی ۱۲
تيسير مختصرا

بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى الَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّئَاتِ إِلَّا مَا كَانُوا
بدی نو جزا نه ورکړې شي هغه کسانو ته چه عمل کوي د بدیو مګر د هغه چه وو دوی

يَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾ إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ إِلَىٰ
عمل به ئي کاوه بیشکه هغه خدای چه مقرر کړی ئي په تا باندی قران خامخا بیرته بیونکی دی ستا له هغه

مَعَادٍ ۚ قُلْ رَّبِّي أَعْلَمُ مَن جَاءَ بِالْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِي
ځائي د وعدې ته ووایه ته چه رب زما ښه خبر دی پر هغه چا چه راوړی ئي د لارې سمې او پر هغه چا چه هغه په

ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٨٥﴾ وَمَا كُنتَ تَرْجُو أَن يُلْقَىٰ إِلَيْكَ الْكِتَابُ
ګمراهي ښکاره کښې وي او نه وې ته چه امید دی وو چه راو به لیږل شي تا ته کتاب

إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَافِرِينَ ﴿٨٦﴾
مګر رحمت دی له طرفه د رب ستا څخه نو مه کیږه ته خامخا مددګار لپاره د کافرانو

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ آيَاتِ اللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَ ۖ وَادْعُ
او نه دی واړوی تا دوی له ایتو د خدای څخه وروسته له هغه څخه چه نازل کړل شول تا ته او بوله خلق

إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ
رب خپل ته او مه کیږه خامخا له مشرکانو څخه ٣ او مه بوله ته سره له خدایه

إِلَٰهًا آخَرَ ۘ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ ۚ لَهُ
معبود بل نشته هیڅوك لائق د عبادت مګر دی هر شی فاني کیدونکی دی مګر ذات د ده خاص ده لره دي

الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾
حکم او خاص ده ته به تاسو بیرته ور وستل کیږئ

سُورَةُ الْعَنْكَبُوتِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ — بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ — تِسْعٌ وَسِتُّونَ آيَةً وَسَبْعُ رُكُوعَاتٍ
شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربانه دے

الم ﴿١﴾ أَحَسِبَ النَّاسُ أَن يُتْرَكُوا أَن يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ
الله عالم دی پر معنا د دے د ایا ګمان کوي د خلق چه بیرته به پریښوول شي چه وائي دوی ایمان راوړے دی مونږ او دوی به

لَا يُفْتَنُونَ ﴿٢﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ
و نه ازمیل شي څه او خامخا په تحقیق ازمیلي وو مونږ هغه کسان چه مخکې له دوی څخه وو نو خامخا به وه دی خدای

ف ١

دا ایت شریف نازل شوی دی پس له هجرت څخه چه زړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په جدائی له مکې معظمې څخه خفه وو نو الله تعالی تسلی ده ته ورکړه چه ته مه خفه کیږه بیا به تا دی مکې ته بوزم سره له ډیری خوشحالی ١٢ روح ومرضح

ف ٢ او دا وعده الله تعالی له خپل حبیب صلی الله علیه وسلم سره رښتینی کړه په فتح کولو د مکې معظمې سره چه بیا ئي مؤمنان حاکمان او باشندګان شول. او یا مراد له معاد څخه مرګ یا قیامت یا جنت دي یعنې ضرور به الله تعالی دی ځایو ته ورسوی ١٢ منه

ف ٣ پیغمبر علیه السلام هیڅکله شرك نه کوی مراد له دی ایت څخه ارشاد دی امت د ده ته چه خبردار له ملګرتیا د مشرکانو څخه پرهیز وکړئ او د دوی خبره مه منئ ١٢ منه

ف ٤

دا ایت شریف نازل شوی دی په حق د بعضو مؤمنانو کښې چه هغوی په مکه معظمه کښې په ایمان او نور مشرف شوی وو او کفارو به ورته ضررونه رسول نو هغوی به خفه کیدل او فریاد به ئي کاوه نو الله تعالی لپاره د تسلی د هغوی دا ایت نازل کړ ١٢ روح وغیره

ف ٥ په حدیث شریف کښې راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمایل چه په مخکنو خلقو کښې به سړي ونیول شو او اره به ئي پر ککرئ د هغه باندی ورکښیښووله او دوه ټکړی به ئي کړ خو هغه به له خپل دین څخه نه ګرځیدو او د اوسپنې په ږمنځ بښتو بې او پلي او هډوکی د سړي وشکول شو او دی کار به دی له خپل دین څخه نه وګرځاوه ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢

روح البیان

٩ ع ٦ ١٢

اللّٰهُ الَّذِیْنَ صَدَقُوْا وَلَیَعْلَمَنَّ الْکٰذِبِیْنَ ﴿۳﴾ اَمْ حَسِبَ

پر هغه کسانو چه رښتيني دي او خامخا بوله دي په دروغژنو باندې ايا ګمان کوي

الَّذِیْنَ یَعْمَلُوْنَ السَّیِّاٰتِ اَنْ یَّسْبِقُوْنَا ؕ سَآءَ مَا یَحْکُمُوْنَ ﴿۴﴾

هغه کسان چه عمل کوي د بديو د دي چه مخته به شي دوي پر مونږ باندې بد دي هغه چه دوي حکم کوي

مَنْ کَانَ یَرْجُوْا لِقَآءَ اللّٰهِ فَاِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ لَاٰتٍ ؕ وَهُوَ

هغه څوك چه وي اميدلري د ملاقات د خداى نو بيشکه چه نيټه د خداى خامخا راتلونکې ده او دى

السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۵﴾ وَمَنْ جَاهَدَ فَاِنَّمَا یُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ ؕ

اوريدونکى دي عالم دى او هغه څوك چه جهاد کوي نو بيشکه دا خبره ده چه جهاد کوي دي لپاره د ځان خپل

اِنَّ اللّٰهَ لَغَنِیٌّ عَنِ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۶﴾ وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

بيشکه چه خداى خامخا بې پرواه دى له مخلوقاتو څخه او هغه کسان چه ايمان ئې راوړى دي او عمل کوي د نيکو

لَنُکَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَیِّاٰتِهِمْ وَلَنَجْزِیَنَّهُمْ اَحْسَنَ الَّذِیْ

خامخا به ورژنو مونږ له دوي څخه ګناهونه د دوي او خامخا به ورکړو دوي ته ښه جزاء د هغه

کَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۷﴾ وَوَصَّیْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَیْهِ حُسْنًا ؕ

چه وو دوي کول او امر کړى دي مونږ انسان ته له مور او پلار سره د ده د ښکلې (ښيګړې)

وَاِنْ جَاهَدٰكَ لِتُشْرِكَ بِیْ مَا لَیْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا

او که کوښښ کوي د واړه له تا سره لپاره د دې چه شريك ونيسې له ما سره هغه چه نه وي تا لره پر هغه علم نو مه کوه

تُطِعْهُمَا ؕ اِلَیَّ مَرْجِعُکُمْ فَاُنَبِّئُکُمْ بِمَا کُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۸﴾

اطاعت د دې دواړو ما ته دى راتلل ستاسو نو زه به خبر کړم تاسو پر هغه چه وئ تاسو کول به مو

وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِی الصّٰلِحِیْنَ ﴿۹﴾

او هغه کسان چه ايمان ئې راوړى دي او عمل کوي د نيکو خامخا به داخل کړو مونږ دوي په ټولۍ د صالحانو کښې

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ یَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ فَاِذَاۤ اُوْذِیَ فِی اللّٰهِ

او بعضې له انسانانو څخه هغه دي چه وائي ايمان راوړى دى مونږ پر خداى او هر کله چه سختي ورسوله شي ده ته په لاره د خداى کښې

جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ کَعَذَابِ اللّٰهِ ؕ وَلَئِنْ جَآءَ نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ

نو مقرره کړه ده د فتنه د خلقو لکه عذاب د خداى او قسم دى که چيرې راشي مدد له طرفه د رب ستا څخه

ف ۱ روايت دي چه هر کله سعد ابن ابي وقاص په اسلام راوړو مشرف شو نو مور د هغه ورته وويل چه تا دا څه کار وکړ چه خپل دين دې پريښوو بابه دا دين پريږدې او يا به زه له دې لمر څخه سيورى ته ولاړه نه شم او نه به خوراك او څښاك وکړم تر څو چه مړه شم بيا به خلق تا ته پيغور درکړي چه اى قاتله د خپلې مور نو دې درې ورځې داسې تيرې کړې چه تنګ شوه نو سعد ورته وويل چه که چيرې ستا سل سا ګانې وي او جلا جلا ووځي نو هم زه به کافر نه شم که دې خوښه وي خوراك وکړه که دې نه وي خوښه نو ئې مه کوه هر کله چه ئې مور له کفره د ده څخه نا اميده شوه نو خوراك ئې وکړ نو دا ايت شريف په حق د هغوي کښې نازل شو ۲ روح البيان وغيره

ف ۲ لکه عذاب د خداى چه ايمان پريږدي له جهته د ويرې له عذابه د خلقو څخه لکه چه کفر پريښوول په کار دي له ويرې د عذاب د خداى تعالى څخه ۲ تفسير حسيني قادري

ف ۳ په ټولۍ د صالحانو کښې چه انبياء او صلحاء دي يعنې د دوي سره به ئې يو ځاى کو او په ورځ د حشر به ئې داخل کړو په مقامات او وسيلو د دوي کښې چه جنت دى. دا حال چه تير شو د مؤمنانو وو. په دې پسې حال د منافقانو شروع شو چه وَمِنَ النَّاسِ تر اخيره پورې دى ۱۲ ۲ ۲ تيسير وغيره

لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ۚ أَوَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِمَا فِي صُدُورِ
نو خامخا به ووائي دوئ چه بیشکه وو مونږ له تاسو سره ایا نه دی خدائ ښه خبر په هغه چه په سینو د
الْعَالَمِينَ ﴿١٠﴾ وَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنَافِقِينَ ﴿١١﴾
د عالمیانو کښې دی او خامخا بوه دی خدائ په هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دی او خامخا بوه دی په منافقانو باندے
وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا اتَّبِعُوا سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ
او ووائی هغه کسان چه کافران شوی دی هغه کسانو ته چه ایمان ئې راوړی دی اتباع وکړئ د لارې زمونږ او وا به خلو مونږ
خَطَايَاكُمْ وَمَا هُمْ بِحَامِلِينَ مِنْ خَطَايَاهُمْ مِنْ شَيْءٍ ۖ إِنَّهُمْ
ګناهونه ستاسو او نه دی دوی اخستونکی له ګناهو د دوی نه هیڅ شی بیشکه چه دوئ
لَكَاذِبُونَ ﴿١٢﴾ وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَعَ أَثْقَالِهِمْ ۖ
خامخا دروغژنان دي او خامخا به بار کړی دوی بار د ګناهو خپلو او نور بارونه هم سره له ګناهو خپلو
ع ۱۳ وَلَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿١٣﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا
او خامخا پوښتنه به وکړی شی له دوی نه په ورځ د قیامت له هغه څه چه وو دوی چه دروغ به تړل او خامخا په تحقیق لیږلے وو مونږ نوح
إِلَىٰ قَوْمِهِ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ
قوم خپل ته نو موده ئې تیره کړه په هغوی کښې زر کاله مګر پنځوست کاله کم نو ونیول هغوئ
الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَالِمُونَ ﴿١٤﴾ فَأَنْجَيْنَاهُ وَأَصْحَابَ السَّفِينَةِ
طوفان او هغوی ظالمان وو نو خلاصون مو ورکړ هغه ته او ملګرو د بیړئ ته
وَجَعَلْنَاهَا آيَةً لِلْعَالَمِينَ ﴿١٥﴾ وَإِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا
او وګرځوله مونږ دغه اعلامه لپاره د عالمیانو او لیږلے وو مونږ ابراهیم هغه چه ووئیل ده قوم خپل ته چه عبادت کوئ
اللَّهَ وَاتَّقُوهُ ۖ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٦﴾ إِنَّمَا تَعْبُدُونَ
د خدائے او ووېرېږئ له ده دا کار خیر دی تاسو لره که ئې تاسو پوهېږئ بیشکه دا خبره ده چه عبادت کوئ تاسو
مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْثَانًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا ۚ إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ
بې له خدائ نه د بتانو او جوړوئ دروغ لکه چه خدایان ئې بولئ بیشکه هغه کسان چه عبادت ئې کوئ تاسو
مِنْ دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَابْتَغُوا عِنْدَ اللَّهِ الرِّزْقَ
بې له خدائ نه مالکان نه دي د دوی تاسو لره د روزئ نو طلب وکړئ په نزد د خدائ د روزی

ف ۱

یعنی الله تعالی خو په خبرو او حالاتو د سینو باندے د دوی ښه خبردار دی نو د دوی ولی منافقت کوي. روایت دی چه دا ایت شریف نازل شوے دی په حق د یو څو ضعیف الایمان خلقو کښې. چه هر کله کافرانو به ورته تکلیف ورکړ د هغوی ملګری به شول او چه مؤمنانو به فتح وکړه نو را به غلل ورته او به ئې ویل مونږ هم مسلمانان یو. او بعضو ویلی دی چه مراد دوره څخه منافقان دی۔ منه رحمه ربه

ف ۲

روایت دی چه حضرت نوح علیه السلام وروسته له څلویښتو کالو څخه پیغمبر شوی دی او نه نیم سوه کاله ئې خپل قوم ته نصیحت وکړ او وروسته له طوفان څخه شپیته کاله نور هم ژوندی وو عمر د ده یو زر او ۱۲۰۰ سوه کاله وو او چا دوه زره دوه سوه څلویښت کاله ویلے دی والله اعلم منه رح

وَاعْبُدُوْهُ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَاِنْ تُكَذِّبُوْا فَقَدْ

اوعبادت کوئ د دهٔ او شکر وکاږئ دهٔ ته د هٔ خدائے ته بیرته بوتلل کیږئ او که تاسو نسبت د دروغو کوئ نو په تحقیق

كَذَّبَ اُمَمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۸﴾

چه نسبت د دروغو کړی وُو د لو مخکښې له تاسو څخه او نشته پر رسول باندے مگر رسول ښکاره

اَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللّٰهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ

ایا نه گوري دوی چه څرنگه شروع کوے خدائے د پیدا ئینت بیا به ئې دوباره پیدا کړی بیشکه چه دا کار

عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿۱۹﴾ قُلْ سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ بَدَاَ

پر خدای باندی اسان دی ووایه ته چه ولاړ شئ په ځمکه کښې نو وگورئ چه څرنگه شروع کړی دے خدای

الْخَلْقَ ثُمَّ اللّٰهُ يُنْشِئُ النَّشْاَةَ الْاٰخِرَةَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ

د پیدا ئینت بیا به خدائے پیدا کړی پیدا کول وروستونی بیشکه چه خدای په هر شی باندی

قَدِيْرٌ ﴿۲۰﴾ يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَرْحَمُ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَاِلَيْهِ تُقْلَبُوْنَ ﴿۲۱﴾

قادر دی عذاب ورکوی هغه چا ته چه اراده ئې وشی او رحمت کوئ پر هغه چا چه اراده ئې وشی او ده ته به بوتلل کیږئ تاسو

وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِى الْاَرْضِ وَلَا فِى السَّمَآءِ ؗ وَمَا لَكُمْ مِّنْ

او نه ئې تاسو عاجزه کونکی د خدائے په ځمکه کښې او نه په اسمان کښې او نشته تاسو لره

دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۲۲﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

بی له خدای څخه هیڅوک دوست او نه مددگار او هغه کسان چه کافران شوی دی پر ایتو د خدای باندی

وَلِقَآئِهٖٓ اُولٰٓئِكَ يَئِسُوْا مِنْ رَّحْمَتِىْ وَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

او پر ملاقات د ده باندے دغه کسان نا امیده دی له رحمت زما څخه او دغه کسان مقرر دی دوی لره عذاب

اَلِيْمٌ ﴿۲۳﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوا اقْتُلُوْهُ اَوْ حَرِّقُوْهُ

دردناك نو نه وو جواب د قوم د ده مگر دا چه وویل دوی مړ کړئ دئ او یا وسوځئ دئ

فَاَنْجٰىهُ اللّٰهُ مِنَ النَّارِ ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۲۴﴾

نو خلاصے ورکړ ده لره خدا له اور څخه بیشکه چه دی کار کښې خامخا علامې دی لپاره د هغه قوم چه ایمان راوړي

وَقَالَ اِنَّمَا اتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا ۙ مَّوَدَّةَ

او وویل ابراهیم ع چه بیشکه دا خبره ده چه نیولی دی تاسو بی له خدایه څخه بتان خدایان لپاره د دوستی

له

حاصل د اچه دا معبودان
ستاسو هیڅ قدرت طاقت نه
لري نه له اسمان څخه د رباندي
باران اوروي شي او نه له ځمکې څخه
درته غلے شني کولی شی او نو
تاسو بندګی د الله تعالی اختیار
او د ده د نعمتو شکر اداء کوئ
او روزی هم له ده څخه غواړئ
چه دی مالك د هر شي دی ۱۲
روح البیان وغیره

له ۲

حاصل د کلام دا چه هر کله
تاسو ولیدله او پوه شوئ چه
په ابتداء کښې د ټولو کار وخلق
الله تعالی دی نا تاسو به
ضرور پردی پوه شئ چه
دوباره پیدا کونکی هم دغه
خدای دی بل څوك نشته ۱۲
تفسیر قادري

له ۳

په کشف الاسرار کتاب کښې
راغلي دي چه عذاب ورکول د
الله تعالی په طریقه د عدل ۲
سره دي او رحمت د ده په ع ۹
فضل د ده سره دي امام قشیری ۱۴
رحمة الله تعالی علیه ویلي
دي چه عذاب د خدای څخه دا
دی چه بنده خپل خان ته
وسپاري او رحمت ئې دا دئ
چه دی د خپل بنده د کار و
متصرف او کونکی شي ۱۲
قادری

بَيْنِكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ

په منځ ستاسو کښې په ژوند دنیوي کښې بیا به په ورځ د قیامت بیزاره به شي بعضې ستاسو

بِبَعْضٍ وَّيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا

له بعضې نورو څخه او لعنت به وائي بعضې ستاسو پر بعضو نورو او ځای د ورتلو ستاسو اور دی او نشته تاسو لره

لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى

هېڅ مدد کاران نو باور وکړ ده لره لوط ؑ او ووېل ابراهیم ؑ چې بیشکه زه هجرت کوونکی یم له

رَبِّيْ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٦﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ

رب خپل ته بیشکه چې دی غالب دی محکم کاری دی او ورکړی وو مونږ ده ته اسحاق ؑ او یعقوب ؑ

وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي

او ایښې وو مونږ په اولاد د ده کښې پیغمبري او کتاب او ورکړی وو مونږ ده ته اجر د ده په

الدُّنْيَا وَاِنَّهٗ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٢٧﴾ وَلُوْطًا اِذْ

دنیا کښې او بیشکه چې دی به په اخرت کښې خامخا له صالحانو څخه وي او لیږلی وو مونږ لوط ؑ هغه وخت

قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ ۡ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا

چې ووېل ده قوم خپل ته بیشکه چې تاسو خامخا راځئ بدکار ته چې نه دی مخکښې شوی له تاسو څخه په کولو دې کار

مِنْ اَحَدٍ مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٨﴾ اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ

یو کس له عالمیانو څخه ایا تاسو چې یئ خامخا راځئ نارینو ته (یعنې لیاره د بد عملې)

وَتَقْطَعُوْنَ السَّبِيْلَ ۙ وَتَاْتُوْنَ فِيْ نَادِيْكُمُ الْمُنْكَرَ ؕ

او وهئ تاسو لاره (یعنې غلا کوئ) او راځئ تاسو په مجلسو ستاسو کښې بد و کار ته

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّآ اَنْ قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ

نو نه وو جواب د قوم د ده (لوط ؑ) مګر دا چې ووېل دوی چې راوړه مونږ ته عذاب

اللّٰهِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٢٩﴾ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ

د خدای که چیرې یې ته له رښتینانو څخه ووېل لوط ؑ ای ربه زما مرسته وکړه له ما سره

عَلَى الْقَوْمِ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٣٠﴾ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِيْمَ

پر قوم مفسدانو باندې او هر کله چې راغلل رسولان زمونږ ابراهیم ؑ ته

له مروایت دی چه ابراهیم علیه السلام اول هغه څوک دی چه هجرت ئې کړی وي عروبة. رسول الله صلی الله علیه وسلم یووار هجرت کړی دی او دوه واره هجرت کړی دی یو ځل سره له لوط ؑ او بی بی هاجرې او بی بی سارې کړی کلده کوفې څخه حران ته تللی دی او بیا له هغه ځای څخه شام ته تللی دی او په فلسطین کښې استوګن شو او لوط ؑ په سدوم کښې اوسېدونکی شو. صاحب د تفسیر کشاف وېلي دي چه عمر د ابراهیم ؑ په وخت د هجرت کښې پنځه اویا کاله وو پردغه کال کښې الله تعالی ده ته اسمٰعیل ورکړ له بی بی هاجرې څخه. مرکله چه عمر ده یو سل شلو کالو ته ورسید نو الله تعالی اسحاق ؑ ورکړ له بی بی سارې څخه لکه چه بیانیږي. پدې ځای کښې بعضې تفاسیر ولیکلي دي چه بی بی هاجره د بی بی سارې مینځه وه دا خبره غلطه ده دا د یا چالوره دا خبره یهودو مشهوره کړې وه چه ستاسو مور اسمٰعیل علیه السلام او اولاد څخه او هغه مینځه وه زړی دی د دې وضاحت انور شاه کشمیری په فیض الباری ٣٦١ کښې داسې کړي دي ولعلم ان التحقیق ان الهاجرة علیها السلام لم تکن امة بل کانت بنتا للملک وکان هذا الملک من ذریة سام ابن نوح اه او شیخ الهند مولانا محمود حسن صاحب په خپل تفسیر نور فرقان کښې وائي عہد ابراہیمی میں عرب کا شمالی و مغربی حصہ جو کنعان سے جنوب میں ہے وہ مصر کہلاتا ہے جہاں کا بادشاہ ابو ملک تھا جن کے صاحبزادی حضرت ہاجرہ تھیں جو حضرت ابراہیم کی زوجہ تھیں حضرت اسماعیل انہی سے تھے تاریخ اسلام علامہ ابو الفضل محمد احسان اللہ عباسی داسې لیکلي دي حضرت ابراہیم کی پہلی بی بی حضرت سارہ خود انکے کنبہ میں سے تھیں جو مین حضرت ابراہیم کے پر ایمان لائی تھی دوسری بی بی حضرت ہاجرہ مصر کے قبطی خاندان کی تھیں بیوا ہاجرہ لونڈی نہ اولاد کو قابل عزت نہیں ٹھہراتی تھے

٣ ع ٨ ١٥

بِالْبُشْرٰى قَالُوْٓا اِنَّا مُهْلِكُوْٓا اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ اِنَّ اَهْلَهَا
په زیری نو | وویل هغوی چه بیشکه مونږ هلاک کونکی یو د اهل د کلی | بیشکه چه اهل د دی کلی
كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۳۱﴾ قَالَ اِنَّ فِيْهَا لُوْطًا قَالُوْا نَحْنُ اَعْلَمُ
دی ظالمان | وویل ابراهیم ؑ چه په دی کلی کښی لوط ؑ دی | وویل هغوی چه مونږ ښه پوه یو
بِمَنْ فِيْهَا لَنُنَجِّيَنَّهٗ وَاَهْلَهٗٓ اِلَّا امْرَاَتَهٗ كَانَتْ مِنَ
په هغه چا چه پکښی دی | خامخا به خلاص وو کړو ده لره او عیال د ده ته مګر ښځه د ده | له
الْغٰبِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَلَمَّآ اَنْ جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ
باقی پاته کیدونکو څخه | په عذاب کښی | او هرکله چه راغلل رسولان زمونږ لوط ؑ ته نو خفه شو دی په دوی ؑ
وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا وَّقَالُوْا لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ اِنَّا
او تنګ شو پر دوی باندی له جهته د زړه او وویل هغوی چه مه ویریږه او مه خفه کیږه | بیشکه چه مونږ
مُنَجُّوْكَ وَاَهْلَكَ اِلَّا امْرَاَتَكَ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۳۳﴾
خلاصونکی | یو ستا او اهل ستا | مګر ښځه ستا ده | له باقی پاته کیدونکو څخه
اِنَّا مُنْزِلُوْنَ عَلٰٓى اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ
بیشکه مونږ رالیږونکی یو پر خلقو د دی | کلی باندی | عذاب | له | اسمان څخه
بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿۳۴﴾ وَلَقَدْ تَّرَكْنَا مِنْهَآ اٰيَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ
په سبب د هغه چه وو دوی بدکاران ؔ | او خامخا په تحقیق پریښوولی مونږ له هغه کلی څخه نخښه ښکاره لپاره د هغه قوم
يَّعْقِلُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا
چه عقل لری | او لیږلی وو مونږ اهل د مدین ته ورور د هغوی شعیب ؑ نو وویل هغه ای قومه زما عبادت کوئ د
اللّٰهَ وَارْجُوا الْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَلَا تَعْثَوْا فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿۳۶﴾
خدای ج | او امید لری د ورځی اخیرنی | او مه ګرزی په ځمکه | کښی | فساد کونکی
فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَاَصْبَحُوْا فِيْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۳۷﴾
نو نسبت د دروغو ئی وکړ هغه ته نو ونیول هغوی زلزلی نو وګرزیدل هغوی وخت د سهار کښی په کورونو خپلو کښی مړه پر زنکونو پراته
وَعَادًا وَّثَمُوْدَا۠ وَقَدْ تَّبَيَّنَ لَكُمْ مِّنْ مَّسٰكِنِهِمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ
او هلاک کړل مونږ عادیان او ثمودیان او په تحقیق ښکاره شو تاسو له کورونو د هغوی څخه او ښائسته کړی ؤ هغوی ته

ف
چه دوی ایمان راوړ او بعضی بد
کاری نه د لوط ؑ د قوم وښتل د کانو
وو په بند تو باندی. بند قبر کبجلو غزه
ماسی شی دی. شیلی او هل کوی
پر نکریږو سرکول، د کو تو څخه کوئه
ایستل، د زړ او لوږ وول، ښکنځل او
پوچ الفاظ ویل د هغو کو به وخت کښی
او د کو تر و بلزی کول او سفیان
ثوری ویلی دی چه کوتر و بازی کول
د قوم لوط ؑ عمل و او چا چه او ویل کړ
نو دی به مړنه شی تو چه سپی خنه کښی
و نه مومی یعنی د ډیر بد خوار ی ۲ روح
۲ سبب د خفګان د لوط ؑ په دی
قوم باندی لوط او وچه اپرښتی د هغه
پښکل د انسانانو باندی راغلی وی چه
ډیری خوبصورت هوی او قوم بد
بختان د دی په لواطت باندی عادت
وو او نو د ده وویل چه تو ګه به څرنګ د
میلمنو د ماځخه منع شی او نو رما
د دوی د دفع توان نشته ۳ مننځ
عذاب د اسمان څخه یعنی باران د کانو
په حکم د خدای ج لوطیم سره خپله
اهل خلاصی پیدا کړه او کفار د موقیفکو
هلاک شول او ښهری خراب او وران
شوا او د دوی عبرت خلقو ته ګرزیدل
لکه چه الله فرمائی ولقد ترکنا
الآیه ۳ تفسیر جنکبنی ۵ تفسیر لیکو
لیکلی دی چه قوم د لوط ؑ پنځه کلی و
په دی کښی څلور کلی خلق وو نو
پوری تکړه جبرائیل لټول پروزر د
پورته کړل تر څو چه اهل اسمان
د دوی چغری کانو آواز وانو غیپل
د سپو د وی او ویډل او کوزنه شو
بولونی د وی او وینس نه شو لو څو
څخه هغه بیلا د وی او سائی ځمکه
بلع نموا وله او له پاسه پری د کانو
باران وشو او تول هلاک شول ۳

الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ﴿۳۸﴾

شیطان عملونه د هغوی نو منع کړي ئې وو د وی له لارې سمې څخه او وو هغوی له لیدونکی

وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ ۚ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ

او هلاک کړل مونږ قارون او فرعون او هامان او خامخا په تحقیق راغلی وو هغوی ته موسیٰ ع په نخښو ښکاره وو سره

فَاسْتَكْبَرُوْا فِى الْاَرْضِ وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ ﴿۳۹﴾ فَكُلًّا اَخَذْنَا

نو تکبر وکړ دوی په ځمکه کښې او نه وو دوی مخته کیدونکی له حکمه زمونږ څخه نو هر یو ونیول مونږ له

بِذَنْۢبِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ

په ګناه د ده سره نو بعضی له دوی څخه هغه دي چه ولیږو مونږ پر هغه باد سخت له او بعضی له دوی څخه هغه دي

اَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ

چه ونیول هغه اواز د جبرائیل له او بعضی له دوی څخه هغه دي چه ورګډ کړه مونږ پر هغه ځمکه او بعضی له دوی څخه هغه

اَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ﴿۴۰﴾

چه غرق کړل مونږ او نه وو خدای چه ظلم ئې کړی وی پر دوی باندې مګر وو دوی چه پر ځانونو خپلو به ئې ظلم کاوه

مَثَلُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوْتِ ۚ

مثال د هغه کسانو چه نیولی ئې دي بې له خدای څخه دوستان په مثل د غنې دی له

اتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ وَاِنَّ اَوْهَنَ الْبُيُوْتِ لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوْتِ ۘ

چه جوړ کړي کور او بیشکه چه ډیر ضعیف د کورو خامخا کور د غنې (جولاګۍ) دی له

لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾ اِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ

که وای دوی چه پوهیدلی بیشکه چه خدای پوهیږي پر هغه چه دوی عبادت کوي بې له ده څخه له له

شَيْءٍ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۴۲﴾ وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ

څه شی څخه او دی غالب دی خاوند د حکمت دی او دا مثالونه بیانوو مونږ لپاره د خلقو

وَمَا يَعْقِلُهَآ اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ﴿۴۳﴾ خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ

او نه پوهیږي پر دې باندې مګر عالمان پیدا کړي دي خدای اسمانونه او ځمکه په حقه سره

۲ع ۱۲ ۱۶ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۴﴾

بې شکه په دې کار کښې خامخا علامه ده لپاره د مؤمنانو

له یعنې دوی ښه بیرک او پوه وو په امورو د دین باندې مګر شیطان ئې په عقل پرده راوستې وه چه حق دین ته ئې غاړه نه ایښوله ۱۲ منح

له یا دا معنې چه دوی له مونږ څخه خلاص نه شول بلکه ومونیول هلاک مو کړل ۱۲ منح

له چه هغوی قوم د لوط علیه السلام وو چه د کاڼو باران پر وشو او هلاک شول ۱۲ روح البیان

له هغوی اهل د مدین او ثمودیان وو چه جبرائیل علیه السلام سخته ناره پرې وکړه نو زړونه ئې وچاودل او ټول هلاک شول ۱۲ روح

له چه هغه قارون او پیروان ئې وو ۱۲ له چه هغه قوم د نوح علیه السلام او فرعون او لښکر ئې وو ۱۲ روح

له یعنې لکه چه کور د غنې ډیر کمزوری او بې بنیاده دي چه په محض یو کلو مرغ ورانیږي هم دارنګه امعبودان د دوی بې فایدې دي په وخت د مصیبت کښې په دوی ته هیڅ فائده نه رسوي ۱۲ منح له عنکبوت هغه چنجی دی چه پردیوالو او کوټو کښې خالی د تار وجوړوي ۱۲ منح

له یعنې که دوی پوهیدلی نو فکر به ئې کړی وو چه مونږ خو په ډیره غلطه لاره روان یو چه هیڅ بنیاد نه لري ۱۲ منه له غیر له خدای څخه هر شی چه وي یعنې که بت وي او که ستوري او که پرښته او که انسان ۱۲ لیسیر

٤٥ اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ

وایه ته هغه چه وحي کړې شوې تا ته دي سوله کتاب څخه او سم ودروه لمونځ بیشکه

تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ وَاللّٰهُ

چه لمونځ منع کوي له بدکار څخه او لنارو او خوا او خا او یاد کړې خدای ډیر لوی دی او خدای

يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ۝٤٥ وَلَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ

پوهیږي په هغه چه تاسو ئي کوئ او تاسو جګړه مه کوئ له اهل کتابو سره مګر په هغه طریقه چه هغه

اَحْسَنُ ۖ اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْهُمْ وَقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ

ډیره ښه وي مګر هغه کسان چه ظلم ئي کړی دی له دوی څخه او وایئ تاسو چه ایمان راوړی دی موږ په هغه کتاب چه نازل کړی شوی دی

اِلَيْنَا وَاُنْزِلَ اِلَيْكُمْ وَاِلٰهُنَا وَاِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ۝٤٦

موږ ته او نازل کړی شوی دی تاسو ته او معبود زموږ او معبود ستاسو یو دی او موږ ده ته غاړه ایښوونکي یو

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ

او همدارنګه نازل کړی دی موږ تا ته کتاب نو هغه کسان چه ورکړی دی موږ هغوی ته کتاب

يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۚ وَمِنْ هٰٓؤُلَآءِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ ؕ وَمَا يَجْحَدُ

ایمان راوړي پر ده او بعضي له دې اهل مکې څخه هغه دي چه ایمان راوړي پر ده او انکار نه کوي

بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الْكٰفِرُوْنَ ۝٤٧ وَمَا كُنْتَ تَتْلُوْا مِنْ قَبْلِهٖ مِنْ

پر آیتونو زموږ باندې مګر کافران او نه وې ته چه وایو به دې مخکې له ده څخه کوم یو

كِتٰبٍ وَّلَا تَخُطُّهٗ بِيَمِيْنِكَ اِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُوْنَ ۝٤٨ بَلْ

کتاب او نه به دې لیکلی هغه کتاب په ښي لاس ستا په دغه وخت کښې به شک کاوه باطلونکو خلقو بلکه

هُوَ اٰيٰتٌۢ بَيِّنٰتٌ فِيْ صُدُوْرِ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ ؕ وَمَا يَجْحَدُ

دا قرآن آیتونه دي ښکاره په سینو د هغه کسانو کښې چه ورکړی شوی دی ورته علم او انکار نه کوي

بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا الظّٰلِمُوْنَ ۝٤٩ وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ مِّنْ

پر آیتونو زموږ باندې مګر ظالمان او وائي دوی ولې نه نازلیږي پر دې محمد (ص) باندې نخښې له طرفه

رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٥٠

د رب د ده څخه و وایه ته چه بیشکه دا خبره ده چه نخښې په نزد د خدای دي او بیشکه زه ویروونکی یم ښکاره

۱ یعني د لمانځه دا خاصیت دی چه سړی لنارو او لوڅخه ساتي روایت دی چه یو ځوان و د انصارو څخه چه پنځه سره لمونځونه به ئې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره اداء کول او سره له هغه به ئې بول بدکارونه یو چا دا حال رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیان کړ نو ده وفرمایل ژر دی چه لمونځ د ده به دی له دی کارو څخه منع کړي نو ډیر ژر دا هغه ځوان توبه وکښله او ډیر نیك شو. له عمران ابن حصین او ابن عباس رضي الله تعالی عنهم څخه مرفوعاً روایت دی چه هغه څوك چه لمونځ دی له بې حیائی او بدو کارو څخه منع نکړي نو دا سړی لمونځ له الله تعالی څخه لیری کونکی دی یعني دا لمونځ به د قرب پر ځای د ده ضرر سبب شوی ۱۲

۲ له حضرت ابو هریره رض څخه روایت شوی دی چه کفارو به د مسلمانانو په مخکښې تورات په عبراني ژبه سره وایه او بیا به ئې معنی د هغه په عربي ژبه کوله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه تاسو تصدیق د اهل کتابو مکوئ او مه ئې تکذیب کوئ او وائی چه ایمان راوړی دی موږ پر هغه چه نازل کړی شوی دی موږ ته او پر هغه چه نازل کړی شوی دی تاسو ته او معبود زموږ او تاسو سره یو دی او موږ ده د حکم منونکي یو روا صحیح البخاري ومسلم ۱۲ وروح وابن کثیر ۳ له په سینو د هغه کسانو چه ورکړی شوی دی ورته علم یعني عالمانو به یاد وي دا قرآن. الله تعالی د دې قرآن دا خاصه مقرر کړې ده چه په لکهونو خلقو یاد دی او د نورو کتابو حافظان هیڅوك نه وو مګر شاذ او نادر لکه چه ویل کیږي چه عزیر علی نبینا وعلیه الصلوة والسلام تورات یاد وو. او د دې امت صفت الله تعالی په پخوانو کتابو کښې داسې کړی دی چه قرآن به ئې په سینو کښې پروت وي والحمد لله علی ذلك ۱۲

اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ

ایا نه دی بس دوی لره دا چه بیشکه مونږ نازل کړی دی پر تا باندی کتاب چه ویل کیږی پر دوی باندی بیشکه

ع ۵ فِيْ ذٰلِكَ لَرَحْمَةً وَّذِكْرٰى لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٥١﴾ قُلْ كَفٰى بِاللّٰهِ

چه په دې کتاب کښی خامخا رحمت دی او پند دی لپاره د هغه قوم چه ایمان راوړی وروایه ته چه بس دی خدای ج

بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ شَهِيْدًا ۚ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ

په منځ زما کښی او په منځ ستاسو کښی شاهد پوهیږی دی پر هغه چه په اسمانو کښی دی او چه په ځمکه کښی دی

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْبَاطِلِ وَكَفَرُوْا بِاللّٰهِ ۙ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٥٢﴾

او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی پر ناحقو او کافران شوی دی پر خدای باندی دغه کسان دوی تاوانیان دي

وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ۭ وَلَوْلَآ اَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَاۗءَهُمُ

تلوار کوی د کفار پر تا باندی په غوښتلو د عذاب او که نه وای نیټه برنامه کړی شوی نو خامخا به راغلی وو دوی ته

الْعَذَابُ ۭ وَلَيَاْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٥٣﴾ يَسْتَعْجِلُوْنَكَ

عذاب او ضرور به راشی دوی ته عذاب ناڅاپه او دوی به نه پوهیږی تلوار کوی دوی پر تا

بِالْعَذَابِ ۭ وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٤﴾ يَوْمَ يَغْشٰهُمُ

په راوستلو د عذاب او بیشکه دوزخ خامخا چاپیره کیدونکی دی پر کافرانو باندی په هغه ورځ چه پټ به کړی دوی

الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ وَيَقُوْلُ ذُوْقُوْا

عذاب له پاسه د دوی څخه او له لاندی د پښو د دوی څخه او وبه وائی ورته خدای چه وڅکئ

مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٥٥﴾ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ اَرْضِيْ

جزا د هغه چه وی تاسو کول مو ای بندګانو زما چه ایمان ئی راوړی دی بیشکه چه ځمکه زما

وَاسِعَةٌ فَاِيَّايَ فَاعْبُدُوْنِ ﴿٥٦﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَاۗىِٕقَةُ الْمَوْتِ ۣ

پراخه ده نو خاص ماله عبادت کوئ تاسو هر یو نفس یعنې ساه وندی څکونکی د مرګ دي

ثُمَّ اِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

بیا به مونږ ته تاسو راوستل کیږئ او هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او عملونه کوی د نیکو

لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

خامخا به ورکړو مونږ دوی له جنت څخه په کوټو کښی چه بهیږی به د لاندی د هغه ولی (ویالی)

ف ۱
چه نه ده د هغه رښتینی پیغمبر
او قرآن پاک د هغه کلام دی ۱۲

ف ۲
مراد ورڅخه د بدر عذاب دي
چه ناڅاپه پر هغوی باندی نازل
شو چه د دوی دومره ګمان نه
وو چه څه مشران ورڅخه مړه
شول او څه ئی بندیان شول ۱۲

وحیدی

ف ۳
ویلی شوی دی چه یوه ډله وه له
مؤمنانو څخه چه په مکه معظمه
کښی ئی استوګنه اختیار کړی
وه او له سببه د محبت د وطن
او دوستانو ئی هجرت نه کاوه
او عبادت د خدای به ئی په ویره
کښی او په پټه سره کاوه او نه
واړه به د کفارو له طرفه ضرور
ورته رسیدل نو الله تعالی دا
آیت شریف په حق د دوی کښی
نازل کړ چه یٰعِبَادِیَ الَّذِیْنَ الاٰیة
له حضرت زبیر رضی الله تعالی
عنه څخه روایت دی چه رسول الله
صلی الله علیه وآله وسلم
فرمایلی دي چه ټول ښهرونه
د خدای ښهرونه دي او ټول
بندګان د خدای بندګان دي
پس هر ځای کښی چه تاسو عبادت
د خدای کولی شئ په هغه ځای
کښی استوګنه کوئ. دا روایت
امام احمد ابن حنبل رحمه الله
کړی دی ۱۲
روح البیان
وابن کثیر رح

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ۝۵۸ الَّذِيْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰى
همیشه به وي دوی په هغه کښې ښه دی اجر د عمل کونکو د جنت له هغه عمل کونکي چه صبر کوي او پر
رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۝۵۹ وَكَاَيِّنْ مِّنْ دَاۗبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا ڰ
رب خپل باندې توکل کوي او ډیر دي له ګرزیدونکو څخه چه نه باروي روزي خپله
اَللّٰهُ يَرْزُقُهَا وَاِيَّاكُمْ ڮ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝۶۰ وَلَىِٕنْ سَاَلْتَهُمْ
خدای روزي ورکوي هغه ته او تاسو ته او دی اوریدونکی دی عالم دی او که پوښتنه وکړې ته له دوی څخه
مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ
چه چا پیدا کړي اسمانونه او ځمکه او تابع کړی ئې دی لمر او سپوږمۍ
لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۚ فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝۶۱ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ
نو خامخا به ووائي چه خدای نو کوم طرف ته دوی ګرزولی کیږي خدای پراخوي روزي هغه چاته
يَّشَاۗءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝۶۲
چه ئې خوښه شي له بندګانو خپلو څخه او تنګوي روزي هغه لره بیشکه چه خدای پر هر شي باندې عالم دی
وَلَىِٕنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ مِنَ السَّمَاۗءِ مَاۗءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ
او که پوښتنه وکړې ته له دوی څخه چه چا نازلې کړې دي له اسمان څخه اوبه نو ژوندۍ کړې ئې ده په دې باندې ځمکه
مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ۭ قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ۭ بَلْ اَكْثَرُهُمْ
پس له مرګ د دې څخه نو خامخا به ووائي دوی چه خدای او وایه ته چه ثنا ده خدای لره بلکه زیات د دوی
لَا يَعْقِلُوْنَ ۝۶۳ وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ۭ
عقل نه لري او نه دی دا ژوندون د نړۍ مګر عبث کار او لوبې
وَاِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِىَ الْحَيَوَانُ ۘ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝۶۴ فَاِذَا
او بیشکه چه کور د اخرت خامخا هغه ژوندون دی که وي دوی چه پوهیدلی نو هر کله
رَكِبُوْا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ڬ فَلَمَّا نَجّٰىهُمْ
چه سپاره شي دوی په بیړۍ کښې نو بولي دوی خدای چه خالص کونکي دي ده لره دین نو چه خلاصي مو ورکړه هر کله دوی
اِلَى الْبَرِّ اِذَا هُمْ يُشْرِكُوْنَ ۝۶۵ لِيَكْفُرُوْا بِمَآ اٰتَيْنٰهُمْ ڔ وَلِيَتَمَتَّعُوْا
وچې ته نا ځاپه دوی شریک پیدا کوي له خدای سره چه کافر شي دوی پر هغه چه ورکړې دي مونږ دوی ته او چه ګټه واخلي

۵۱
حضرت ابن ابی حاتم رح او مالک رح روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه په دې جایونو کښې چه په جنت کښې دا سې جایونه شته چه د هغوی د ننه طرف څخه د باندې او د باندې طرف څخه د ننه طرف نه ښکاریږي الله تعالی دا ئې د هغه چا تیار کړي دي چه خوراک خلقو ته ورکوي او نرمي خبرې کوي او پر لمونځونه او ډیرې روژې نیسي او تهجد کوي چه خلق بیده وي ۱۲ ابن کثیر

۵۲ یعنې پر خدای باندې اعتماد کوي همیشه په دین او هم په دنیا کښې په حدیث شریف کښې راغلي دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه که چیرې تاسو ټکه او اعتماد پر الله توکل وکړئ په رښتیا نو خامخا به روزي درکړي تاسو ته دا سې لکه چه رزق ورکوي الوتونکو شیانو ته چه سهار ولاړ شي وږي وي او ماښام راشي موړ وي رواه امام ترمذی و ابن ماجه ۱۲ ابن کثیر رح

۵۳
یعنې الله تعالی د هر چا په مصلحت ښه پوهیږي چه کوم چاته رزق په فراخت سره ورکول بهتر دي او کوم یو ته په تنګۍ سره ۱۲ منه رح

۵۴
حاصل دا چه اصلي او بهترین ژوند هغه دی چه همیشه قائم او باقي وي او ژوندون د دنیا په مثال د نقش کولو دی [illegible] او بوبانیې او وسره په نړګونه ناروغي او مرضونه تړلي دي ۱۲ منه رح

فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ

نو ژر دی چه پوه به شی دوی ایا نه وینی دوی چه بیشکه مونږ ګرزولی مو دی حرم امن و رکونکی او لوټول کیږی

النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۚ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ

نور خلق له شا و خوا د دوی نه ایا نو په باطل باندې ایمان راوړی دوی او په نعمت د خدای باندې

يَكْفُرُونَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا

کافران کیږی دوی او څوک دی زیات ظالم له هغه چا نه چه تړی پر خدای باندې دروغ

أَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُ ۚ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى

یا نسبت د دروغو کوی حق ته هر کله چه راغلی ده ته ایا نشته په دوزخ کښې ځائ

لِلْكَافِرِينَ ﴿٦٨﴾ وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ

لپاره د کافرانو (یعنې شته) او هغه کسان چه کوشش کوی په دین زمونږ کښې خامخا به و ښیو دوی ته لارې خپلې

وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾

او بیشکه چه خدای خامخا له نیکانو سره دی

سُورَةُ الرُّومِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سِتُّونَ آيَةً وَسِتُّ رُكُوعَاتٍ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

الم ﴿١﴾ غُلِبَتِ الرُّومُ ﴿٢﴾ فِي أَدْنَى الْأَرْضِ وَهُمْ مِنْ بَعْدِ

خدای عالم دی (معنې د دې) مغلوبه کړی شو روم یعنې د روم ښهر په نژدې مکه کښې او دوی به وروسته له

غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ﴿٣﴾ فِي بِضْعِ سِنِينَ ۗ لِلَّهِ الْأَمْرُ مِنْ قَبْلُ

مغلوبوالی د دوی نه ژر دی چه غلبه به وکړی په یو څو کلو کښې خدای لره حکم دی پخوا له دې نه

وَمِنْ بَعْدُ ۚ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ ﴿٤﴾ بِنَصْرِ اللَّهِ ۚ يَنْصُرُ

او وروسته له دې نه او په دغه ورځ به خوشحاله شی مؤمنان په مدد کاری د خدای مدد کوی دی

مَنْ يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿٥﴾ وَعْدَ اللَّهِ ۖ لَا يُخْلِفُ اللَّهُ

له هغه چا سره چه خوښه ئې شی او دی غالب دی مهربان دی وعده کړی ده خلاف مخالفت نه کوی خدای

ف ١

نقل دي چه د رومیانو چه اهل کتاب وو او د اهل فارس چه مجوسیان وو په ملك د عراق باندې چه د عربو ملك ته نژدې دی وو سره جنګ وشو د مسلمانانو دا خوښه وه چه رومیان غلبه وکړی او د مشرکانو دا چه اهل فارس غلبه وکړی ناڅاپه فارسیان غالب شول بیا الله تعالی دا ایتونه نازل کړل لپاره د تسلی د مؤمنانو نو حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله تعالی عنه دا په کوڅو د مکی معظمې کښې وویل له ابی ابن خلف سره ئې شرط او بندونه اقرار وکړ او میعاد ئې نه کاله وکړ په اوم کال باندې غلبه وکړه. حضرت ابوبکر رضی الله عنه سل اوښان له وارثانو د ابی نه واخستل ځکه چه هغه په غزا د احد کښې له لاسه د رسول الله نه زخمی شوی وو بیا ابوبکر رضی الله عنه هغه اوښان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حاضر کړل نو رسول الله ﷺ ورته وویل چه دا خیرات کړه نو هغه ټول خیرات کړل په هغه وخت کښې شرط تړل حلال وو. بیا په آیت د اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ الآية سره منع شول ،، روح البیان ،، و ابن کثیر رح

ف ٢

یعنې په ورځ په غلبې د رومیانو په فارس باندې ۱۲

ع ٧ ٦

وَعْدَهٗ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۞ ۶ يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا

لہ وعدے خپلي څخه مګر اکثر د خلقو نه پوهيږي پو هيږي دوئي په ښکاره کارو

مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚۖ وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ۞ ۷ اَوَلَمْ

له دي ژوندنړدي څخه او دوی له اخرت څخه دوئي غافله دي ـله ايا نه کوی

يَتَفَكَّرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۫ وقف مَا خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

فکر دوئي په نفسو خپلو کښي چه نه دي پيدا کړي خدای اسمانونه او ځمکه

وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ

او هغه چه په منځ د دے دواړو کښي دي مګر په حقه سره او پر نيټه پر نامه کړي کړي شوی باندی او بيشکه چه ډير له

النَّاسِ بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ ۞ ۸ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

خلقو څخه په ملاقات د رب د دوی خامخا کافران کيدونکي دي ايا نه ګرزي دوئي په ځمکه کښي

فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَانُوْٓا اَشَدَّ

نو چه وګوري دوئي چه څرنګه شوا خير کار د هغه کسانو چه مخوا وله دوی څخه وو هغوئي ډير سخت

مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاَثَارُوا الْاَرْضَ وَعَمَرُوْهَآ اَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوْهَا

له دوئي څخه له جهته د قوته او څيرله يعني يوئي کوله ئي ځمکه او اباده کړي ئي وه دا ډيره له هغه څخه چه اباده کړي ده دوئي

وَجَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۭ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ

او راغلي وو هغوته رسولان د دوئي په ښکارو نخښو سره نو نه وو خدای چه ظلم ئي کړي وي پر هغوی باندي ولکن

كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ ۞ ۹ ۭ ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ اَسَاۗءُوا

وو هغوئي چه پر ځانو خپلو به ئي ظلم کاوه بيا شو اخر کار د هغه کسانو چه بدي ئي کوله

السُّوْٓاٰۗى اَنْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَكَانُوْا بِهَا يَسْتَهْزِءُوْنَ ۞ ۱۰ ع اَللّٰهُ

بد په سبب د هغه چه دروغ به ئي ويل پر ايتو د خدای او وو هغوئي په هغه پور مسخري به ئي کولي خدای چه دي

يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۞ ۱۱ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ

شروع کوی د پيدائښت بيا اعاده به وکړي د ده بيا به ده ته تاسو راجع کړل شي او په هغه ورځ چه و دريږي قيامت

يُبْلِسُ الْمُجْرِمُوْنَ ۞ ۱۲ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ مِّنْ شُرَكَآئِهِمْ شُفَعٰٓؤُا وَكَانُوْا

نا اميده به شي کافران او نه به وي د دوی له شريکانو د دوی څخه شفاعت کوونکي او دي دوی

ـله

يعني ډير خلق په کارو د دنيا باندي ښه پوهيږي او په طريقه د حصول کښي ئي ښه ماهر دي مګر له اخرت څخه بالکل ناخبره دي. له حسن بصري رحمة الله تعالى عليه څخه روايت دی چه الله تعالى اهل د دنيا د دنيا په کارو کښي داسي ماهر کړي دي چه که ډيری څوك دوئي ته روپۍ په نوك باندي کيږدي نو دوی به ئي ورته اندازه د هغه ونښيي چه څو تولي يا ماشي ده مګر د دين له کاره څخه داسي ناخبره دي چه لمونځ ئي هم په صحيح طريقه نه ده نه کوی ۱۲ ۱۲

تفسير ابن كثير وفتح البيان وروح البيان

ـع

له دغه قول نه څخه دلته دولت، عزت، جاه، جلال مال، اسباب، تجارت، زراعت غرس، بناء او داسي نور و ښکاره کارو باندي ښه پوهيږي او له اخرت څخه غافل دي ۱۲ ۱۲ ۲ ۲ ۲ ۱

تفسير تيسير بتغير

ع ۱۰ ۴

بِشُرَكَآئِهِمْ كٰفِرِيْنَ ﴿١٣﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ﴿١٤﴾

په شریکانو خپلو باندې کافران یعنې منکر او په هغه ورځ چه ودریږي قیامت په دغه ورځ به جلا جلا شي دا خلق

فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِيْ رَوْضَةٍ يُّحْبَرُوْنَ ﴿١٥﴾

نو هر چه هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دی او عمل کړی دی نیکو نو دوی به په جنت کښې خوشحاله کیږي [1]

وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآئِ الْاٰخِرَةِ فَاُولٰٓئِكَ فِي

او هر چه هغه کسان چه کافران شوي دي او نسبت د دروغو کوي ایتونو زمونږ ته او ملاقات د اخرت ته نو دغه کسان په

الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿١٦﴾ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴿١٧﴾

عذاب کښې به حاضر کړی شوي وي نو پاکي ده لره خدای لره په هغه وخت کښې چه داخلیږئ تاسو په شپه کښې او په هغه وخت کښې چه داخلیږئ په سهار

وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَعَشِيًّا وَّحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ ﴿١٨﴾

او خاص ده لره حمد دی په اسمانونو کښې او په ځمکه کښې او په اخیر د ورځ کښې او په هغه وخت کښې چه تاسو داخلیږئ په ماپښین کښې

يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ

راباسي دی ژوندی له مړي نه او راباسي مړ له ژوندي نه او ژوندی کوي

الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿١٩﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ

ځمکه وروسته له مړکیدو د دې نه او هم داسې به تاسو راویستلی شئ له قبرو نه [2] او له علامو د ده نه دا دي چه

خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ﴿٢٠﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ

پیدا کړي ئې تاسو له خاورې نه بیا ناڅاپه تاسو بشر یئ چه تار پتار کیږئ په ځمکه کښې او له علامو د ده نه

اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ

دا دي چه پیدا کړي ئې دي تاسو لره له ځانو ستاسو ښځې لپاره د دې چه ارام وکړئ دوی ته او پیدا کړی ئې ده په منځ ستاسو کښې

مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿٢١﴾ وَمِنْ

دوستي او مهرباني [3] بیشکه چه په دې کښې خامخا علامې دي لپاره د هغه قوم چه فکر کوي او له

اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ۭ

نخښو د ده نه پیدا کول د اسمانونو دي او د ځمکې دي او مخالفت د ژبو ستاسو او د رنګو ستاسو

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴿٢٢﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ مَنَامُكُمْ بِالَّيْلِ

بیشکه چه په دې کښې خامخا علامې دي لپاره د عاقلانو او له علامو د ده نه خوب ستاسو دی په شپه کښې

[1] حضرت ابن عباس رض او مجاهد رح ویلي دي چه معنی د یحبرون دا ده چه عزت به ور کړی شي او قتاده رض ویلي دي چه نعمتونه به ورکول کیږي او ابن کیسان رض ویلي دي چه تاجونه به ور ته اچول کیږي او ابي بکر ابن عباس رض ویلي دي چه تاجونه به ورته پر سر کیږي او وکیع ویلي دي چه سرود و نغمه ور ته واورول کیږي ۳ روح

[2] په حدیث شریف کښې راغلي دي چه هر چا د سهار په وخت کښې فسبحن الله حین تمسون تر وکذلک تخرجون پورې تلاوت وکړه نو دی به د هغه وظیفې ثواب چه د ورځې نه پاته شوي وي پیدا کړي او هر چا چه دا ایتونه په وخت د ماښام کښې تلاوت کړل نو دی به د هغه وظیفې ثواب پیدا کړي چه د ورځې ورځې نه فوت شوي وي له ابن عباس رض نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه هر چا دا درې ایتونه او اخیر د صفت یعنې له سبحان ربک رب العزة نه تر اخیره وویل د هولمانځ نه پس نو د ده لپاره به په شمار د ستورو د اسمان نیکي ولیکل شي او په شمار د څاڅکو د باران او په شمار د پاڼو د ونو او په شمار د شګو د ځمکې او هر کله چه دی مړ کیږي نو قبر ته به یې ورځي په ځای د ده یوې نیکۍ لس لس نیکۍ ابراهیم علیه السلام به دا ایتونه په هره ورځ او شپه کښې شپږ شپږ ځله ویل په سریاني ژبه سره ځکه چه په هغه وخت کښې عربي ژبه نه وه ۱۱۲ روح وغیره

[3] ستاسو پیدا دو باره ژوندي کول او له ځمکې نه مورا وتل کوم داسې تعجب خبره ده چه هر کله هر څوک دا کار خانه ګوري چه په ځمکه کښې هیڅ نه وي بوټي کله وده شینوالی او حیوانانو هیڅ اثر پکښې نه وي د باران په وریدلو سره قسم قسم وابنه پکښې شنه سي او په زرګونو حیوانات پکښې پیدا شي نو دا سې قادر مطلق بیرته ژوندي کښې وبلاء پیدا کول څه ګران کار دی ۱۲ وحیدی ۳ روایت دی چه موده په نکاح کولو سره لځی او رحمت په سبب د پیدا کولو د اولاد سره پیدا کیږي موضح ۵ روایت دی چه په تول د نیا کښې

لا والسوانکم هم په ژبو او رنګو سره جلا کړي او هم دارنګه د خلقو رنګونه مخالف دي بعضي سپین بعضي تور بعضي غنم رنګي دي دا اول کار ونه علامې د قدرت کامله د الله تعالی جل جلاله وعم نواله دي ۳

وَالنَّهَارِ وَابْتِغَاؤُكُم مِّن فَضْلِهِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ
او په ورځ کښې او طلب ستاسو ئې له فضله د ده څخه بیشکه چه په دې کښې خامخا علامې دی لپاره د هغه قوم

يَسْمَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَمِنْ آيَاتِهِ يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنَزِّلُ
چه اوري اوله علامو د ده څخه دا دی چه ښیي تاسو ته بریښنا لپاره د ویرې تندر څخه او د طمع د باران او نازلوي

مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيُحْيِي بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
له اسمان څخه اوبه نو ژوندۍ کوي په دې سره ځمکه وروسته له مرګ د دې څخه بیشکه چه په دې کښې

لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْ آيَاتِهِ أَن تَقُومَ السَّمَاءُ وَالْأَرْضُ
خامخا علامې دی لپاره د هغه قوم چه عقل لري اوله علامو د ده څخه دا دی چه ولاړ دی اسمان او ځمکه

بِأَمْرِهِ ۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً ۖ مِّنَ الْأَرْضِ إِذَا أَنتُمْ تَخْرُجُونَ ﴿٢٥﴾
په حکم د ده سره بیا هرکله چه راوبلل شي تاسو په بللو سره له ځمکې څخه ناڅاپه تاسو به راووزئ له قبرو څخه

وَلَهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُ قَانِتُونَ ﴿٢٦﴾ وَهُوَ الَّذِي
او خاص ده لره دي هغه څوک چه په اسمانو کښې دي او چه په ځمکه کښې دي ټول ده لره طاعت کونکي دي او دی هغه ذات دی

يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ۚ وَلَهُ الْمَثَلُ
چه شروع کوي د پیدا ئښت ابیا به ئې دوباره پیدا کړي پس له مرګه او دا دوباره پیدا کول ډیر اسان دی پر ده باندې او ده لره دی مثال

الْأَعْلَىٰ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾ ضَرَبَ
لوئ په اسمانو کښې او په ځمکه کښې او دی غالب دی خاوند د حکمت دی بیانوي دی

لَكُم مَّثَلًا مِّنْ أَنفُسِكُمْ ۖ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم
تاسو ته یو مثال له نفسو ستاسو څخه ایا شته تاسو له هغه مریانو څخه چه مالکان ئې وي ښي لاسونه ستاسو

مِّن شُرَكَاءَ فِي مَا رَزَقْنَاكُمْ فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَاءٌ تَخَافُونَهُمْ
څه شریکان په هغه کښې چه ورکړي دي مونږ تاسو ته نو چه تاسو په هغه کښې برابر ئې چه ویریږئ له هغوي څخه

كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾
لکه ویریدل ستاسو له ځانو خپلو څخه همدا رنګ واضح بیانوو مونږ ایتونه لپاره د هغه قوم چه عقل لري

بَلِ اتَّبَعَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَهْوَاءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ فَمَن يَهْدِي
بلکه اتباع کوي هغه کسان چه ظلم ئې کړی دی د هواو خپلو بې له علم څخه نو څوک به لاره وښیي

ف ۱
یعني هر شی حکم او طاعت د خدای تعالی مني. که خوشحال وي او که خفه وي په حدیث مرفوع کښې له ابو سعید رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چه په هر ځای کښې په قران مجید کښې لفظ د قنوت ذکر شي مراد ځني طاعت وي ۱۲ ابن کثیر

ف ۲
له حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه نقل شوی دي چه معنیٰ د وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ دا دی چه لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ یعني نشته په شان د ده هیڅ شي. او حضرت قتاده رضی الله تعالی عنه ویلي دي مثل اعلیٰ دا دی چه بې له ده څخه بل معبود بالکل نشته ۱۲

ف ۳
یعني په تفصیل سره بیانوو مونږ نخښې او دلیلونه د وحدانیت خپل لپاره د هغه قوم چه عقل لري. او په فکر سره له دغه مثل توحید معلوموي اما مشرکان له دغه فکره څخه محروم دي ۱۲ لکه چه وائي بَلِ اتَّبَعَ الآیة ۱۲

ع ۳ ۸ ۶

مَنْ أَضَلَّ اللّٰهُ ۖ وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿٢٩﴾ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ

هغه چا ته چه گمراه کړي وي خدای او نشته دوی لره هیڅ مددګاران نو برابر کړه مخ خپل دین د خدای ته

حَنِيْفًا ۖ فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۖ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ

چه مائل او سي حق ته لازم شه لیه پیدا ئښت د خدای سره هغه پیدا ئښت چه پیدا کړي ئي دي خلق په هغه باندي نشته بدلول دین

اللّٰهِ ۖ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٠﴾

د خدای لره دا دین محکم دی مګر زیات د خلقو نه پوهیږي

مُنِيْبِيْنَ إِلَيْهِ وَاتَّقُوْهُ وَأَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿٣١﴾

چه رجوع کونکي او سئ ده ته او ووېرېږئ له ده څخه او سم ودروئ لمونځ او مه کیږئ تاسو له مشرکانو څخه

مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا شِيَعًا ۖ كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ

له هغه کسانو څخه چه جلا کړي ئي دي دین خپل او شوي دي دوی ډلي ډلي هره یوه ډله پر هغه دین چه په نزد د دوی دی

فَرِحُوْنَ ﴿٣٢﴾ وَإِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُمْ مُّنِيْبِيْنَ

خوشحالیدونکي دي او هر کله چه ورسیږي خلقو ته ضرر نو بولي دوی رب خپل چه رجوع کونکي وي

إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا أَذَاقَهُمْ مِّنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ بِرَبِّهِمْ

ده ته بیا هر کله چه وڅکوي دوی له نزد خپل څخه رحمت ناڅاپه یوه ډله د دوی څخه له رب خپل سره

يُشْرِكُوْنَ ﴿٣٣﴾ لِيَكْفُرُوْا بِمَا آتَيْنٰهُمْ ۚ فَتَمَتَّعُوْا ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٣٤﴾

شریك پیدا کوي چه کافر سي پر هغه چه ورکړي مو دي دوی ته نو نفع واخلئ تاسو نو ژر دی چه پوه به شئ

أَمْ أَنْزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوْا بِهِ يُشْرِكُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَإِذَا

ایا نازل کړي دي موږ پر دوی یو دلیل نو هغه خبري کوي پر هغه چه دي دوی پر هغه شریك پیدا کوي او هر کله

أَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوْا بِهَا ۖ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ

چه وڅکوو موږ پر خلقو باندي رحمت نو خوشحاله سي دوی پر هغه او که ورسیږدي دوی ته سختي په سبب د هغه چه مخکي لیږلي دي

أَيْدِيْهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ ﴿٣٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ

لاسو د دوی ناڅاپه دوی نا امیده وي ایا نه ګوري دوی چه بیشکه خدای پراخوي روزي

لِمَنْ يَّشَاءُ وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَآيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٣٧﴾ فَاٰتِ

هغه چا ته چه ئي خوښه سي او تنګوي ئي بیشکه چه په دي کار کښي خامخا علامي دي لپاره د هغه قوم چه ایمان راوړي نو ورکړه

ف ۱
چه مراد له هغه څخه پیدائښت دی په دین د توحید باندي لکه چه په حدیث شریف کښي بیان سوی دی ۱۲ منه رح

ف ۲
یعني په هر وخت کښي چه انسان ته نعمت ورسیږي نو دی پري خوشحاله سي او وائي چه سختي راڅخه ولاړي. او هر کله چه سبب د سختي د خپل بد عمل د ده وي یعني د خپلي بي دیني په وجه ورته پیښه شي نو دی بیا بالکل له خیره څخه نا امیده وي مګر ایمان دار او نیك خلق داسي نه وي بلکه هغه په وخت د سختي کښي صابر وي او په وخت د نعمت کښي شاکر وي د صحیح البخاري په حدیث شریف کښي راغلي دي چه د مؤمن حال ډیر عجیب دی هر یو حکم د الله تعالی د ده په حق کښي بهتر دی که چیري ده ته نعمت او راحت ورسیږي نو دی شکر کوي دا کار هم د ده په حق کښي خیر دی او که څه سختي او غم ورته ورسیږي نو دی پري صبر کوي نو دا هم د ده لپاره خیر او ثواب دی ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲
ابن کثیر رح

ف ۳
چه پیدا کړي ئي دي دا خلق په هغه فطرت باندي چه هغه دین د اسلام یا پیژندل د الله ج یا وعده د الست بربکم ده چه پیدا او له ورځ کښي شوي ده چه ټولو اقرار کړی دی چه ته زموږ رب ئي یا ایمان فطري دی ۱۲
تیسیر

ذَا الْقُرْبٰى حَقَّهٗ وَالْمِسْكِيْنَ وَابْنَ السَّبِيْلِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ
خاوند د خپلوۍ لره حق د هغه ۱ او عاجز لره او مسافر لره دا کار خير دی هغه کسانو لره
يُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ ۫ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَمَآ اٰتَيْتُمْ
چه اراده لري دوی د رضا د خدای او دغه کسان دوی خلاصيدونکي دي او هغه شی چه ورکوئ تاسو
مِّنْ رِّبًا لِّيَرْبُوَا فِيْٓ اَمْوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَمَآ
له سود څخه لپاره د دې چه زيات شي په مالو د خلقو کښې نو زيات به نه شي په نزد د خدای او هغه شي
اٰتَيْتُمْ مِّنْ زَكٰوةٍ تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ﴿۳۹﴾
چه ورکوئ تاسو له زکوٰة څخه اراده لرئ د رضا د خدای نو دغه کسان دوی زياتونکي دي د نيکو ۲
اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ؕ هَلْ
خدای هغه ذات دی چه پيدا کړي يئ تاسو بيا ئي روزي درکړې ده تاسو ته بيا به مړه کړي تاسو بيا به ژوندي کړي تاسو آيا شته
مِنْ شُرَكَآئِكُمْ مَّنْ يَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ مِّنْ شَيْءٍ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى
له شريکانو ستاسو څخه هغه څوک چه کوي له دې کارو څخه يو شی پاکي ده د ده لره او لوی دی
عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۴۰﴾ ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ اَيْدِي
له هغه څخه چه دوی شريک پيدا کوي له ده سره ظاهر شو فساد په وچه کښې او په دريابو کښې په سبب د هغه چه کسب کړي دي لاسو
النَّاسِ لِيُذِيْقَهُمْ بَعْضَ الَّذِيْ عَمِلُوْا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۴۱﴾ قُلْ
د خلقو لپاره د دې چه وڅکي دوی ته بعض جزا د هغه چه کړي دي دوی بنائي چه دوی واوړي له عملو خپلو څخه ووايه ته
سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلُ ؕ
چه ولاړ شئ په ځمکه کښې نو وګورئ چه څرنګه شو اخير کار د هغه کسانو چه پخوا وو
كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّشْرِكِيْنَ ﴿۴۲﴾ فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ الْقَيِّمِ مِنْ
وو زيات د هغوی مشرکان نو سم ودروه مخ خپل دين ۳ ۵ سم ته
قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ يَوْمَئِذٍ يَّصَّدَّعُوْنَ ﴿۴۳﴾
مخکې له هغه څخه چه راشي هغه ورځ چه نشته بيرته ګرځونکي هغه لره له طرفه د خدای څخه په دغه ورځ به خوارۀ واره شي خلق
مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِاَنْفُسِهِمْ
هر څوک چه کافر شو نو پر ده ده جزا د کفر د ده او هر چا چه عمل وکړ نيک نو لپاره د ځانو خپلو

۱ مراد له دې حق څخه نفلي صدقه ده ځکه چه دا ايت په مکه معظمه کښې نازل شوی دی او زکات ورکول په مدينه منوره کښې فرض شوي دي له دې ايت څخه دا معلومه شوه چه داسې خپلوان چه نکاح ورسره کول حرام وي که څيري محتاج وو نو خرچ او خوراک ورکول هغوی ته فرض دي ۔ دا امام ابوحنيفه مذهب دی کمالين ۲ يعني هر چا چه څه بخښش وکړ په نيت د زيات اخستلو سره نو څه د رباره د خدای کښې د هغه ثواب نشته مګر که ورکړه خاص په دې نيت سره کوي چه د الله تعالی له طرفه څه زيات څه شی نو دا کار روا جائز دی. حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما وايي چه زيات اخستل دوه قسمه دي يو حرام دی يعنې سود او دويم جائز دی هغه دا دی چه يو څوک يو چا ته څه ورکړي په دې نيت چه ما ته يو څه زيات شي را کړي بيا ئي دا ايت شريف ووايه. ليکن دا کار خاص د رسول الله صلی الله عليه وسلم په حق کښې جائز نه ؤ ځکه چه الله تعالی هغه ته فرمايلي وو چه ولا تمنن تستکثر يعنې مه ورکوه احسان مکوه په دې نيت چه ځان ته زيات څه حاصل کړې ابن کثير ۳ يعني پر دين د الله تعالی باندې استقامت وکړه او په کولو د نيکو کښې کوښښ وکړه مخکښې له راتلو د قيامت چه هغه بيرته نه ګرځي ځکه چه هغه څه بيا د عمل کولو نه په حيثيت کښې راغلی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چه انتظار نه کوي يو له تاسو څخه مګر غنی والي ته چه ګنهګار و نکړي او له حد د امرو نهي څخه خارج و نکړي دي يا انتظار نه کوي مګر ناجوړۍ ته چه تباه کوونکې وي بدن يا انتظار نه کوي مګر بر زوړ والي ته چه سړی بې هوښه او بې عقل کړي يا مرګ ته چه دی ناڅاپه په تلوار راتلونکی يا انتظار نه کوي مګر دجال ته ډير بد غائب دی چه انتظار ئي کيږي يا انتظار نه کوي مګر قيامت ته او قيامت ډير سخت ډير بينوونکی او ډير تريخ دی ۔ اقتوی ۔ روا ترمذي والنسائي ۳ ابن کثير

يَمْهَدُوْنَ ﴿۴۴﴾ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْ فَضْلِهٖ

فرشونه غوړوي لپاره د دوی چه جزاء ورکړي خدای هغه کسانو ته چه ایمان ئې راوړی دی او عمل کوي نیکو له فضل خپل څخه

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرٰتٍ

بیشکه چه دی دوستی نه کوي له کافرانو سره او له علامو د ده څخه دا ده چه رالیږي بادونه زیری ورکونکي د باران

وَّلِيُذِيْقَكُمْ مِّنْ رَّحْمَتِهٖ وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ

او چه وڅکي پر تاسو باندې له رحمت خپل څخه او د دې چه روانه شي کشتي په حکم د ده سره او چه طلب وکړئ له

فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا اِلٰى

فضله د ده څخه او سبائي چه تاسو شکر اداء کړئ او خامخا په تحقیق لیږلي وو مونږ مخکې له تا څخه رسولان

قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا ؕ

قوم خپلو ته نو راغلل هغوی له ده په نخښو ښکاره د سره نو بدله واخستله مونږ له هغه کسانو څخه چه کافران شوي وو

وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ

او دی حق پر مونږ باندې مرسته د مومنانو ته خدای هغه ذات دی چه رالیږلي ئې دي بادونه

فَتُثِيْرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهٗ فِي السَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهٗ كِسَفًا

نو راپورته کړي وریځ نو غوړوي دا وریځ په طرف د اسمان کښې هر رنګه چه اراده وشي د ده او وکړي دی دا ټوټې ټوټې

فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ فَاِذَآ اَصَابَ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ

نو ته وینې باران چه راوزي له منځ د هغه څخه نو هر کله چه ورسوي خدای دا باران هغه چاته چه اراده ئې وشي

مِنْ عِبَادِهٖٓ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلِ

له بندګانو خپلو څخه ناڅاپه دوی خوشحالیږي او بیشکه چه وو دوی مخکې له هغه څخه

اَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْهِمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمُبْلِسِيْنَ ﴿۴۹﴾ فَانْظُرْ اِلٰٓى اٰثٰرِ رَحْمَتِ

چه نازل کړل شوی و دا باران پر دوی باندې نو خوا له هغه څخه خامخا نا امیده نو وګوره علامو د رحمت

اللّٰهِ كَيْفَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ۚ

د خدای ته چه څرنګه ژوندی کوي ځمکه وروسته له مړګ د هغې څخه بیشکه چه دا خدای خامخا ژوندی کونکی د مړو دی

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۵۰﴾ وَلَئِنْ اَرْسَلْنَا رِيْحًا فَرَاَوْهُ مُصْفَرًّا

او دی پر هر شي باندې قادر دی او که ولیږو مونږ باد نو وینې دوی دا کښت تک ژړ

ف ۱
یعنې تول خلق به جلا جلا شي یوه ډله به په دوزخ کښې وي او بله ډله به په جنت کښې وي لکه چه الله تعالیٰ فرمائي مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ. الآية ۱۲
ابن کثیر

ف ۲
په حدیث شریف کښې راغلي دي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل هر چا چه دخپل مسلمان ورور د ابرو عزت وساتل نو پر الله تعالیٰ ضرور ده دا چه او ر د دوزخ به له ده څخه وګرزوي بیا ئې دا آیت ووایه چه وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا الآية ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

ف ۳
یعنې نو وګوره نخښو د مهربانی د خدای ته چه څرنګه ژوندی کوي دغه ځمکه په دې باران سره په اقسامو د نبوالو په هر قسم درختو او په رنګارنګ درختو پس له وچوالي د دې څخه بیشکه هغه قادر ذات دی چه مړه ځمکه ژوندی کوي نو یقیناً چه ژوندی کول د مړو هم ده ته اسان دي ۱۲
تیسیر التفسیر

لَّظَلُّوا مِنْ بَعْدِهِ يَكْفُرُونَ ﴿٥١﴾ فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ

نو خامخا به وګرځي دوي وروسته له هغه څخه کافران کیږي به نو بیشکه ته چې نۍ اورولی نه شې مړو ته او نۍ نه شي اورولی

الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٥٢﴾ وَمَا أَنْتَ بِهَادِ الْعُمْيِ عَنْ

شي کڼو ته بلنه په هغه وخت کښې چې وګرځي دوي شا کوونکي او نه ئې ته لار ښوونکي ړندو ته له

ضَلَالَتِهِمْ إِنْ تُسْمِعُ إِلَّا مَنْ يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُمْ مُسْلِمُونَ ﴿٥٣﴾ ع

ګمراهۍ د دوي څخه نه شې اورولی ته مګر هغه چاته چې ایمان راوړي پر ایتونو زمونږ نو دوئ غاړه ایښوونکي وي

اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ ضَعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ ضَعْفٍ

خدای هغه ذات دی چې پیدا کړي ئې له کمزوري شي څخه بیائې درکړی دی وروسته له ضعیفوالي څخه

قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ

قوت بیائې درکړی دی وروسته له قوت څخه ضعیفوالی او زړوالی پیدا کوي خدای هغه چې اراده ئې وشي

وَهُوَ الْعَلِيمُ الْقَدِيرُ ﴿٥٤﴾ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُونَ ۵

او دی عالم دی قادر دی او په هغه ورځ چې ودریږي قیامت قسمونه به وخوري کافران

مَا لَبِثُوا غَيْرَ سَاعَةٍ كَذَٰلِكَ كَانُوا يُؤْفَكُونَ ﴿٥٥﴾ وَقَالَ الَّذِينَ

چې نه دي کړي دوي لبث یو ساعت څخه هم دارنګه وو دوي ګرځول کیدل په دنیا کښې او وبه وائي هغه کسان

أُوتُوا الْعِلْمَ وَالْإِيمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِي كِتَابِ اللَّهِ إِلَىٰ يَوْمِ الْبَعْثِ

چې ورکړل شوي دي علم او ایمان چې خامخا په تحقیق درنګ کړی دی تاسو په کتاب د خدای کښې تر ورځې د پورته کیدلو پورې

فَهَٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ وَلَٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٥٦﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَا يَنْفَعُ

نو دا ده ورځ د پورته کیدلو مګر تاسو چې نه پوهیدلئ نو په دغه ورځ کښې به نفع ونه رسوي

الَّذِينَ ظَلَمُوا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٥٧﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا

هغه کسانو ته چې ظلم ئې کړی دی عذر د هغوي او نه به هغوي وبللی شي راضي کولو د خدای ته او خامخا په تحقیق بیان کړي دي مونږ

لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ وَلَئِنْ جِئْتَهُمْ بِآيَةٍ

لپاره د خلقو په دې قرآن کښې له هر قسم مثال څخه او که راوړې ته دوي ته نخښه

لَيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ

نو به وائي خامخا هغه کسان چې کافران شوي دي نه ئې تاسو مګر باطلونکي هم دارنګه مهر وهي خدای پاک

ف ۵۱
مراد له دې مړیو او کڼو څخه کفار دي مطلب دا چې الله تعالی خپل حبیب صلی الله علیه وسلم ته فرمائي چې دوي په نه اوریدلو او قبلولو د حق کښې داسې دي لکه مړي او کاڼه چې ستا په وعظ هیڅ فائده نه شي اخستلې ۱۲ منه

ف ۵۲
یعني هر کله چې مجرمان بیرته اولویږي له دوږخ د قیامت و وینې نو ټول عمر د دنیا به په اندازه د یوه ساعت ښکاره یږي او داسې به قسمونه په ناحقه خوري لکه چې په دنیا کښې به ئې دروغ ویل او ګمراه کیدل ۱۲ منه رحمه ربه

ف ۵۳
په کتاب د خدای کښې چې قضاء الهي یا لوح محفوظ یا قرآن دي چې تاسو به په دنیا کښې او بیا په قبرو کښې اوسئ تر ورځې د قیامته پورې نو دغه هغه ورځ د بعث چې تاسو به تري انکار کاوه او وي تاسو په دنیا کښې چې له ډیره جهله او غفلته نه پوهیدلئ چې بعث حق دی او تو به ورته پکار ده ۱۲ منه رحمه ربه

ف ۵۴
او قسم دي چې که راوړې ته ای رسوله دوی ته یوا ایت له ایتو د قرآن څخه یا معجزه له معجزو د قرآن څخه یا لکه عصا او ید بیضا د موسی علی نبینا وعلیه السلام ۱۲

عَلٰى قُلُوْبِ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۹﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّ

په زړونو د هغه کسانو باندې چه نه پوهیږي | نو صبر کوه ته | بېشکه چه وعده د خدای حقه ده

وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۶۰﴾ ع

او سپک دې نکړي تا هغه کسان چه یقین نه کوي

سُوْرَةُ لُقْمٰنَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

الٓمّٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾ هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳﴾

خدای عالم دی په معنی د دې دا ایتونه د کتاب | محکم دی | لاره ښوونکي دی او رحمت دی | لپاره د نیکي کونکو

الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ

هغه کسان چه سم دروي لمونځ لره | او ورکوي | زکوٰة | او دوی په اخرت باندې

هُمْ يُوْقِنُوْنَ ﴿۴﴾ اُولٰٓئِكَ عَلٰى هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

دوی یقین کونکي دي | دغه کسان پر لاره سمه دي | له رب خپل څخه | او دغه کسان دوی

الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۵﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ

خلاصیدونکي دي له عذابه | او بعضې له خلقو څخه هغه څوک دي چه اخلي عبث خبرې لپاره د دې چه گمراه کړي خلق

عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۚ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ

له لارې د خدای څخه | بې له علمه | او ونیسي لاره د خدای په مسخره سره | دغه کسان دي دوی لره

عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۶﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا وَلّٰى مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ

عذاب سپکونکي | او هر کله چه وویل شي پر ده باندې ایتونه زموږ نو وگرځي تکبر کونکي | لکه چه

لَّمْ يَسْمَعْهَا كَاَنَّ فِيْٓ اُذُنَيْهِ وَقْرًا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۷﴾

نه وي اورېدلي ده ایتونه زموږ گویا په دواړو غوږو د ده کښې درنوالی دی نو زیری ورکړه ده لره په عذاب دردناک سره بېشکه

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ جَنّٰتُ النَّعِيْمِ ﴿۸﴾ خٰلِدِيْنَ

هغه کسان چه ایمان ئې راوړي دی او عمل کوي د نیکو د دوی لره باغونه د نعمتو همیشه به وي | دوی

يعني ای حبیبه زما ۱۲ ته صبر کوه په هغه ضرر چه تا ته رسیږي له کفارو څخه هغه وعده چه لره تا سره ئې کړې ده په باب د مرستې ستا کښې هغه حقه ده او په سبب د بې صبرۍ سره د سپک نه کړي تا هغه کسان چه هلاک ئې ان
٦ ع ٧ ٩
دعا او پر پیغمبرانو او کتابو د خدای په راوړو یقین نه کوي ۱۲ فتح البیان ۲ ۵ په حدیث شریف کښې راغلي دي چه په مخکښې د خلقو ئې غونډ ځای دی چه پر هغه هر کمزوری مائده نه شي ختلی نو ابوبکر رضي الله عنه پوښتنه وکړه چه هغه کوم ځای دی یا رسول الله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چه اول ئې هغه مرګ او سختۍ دي او دوېم قبر دی او نو ځی والی ئې دی او دریم سوال د منکر او نکیر دي او ویره د هغوی ده او څلورم تله او سپکیدل د هغې او پنځم پل صراط او مهینوالی د هغه دی هر کله چه دا خبره ابوبکر رض واورېدله نو ونئ ژړل د یر زیات چه اوږه اسمانونه او پرښتې هم په ژړا شوې نو جبرائیل علیه السلام راغلی او وئې ویل چه ای محمده ابوبکر ته ووایه چه مه ژاړه ایا تا نه دی اورېدلي له عربو څخه چه کل شیء له دواء الا الموت یعنې هر مرض لره دوا شته بې له مرګه څخه بیائې وویل چه هر چا چه لمونځ د سهار وکړ نو پرده بانډې به مرګ او سختۍ د هغه اسانه شي او هر چا چه لمونځ د ماپښین وکړ نو سختۍ د قبر به پرې اسانه شي او هر چا چه لمونځ د ماز یگر وکړ نو پرده به سوال د نکیر منکر اسانه شي او هر چا چه لمونځ د ماښام وکړ نو پر ده به معامله د میزان اسانه شي او هر چا چه لمونځ د ماخستن وکړ نو پر ده به پل صراط اسانه شي ۱۲ روح البیان

فِيهَا ۚ وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٩﴾ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ
په هغه کښې وعده کړې ده خدائے وعده حقه او دی غالب دی خاوند د حکمت دی پیدا کړی ئې دی اسمانونه
بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ۖ وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ
بې له ستنو څخه چه وینئ ئې تاسو او غورزولي ئې دي په ځمکه کښې غرونه محکم چه ونه ښوري دا ځمکه پر تاسو
وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَابَّةٍ ۚ وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَنبَتْنَا
او خوارۀ کړي ئې دي په دې کښې له هر قسم ګرځېدونکو څخه او نازل کړي دي مونږ له اسمانه څخه اوبه نو زرغون کړي دي مونږ
فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ﴿١٠﴾ هَٰذَا خَلْقُ اللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ
په دې ځمکه کښې له هر قسم ګیاه ښه څخه دا پیدا ایښت د خدائے دي نو وښیئ ماته چه کوم شي پیدا کړي دي
الَّذِينَ مِن دُونِهِ ۚ بَلِ الظَّالِمُونَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿١١﴾ وَلَقَدْ
هغه بتانو چه بې له ده څخه دي بلکه ظالمان په ګمراهي ښکاره کښې دي او خامخا په تحقیق
آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلَّهِ ۚ وَمَن يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ
ورکړې وه مونږ لقمان حکیم ته حکمت چه شکر کوه خدائے لره او هر چا چه شکر اداء کړ نو بیشکه اخبره دا ده چه شکر اداء کوی
لِنَفْسِهِ ۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿١٢﴾ وَإِذْ قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ
لپاره د ځان خپل او هر څوک چه کافر شو نو بیشکه چه خدائے بې پروا دے ثنائي ویلې شوې ده او یاد کړه هغه چه ووېل لقمان زوی خپل ته
وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ ۖ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴿١٣﴾
او ده نصیحت کولو هغه ته چه اې زویه کیه زما شریک مه پیدا کوه له خدائے سره بیشکه چه خامخا شرک ظلم دی لوئی
وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَ
او امر کړی دی مونږ انسان ته له مور و پلار سره د نیکۍ کولو ګرزاوه به دے مور ده په سستۍ سره بالا پر بله سستی
فِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴿١٤﴾ وَ
او پر یکول د ده له تی څخه په دوو کالو کښې دی چه شکر کوه ما لره او مور و پلار خپل لره ماته دے راتلل ستاسو
إِن جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا ۖ
او که کوښښ کوي د او واړه له تا سره پردې باندې چه شریک ونیسه له ما سره هغه شے نه وي تا لره پر هغه علم نو اطاعت مه کوه د دوواړو
وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا ۖ وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ أَنَابَ إِلَيَّ ۚ
او ملګرتیا کوه له دې دواړو سره په دنیا کښې نیکه او اتباع کوه د لارې د هغه چا چه رجوع ئې کړې وي ماته

١ اکثر مفسرین ویلی دی چه حضرت لقمان په اصل کښې چا مرئی و وبیا هغه ازاد کړې دې. عبرت د حکمت او د عقل د هغه ډېر مشهور دے د عمر د هغه زمانه کالونو له دری زره پیغمبرانو سره ئې ملاقات شوی دی نزد پیغمبرانو استاذ نو شوی دی او پیغمبران د ده شاګرد دي او له ډېرو پیغمبرانو سره ئې ملاقات او صحبت شوی دی او داؤد علیه السلام سره ئې هم ملاقات شوی وه او د هغه څخه ئې علم زده کړی وه. روح البیان وغیره
٢ سفیان ابن عیینه ویلې دی هر چا چه پنځه وارۀ لمونځونه وکړل نو ده شکر د الله تعالی اداء کړ او هر چا چه پنځو لمونځو وروسته د مور و پلار په حق کښې دعا وکړه نو د مور و پلار شکر ئې اداء کړ. روایت کړی شوی دی چه یو سړی وویل چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زما مور ډېره ضعیفه سری شوې ده او زه په خپل لاس د وړي ورکوم او په ورکوم او دس ورکوم او په خپلو اوږو ئې ګرځوم نو ما د هغې حق اداء کړ او که نه فرمایل رسول الله صلی الله علیه وسلم په سلو کښې دی یو هم نه دی اداء کړی هغه ووېل د ولې یا رسول الله نو رسول الله ووېل او فرمایل ځکه چه هغې تربیت ستا کړی و و په کوچنیوالي کښې اراده د ژوندي ستا ترې اوله ته شوی ستا یعنې الله ستا ژوند ئې غوښت او تا خدمت د هغې وکړ او ستا اراده د ژوندي ئې د مرګ د هغې لیکن ته احسان کړی دی د هغې سره او الله تعالی به تا ته په لږ عمل ډېر ثواب درکړي. روح البیان
٣ مراد له من اناب الی څخه ابوبکر صدیق دی روایت دی چه هر کله چه په اسلام مشرف شو نو عثمان او طلحه او زبیر او سعد ابن ابی وقاص رضی الله عنهم او عبد الرحمن ابن عوف ورته راغلل او ورته ئې ووېل چه ایا تا په محمد صلعم باندې ایمان راوړی دی پر ګرځه ده رضی الله عنه ووېل چه هو بیشکه نو دوی لوله هم ایمان راوړ
تفسیر وحیدی

ثُمَّ اِلَیَّ مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ یٰبُنَیَّ اِنَّهَآ

بیا ما ته دی راتلل ستاسو نو زه به خبر کړم تاسو په هغه چې وئ تاسو کول ای زویکیه زما بیشکه په شی

اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِیْ صَخْرَةٍ اَوْ فِی

که چیری وی به قدر د دانی لړ اوبرین څخه نو وی هغه دانه په کاڼي کښی او یا په

السَّمٰوٰتِ اَوْ فِی الْاَرْضِ یَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِیْفٌ خَبِیْرٌ ﴿۱۶﴾

اسمانو کښی یا په ځمکه کښی راوبه وړی هغه خدای بیشکه چه خدای باریک لیدونکی دی خبردار دی

یٰبُنَیَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ وَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ

ای زویکیه زما سم ودروه لمونځ او امر کوه په نیکی سره او منع کوه له ناروا څخه او صبر کوه

عَلٰی مَآ اَصَابَكَ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ﴿۱۷﴾ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ

پر هغه چه ورسیږی تاته بیشکه چه دا کار له مقصودو کارو څخه دی او مه کږوه (چپوه) مخ خپل

لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِی الْاَرْضِ مَرَحًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یُحِبُّ كُلَّ

خلقو څخه او مه ګرځه په ځمکه کښی په تکبر سره بیشکه چه خدای دوستی نه کوی له هر

مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ﴿۱۸﴾ وَاقْصِدْ فِیْ مَشْیِكَ وَاغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ ؕ

تکبر کونکی سره او میانه روی کوه په تګ ستا کښی او ټیټ کړه اواز خپل

اِنَّ اَنْكَرَ الْاَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِیْرِ ﴿۱۹﴾ اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ

بیشکه چه ډیر بد د اوازو خامخا اواز د خره دی ایا نه وینی تاسو چه بیشکه خدای تابع کړی دی تاسو لره

مَّا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ وَاَسْبَغَ عَلَیْكُمْ نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً

هغه شیان چه په اسمانو کښی دی او هغه چه په ځمکه کښی دی او پوره کړی ئی دی پر تاسو باندی نعمتونه خپل ظاهر

وَّبَاطِنَةً ؕ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ یُّجَادِلُ فِی اللّٰهِ بِغَیْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًی

او هم باطن او بعضی له خلقو څخه هغه څوک دی چه جګړه کوی په حق د خدای کښی بی له پوهی څخه او بی له لاری څخه

وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِیْرٍ ﴿۲۰﴾ وَاِذَا قِیْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ

او بی له کتابه ښکاره کونکی څخه او هر کله چه وویل شی دوی ته چه اتباع وکړی هغه چه نازل کړی دی خدای نو وائی دوی بلکه اتباع کوو مونږ

مَا وَجَدْنَا عَلَیْهِ اٰبَآءَنَا ؕ اَوَلَوْ كَانَ الشَّیْطٰنُ یَدْعُوْهُمْ اِلٰی عَذَابِ

د هغه چه پیدا کړی دی مونږ پر هغه باندی پلاران خپل اګر که وی شیطان چه بولی دوی عذاب

ع ۲ / ۸ / ۱۱

۵۱

حاصل دا چه تلل او رام او په میانه حال سره کوه نه غلبه هم مه کړه چه جاهلان او د پر او رام هم مه ځه بلکه ریاکاران او ناری هم مه وهه بلکه په او رام سره خبری کوه ځکه چه ناری او چغی وهل عادت د خرو دی. سفیان ثوری ﷫ ویلی دی چه اواز د هر شی تسبیح ویل دی مګر د اواز د خره ځکه چه دی اواز کوی په سبب د لیدلو د شیطان سره. په حدیث شریف کښی راغلی دی چه تاسو کله اواز د خره او ری نو پناه غواړی پر خدای ځکه چه دا له لیدلو د شیطان څخه یعنی اعوذ بالله من الشیطن الرجیم وائی او چه اواز د چرګ او ری نو سوال له خدای څخه د فضل د کوی ځکه چه دی اواز کوی په سبب د لیدلو د پرښتی کښی ۱۲ روح

۵۲

له ابن عباس ﷠ څخه روایت دی چه ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چه دا ظاهر او باطن کوم نعمتونه دی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه ظاهر نعمتونه اسلام دی او ښه صورت ستا دی او روزی ستا ده او باطن نعمتونه چه دی پټول د بدو عملو ستا دی چه نه دی شرموی په هغه سره په خلقو کښی ای زویه د عباس الله تعالی فرمائی چه ما پر مومن باندی دری مهربانی کړی دی بخښنه غوښتل د مومنانو د ده لپاره وروسته له قطع کیدلو د عمل د ده څخه چه په هغه سره ګناهونه د ده رژوم او دریم حصه مال د ده می د ده لپاره مقرر کړی دی چه په هغه سره ګناهونه د ده بخښم او بد عملونه د ده می پټ کړی دی که چیری هغه خلقو ته د ده وینی نو دی به د ده باندی وغورځوی یعنی منخ به ئی هم نه کړی ۱۲ روایت دی چه دا آیت شریف په حق د نضر ابن حارث او ابی ابن خلف او امیه ابن خلف کښی نازل شوی دی چه دوی به په ذات او صفاتو د الله تعالی کښی په ناحقه جګړی کولی ۱۲ ۱۲ ۱۲

السَّعِيرِ ﴿۲۱﴾ وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ

د دوزخ ته   او هر چا چه وسپاره مخ یعنې ځان خپل خدائے ته او دی نیکے کونکی وی نو په تحقیق منګولی ښخی کړی ده

بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ ۗ وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ﴿۲۲﴾ وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحْزُنكَ

په کړئ   محکمه   او خدائے ته دی آخر د ټولو کارو او هر څوک چه کافر شو نو خفه دی نکړی تا

كُفْرُهُ ۚ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ

کفر د هغه مونږ ته دی بیا راتلل د هغوئ نو خبر به کړو دوئ پر هغه چه کړی ئی دی بیشکه چه خدائے عالم دی په خبرو

الصُّدُورِ ﴿۲۳﴾ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿۲۴﴾

د سینو باندی   فائدی به ورکړو دوئ ته لږ بیا به مجبور کړو دوی   عذاب   سخت ته

وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ۚ قُلِ

او که سوال وکړی ته له دوئ څخه چه چا پیدا کړی دي   اسمانونه او ځمکه نو وبه وائی چه خدائے وو وایه ته

الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿۲۵﴾ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ

چه ثنا د خدائے لره بلکه زیات د دوی نه پوهیږي خدای لره دي هغه شیان چه په اسمانو او چه په ځمکه کښې دي

إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿۲۶﴾ وَلَوْ أَنَّمَا فِي الْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَامٌ

بیشکه چه خدائے دے بې پروا دے ثنائی ویلے شوے ده او که چیری هغه شیان چه په ځمکه کښې دی له درختو څخه   قلمونه شی

وَالْبَحْرُ يَمُدُّهُ مِن بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَاتُ اللَّهِ ۗ إِنَّ

او دریاب سیاهی شی مدد وکړی له ده سره وروسته له ده څخه اوه دریابونه نو خلاصی به نه شی کلمی د خدائے   بیشکه

اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿۲۷﴾ مَّا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَاحِدَةٍ ۗ إِنَّ

چه خدائے غالب دی   خاوند د حکمت دي نه دے پیدا کول ستاسو او نه ژوندی کول مګر لکه نفس یو ښه   بیشکه

اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴿۲۸﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ

چه خدائے اوریدونکی دی لیدونکے دي   ایا نه وینی ته چه بیشکه خدائے ننباسی شپه په ورځ کښے او ننباسے ورځ

فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى وَ

په شپه کښے   او تابع کړی ئی دے لمر   او سپوږمۍ هر یو ګرزي   تر نیټې پر نامه کړی شوی پورے

أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿۲۹﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ مَا

او بیشکه چه خدائے پر هغه چه تاسو کوئ خبردار دي ۱ کار په سبب د دی دے چه بیشکه خدائے دی حق دے او بیشکه هغه بتان

ف ۱

روایت دی چه علماؤ د یهودو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل چه ته وائی چه مونږ ته لږ علم را کړل شوی دی او حال دا چه مونږ ته تورات را کړل شوی دي چه د هر شی بیان پکښې شته نو په دغه وخت کښې دا آیت نازل شو غرض دا چه کلمات د خدائے لا انتهاء دی ۱۲

ف ۲

مګر لکه نفس یو څنګه چه الله تعالی په پیدا کولو د شیانو کښې هیڅ حاجت د اسبابو او مرستې مددګارانو ته نه لري بلکه په یوه کلمه د کُن سره په لاکهونو عالمونه پیدا کوي. او هم دارنګه پوره کولو د مړیو ته له قبرو څخه هیڅ حاجت نه لري بلکه اسرافیل ته به ووائی چه ووایه چه پورته شئ له قبرو څخه د باندی ووزئ ۱۲

ف ۳

په شپه کښې په دی شان چه هره ورځ په طبعی رفتار د لمر سره شپه لیوه طرفه لنډه وي او ورځ اوږده وي او له بله طرفه په عکس د دے او همیشه داسی کوي تر څو پورے چه اوقات د شپي پوره شی و ورځی ته. او د ورځی ټول ور شپې ته او مسخر کړی ئی دی لمر او سپوږمۍ لپاره د فائدو او ګټو د خلقو ۱۲ ۱۲ ۱۲

بیسیر

۳ ع ۱۱ ۱۲ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ الْبَاطِلُ ۙ وَأَنَّ اللَّهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ۝٣٠ أَلَمْ تَرَ

چه بولي ئې دوی سوی له ده نه باطل دی او بیشکه چه خدای دی لوی دی په مرتبه کښی لوی دی په عزت کښی ایا نه وینی ته

أَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللَّهِ لِيُرِيَكُمْ مِنْ آيَاتِهِ ۚ إِنَّ فِي

چه بیشکه کشتۍ ګرځی په دریاب کښی په مهربانۍ د خدای چه وښیئی تاسو ته له علامو خپلو څخه بیشکه چه په

ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ۝٣١ وَإِذَا غَشِيَهُمْ مَوْجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا

دی کار کښی خامخا علامې دي لپاره د هر صبر کوونکي شکر ادا کوونکي او په هغه وخت کښی چه لاندې کړي دوی څپې لکه سایوانونو بولی دوی

اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ۚ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ ۚ وَمَا

خدای چه خالص کوونکي وي دوی له ده لره دین نو هر کله چه خلاص وکړي دوی له وچې ته نو بعضې له دوی څخه ولاړ وي په لاره برابره او نه کوي

يَجْحَدُ بِآيَاتِنَا إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُورٍ ۝٣٢ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا

انکار په ایتونو زمونږ بانده مګر هر چل کوونکي ناشکره ای خلقو ووېرېږئ له رب خپل څخه او ووېرېږئ

يَوْمًا لَا يَجْزِي وَالِدٌ عَنْ وَلَدِهِ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ عَنْ وَالِدِهِ

له هغه ورځې څخه چه نه شي دفع کولی عذاب پلار له ولد خپل څخه او نه به ولد دی دفع کوونکي شی له پلار خپل څخه

شَيْئًا ۚ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا ۖ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ

د هیڅ شي بیشکه چه وعده د خدای حقه ده د قیامت د راتلو نو دې نه غولوی تاسو ژوند نږدې او دې نه غولوی تاسو

بِاللَّهِ الْغَرُورُ ۝٣٣ إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَ

په خدای بانده غولوونکي بیشکه خدای له ده څخه دی علم د قیامت او نازلوی دی باران

يَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ ۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۖ وَمَا تَدْرِي

او پوهیږي دی په هغه چه په رحمو کښی وي او نه پوهیږي هیڅ نفس چه کوم کار به کوي صبا او نه

۴ ع ۱۴ ۱۳ نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ۝٣٤

پوهیږي هیڅ نفس چه په کومه ځمکه به دی مري بیشکه چه خدای خبر دار دی عالم دی

سُورَةُ السَّجْدَةِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ — بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ — ثَلٰثُونَ آيَةً وَثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

شروع کوم په نامه د خدای چه بخښونکي دی مهربان دی

الم ۝١ تَنْزِيلُ الْكِتَابِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝٢ أَمْ يَقُولُونَ

خدای پوهیږي په معنی د دې نازلیدل د دې کتاب چه نشته شک په ده کښی له رب د مخلوقاتو څخه دی ایا وایي دا کفار

له روایت دی چه حارث ابن نضر رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ته راغلی وئ ویل چه قیامت به څه وخت راځي او ځمکه زمونږ وچه کلکه ده او ما تخم اچولی دی نو باران به کله وشي او شئ زما حامله ده چه په خیټه کښی به ئې نر وي او که ښځه او زه خبریم چه پرون می څه کړي وو او نو صبا به څه کوم او ما ته خپل پیدا کیدل خو معلوم دي نو مرم به چیرې. نو دا ایت شریف نازل شو حاصل دا چه علم د دې شیانو د الله تعالی څخه دی بل څوک پرې نه خبریږي ۲ روح البیان

۵۲ دا حروف مقطعه چه په سر د سورتو کښی راغلي دي اکثر سلفو ویلي دي چه په معنی د دې بانده پوهیږي الله تعالی څخه بل څوک نه پوهیږي ۲ صحیح مسلم او نورو کتابونو احادیثو کښی له حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه څخه نقل شوی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د جمعې په ورځ د سهار په لمانځه کښی د سورة الم او هل اتی علی الانسان الخ ویل او امام احمد دارمی، ترمذی، نسائی، حاکم او نورو محدثینو رحمهم الله له حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د شپې بیده کیدی تر څو چه به ئې دا سورة او تبارک الذی بیده الملک نه وو ویلی حاکم ویلي دي چه دا حدیث صحیح دی په فضیلت د دې کښی ډیر احادیث راغلي دي ۲ فتح و روح

۵۳ رب العزت فرمایلي دي چه اهل مکه نه منی دا خبره چه قرآن پاک د الله ج کتاب دی بلکه دوی وائي چه محمد له خپل ځانه ویلي دي او بیائی په دروغو په خدای پورې تړلی دی. نو د دوی دا خبره دروغ وائي ځکه چه داسی نه ده. بل هو قرآن ... الیسیر

افترىه بل هو الحق من ربك لتنذر قوما ما اتىهم من نذير

چه له ځانه ئې جوړ کړی دی دا قرآن بلکه دی حق دی له رب ستا څخه چه ووېروې ته هغه قوم ته چه نه دی راغلی دوی ته هیڅ وېرونکی

من قبلك لعلهم يهتدون ③ الله الذي خلق السموت و

مخکې له تا څخه بنائې چه دوی سم لاره پیدا کړي خدای هغه ذات دی چه پیدا کړی ئې دی اسمانونه

الارض وما بينهما في ستة ايام ثم استوى على العرش

او ځمکه او هغه چه په منځ د دې دواړو کښې دی په شپږ ورځو کښې بیا استواء ئې وکړه پر عرش باندې

ما لكم من دونه من ولي ولا شفيع افلا تتذكرون ④ يدبر

نشته تاسو لره پرته له هغه څخه هیڅوک دوست او نه شفاعت کونکی ایا نو تاسو پند نه اخلئ تدبیر کوي

الامر من السماء الى الارض ثم يعرج اليه في يوم كان

د کار له اسمان څخه ځمکې ته بیا به وخیژي دا کار ده ته په هغه ورځ کښې چه وي به

مقداره الف سنة مما تعدون ⑤ ذلك علم الغيب والشهادة

اندازه د هغې زر کاله له هغې مدې څخه چه شمار ئې کوئ تاسو دا خدای پوهه دی پر پټ باندې او پر ښکاره باندې

العزيز الرحيم ⑥ الذي احسن كل شيء خلقه وبدا خلق

غالب دی مهربان دی هغه ذات دی چه ښائسته کړی دی ده هر شی چه پیدا کړی دی ده او شروع ئې کړې ده پیدایښت

الانسان من طين ⑦ ثم جعل نسله من سللة من ماء مهين ⑧

دانسان له خټې څخه بیا پیدا کړی دی ده اولاد د ده له نطفې څخه له اوبو سپکو څخه

ثم سوىه ونفخ فيه من روحه وجعل لكم السمع والابصار

بیائې برابر کړ صورت د ده او پو ئې کړ په ده کښې له روح خپل څخه او ورئې کړل تاسو ته غوږونه او سترګې

والافدة قليلا ما تشكرون ⑨ وقالوا ءاذا ضللنا في الارض

او زړونه لږ څه خوشکر ادا کوئ تاسو او وائي دوی ایا هر کله چه ورک شو مونږ په ځمکه کښې

ءانا لفي خلق جديد بل هم بلقاء ربهم كفرون ⑩ قل

ایا مونږ به بیا پیدا کیږو نوی کښې یو بلکه دوی په ملاقات د رب خپل کافر کیدونکی دي ووایه ته

يتوفىكم ملك الموت الذي وكل بكم ثم الى ربكم ترجعون ⑪ ع ١

چه وبه نیسی روحونه ستاسو پرښته د مرګ هغه چه مسلط کړی شوی ده پر تاسو بیا به رب خپل ته بیرته بوتللی شئ تاسو

له

حضرت ابو حاتم له محمد بن جعفر رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړی دی چه هغه ځېل پلار محمد څخه او رسیدلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ملک الموت یو انصاری ته ناست ولید (یعنی لپاره د قبض کولو د روح د هغه) نو ئې ورته وویل ای ملک الموت زما له صحابی سره نرمي وکړه نو ملک الموت وویل ای محمد صلی الله علیه وسلم خاطر جمع لره زه له هر مؤمن سره نرمي کوم او پوه شه چه په ټوله ځمکه کښې په دریاب کښې او په ځنګلو کښې هیڅ کور نشته مګر زه ورته هره ورځ پنځه واره ګورم تر دې پورې چه زه کوچنی لوئی د هغوی د هغوی څخه بنه پیژنم ای محمد صلی الله علیه وسلم قسم پر الله تعالی دی چه زه د روح دیو ماشی د قبض کولو اراده وکړم نو په توان او طاقت مې ونه شی ترڅو چه د الله تعالی اراده نه وی شوی

تفسیر ابن کثیر رح

وروح البیان

کتبه العاصی بانواع المعاصی عبد الکریم الوانخوا غفر الله له ولوالدیه. اللهم حصل مرادنا ویسر امورنا بجاه حبیبك ونبیك ورسولك محمد المصطفی صلی الله علیه وسلم

١٢ ١٢ ١٢ ١٢

وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الْمُجْرِمُوْنَ نَاكِسُوْا رُءُوْسِهِمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ رَبَّنَآ اَبْصَرْنَا

اوکه ووینې ته هغه چې کافران به کښته نیونکي وي سرونو خپلو په نزد د رب خپل نه ای ربه زمونږ ولیدل مونږ

وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا اِنَّا مُوْقِنُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَلَوْ شِئْنَا لَاٰتَيْنَا

او واورېدل مونږ نو بیرته بوزه مونږ دنیا ته چې عمل وکړو نیک بیشکه چې مونږ یقین کوونکي یو او که اراده وی زمونږ نو ورکړي وو مونږ

كُلَّ نَفْسٍ هُدٰىهَا وَلٰكِنْ حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّىْ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ

هر نفس ته لار د هغه مګر مقرره شوې ده خبره له ما نه چې زه به خامخا ډک کړم دوزخ له

الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۳﴾ فَذُوْقُوْا بِمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ

پیریانو او له سړو له ټولو نه نو وڅکئ عذاب په سبب د هغه چې هیر کړی و تاسو ملاقات د ورځې ستاسو

هٰذَا ۚ اِنَّا نَسِيْنٰكُمْ وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَا

چې دا ده بیشکه مونږ هیر کړي یاست تاسو او وڅکئ عذاب د همیشه والي په سبب د هغه چې وئ تاسو چې کول به مو

يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا وَّسَبَّحُوْا بِحَمْدِ

بیشکه خبره دا ده چې ایمان راوړي په ایتونو زمونږ هغه کسان هر کله چې پند ورکړی شي دوی ته په هغه نو پرېوزي سجده کوونکي او تسبیح

رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۱۵﴾ السجدة ۩ تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ

وائي په ستاینه (حمد) د رب دوی سره او دوی تکبر نه کوي لیرې کیږي اړخونه د دوی له ځایو د خوب نه

يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا ؗ وَّمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ فَلَا تَعْلَمُ

بولي دوی رب خپل له ویرې نه او له طمع نه او بعضې له هغه نه چې ورکړی مونږ دوی ته خیرات کوي نو معلوم نه

نَفْسٌ مَّآ اُخْفِىَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۷﴾

دی هیڅ نفس ته هغه شی چې پټ کړی شوی دی دوی لره له یخوالي د سترګو نه بدله د هغه چې وو دوی عمل به ئې کاوه

اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ؕ لَا يَسْتَوٗنَ ﴿۱۸﴾ اَمَّا الَّذِيْنَ

ایا نو هغه څوک چې وي مؤمن دنیا کې مثل د هغه چا دی چې وی فاسق برابر نه دی دوی هرچه هغه کسان

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ جَنّٰتُ الْمَاْوٰى ۫ نُزُلًا ۢ بِمَا كَانُوْا

چې ایمان ئې راوړی دی او عمل کوي د نیکو نو دوی لره دي جنتونه د استوګنې میلمستیا په سبب د هغه چې وو دوی

يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فَسَقُوْا فَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ؕ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ

چې کول به ئې او هرهغه کسان چې فاسقان دي نو ځای د دوی اور دی هرکله چې اراده وکړي دوی چې

ف ۱۵
په فضیلت د تهجد کښې ډیر احادیث راغلي دي چې یو له هغوی څخه دا دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې تعجب کوي رب زمونږ له دوو سړو څخه یو هغه سړی دی چې راپاڅي له خپل ځای څخه او له نالي د بستري څخه له منځه محبوبي او عیال خپل څخه لپاره د لمانځه خپل یعنې تهجد نو الله تعالی پرښتو ته وفرمایل چې وګورئ بنده زما ته چې دی را پورته شو له خپلې بستري او له عیاله څخه لپاره د لمانځه کولو له جهته د امید د نعمتونو زما او له ویرې د عذاب زما څخه او بل هغه سړی دی چې جهاد کوي په لار د خدا کښې نو دی سره له خپلو ملګرو شکست وکړ بیا دی فکر وکړي په هغه ګناه کښې چې په شکست کښې وي او په هغه اجر کښې چې په بیرته راګرځېدلو کښې وي نو بیرته راوګرځي غزا کوي چې په کښې شهید شي نو الله تعالی پرښتو ته وفرمایل چې وګورئ بنده زما ته چې بیرته راوګرځېد له جهته د محبت د ثواب زما او له ویرې د عذاب زما څخه اللّٰهم اجعلنا منهم (روح البیان) په حدیث شریف کښې راغلي دي چې اعددت لعبادي الصالحین ما لا عین رأت ولا اذن سمعت ولا خطر علی قلب بشر معنی دا چې الله تعالی فرمایي چې ما تیار کړي دي لپاره د خپلو نیکانو هغه نعمتونه چې نه څه سترګو لیدلي دي او نه څه غوږ اوریدلي دي او نه د چا په زړه کښې صفت د هغه تیر شوی دی ۱۲ ۲۱۲

يَخْرُجُوا مِنْهَا أُعِيدُوا فِيهَا وَقِيلَ لَهُمْ ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّذِي

چه ووځي له هغه ځخه نو بيرته به وغورځول شي په هغه کښې او وبه ويل شي دوی ته وڅکئ عذاب د اور

كُنْتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ

هغه اور چې ځئ تاسو په هغه به مودروغ ويل او خامخا به وڅکو مونږ دوی له عذاب نږدې ځخه بې له

الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ

عذابه لويه ځخه بنائي چه دوی وګرځي له کفر ځخه او څوك دی زيات ظالم له هغه چا ځخه چه پند ورکول کيږي په ايتو

رَبِّهِ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا ۚ إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنْتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ

د رب خپل بيا وګرځي له هغه ځخه بيشکه چه مونږ له کافرانو ځخه بدل اخستونکي يو او خامخا په تحقيق

آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ فَلَا تَكُنْ فِي مِرْيَةٍ مِنْ لِقَائِهِ ۖ وَجَعَلْنَاهُ

ورکړی وو مونږ موسی علیه السلام ته کتاب نو مه اوسه ته په شك کښې له ملاقات د موسی ځخه او ګرځولی وو مونږ دي

هُدًى لِبَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿٢٣﴾ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا

هدايت لپاره د بني اسرائيلو او ګرځولي وو مونږ له دوی ځخه پيشوايان چه لاره به ئې ښوده په حکم زمونږ

لَمَّا صَبَرُوا ۖ وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ

هرکله چه صبر وکړ دوی او وو هغوي په ايتونو زمونږ باندې يقين به ئې کاوه بيشکه چه رب ستا دی حکم وکړي منځ د دوی کښې

يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾ أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ

په ورځ د قيامت په هغه کښې چه وو دوی په هغه کښې ئې اختلاف کاوه ايا لاره نه ده ښودلې دوی ته د دې خبرې چه څومره

أَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ ۚ إِنَّ

هلاك کړي دي مونږ مخکښې له دوی ځخه اهل د زمانو ځخه چه ځئ دوی په کورو د هغوی کښې بيشکه

فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ ۖ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴿٢٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى

چه په دې کښې خامخا علامې دي ايا نو نه اوري دوی ايا نه وينې دوی چه بيشکه مونږ روانوو اوبه

الْأَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنْفُسُهُمْ ۖ

ځمکې وچې ته نو راوباسو په هغه سره کښت چه خوراك کوی له هغه ځخه چارپايان د دوی او نفسونه د دوی

أَفَلَا يُبْصِرُونَ ﴿٢٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٨﴾

ايا نو نه وينې دوی او وائې دوی چه کله به وي دا فتح که ئې تاسو رښتني

سه ١

مراد له عذاب د نږدې ځخه عذاب د دنيا دي لکه چه په دعا د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په اهل مکه باندې سخت عذاب راغلی وو چه هغه قحط وو چه مرداري او څرمنې او هډوکي او وينې به ئې خوړې او مراد له عذاب اکبر ځخه عذاب د اخرت دی ٢ يعنې مونږ به پردې ښه سرو باندې اول عذاب د دنيا راولو بنائی چه دوی له خپله کفره ځخه واوړي ١٢ روح البيان وابن کثير

سه ٢

حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمايلي دي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم معنی د دې ايت شريف داسې کوله چه ګرځولی وو مونږ موسی هدايت لپاره د بني اسرائيلو او فرمايل به ئې چه لقائه ځخه مراد ملاقات د موسی عليه السلام دی. يعنې ته شك مه کوه په ملاقات د موسی عليه السلام کښې په شپه د معراج کښې ١٢ موضح

سه ٣

ايا نو نه لوري دا اهل مکه د زړه پر غوږ وچه عبرت او سبق واخلي ١٢ سه ٤ ايا نو نه وينې دا اهل مکه دا اثار د قدرت خپل چه دا تري معلوم کړي چه هرکله دی په دغه قادر دی نو پر شونډي کولو مړيود دی ځخه زيات قادر دی ١٢

قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنْفَعُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿٢٩﴾

ووایه ته چه په ورځ د فتح به فائده ونه رسوی هغه کسانو ته چه کافران شوي دي ایمان راوړل او نه به دوی ته انتظار وکړل شي

٣ ع ٨ ٦ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانْتَظِرْ إِنَّهُمْ مُنْتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾

نو وګرځه ته له دوی څخه او انتظار کوه ته دوی بیشکه چه دوی هم انتظار کوونکي دي تاته

سُورَةُ الْأَحْزَابِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَلَاثٌ وَسَبْعُونَ آيَةً وَتِسْعُ رُكُوعَاتٍ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکي دی مهربان دی

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللَّهَ وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ ۗ إِنَّ اللَّهَ

ای پیغمبره ووېرېږه له خدای څخه او مه منه خبره د کافرانو او د منافقانو بیشکه چه خدای

كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿١﴾ وَاتَّبِعْ مَا يُوحَىٰ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ ۚ إِنَّ اللَّهَ

دی عالم خاوند د حکمت او اتباع کوه د هغه چه وحی کېږی تاته له طرفه د رب ستا څخه بیشکه چه خدای

كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿٢﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ﴿٣﴾

دی پر هغه چه تاسو ئې کوئ خبردار او توکل کوه پر خدای باندې او کافی دی خدای کارسازئ

مَا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِنْ قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ ۚ وَمَا جَعَلَ أَزْوَاجَكُمُ

ندی پیدا کړي خدای هیڅ سړي لره دوه زړونه په ګیډه (خیټه) د ده کښې او نه ئې دي ګرځولي ښځي ستاسو

اللَّائِي تُظَاهِرُونَ مِنْهُنَّ أُمَّهَاتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ ۚ

هغه ښځې چه ظهار کوئ تاسو له هغو څخه مورانې ستاسو او نه دي ګرځولي ده په زامنو بللي ستاسو زامن ستاسو

ذَٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ بِأَفْوَاهِكُمْ ۖ وَاللَّهُ يَقُولُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيلَ ﴿٤﴾

دا چه دي ویل ستاسو دي په خولو ستاسو او خدای وائي حق او دی ښیئي سمه لاره

ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ ۚ فَإِنْ لَمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ

بولئ تاسو دوی پلارانو خپلو ته چه دا کاره برابر دی په نزد د خدای نو که معلوم نه وی تاسو ته پلاران د دوی

فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ ۚ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ فِيمَا

نو دوی ورونه ستاسو دي په دین کښې او دوستان ستاسو دي او نشته پر تاسو ګناه په هغه کښې

أَخْطَأْتُمْ بِهِ وَلَٰكِنْ مَا تَعَمَّدَتْ قُلُوبُكُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴿٥﴾

چه خطا شوي پر هغه ولیکن شته ګناه په هغه کښې چه قصدئ وکړي زړونه ستاسو او دے خدای بخښونکي مهربان

له نقل دي چه ابوسفیان او عکرمه او ابوالاعور وروسته له واقعی د احد څخه مدینې منورې ته راغلل او په ځای د ابن ابی منافق کښې دېره شول بله ورځ ئې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه طلب د امان وکړ هغه (ص) امن ورکړ بیا دوی سره له نورو کسانو منافقانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او ووئې ویل چه ته زمونږ د معبودانو بد ویل پرېږده او وایه چه دوی به شفاعت وکړي او خپلو عابدانو ته به فائده ورسوي نو مونږ به ستا پر خدای بد نه وایو او کار به نه در باندې لرو. نو په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې دې خبرې ډېر بد اثر وکړ او حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د هغوی د قتل اراده وکړه مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړه چه ما امان ورکړی دی نو حضرت عمر له مسجد نبوی څخه بلکه له مدینې منورې څخه بېرته واخستل ۱۲ روح

۲ رسول الله صلی الله علیه وسلم له نبوت څخه مخکې زید ابن حارثه په زوی والی سره نیولی وو او په خلقو کښې دی په زید ابن محمد سره مشهور شوی وو هر کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د هغه بی بی زینب پس له آزادولو د هغې څخه په نکاح واخستله نو کفارو او منافقینو تهمت وو وایه چه محمد د خپل زوی ښځه وکړه نو الله تعالی دا آیت نازل کړ چه په زوی ویلو سره بیګانه د چا نه زوی کېږي ۱۲ جامع البیان او ابن کثیر ۳ له روایت دی چه په اول کښې به زید ته خلقو زید ابن محمد (ص) ویل بیا هر کله چه دا آیت نازل شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم زید ته وو ویل چه ته د حارثه زوی ئې ۱۲

النَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ ۖ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ ۗ وَ
پیغمبر چه دی ډیر لائق دی له مؤمنانو سره له ځانو د دوی ځنه او ښځې د ده میندې د دوی دی
أُولُو الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ مِنَ
او خاوندان د خپلوی بعضې د دوی لائق دی له بعضو نورو سره په کتاب د خدای کښې له
الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ إِلَّا أَن تَفْعَلُوا إِلَىٰ أَوْلِيَائِكُم مَّعْرُوفًا ۚ كَانَ
مؤمنانو ځنه او له هجرت کوونکو ځنه مګر دا اقدر چه کوئ تاسو له دوستانو خپلو سره احسان دی
ذَٰلِكَ فِي الْكِتَابِ مَسْطُورًا ﴿٦﴾ وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ
دا حکم په کتاب کښې لیکلے شوی او یاد کړه هغه چه واخستله مونږ له پیغمبرانو ځنه وعده د هغوی
وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ۖ وَأَخَذْنَا
او له تا ځنه او له نوح ځنه او له ابراهیم عم ځنه او له موسیٰ عم ځنه او له عیسیٰ عم ځنه او له بی بی مریمې ځنه او واخستله مونږ
مِنْهُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا ﴿٧﴾ لِّيَسْأَلَ الصَّادِقِينَ عَن صِدْقِهِمْ ۚ وَأَعَدَّ
له دوی ځنه وعده محکمه لپاره د دې چه پوښتنه وکړی خدای له رښتینو ځنه له رښتیا ویلو د دوی ځنه او تیار کړی دی خدای
ع ۸ ۱۵ لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٨﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ
لپاره د کافرانو عذاب دردناک ای هغه کسانو چه ایمان ئې راوړے دی یاد کړئ نعمت د خدای عه
عَلَيْكُمْ إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا ۚ
پر تاسو په هغه وخت کښې چه راغلې تاسو ته لښکرې نو را ولیږلو مونږ پر دوی باندې باد او لښکرې چه نه لیدلې تاسو هغه
وَكَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٩﴾ إِذْ جَاءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ
او دی خدای پر هغه چه تاسو ئې کوئ لیدونکی هغه چه راغلل دوی تاسو ته له پاسه طرفه ستاسو ځنه او له
أَسْفَلَ مِنكُمْ وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ وَ
کښته طرفه ستاسو ځنه او هغه چه کږې شوی سترګې او ورسیدل زړونه چڼچکو غاړو ته
تَظُنُّونَ بِاللَّهِ الظُّنُونَا ﴿١٠﴾ هُنَالِكَ ابْتُلِيَ الْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا زِلْزَالًا
او وکړل تاسو پر خدای باندې بد ګمانونه په دغه وخت کښې ازمیل شو مؤمنان او ښوروول شو په ښورولو
شَدِيدًا ﴿١١﴾ وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ
سختو سره او یاد کړه هغه ویل به منافقانو او هغه کسانو چه په زړو د دوی کښې مرض وو د ضعف اعتقاد

روایت کړی شوی دی چه هر کله رسول الله صلے الله علیه وسلم اراده د غزا د تبوک وکړه نو بعضو کسانو وویل چه مونږ به له پلارانو او میندو خپلو سره مشوره د تللو وکړو نو دا آیت شریف نازل شو چه النَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ الآیة روح ۲ او روایت دی چه په ځلورم کال د هجرت یهودیانو د بنی نضیر قبیلے چه له مدینې منورې ځنه پسے اخستل شوی وو لکه چه په سورت حشر کښې به ئې بیان راشي پر قبیلو د عربو مکر زیات او خلق ئې راجمع کړل چه دولس زره کسان وو او جنګ د رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئې راوستل او مؤمنان په دغه وخت کښې دری زره کسان وو نو په مشوره د سلمان فارسي سره ئې له مدینې منورې ځنه چاپیره خندق کښل شروع کړل او تر یوې میاشتې پورې جنګ وشو بیا نو خدای الله تعالیٰ په کافرانو باندې سخت باد راولیږه او ملائکه چه او رونه ئې مړ شول خیمې ئې ړنګې شوی او آسمان ئې وتښتیدل او تول لښکر ئې برباد او ګډوډ شو نو دا احسان الله تعالیٰ مؤمنانو ته یادوی او فرمائی چه يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا الآیة موضح القرآن ۳ له روایت شوی دی چه په وخت کښلو د خندق کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه را کړل شوی دی ماته کلیانی د یمن او د شام او د فارس یعنی اخیاونه به تاسو وروسته له ما ځنه فتح کړئ نو منافقانو به ویل تاسو وګورئ چه دی وعده د فتح کوي او دی ځان ئې له تاسو سره کوي او تاسو له ویرې ځنه پر ځان خندق راګرځوئ لو الله تعالیٰ بیا د هغوی و ګوئې چه وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ الآیة ۱۲ روح وغیره ۴ هغه چه راغلې تاسو ته لښکرې د کفارو چه قریش او عطفان او کنانه او یهود وو چاپیره د خندق ځنه یوه میاشت پراته وو ۱۲ یسیر

مَّا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اِلَّا غُرُوْرًا ﴿۱۲﴾ وَاِذْ قَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ

وعده نه ده کړې له مونږ سره خدائے او رسول د ده مګر د غلولو او یاد کړه هغه چه ووېل یوې ډلې د دوئ نه

يٰۤاَهْلَ يَثْرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوْا ۚ وَيَسْتَاْذِنُ فَرِيْقٌ مِّنْهُمُ

اې اهله د مدینې نشته ځاې تاسو له نو بېرته وګرځئ او اجازه د تلو غوښته یوه ډله له دوئ نه

مغ ۱۰ النَّبِيَّ يَقُوْلُوْنَ اِنَّ بُيُوْتَنَا عَوْرَةٌ ۛ وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ ۚۛ اِنْ يُّرِيْدُوْنَ

له پېغمبر نه وائي چه بېشکه کورونه زمونږ خالي پراته دي او نه دي دا خالي پراته اراده نه لري دوئ

اِلَّا فِرَارًا ﴿۱۳﴾ وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِّنْ اَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا

مګر د تښتېدلو او که داخلې کړې شي د النبکرې پر دوئ له طرفو د مدینې نه بیا سوال وکړې شي له دوئ نه

الْفِتْنَةَ لَاٰتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوْا بِهَاۤ اِلَّا يَسِيْرًا ﴿۱۴﴾ وَلَقَدْ كَانُوْا

د فتنې نو خامخا به راشي دوئ هغې ته او ځنډ به ونکړي دوئ په دې فتنې مګر لږ او خامخا په تحقیق وو دوئ

عَاهَدُوا اللّٰهَ مِنْ قَبْلُ لَا يُوَلُّوْنَ الْاَدْبَارَ ؕ وَكَانَ عَهْدُ اللّٰهِ

چه وعده به ئې کوله له خدائے سره رومبی له دې نه چه نه به ګرزوي دوئ شاګانې جنګ ته او ده وعده د خدائ

مَسْئُوْلًا ﴿۱۵﴾ قُلْ لَّنْ يَّنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ اِنْ فَرَرْتُمْ مِّنَ الْمَوْتِ

پوښتنه کړې شوي ووایه ته چه له سره به فائده ونه رسوي تاسو ته تېښته که وتښتې تاسو له مرګ

اَوِ الْقَتْلِ وَاِذًا لَّا تُمَتَّعُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۶﴾ قُلْ مَنْ ذَا الَّذِيْ يَعْصِمُكُمْ

نه یا له قتل نه او په دغه وخت کښې به ژوندی نه پرېښودل شئ مګر لږ ووایه ته چه څوک دې هغه چه وساتي تاسو له

مِّنَ اللّٰهِ اِنْ اَرَادَ بِكُمْ سُوْٓءًا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ؕ وَ

عذابه د خدائے نه که اراده وکړي خدائے پر تاسو د ضرر یا اراده وکړي پر تاسو د رحمت اونه به کړي پیدا

لَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۷﴾ قَدْ

دوئ لره بې له خدائے نه هیڅوک دوست اونه مددګار په تحقیق پوه دی ۲ ف

يَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ وَالْقَآئِلِيْنَ لِاِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ

خدائے په منع کونکو له جهاد نه له تاسې نه او په ویونکو باندې ورونو خپلو ته چه راځئ

اِلَيْنَا ۚ وَلَا يَاْتُوْنَ الْبَاْسَ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿۱۸﴾ اَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۖۚ فَاِذَا

مونږ ته او نه راځي دوئ جنګ ته مګر لږ بخیلان وي پر تاسو باندې ۳ ف نو هر کله

ف ۱
غرض دا چه الله تعالیٰ فرمائي چه دوی هسې پلمې کوي چه زمونږ په کورونو کښې څوک نشته داسې نه ده بلکه د دوی په زړه کښې د مؤمنانو ملګرتیا نه ده خوښه دا بهانه کوي ۱۲ منه

ف ۲
روایت دی چه یوه ډله له لښکره د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مدینې منورې ته ولاړه نو خپلو ورونو ته ئې ووئیل چه په قسم قسم نعمتونو کښې ناست وئ نو ده ورته ووئیل چه ته دلته پیغمبر ناست ئې خپل معاش کوي او رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته په تورو او نېزو کښې ولاړ دی نو هغه ورته په جواب کښې ووئیل چه ته هم راځه زمونږ سره دلته کښېنه او ګوره چه په ملګرو دی داسې یوه لوئ بلا راغلې ده چه یو سړی به هم ورځنې پاتې نه شي نو دا آیت شریف نازل شو چه قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِيْنَ مِنْكُمْ الاٰية ۱۲ یسیر

ف ۳
روایت دی چه دا کسان غزا ته حاضر نه شوي نو پس له هغه ئې دا اقرار وکړ چه که جهاد رانږدې پیښ شو نو مونږ به تر مرګه پورې وجنګېږو او تښتو به نه همسنه رحمه به تبارک و تعالیٰ

ف ۳
په دې حال چه بخیلان وي دوی پر تاسو په تعاون او نفقه کښې یعنې همېشه په دې ارمان کښې وي چه چا تعاون ورسره نه کولی او هیڅ شی چا نه ورکولې چه خوار او ذلیل شو وای ۱۲ یسیر

جَآءَ الْخَوْفُ رَاَيْتَهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ كَالَّذِيْ
چه راشي ويره وينې به ته دوی چه ګوري به تاته چه چاپيره به ګرځي سترګي د دوی لکه هغه څوک

يُغْشٰى عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ فَاِذَا ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ
چه بيهوښي راوستل شي په هغه باندې له مرګه نو هر کله چه ولاړه شي ويره نو خفه کوي تاسو پرې په ژبو

حِدَادٍ اَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ اُولٰٓئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوْا فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ
تيرو سره چه بخيلان وي پر خير باندې دغه کسان چه دي ايمان ئې نه دی راوړي نو خراب کړل خدای عملونه د دوی

وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿١٩﴾ يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ
او دی دا کار پر خدای باندې آسان ګمان کوي دوی په لښکرو چه نه دي

يَذْهَبُوْا وَاِنْ يَّاْتِ الْاَحْزَابُ يَوَدُّوْا لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ فِي
تللي دوی او که بيا راشي دا لښکري نو خوښوي به دوی چه کاشکې دوی اوسيدونکي وای په

الْاَعْرَابِ يَسْاَلُوْنَ عَنْ اَنْۢبَآئِكُمْ وَلَوْ كَانُوْا فِيْكُمْ مَّا قٰتَلُوْٓا
اعرابو کښې چه پوښتنه ئې کولی له خبرو ستاسو څخه او که چيري وای دوی په تاسو کښې نو جنګ به نه وُکړي دوی

اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٢٠﴾ ع لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ ع ٢ ١٢ ١٨
مګر لږ. خامخا په تحقيق دی تاسو لره په رسول د خدای کښې خوئ نيک ئې هغه چا لره

كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ كَثِيْرًا ﴿٢١﴾ وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ
چه دوی اميد لري د ملاقات د خدای او د ورځې وروستني او ياد وي خدای ډير او هر کله چه وليدل مؤمنانو

الْاَحْزَابَ قَالُوْا هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ
لښکري نو وويل دوی دا هغه دي چه وعده ئې کړي وه له مونږ سره خدای او رسول د ده او رښتيا ويلي دي خدای

وَرَسُوْلُهٗ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّآ اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا ﴿٢٢﴾ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ
او رسول د ده او زيات ئې نکړ دوی لره مګر ايمان او غاړه ايښوول خينې له مؤمنانو څخه

رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى
هغه سړي دي چه رښتيا کړي ئې دي هغه کارونه چه وعده ئې کړي وه دوی له خدای سره په هغه بعضې د دوی څخه هغه دي چه ترسره ئې کړي

نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ﴿٢٣﴾ لِّيَجْزِيَ
نذر خپل او بعضې له دوی څخه هغه دي چه انتظار کوي او بدل ئې نکړه وعده خپله په بدلولو سره لپاره د دې چه جزا ورکړي

سله
ابن عباس رضی الله تعالے عنهما ويلي دي
چه مراد له دې وعدې څخه هغه ده چه
په سورة بقره کښې ذکر شوي ده چه اَمْ
حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ الاية يعني
هر کله چه مؤمنانو لښکري د کفارو وليدلې
نو پر وعده د الله تعالے ئې يقين پيدا
شو او وئې ويل چه دا کار هغه دی چه
الله تعم او رسول الله صلے الله عليه واله
وسلم ئې زمونږ سره وعده کړي وه
چه پر تاسو به امتحان راځي نو که تاسو
صبر وکړ نو مرسته د الله تعالے به ژر
تر ژره در ورسيږي او غالب به شئ
او رسول الله صلے الله عليه وسلم مؤمنانو
ته ويلي وو چه په اول کښې به پر تاسو
باندې ډيره سختي شي ځکه چه ډيري
لښکري به در باندې راجمع شي بيا به
اخير کښې تاسو کامياب شئ لکه هغسې
چه و شول ۱ه روح وابن کثير ۲ه غرض
دا چه الله تعالے مؤمنانو ته فرمائي چه
پر تاسو لازمه ده چه اقتدا وکړئ په
رسول الله صلی الله عليه وسلم پسې په
ټولو کارو معاملو او خبرو کښې ۳ه
آيت که څه هم په باب د جهاد کښې راغلے
دی مګر حکم ئې عام دی ۴ه منه رحمه الله
۲ه روايت دی چه په ورځ د
احد کښې رسول الله صلے الله عليه
واله وسلم په مصعب ابن عمير باندې
تير يدے چه شهيد شوي پروت وُو نو
رسول الله صلعم دا آيت شريف وو ايه
چه مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا
مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ ۱۲ ۳ه دا
کسان عثمان رض ابن عفان او سعيد ابن
زيد رض او حمزه رض او انس ابن نضر رض وو چه
دوی ننه مُ ملو وُ چه که چيري
مونږ سره له رسول الله صلعم په جنګ کښې
برابر شو نو تر خو پورې به جنګ کوو چه
شهيدان شو نو حضرت حمزه رض او
مصعب رض او انس رض رضي الله عنهم
خپل نذر ترسره کړ چه په جنګ کښې
شهيدان شول ۱۲ فتح البيان

اللّٰهُ الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ اِنْ شَآءَ
خدای رښتینولره په رښتینے د دوی سره — او په عذاب کړی منافقان — که اراده ئې وشي
اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۚ﴿۲۴﴾ وَرَدَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ
یا رجوع په رحمت سره وکړي پر دوئ بلیشکه چه خدای دی بخښونکی مهربانه — او بیرته وګرځول خدای هغه کسان
كَفَرُوْا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوْا خَيْرًا ؕ وَكَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ ؕ
چه کافران شوی وو سره له قهره خپله نه ئې کړ پیدا هیڅ خیر او بس والی وکړ خدای مؤمنانولره د جنګ
وَكَانَ اللّٰهُ قَوِيًّا عَزِيْزًا ۚ﴿۲۵﴾ وَاَنْزَلَ الَّذِيْنَ ظَاهَرُوْهُمْ مِّنْ اَهْلِ
او دی خدای قوی غالب — او راکښته ئې کړل هغه کسان چه کومك ئې کړی و وله د دوی سره — له اهل
الْكِتٰبِ مِنْ صَيَاصِيْهِمْ وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيْقًا
کتابو څخه له قلاګانو خپلو څخه — او وئې غورځوله په زړونو د دوی کښې ویره — یوه ډله
تَقْتُلُوْنَ وَتَاْسِرُوْنَ فَرِيْقًا ۚ﴿۲۶﴾ وَاَوْرَثَكُمْ اَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَ
وژله تاسو — او بندی کوله به مو بله ډله — او میراث ئې درکړه تاسو ته ځمکه د دوی — او کورونه د دوی
۳ اَمْوَالَهُمْ وَاَرْضًا لَّمْ تَطَئُوْهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرًا ﴿۲۷﴾ ع ۲۷
۱۹ او مالونه د دوئ او هغه ځمکه چه نه وه پایمال کړی تاسو هغه — او دی خدای پر هر شي باندی قادر
يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا
ای پیغمبره ووایه ته ښځو خپلو ته — که ئې تاسو اراده لرئ د ژوند نږدی او — د دنیا ښائست د دي
فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ وَاُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا ﴿۲۸﴾ وَاِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ
نو راځئ چه نفع درکړم تاسو ته او ازادی کړم تاسو په ازادولو ښکلو سره — او که ئې تاسو اراده لرئ
اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا
د خدای او د رسول د ده او د کور د اخرت نو بیشکه چه خدای تیار کړی دي لپاره د نیکی کونکو له تاسو څخه اجر
عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّاْتِ مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ
لوئ — ای ښځو د نبي — هر چا چه راتلل وکړل له تاسو څخه — په بدکار ښکاره سره
يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾
دوچند به کړل شي هغه لره عذاب — په دوچند والی سره — او دی دا کار — پر خدای باندی اسان

ف ۵۱
نقل دي چه په نهم کال د هجرت رسول الله صلی الله علیه وسلم بیبیانو مطهراتو څخه قدره خفه شوی وه او نو قسم ئې واخست چه تر یو میاشت له تاسو سره اختلاط و نکړم. سبب د خفګان دا وو چه بیبیانی سره جمع شوی او له رسول الله صلی الله علیه واله وسلم څخه ئې طلب د ښو ښو جامو او زینت او د ډیری نفقی وکړ لکه چه عادت د ښځو دي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله بنګله کښې چه مسجد ته وو واه متصل پس له نو یشتو شپو جبرائیل علیه السلام دا ایتونه نازل کړل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم راکښته شوا و بی بی عائشی رضی الله عنها ته ئې وویل چه تا ته یوه خبره کوم خو ته تلوار مه کوه خو چه له مور او پلار د دی مشوره نه وی غوښتی نو هغې وویل چه هغه څه خبره ده نو دا ایتونه ئې ورته وویل نو دی هم وویل چه ایا په دی خبره کښې به زه له مور او پلار سره مشوره داسی نه کوم بلکه زه خدای او رسول د ده او اخرت اختیاروم بیا نورو بیبیانو هم داسی جواب ورکړ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ۱۲ صحیح بخاری ورو ح

ف ۵۲
مراد له دی فاحشی بیني څخه له خاوند څخه نافرمانی او هم شرارت کول دي. له دی ایت شریف څخه دا معلومه شوه چه که څه هم بد کول له هیچا څخه مناسب نه دي مګر له ښو خلقو څخه نهایت ډیر بد دي له دی جهته بریو په دوه جزا ورکیږی فافهم ۱۲ ۱۲

وَمَن يَقْنُتْ مِنكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَا

او هر څوک چه طاعت وکړي تاسو څخه د خدای او د رسول د ده او عمل وکړي نیك نو به کړو ورله

أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ وَأَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيمًا ﴿٣١﴾ يَا نِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ

اجر د دوه واره او تیار کړی دی مونږ دی لره رزق ښه (چه جنت دی) ای ښځو د پیغمبر ۳ نه یئ تاسو

كَأَحَدٍ مِّنَ النِّسَاءِ إِنِ اتَّقَيْتُنَّ فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ

لکه یو له ښځو څخه که پرهیزګاری کوی تاسو نو نرمی مه کوئ په خبره سره نو طمع به پیدا شي

الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوفًا ﴿٣٢﴾ وَقَرْنَ فِي

د هغه سړي چه په زړه د هغه کښې مرض د نفاق وی او وائی تاسو خبره نیکه او قرار ونیسئ په

بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ

کورو خپلو کښې او مه ښکاره کوئ زینت په مثل د اظهار د ښځو د جاهلیت مخکیني او سم ودروئ لمونځ

وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ

او ورکوئ زکوة او اطاعت کوئ د خدای او د رسول د ده بیشکه خبره دا ده چه اراده لری خدای

لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ﴿٣٣﴾

چه لیری کړی له تاسو څخه گناه ای کورنئ د رسول کریم ۳ او چه پاک کړي تاسو په ښه پاکوالي سره

وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَىٰ فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ إِنَّ

او یاد وساتئ تاسو هغه چه وییل کیږي په کورو ستاسو کښې له ایتونو د خدای څخه او له حکمت څخه بیشکه

اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا ﴿٣٤﴾ ع إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ

چه خدای دی باریك لیدونکی خبردار بیشکه چه مسلمانان سړي او مسلمانانی ښځې او مؤمنان سړي

وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ

او مؤمنی ښځې او طاعت کونکی سړي او اطاعت کونکی ښځې او رښتیا ویونکی سړي او رښتیا ویونکی ښځې

وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ

او صبر کونکی سړي او صبر کونکی ښځې او عاجزی کونکی سړي او عاجزی کونکی ښځې او خیرات کونکی سړي

وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ

او خیرات کونکی ښځې او روژه نیونکی سړي او روژه نیونکی ښځې او ساتونکی سړي د اندام خپلو د زنا څخه

یعنی لکه چه په زمانه د کفر کښې به ښځې بې پردې ګرزیدلې ۲ موضح ۳ نقل شوی دي چه په زمانه د جاهلیت کښې ښځې ډیری بې پرواوی ترد ی حده چه ښځه به د انډیوال سره د خپل میړه مخکښې ناسته وه او ملرتیه به ئې د ننګ د پاسه هر قسم خوندا خستلو اجازه وه او د حائل لاندې به ئې مالك خپل خاوند ؤ ۴ سے له دی ایت کریمه څخه ښکاره معلومه شوه چه ازواج مطهرات د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اهل بیتو د ه څخه حساب دي او هغه حدیث شریف چه شیعګان وړ باندی دلیل نیسی چه مراد له اهل بیتو څخه حضرت علی او بی بی فاطمه او امام حسین او امام حسین رضی الله عنهم دي چه هغه حدیث شریف دا دی چه بی بی عائشې رضی الله تعالی عنها روایت کړی دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په اول د ورځې کښې راووتی او پرده باندې یو څادر ؤ وله وریښتانو څخه چه توری کرښې پکښې وې نو کښېناستے نو بی بی فاطمه رضی الله تعالی عنها راغله نو هغه ئې په خپل څادر کښې ننوځکړه بیا حضرت علی رض راغلی نو هغه ئې هم دننه کړ په څادر کښې بیا حسن او حسین رض راغلل نو هغه ئې هم دننه کړل په څادر کښې بیا ئې وویل چه ای خدایه دا زما اهل بیت دي نو پاك کړه دوی په پاکوالی سره نو له دی حدیث شریف څخه دا معلومیږی چه له دی کسانو څخه بغیر نور څوك اهل بیت نشته ۲ روح ۵۴ روایت دے چه هرکله په باب د بیبیانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښې دا ایتونه نازل شول نو ښځو د مؤمنانو وویل چه که چیری په مونږ کښې خیر وای نو الله تعالی به مونږ هم کله ذکر کړی وای نو دا ایت شریف نازل شو چه اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ الاٰیه

۳ روح البیان

وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ اَعَدَّ اللّٰهُ

اوساتونکی ښځې او یادونکی سړی خدای لره ډیر له او یادونکی ښځې تیاره کړی ده خدای

لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۳۵﴾ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ

دوی لره بخښنه او اجر لوی چه جنت دی او نه دی روا مؤمن سړی لره او نه مؤمنې ښځې لره

اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اَمْرًا اَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ

په هغه وخت کښې چه حکم وکړی خدای او رسول د ده د یو کار چه وی به دوی لره اختیار له

اَمْرِهِمْ ؕ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا ﴿۳۶﴾

کار د دوی څخه او هر څوک چه نافرمانی کوی له خدای څخه او له رسول د ده څخه نو په تحقیق چه گمراه شو گمراهی ښکاره

وَاِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِیْۤ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاَنْعَمْتَ عَلَيْهِ اَمْسِكْ عَلَيْكَ

او یاد کړه هغه وخت چه وئیل تا هغه سړی ته چه نعمت کړی وو خدای پر هغه او نعمت کړی وو تا پر هغه چه وساته په ځان باندې

زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللّٰهَ وَتُخْفِیْ فِیْ نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ

ښځه ستا یعنې مه ئې طلاقوه او وویریږه له خدایه څخه او پټوی تا په نفس خپل کښې هغه چه خدای ښکاره کونکی دی هغه

وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰهُ ؕ فَلَمَّا قَضٰى

او وویریدې ته له خلقو څخه او خدای ښه لائق دی چه وویریږې له ده څخه نو هر کله چه ترسره کړه

زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنٰكَهَا لِكَیْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ

زید له هغې څخه حاجت خپل نو په نکاح درکړه مونږ هغه تا لره لپاره د دې چه نه وی پر مؤمنانو باندې گناه

فِیْۤ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ اِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ

په ښځو د ادعیاؤ د دوی کښې (یعنې بیگانه متبنّیان) په هغه وخت کښې چه ترسره کړی دوی له هغوی څخه حاجت او دی حکم د خدای

مَفْعُوْلًا ﴿۳۷﴾ مَا كَانَ عَلَى النَّبِیِّ مِنْ حَرَجٍ فِيْمَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ؕ

کړی شوی نشته پر پیغمبر باندې هیڅ گناه په هغه کښې چه مقرر کړی دی خدای ده لره

سُنَّةَ اللّٰهِ فِی الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا

طریقه مقرر کړی ده خدای په هغه پیغمبرانو کښې چه تیر شوی دی مخکې له ده څخه او دی حکم د خدای مقرر شوی

مَّقْدُوْرًا ﴿۳۸﴾ الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهٗ وَلَا يَخْشَوْنَ

په مقرر کولو سره هغه پیغمبران چه رسوی جوابونه د خدای او وویریږی له خدای څخه او نه ویریږی

ف ل

له ابوسعید څخه روایت سوی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چا پوښتنه وکړه چه کوم بندګان بهتر دی په مرتبه کښې الله تعالی ته څخه د قیامت په ورځ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه سړی یادونکی د خدای ډیر او ښځې یادونکی د خدای ډیری او وئی فرمایل چه که څوک د ومره کفار او مشرکان په توره ووهی چه توره ئې پرې ونړیږي او سره شی هم یادونکی د خدای ډیر له هغه څخه په مرتبه کښې زیات دی ۱۲ روح البیان له یعنې مؤمنانو ته دا کار ضروری دی چه هر کله حکم د خدای تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې خبر شی نو فی الحال دې هغه عمل کوی او سوچ دې نه پکښې کوی ۱۲ سله روایت دی چه هر کله دا ولنی آیت نازل شو نو بی بی زینب او ورور ئې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل وئی وئیل یا رسول الله مونږ راضی یو یعنې په نکاح کولو له زید سره نو رسول الله د دوی نکاح سره وکړه څه موده وروسته رسول الله د زید کور ته د څه کار لپاره راغلی وو چې بی بی زینب ئې ولیده له نو سبحان الله یا مقلب القلوب ثبت قلبی ئې وویل هر کله چه زید کور ته راغلی نو بی بی صاحبې ورته دا حال ووایه نو دی پوه شو چه د رسول الله زړه په دې تمه غلت شوی دی نو راغلی رسول الله ته ئې وویل چه زه زینب طلاقوم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه ولې تا لره څه کوم کار نالائق لیدلی دی نو زید وویل چه نه والله نه می دی لیدلی مګر خیر الدما څخه ځان غټ بولی او ضرر پر ما رسوی نو رسول الله دی منع کولې فراقه دی څخه نو الله تعالی دا ایت شریف نازل کړی چه واذ تقول للذی الآیة ۱۲ روح البیان وغیره

سله ادعیاء هغه زامنو ته ویل کیږی چه بیګانه وی خالې په ویلو سره ئې څوک ځان ته مقرر کړی په عربی کښې ورته متبنّی ویل کیږی ۱۲

اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۝٣٩ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ

له هیچا څخه بې له خدایه څخه او بس دی خدای حساب کونکی ۔ نه دی محمد صلی الله علیه وسلم پلار د یو کس له

رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ

سړو ستاسو څخه ولیکن رسول د خدای دی او ختم کونکی د پیغمبرانو دی دی او دی خدای پر هر شی باندې

عَلِيْمًا ۝٤٠ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ۝٤١ لا وَّسَبِّحُوْهُ

عالم ۔ ای هغه کسانو چه ایمان مو راوړی دی یاد وئ خدای په یادولو ډیر سره او پاکی وائی ده لره

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝٤٢ هُوَ الَّذِيْ يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ

په سهار کښې او په ماښام کښې ۔ دا خدای هغه ذات دی چه رحمت وائی دی پر تاسو باندې او پرښتې د ده هم

لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ۝٤٣

چه راوباسی تاسو له تاریکیو د کفر څخه نور د ایمان ته او دی دا خدای پر مؤمنانو باندې مهربان

تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهٗ سَلٰمٌ ۖۚ وَاَعَدَّ لَهُمْ اَجْرًا كَرِيْمًا ۝٤٤ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ

تحفه د دوی به په هغه ورځ کښې چه ملاقات وکړی له رب خپل سره لفظ د سلام وی او تیار کړی دی خدای دوی لره اجر نیک ۔ ای پیغمبره

اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝٤٥ لا وَّدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ

بیشکه مونږ لیږلی ئې ته شاهد او زیری ورکونکی او ویرونکی او بلونکی خدای ته

بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا ۝٤٦ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ

په حکم د ده سره او ډیوه روښانه کونکی او زیری ورکړه مؤمنانو ته چه بیشکه دی دوی لره له خدایه څخه

فَضْلًا كَبِيْرًا ۝٤٧ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَدَعْ اَذٰىهُمْ

فضل لوی ۔ او اطاعت مه کوه د کافرانو او د منافقانو او پریږده ضرر د دوی

وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ۝٤٨ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

او توکل وکړه پر خدای باندې او بس دی خدای کارساز ۔ ای هغه کسانو چه ایمان مو راوړی دی

اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ

هر وخت چه په نکاح اخلئ مؤمنی ښځې بیا طلاق ورکړی تاسو دوی مخکې له هغه څخه چه مسه کړی دوی

فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّوْنَهَا ۚ فَمَتِّعُوْهُنَّ وَسَرِّحُوْهُنَّ

نو نشته تاسو لره پر دوی باندې شمار د ورځو چه پوره کوئ به تاسو هغه نو نفعې ورکړئ دوی ته او ازادی کړئ دوی

له یعنی ورو ستاسو له ده څخه پلار پیغمبر نه دی البته ولی کیږی ۱۲ منه ۲ د رسول الله صلی الله علیه وسلم څلور ځامن په کوچنوالی کښې وفات شوی دی چه هغه ابراهیم، قاسم، طیب، او طاهر وو ځکه چه هم پلار دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم امام حسن او امام حسین رضی الله تعالی عنهما ته خپل ځامن فرمایلی دی مګر کوم وخت چه دا آیت نازلیږی په هغه وخت کښې د دوی دوا صاحبزادګان نابالغه او کم عمره وو د دوی نه سړی نه ویل کیدل غرض له دې څخه دا دی چه تاسو رسول الله د زید پلار مه بولی د دی سورت په اولنی رکوع کښې چه تیر شوی دی چه رسول الله د مسلمانانو پلار دی او بیبیانې ئې د دوی میندی دی. دا له هغه ځای څخه مخالف نه دی ځکه چه هلته پلار څخه دینی پلار مراد دی او دلته مو څخه دینی مو مراد ده ۱۲ وحیدی ۳ یعنی لکه چه په مهر سره خط ختمیږی دا رنګه نبوت د رسول الله خاتم دی یعنی په دنیا کښې وروسته له ده نه څخه هیڅوک نوی پیغمبر راتلونکی نشته او عیسی علیه السلام به چه نږدې د قیامت ته راکښته کیږی هغه نوی پیغمبر نه دی مخکې په دنیا کښې راغلی دی بل دا چه هغه راکښته به سی د رسول الله په دین به وی ګویا چه د محمد په امت کښې به داخل وی ۱۲ او حیدی مختصر ۴ په حدیث شریف کښې راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه بیشکه ازموینه زما اخلی لکه چه زه ټیل وسپینه چاوو چه یا رسول الله پر څه شی کړو ل۔ رنګما لوی منځ ته رو نو رسول الله وویل په تلاوت د قران او په ذکر د خدای سره ۱۲ روح البیان ۵ په حدیث شریف کښې راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم اصحابو ته وفرمایل چه تاسو ډیر ذکر د الله تعالی کوی چه خلق درته لیونی ووائی. ډیر احادیث په فضیلت د ذکر کښې راغلی دی ۱۲ ۶ مانعنی دا چه لموځ کوی د خدای لپاره په اول د ورځ کښې چه سحر دی او په اخیر د ورځې کښې چه مازیګر دی ۱۲ روح

سَرَاحًا جَمِيۡلًا ﴿٤٩﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّاۤ اَحۡلَلۡنَا لَكَ اَزۡوَاجَكَ الّٰتِيۡۤ

په ازادولو ښکو سره — ای پیغمبره بیشکه چه مونږ حلالی کړی دی تا لره ښځی ستا — هغه ښځی

اٰتَيۡتَ اُجُوۡرَهُنَّ وَمَا مَلَكَتۡ يَمِيۡنُكَ مِمَّاۤ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيۡكَ

چه ورکړی وی تا مهرونه د دوی او هغه ښځی چه مالک شوی وی ښی لاس ستا ستا سو هغو ښځو څخه چه اکرزولی وی خدای پر تا

وَبَنٰتِ عَمِّكَ وَبَنٰتِ عَمّٰتِكَ وَبَنٰتِ خَالِكَ وَبَنٰتِ خٰلٰتِكَ

او لونه د تره ستا — او لونه د خویندو د پلار ستا — او لونه د ماما ستا — او لونه د خویندو د مور ستا

الّٰتِيۡ هَاجَرۡنَ مَعَكَ وَامۡرَاَةً مُّؤۡمِنَةً اِنۡ وَّهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ

هغه ښځی چه هجرت ئی کړی وی له تا سره — او ښځه مؤمنه — که وبخښی دا ځان خپل پیغمبر[١] ته

اِنۡ اَرَادَ النَّبِيُّ اَنۡ يَّسۡتَنۡكِحَهَا خَالِصَةً لَّكَ مِنۡ دُوۡنِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ

که اراده لری پیغمبر د دی — چه په نکاح سره واخلی دا خالص تا لره — بی له مؤمنانو څخه

قَدۡ عَلِمۡنَا مَا فَرَضۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيۡۤ اَزۡوَاجِهِمۡ وَمَا مَلَكَتۡ اَيۡمَانُهُمۡ

په تحقیق معلوم دی مونږ ته هغه حکم چه مقرر کړی دی مونږ پر دوی باندی په باب د ښځو د دوی کښی او د هغه مینځو کښی چه مالکان ئی ونیسی شوی لاس د دوی

لِكَيۡلَا يَكُوۡنَ عَلَيۡكَ حَرَجٌ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوۡرًا رَّحِيۡمًا ﴿٥٠﴾ تُرۡجِيۡ

لپاره د دی چه نه وی پر تا باندی سختی — او دی خدای بخښونکی مهربان — بیرته کوه

مَنۡ تَشَآءُ مِنۡهُنَّ وَتُـــٔۡوِيۡۤ اِلَيۡكَ مَنۡ تَشَآءُ ؕ وَمَنِ ابۡتَغَيۡتَ

هغه چه اراده وشی ستا له دوی څخه او را نږدی کوه ځان ته هغه چه اراده وشی ستا او هغه چه بیائی طلب کړی

مِمَّنۡ عَزَلۡتَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكَ ؕ ذٰلِكَ اَدۡنٰۤى اَنۡ تَقَرَّ اَعۡيُنُهُنَّ

له هغه چا څخه چه لیری کړی دی تا نو نشته منع پر تا باندی — دا کار نږدی دی ته چه یخی به شی سترګی د دوی

وَلَا يَحۡزَنَّ وَيَرۡضَيۡنَ بِمَاۤ اٰتَيۡتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ

او نه به غمجنی کیږی او خوشحالیږی به پر هغه چه ته ورکوی دوی ته ټولی د دوی او خدای پوهیږی پر هغه چه په

مَا فِيۡ قُلُوۡبِكُمۡ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيۡمًا حَلِيۡمًا ﴿٥١﴾ لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ

زړونو ستاسو کښی دی — او دی خدای عالم تحمل کوونکی — حلالی نه دی تا لره ښځی ستا

مِنۡۢ بَعۡدُ وَلَاۤ اَنۡ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنۡ اَزۡوَاجٍ وَّلَوۡ اَعۡجَبَكَ

وروسته له دی څخه او نه دا چه بدلوی به ته پر دوی باندی له نورو ښځو څخه — که څه هم تعجب درولی تا ته

١ مهر چا چه ښځه محکی له دخول څخه طلاقه کړه نو د نکاح په وخت کښی چه ئی کوم مهر ټاکلی وی د هغه نیم به ښځی ته ورکوی او که ئی مهر نه وی ورته مقرر کړی نو متاع یعنی یوه جوړه جامه دی ورکړی بیا که هغه په دغه وخت کښی له بل چا سره نکاح کوی ورته جائز ده یعنی د عدی تیرول پری نشته او که له ښځی سره خلوت صحیحه چه په یو ځای کښی سره جمع شی او مانع د جماع نه وی وشوا او له هغه پس ئی طلاقه کړه نو ورکول د ټول مهر پری لازم شوا و عده به هم تیروی که څه هم جماع حقیقی ورسره و نکړی ١٢ موضح

٢ د ابی ابن کعب او مجاهد او حسن او قتاده او ابن جریر رضی الله عنهم په معنی د ماافرضنا علیهم کښی ویلی دی چه د امت لپاره د څلورو اصیلو ښځو څخه زیاتی جائز نه دی البته د مینځو هر څومره چه ساتی ورته اختیار دی او په نکاح کښی ولی مهر او شاهدان ضرور لازم دی مګر په حق د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښی یو له دی د ریو څخه هم لازم نه وو ١٢

٣ له ابن عباس او مجاهد او ضحاک او له نورو ډیرو سلفو څخه روایت دی چه هر کله بیبیانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دنیا پریښوده او اخرت ئی اختیار کړ نو الله تعالی ورته دا جزا ورکړه چه پر رسول الله ص باندی ئی له نورو ښځو سره نکاح کول منع کړل وروسته له دی څخه دا حکم بیا منسوخ شو لکه چه له ډیرو صحیح احادیثو څخه معلومیږی مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم د احسان کولو له بیبیانو سره وروسته له هغه بله ښځه په نکاح نه ده اخستی ١٢ جامع د ابن کثیر ٤ یعنی پس له دی نهو بیبیانو چه تا اختیار ورکړی او دوی اخرت خوښ کړ پر دنیا باندی چه هغه اوس دی بی بی عائشه، بی بی حفصه، بی بی سوده، بی بی ام سلمه، بی بی زینبه، بی بی ام حبیبه، بی بی جویریه، بی بی صفیه، بی بی میمونه رضی الله تعالی عنهن ١٢ موضح القرآن و روح البیان وغیره

حُسْنُهُنَّ اِلَّا مَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

ناته ښائست د دی نورو ښځو مګر هغه ښځې چه مالك ئې وی راسته لاس ستا او دی خدای پر هر

شَيْءٍ رَّقِيْبًا ﴿۵۲﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ

شی باندی ساتونکی ای هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دی مه ننوزئ په کورو د پیغمبر کښی

اِلَّاۤ اَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ اِلٰى طَعَامٍ غَيْرَ نٰظِرِيْنَ اِنٰىهُ ۙ وَلٰكِنْ اِذَا

مګر که اذن وکړل شی تاسو ته خوراك د ډوډۍ ته چه منتظرنه ئې تاسو پختن (پاخوبنی) د هغه ته لکن هر کله چه

دُعِيْتُمْ فَادْخُلُوْا فَاِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوْا وَلَا مُسْتَاْنِسِيْنَ

وبلل شئ تاسو نو ننوزئ نو هر کله چه خوراك وکړئ نو خپاره شی او مه کښینی ارام کونکی

لِحَدِيْثٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيٖ مِنْكُمْ ؗ وَاللّٰهُ

لپاره د خبرو بیشکه چه دا کښینستل ستاسو ضرر رسوی پیغمبر ته نو حیا کوی دی له تاسو څخه او خدای

لَا يَسْتَحْيٖ مِنَ الْحَقِّ ؕ وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا فَسْـَٔلُوْهُنَّ مِنْ

شرم نه کوی له بیانه د حق څخه او په هغه وخت کښی چه تاسو غواړئ له دوی څخه اسباب نو غواړئ ئې له دوی څخه

وَّرَآءِ حِجَابٍ ؕ ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِكُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ ؕ وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ

له شا د پردې څخه دا کار ښه پاك دی زړو ستاسو لره او زړو د دوی لره او نه ښائی تاسو لره دا

تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَاۤ اَنْ تَنْكِحُوْۤا اَزْوَاجَهٗ مِنْۢ بَعْدِهٖۤ اَبَدًا ؕ

چه ضرر به رسوئ رسول د خدای ته او نه دا چه په نکاح به اخلې ښځې د ده له وروسته له ده څخه هیڅکله

اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمًا ﴿۵۳﴾ اِنْ تُبْدُوْا شَيْـًٔا اَوْ تُخْفُوْهُ

بیشکه چه دا کار دی په نزد د خدای ډیره لویه ګناه که ښکاره کوی تاسو یو شی یا ئې پټ کوی

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۵۴﴾ لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِيْۤ اٰبَآئِهِنَّ

نو بیشکه چه خدای دی پر هر شی باندی عالم نسته ګناه پر دوی باندی په پلارانو د دوی کښی

وَلَاۤ اَبْنَآئِهِنَّ وَلَاۤ اِخْوَانِهِنَّ وَلَاۤ اَبْنَآءِ اِخْوَانِهِنَّ وَلَاۤ اَبْنَآءِ اَخَوٰتِهِنَّ

او نه په زامنو د دوی کښی او نه په ورو نو د دوی کښی او نه په زامنو د ورو نو د دوی کښی او نه په زامنو د خویندو د دوی کښی

وَلَا نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ ۚ وَاتَّقِيْنَ اللّٰهَ ؕ

او نه په ښځو د دوی کښی او نه په هغو کښی چه مالکان وی ورلره ښی لاسونه د دوی او ویریږئ له خدای څخه

ع ۳

له

روایت دی چه په اول کښی به دا بیبیانی له بیګانه سړو څخه پټیدلی نو یوه ورځ حضرت عمر رض له مسجد سره تیریدی چه کتل ئې بیبیانی په مسجد کښی ناستی وی له نورو ښځو سره ئې مجلس کاوه نو ده ورته وویل چه تاسو په نورو ښځو باسی بهتری ئې لکه ستاسو خاوند چه پر نورو سړو بهتر دی نو تا به ښه وه چه تاسو د بانکی نه ګرځیدلی. او چا ویلی دی چه رسول الله صلے الله علیه وسلم ته ئې وویل چه هر نیك، فاسق، او فاجر ستا کره ننوزی نو که بیبیانی محجوبې شوی وای ډیر به ښه وه نو نازل شو چه وَاِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا الآیة ۱۲ یسیر وغیره

له

سبب د نزول د دی ایت کریمه دا دی چه طلحه بن عبدالله تیمی وویل چه د محمد صلی الله علیه وسلم بیبیانی زمونږ د ترو لونړه دي او له مونږ څخه ئې ستر کوی که چیری د ده وفات شو نو زه به بی بی عائشه رض په نکاح سره واخلم نو الله تعالے په منع د دې خیال کښی دا ایت شریف نازل کړ جلال الدین السیوطی رحمه الله ویلی دی چه اهغه طلحه د عشرة مبشرة څخه دی نه دی بلکه بل دی ۱۲ روح البیان

له

یعنے د دوی مینځې او مریونه وی ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿۵۵﴾ إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ

بیشکه چه خدای دی په هر شی باندی حاضر ۱۰ بیشکه چه خدای او پرښتی د دهٔ

يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ ۚ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا

درود وائی پر پیغمبر باندی ای هغه کسانو چه ایمان مو راوړی دی درود وائی پر ده باندی او سلام وائی پر ده

تَسْلِيمًا ﴿۵۶﴾ إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي

په سلام ویلو سره بیشکه هغه کسان چه ضرر رسوی خدای او رسول د دهٔ ته لعنت کړی دی پر دوی خدای په

الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿۵۷﴾ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ

دنیا کښی او په آخرت کښی او تیار کړی ئی دی دوی لره عذاب سپکوونکی چه هغه او د ډیر او هغه کسان چه ضرر رسوی

الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا

مؤمنانو سړو ته او مؤمنو ښځو ته بی له هغه څخه چه کړی وی دوی نو په تحقیق بار کړی دی پر خپل ځان دروغ

وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿۵۸﴾ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ

او گناه ښکاره ای پیغمبره ۳ ووایه ښځو خپلو ته او لونړو خپلو ته او ښځو

الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ

د مؤمنانو ته چه خوا ده دی کړی پر ځانو خپلو له پړونو خپلو څخه دا پیتول د بدن نژدی دی ډیر ته

أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿۵۹﴾ لَّئِن

چه پیژندل کیږی به نو ضرر به ورته نه رسیږی او دی خدای بخښونکی مهربان قسم دی

لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ

که منع نه شول منافقان او هغه کسان چه په زړونو د دوی کښی رنځ وی د زنا کولو او بد خبری رسوونکی

فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا

په مدینه منوره کښی نو خامخا مسلط به کړو تا پر دوی بیا به همسایه نه وی ستا نوکری له تا سره په دی کښی مگر

قَلِيلًا ﴿۶۰﴾ مَّلْعُونِينَ ۖ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا ﴿۶۱﴾

لږ غوندی لعنت کړی شوی به وی هر ځای چه پیدا شی دوی نو ونیولی شی دوی او قتل به کړی شی دوی په سختی قتلولو سره

سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلُ ۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ اللَّهِ

لاره ایښی ده خدای په هغه کسانو کښی چه تیر شوی دی پخوا او له سره به ونه مومی لاری د خدای لره

ع ۶ / ۴

مع ۱۲

ف ۱ روایت دی چه هر کله آیت د ستر په حق د بیبیانو کښی نازل شو نو پلارانو او ورونو او خپلوانو د دوی وویل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم آیا مونږ به هم د پرده لره شاله دوسره خبری کوو نو دا آیت نازل شو چه لا جناح عَلَيْهِنَّ الاية ۱۲ روح البیان

ف ۲ له عبد الرحمن ابن سمره رض څخه روایت شوی دی چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم یوه ورځ ووتی او صحابه کرامو ته ئی وویل چه ښه شپه می ډیره عجیبه ولیدله ومی لیدل بعضی خلق پر ژبو باندی ساز ځړیدلی وو نوما وویل دا څوک دی ای جبرائیل علیه السلام نو هغه راته وویل چه دا هغه کسان دی چه ضرر به ئی مؤمنانو سړو او ښځو ته رسوی بغیر له کسبه د څه د هغوی څخه. په بل حدیث شریف کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چه مسلمان هغه دی چه سلامت وی نور مسلمانان له ژبی او له لاسه د ده څخه یعنی نه پر ژبه او نه په لاس چاته ضرر رسوی ۱۲ روح

ف ۳ امام سیوطی حویلی دي له دی آیت څخه دا معلومه شوه چه پټول د مخ او سر پر تولو ښځو باندی واجب او لازم دی ۱۲ تفسیر کمالین

ف ۴ یعنی له زنا څخه منع نه شول

ف ۵ دوی هغه کسان وو چه چه مومنانو ته ئی د خفگان خبری راوړی مثلاً چه ستاسو لښکر شکست وکړ یا دښمن در باندی راغلی او یا داسی نور ۱۲ ۱۲ ۲۱۲ جلالین و کمالین

تَبْدِيْلًا ﴿٦٢﴾ يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ؕ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ

بدلون پوښتنه کوي له تا څخه خلق له حاله د قیامت څخه ووایه چه بیشکه خبره د هغه چه علم د هغه په نزد

اللّٰهِ ؕ وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُوْنُ قَرِيْبًا ﴿٦٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ

د خدای دی او کوم شی خبر کړی تا ته ښائی چه قیامت وی به نژدې بیشکه چه خدای ج

لَعَنَ الْكٰفِرِيْنَ وَاَعَدَّ لَهُمْ سَعِيْرًا ﴿٦٤﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا اَبَدًا ۚ لَا

لعنت کړی دی پر کافرانو باندې او تیار کړی ئې دی دوی له دوزخ همیشه به وی په هغه کښې تل تر تله نه به

يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٦٥﴾ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوْهُهُمْ فِي

کړي پیدا دوی هیڅوک دوست او نه مددګار یاد کړه هغه ورځ چه پرمخي شي مخونه د دوی په

النَّارِ يَقُوْلُوْنَ يٰلَيْتَنَآ اَطَعْنَا اللّٰهَ وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا ﴿٦٦﴾ وَقَالُوْا

اور کښې وائی به دوی ای کاشکې موږ لره چه اطاعت مو کړی وای د خدای او اطاعت مو کړی وای د رسول او وبه وائی دوی

رَبَّنَآ اِنَّآ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا ﴿٦٧﴾ رَبَّنَآ

ای رب زموږ بیشکه چه موږ اطاعت مو کړی و د مشرانو خپلو او د غټانو خپلو نو ورکه کړه دوی له موږ څخه لاره ای ربه زموږ

اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا ﴿٦٨﴾ يٰٓاَيُّهَا

ورکړه دوی ته دوه حصې له عذابه څخه او لعنت وکړه پر دوی په لعنت لوی سره ای هغه

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اٰذَوْا مُوْسٰى فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ مِمَّا

کسانو چه ایمان ئې راوړی دی مه کیږئ تاسو په مثل د هغه کسانو چه ضرر ئې رسولی و موسیٰ ع م ته نو پاک کړه دی خدای له هغه څخه

قَالُوْا ؕ وَكَانَ عِنْدَ اللّٰهِ وَجِيْهًا ﴿٦٩﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا

چه دوی ویلي وو او و دی په نزد د خدای مخور ای هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دی وویریږئ

اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ﴿٧٠﴾ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ

له خدای ج څخه او وائی خبره محکمه نیک به کړی تاسو لره عملونه ستاسو او وبه بخښی تاسو ته

ذُنُوْبَكُمْ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿٧١﴾

ګناهونه ستاسو او هر چا چه اطاعت وکړ د خدای او د رسول د ده په تحقیق چه بری پیدا کړه ده بری لوی

اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالْجِبَالِ فَاَبَيْنَ

بیشکه چه موږ وړاندې کړه موږ امانت پر اسمانو باندې او پر ځمکه باندې او پر غرو باندې نو منع وکړه دوی له دې څخه

ل یعنې یو که حصه د خپلې ګمراهی او بله حصه زموږ د ګمراه کولو ۲ امنه ۲ له عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت شوی دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو تقسیم وکړ نو یو سړي وویل چه دې تقسیم سره رضا د خدای نه ده اراده کړی شوې یعنې د ظلم تقسیم دي نو زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم او دا حال می ورته بیان کړ نو دی په غصه شو بیا ئې وویل چه الله تعالیٰ دی پر موسیٰ ع م رحمت وکړی چه دده څخه زیات ضرر ورته رسول شوی وو او هغه صبر کړی وو هغه ضرر دا وو چه د موسیٰ ع م عادت د ډیر حیا څخه دا وو چه غسل به ئې په پرده کښې کاوه نو بنی اسرائیلو وویل چه دې حکمت غسل کوي چه دده اندام یا برص مرض دي نو ناڅاپه دی یوه ورځ لپاره د غسل ولاړ او جامې ئې پر یوه ډبره باندې کیښودلې نو چه ورپسته له غسله ئې د جامو اغوستلو اراده وکړه نو هغه ډبره وخغستل په حکم د خدای سره نو موسیٰ ورپسې وخغستل او وئې ویل ثوبي حجر ثوبي حجر یعنې جامې زما راکړه ای ډبرې نو بنی اسرائیلو دی ولید چه هیڅ مرض ئې نه وو په دې ضرر رسولو کښې نور اقوال هم راغلي دي ۱۲ روح وغیره ۳ له ابن عوف له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت کړی دي چه مراد له امانت څخه طاعت د الله تعالیٰ دي او بل روایت له ده څخه شوی دي چه مراد له امانت څخه احکام و فرائض الهی دي الله تعالیٰ مخکې له پیدا د آدم ع م څخه پر اسمانو او ځمکو او غرو باندې وړاندې کړل مګر هغوی ویریدل او وئې ویل چه موږ د دې پوره کولو توان نه لرو او دا انکار ئې نشته او د الجهته د نافرمانۍ د دوی څخه نه وو بلکه له جهته د تعظیم د الهی احکامو او بیا ئې آدم علیه السلام ته وړاندې کړل او دا حال ئې ورته بیان کړ نو ده وویل چه ای زما ربه په دې امانت کښې فائده او تاوان څه دی نو الله تعالیٰ وفرمایل چه که چا اطاعت او فرمانبرداری وکړه نو ثواب به پیدا کړی او که ئې نافرمانی وکړه نو په عذاب به شي نو حضرت آدم علیه السلام هغه قبول کړل او هغه بار ئې پوره ته کړ ۱۲ روح البیان وابن کثیر

أَنْ يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ ۖ إِنَّهُ كَانَ

چه بار کړي دا او وویرول له دغه بار څخه او بار کړ هغه انسان بیشکه چه دی وو

ظَلُومًا جَهُولًا ﴿٧٢﴾ لِيُعَذِّبَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ

ظلم کوونکی پر خپل ځان بی خبره له لپاره ددې چه په عذاب کړي خدای منافقان سړي او منافقي ښځي

وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ وَيَتُوبَ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ۗ

او مشرکان سړي او مشرکي ښځي او چه رجوع په رحمت سره وکړي خدای پر مؤمنانو سړو

وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا ﴿٧٣﴾

او پر مؤمنو ښځو او دی خدای بخښونکی مهربان

سُورَةُ سَبَإٍ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ أَرْبَعٌ وَّخَمْسُونَ آيَةً وَّسِتُّ رُكُوعَاتٍ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دي

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَلَهُ

ټوله ثنا خدای لره ده هغه خدای چه لره دی هغه ټول شیان چه په اسمانو کښي دي او هغه شیان چه په ځمکه کښي دي او ده لره ده

الْحَمْدُ فِي الْآخِرَةِ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ﴿١﴾ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي

ثنا په اخرت کښي ۳ او دی خاوند د حکمت دی خبردار دي پوهیږي دی پر هغه چه ننوزي په

الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ

ځمکه کښي او پر هغه چه راوزي له دی څخه او پر هغه چه راکښته کیږي له اسمان څخه او پر هغه چه ختږي

فِيهَا ۚ وَهُوَ الرَّحِيمُ الْغَفُورُ ﴿٢﴾ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا

په هغه کښي او دی مهربان دی بخښونکی دي او وائی هغه کسان چه کافران شوي دي چه رابه نه شي مونږ ته

لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ ۖ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَالِمِ الْغَيْبِ ۖ لَا

قیامت ووایه هو چه قسم دی پر رب زما چه خامخا رابه شي تاسو ته چه عالم دی پر غیب پټو باندي نه

يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ

پټیږي له ده څخه په قدر د واړه میږي یا کوچنی ذره د لمر په اسمانو کښي او نه په ځمکه کښي

ف۱
بعضو علماؤ ئی داسی ترجمه کړي ده چه اسمانو او ځمکو او غرو امانت د خدای اداء کړ او خیانت ئی ونکړ پکښي ۔ او انسانانو اداء نکړ او خیانت ئی پکښي وکړ ۱۲ وحیدی

ف۲
نادان بی خبره له عاقبت د دي امانت څخه چه بیائی اداء په ډیر قوت صبر او قوت او مشقت سره کیږي او دا وصف دی د جنس په اعتبار د غلب سره ۱۲ یسیر

ف۳
په هغه جهان کښی لکه چه په دي جهان کښی ده لکن نه لا جهته د تکلیف بلکه لا جهته د خوشحالی لکه چه وائی الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَٰذَا بل الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي صَدَقَنَا وَعْدَهُ. بل الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ الآية ۱۲

ف۴
لکه پرېښتي او کتابونه او باران او نه او اندازی د رزق او داسی نور شیان ۔ او په هر هغه چه پورته ختیږي په دی اسمان کښی لکه پرېښتی عملنامی د بندګانو او پاکی کلمی او پاک روحونه او دعاګانی د بندګانو او داسي نور شیان ۱۲ ۱۲ ۱۲ یسیر

وَلَآ اَصْغَرُ مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْبَرُ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣﴾

اونه کوچنی له ده څخه اونه لوی له ده څخه مګر ټول په کتاب ښکاره کښې دی (چه لوح محفوظ دی)

لِّيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ

لپاره د دې چه جزا ورکړي خدای هغه کسانو ته چه ایمان ئې راوړی او عمل کوي نیکو دغه کسانو ته دی له ده بخښنه او روزي

كَرِيْمٌ ﴿٤﴾ وَالَّذِيْنَ سَعَوْ فِيْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰۗىِٕكَ لَهُمْ عَذَابٌ

نیکه چه جنت دی او هغه کسان چه کوشش کوي په ایتونو زمونږ کښې چه عاجزونکي وي زمونږ دغه کسانو ته مقرر دی له ده عذاب

مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ﴿٥﴾ وَيَرَى الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ

له عذابه دردناک څخه او ویني هغه کسان چه ورکړی شوی دی ورله علم دغه قران چه نازل کړل شوی دی

اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ هُوَ الْحَقَّ ۙ وَيَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ ﴿٦﴾

تا ته له رب ستا څخه دی حق دی او لاره ښیي هغه لارې د غالب ځای ستایلی شوی ته

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلٰي رَجُلٍ يُّنَبِّئُكُمْ اِذَا

او وائي هغه کسان چه کافران شوي دي ایا مونږ ښوونه وکړو تاسو ته پر یو سړي باندې چه خبر درکوي تاسو ته په هغه وخت کښې

مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ۙ اِنَّكُمْ لَفِيْ خَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿٧﴾ اَفْتَرٰى عَلَي

چه ذرې ذرې کړی شئ په کامل ذره ذره کیدلو سره بیشکه چه تاسو به خامخا په پیدائښت نوي کښې یئ ایا تړلی ئې دی ده پر

اللّٰهِ كَذِبًا اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ ۭ بَلِ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ فِي

خدای باندې دروغ او که پر ده لیونتوب دی بلکه هغه کسان چه ایمان نه راوړي په اخرت باندې په

الْعَذَابِ وَالضَّلٰلِ الْبَعِيْدِ ﴿٨﴾ اَفَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

عذاب کښې به وي او په ګمراهۍ لیرې کښې دي ایا نو نه ګوري دوی هغه شي ته چه په مخکښې د دوی دی

وَمَا خَلْفَهُمْ مِّنَ السَّمَاۗءِ وَالْاَرْضِ ۭ اِنْ نَّشَاْ نَخْسِفْ بِهِمُ

او هغه شي چه شاته د دوی دي له اسمان څخه او له ځمکې څخه که اراده وکړو مونږ ده ورننه به کړو پر دوی باندې

الْاَرْضَ اَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا مِّنَ السَّمَاۗءِ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

ځمکه یعنې په ځمکه کښې ئې غرق کړو یا په وغورځوو پر دوی ټوټه له اسمان څخه بیشکه چه په دې کښې

لَاٰيَةً لِّكُلِّ عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ﴿٩﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ مِنَّا فَضْلًا ۭ ع

خامخا علامه ده هر بنده رجوع کوونکي له خدای ته او خامخا په تحقیق ورکړی و مونږ داؤد ته له طرف خپل څخه بهتري

سله

په دې ایت شریف کښې الله پاک فرمائي چه کافران ملحدان د اٰنک د قیامت د پرله عقل څخه لیرې بولي او په رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې مسخرې او خندا کوي یو بل ته وائي راشئ داسې سړی در ته وښیو چه عجیبه خبرې کوي چه بدن او هډوکي ذرې ذرې شي بیا به تر و تازه کیږي او وائي دا کفار چه خبرې دا د دوه حالو څخه خالي نه دي یا خو دې پر خدای باندې دروغ وائي یا خو لیونی دی څکه نو دا خبرې کوي نو الله تعالی پر دوی باندې رد وکړو ئې فرمایل چه دا ګمان د دوی غلط دی. او رسول الله صلی الله علیه وسلم رښتینی دی بیا الله تعالی وفرمایل چه ایا دوی نه ګوري چه الله تعالی داسې پراخ پراخ شیان پیدا کړي دي محکم نو دا ذات پر دې باندې قادر نه دی چه انسان سره له کمال ضعفه د ده دوباره بیا پیدا کړي بیا الله تعالی وفرمایل که زمونږ اراده شوې وای نو دا کفار به مو په سبب د تکذیب او مسخرو سره په دنیا کښې هلاک کړي وو لیکن په سبب د رحمت معامله د دوی اٰخرت ته موقوفه شوې ده ۱۱۲ ۴ ۵

ابن کثیر

سله ۲ له خپله جانبه بهتري پر ټولو خلقو په نبوت، کتاب، عدل پاچاهي، بخښنه عاجزانو او ضعیفانو ته، ښه اواز، حلاوت د مناجات، علم او خلافت کښې او چا فضل ویلی دی چه مخکښې راغې چه وویل مونږ غر و ته یٰجِبَالُ الاٰیة ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۲

يٰجِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ وَالطَّيْرَ ۚ وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ ⑩ أَنِ اعْمَلْ

ای غرو تسبیح وائی سره له ده او مرغانو هم دده سره تسبیح ویله او نرمه کړی وه مونږ ده له اوسپنه چه جوړه کړه

سٰبِغٰتٍ وَّقَدِّرْ فِي السَّرْدِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا ۭ اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

زغری او اندازه کوه په اوبدلو کښی ئې او عمل کوئ نیک بیشکه زه په هغه چه تاسو ئې کوئ

بَصِيْرٌ ⑪ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَّرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۚ وَاَسَلْنَا

لیدونکی یم او تابع کړی وو مونږ سلیمان ته باد د سهار منزل د هغه د یوی میاشتی وو او د ماښام منزل به د هغه د یوی میاشتی او وبهوله

لَهٗ عَيْنَ الْقِطْرِ ۭ وَمِنَ الْجِنِّ مَنْ يَّعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ

وه مونږ ده له چینه د مسو او له پیریانو څخه هغه څوک وو چه کار به ئې کاوه په مخکښی د ده

بِاِذْنِ رَبِّهٖ ۭ وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ

په حکم د رب د ده سره او هر چه نافرمانی وکړه له دوی څخه له حکمه زمونږ څخه و به څکو پر ده له عذابه

السَّعِيْرِ ⑫ يَعْمَلُوْنَ لَهٗ مَا يَشَاۗءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَتَمَاثِيْلَ وَجِفَانٍ

د دوزخ څخه جوړول به ئې ده له هغه چه اراده به ئې وشوه له جګو بنګلو څخه او صورتو څخه او کاسی

كَالْجَوَابِ وَقُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ۭ اِعْمَلُوْٓا اٰلَ دَاوٗدَ شُكْرًا ۭ وَقَلِيْلٌ مِّنْ

لکه حوضونه او کټوی (دیګونه) په نغری پراته عمل کوئ نیک ای کورنی د داؤد لپاره د شکر او لږ دی له

عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ⑬ فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلٰي

بندګانو زما څخه شکر ادا کونکی نو هر کله چه حکم وکړ مونږ پر ده د مرګ نو خبر نه کړل دا پیریان پر

مَوْتِهٖٓ اِلَّا دَاۗبَّةُ الْاَرْضِ تَاْكُلُ مِنْسَاَتَهٗ ۚ فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ

مرګ د ده باندې مګر چینجی د ځمکې چه وی خوړله لکړه د ده نو هر کله چه راپریوتی دی پوه شول

الْجِنُّ اَنْ لَّوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوْا فِي الْعَذَابِ

پیریان پردی که وای دوئ چه پوهیدلی پر غیبو باندي نو د رنګ به نه وو کړی دوی په عذاب

الْمُهِيْنِ ⑭ لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ فِيْ مَسْكَنِهِمْ اٰيَةٌ ۚ جَنَّتٰنِ عَنْ

سپکونکی کښی خامخا په تحقیق وه خلقو د سبا لره په ځای د استو کښی د دوی کښی علامه دوه باغونه وو له

يَّمِيْنٍ وَّشِمَالٍ ڛ كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ۭ بَلْدَةٌ

راسته طرف څخه او له چپه طرف څخه خوری له روزی د رب ستاسو څخه او شکر اداکوئ ده لره ښهر دی

ف۱

روایت دی چه د داؤد علیه السلام په لاس کښی به اوسپنه داسی نرمه شوه لکه موم ګرمولو ته به ئې حاجت نه وو ۱۲ معنی کړی

ف۲

داوسپنی په یوه اندازه سره جوړه نه غتی او نه نرمی ۱۲ منه ج

ف۳

حضرت حسن رضی الله تعالیٰ عنه ویلی دی چه سلیمان علیه السلام به له شام څخه په وخت د سهار کښی روان شو او د غرمی آرام به ئې په اصطخر ښهر د فارس کښی وکړ او دا د یوی میاشتی منزل وو او بیا به له اصطخر څخه روان شو شپه به ئې په کابل یا بابل کښی تیره کړه او دا هم د یوی میاشتی منزل وو ۱۲

ف۴

امام سدی رحمه الله ویلی دی چه له ده سره به یوه پریښته ګرزیدله له هغی سره د لور تازیانه وه نو کوم یو پیری چه به د سلیمان علیه السلام له حکمه څخه مخالفت کاو نو پر هغه تازیانه به ئې وواهه نو فی الحال به وسوځیده ۱۲ روح البیان

ف۵

حضرت سلیمان علیه السلام په پیریانو باندې بیت المقدس جوړاوه هر کله چه د ده د معلومه شوه چه اجل زما نږدې شو نو پیریانو ته ئې نقشه وښووله او حکم ئې وکړ چه لره ما څخه د شیشی بنګله چاپیره کړئ او دی پر لمانځه باندې ودریدی او په همسا باندې ئې تکیه وکوله. یو کال وروسته او سونږه د هغې لکړی وخوړی نو سلیمان علیه السلام را ولوید نو پیریانو وویل که مونږ پر غیبو خبر وای نو د ومره وخت به مونږ ذلت نه تیراوه ۱۲ روح وموضح القرآن

طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ۞۱۵ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ

پاك او رب دے بخښونكى نو وګرځيدل دوئ نو وليږلو مونږ پر دوى باندې سيلاب سخت.

وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَىْ اُكُلٍ خَمْطٍ وَّاَثْلٍ وَّشَىْءٍ

او بدل ور كړو مونږ دوى ته په دوو باغونو د دوى كښې دوه باغونه خاوندان د ميوو بې خونده او غزو او يو څه قدر شى

مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ۞۱۶ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِمَا كَفَرُوْا ؕ وَهَلْ نُجٰزِىٓ

له بيرو لږ وڅه دا كار جزا وركړه مونږ دوى ته په سبب د هغه چې كافران شوي وو دوى او جزا نه وركوو بدله

اِلَّا الْكَفُوْرَ ۞۱۷ وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِىْ بٰرَكْنَا فِيْهَا

مګر ناشكروته او پيدا كړي وو مونږ په منځ د دوى كښې او په منځ د هغه كليو كښې چې بركت اچولى وو مونږ په هغه كښې

قُرًى ظَاهِرَةً وَّقَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ ؕ سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِىَ وَاَيَّامًا

كلي ښكاره او په اندازه كړي وو مونږ په هغه كښې مزل ځئ راځئ په دې كليو كښې د شپو او د ورځو په امن

اٰمِنِيْنَ ۞۱۸ فَقَالُوْا رَبَّنَا بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا وَظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

په امن سره نو وويل دوئ اى ربه زمونږ ليرې والى پيدا كړه په مابين د سفرونو زمونږ كښې او ظلم وكړو دوى پر ځانونو خپلو

فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ وَمَزَّقْنٰهُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ ؕ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

نو وګرځول مونږ دوى قصې او خواره واره كړل مونږ دوى په كامل خورولو سره بيشكه په دې كار كښې خامخا علامې دي

لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ۞۱۹ وَلَقَدْ صَدَّقَ عَلَيْهِمْ اِبْلِيْسُ ظَنَّهٗ

هر صبر كونكى شكر اداء كونكى لره او خامخا په تحقيق چې په رښتيا پيدا كړ پر دوى ابليس ګمان خپل

فَاتَّبَعُوْهُ اِلَّا فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۞۲۰ وَمَا كَانَ لَهٗ عَلَيْهِمْ مِّنْ

نو اتباع وكړه دوئ ده لره مګر يوې ډلې له مؤمنانو نه او نه وو ده لره پر دوى باندې هيڅ

سُلْطٰنٍ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يُّؤْمِنُ بِالْاٰخِرَةِ مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِىْ

مسلط والى مګر چې معلوم كړو مونږ هغه څوك چې ايمان راوړي پر اخرت باندې له هغه چا نه چې دى د هغه نه

شَكٍّ ؕ وَرَبُّكَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ حَفِيْظٌ ۞۲۱ ع قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ

په شك كښې وي او رب ستا په هر شي باندې ساتونكى دئ ووايه ته چې راوبولئ تاسو هغه كسان

زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِى السَّمٰوٰتِ

چې ګمان پرې كوئ د خداى نه له خداى څخه نه دي مالكان هغوى په اندازه د ذره ميرې په اسمانو كښې

ف ۱

يعنې د دى سبا خاى او د شام شريف په منځ كښې به ځاى پر ځاى نږدى نږدى كلي وو چې مسافر به په ارام سره مزل كاوه او خوراك ښكاك به ئې په كليو كښې په ارام سره كاوه تو بيني ته به ئې ځان ورو ح ۳۰ منه

ف ۲

يعنې ابليس لعين په اول ورځ چې ويلي وو چې لاحتنكن ذريته يعنې زه به بيخ وكاږم د اولاد د ادم ۲۴ هم هغسې وشول ۱۲ روح

وموضح ف ۳

غرض دا چې د بلونكي حاجتمن مراد هغه څوك پوره كولى شي چې په هغه كښې يو له دې دريو كارو څخه موجود وي يا مالك مختار وي يا د مالك پر هغه باندې څه پوره نيمګړي وي لكه وزير چې د پاچا مې يو ركن دي او دده له ناراضه څخه د پاچا خوف د زوال د پاچاهى دئ نو ضرور پاچا دده خبره مني يا ډير نيازبين وي چې ضرور د هغه خبره منظور يږي كه ئې طبيعت مني او كه نه لكه څوك وي يا بښځه چې د ډيره محبته دوى خبره رد كولى نه شي ۱۲ امام الهند

ف ۵

او خواره واره مو كړل يعنې مونږ له خپله وطنه وړك كړل او په دنيا كښې تار په تار شول
ع ۲
۸
دا سې چې غسان و څخه شا ته ولاړل او انصار و څخه يثرب ته ولاړل يثرب د مدينې منورې پخوانى نوم دى اوس ئې په يثرب بللو په احاديثو كښې منع راغلې ده او بعضې جذام تهامى او ازد عمان ته ولاړل ۱۲ تيسير

وَلَا فِي الْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ

اونه په ځمکه کښې او نشته دوی لره په دې دواړو کښې هيڅ شراکت او نشته خدای لره له دوی څخه هيڅ

ظَهِيرٍ ﴿۲۲﴾ وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهٗ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهٗ حَتّٰى إِذَا

مدتګار او فائده نه رسوي شفاعت نزد د ده مګر شفاعت د هغه چا چه اذن وکړي دی هغه ته[۱] تر هغه چه

فُزِّعَ عَنْ قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ قَالُوا الْحَقَّ وَهُوَ

لیرې کړل شي ويره له زړونو د دوی څخه وبه وائي دوی چه څه وويل رب ستاسو وبه وائي نور خلق چه حق ئې وويل او دی

الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ﴿۲۳﴾ قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

خاوند لوئي مرتبې لوی دی وواية ته څوك روزي در كوي تاسو ته له اسمانو څخه او له ځمکې څخه

قُلِ اللّٰهُ وَإِنَّا أَوْ إِيَّاكُمْ لَعَلٰى هُدًى أَوْ فِي ضَلٰلٍ مُّبِينٍ ﴿۲۴﴾ قُلْ

وواية ته چه خدای[۳] او موږ يا تاسو پر لاره سمه يو يا په ګمراهي ښکاره کښې يو[ع] وواية ته

لَا تُسْـَٔلُونَ عَمَّا أَجْرَمْنَا وَلَا نُسْـَٔلُ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿۲۵﴾ قُلْ يَجْمَعُ

پوښتلې به نه شي تاسو له هغه ګناهو څخه چه کړي دي موږ او له موږ څخه به پوښتنه ونشي د هغه چه تاسو ئې کوئ وواية چه به جمع و

بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيمُ ﴿۲۶﴾ قُلْ

کړي په منځ زموږ کښې رب زموږ بيا به حکم وکړي په منځ زموږ کښې په حقه سره او دی فيصله کوونکی دی عالم دي وواية ته

أَرُونِيَ الَّذِينَ أَلْحَقْتُمْ بِهٖ شُرَكَآءَ كَلَّا بَلْ هُوَ اللّٰهُ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿۲۷﴾

وښيئ ما ته هغه کسان چه پيوست کړي دي تاسو له ده سره شريکان نه ده داسې بلکه دی خدای دی غالب خاوند د حکمت

وَمَا أَرْسَلْنٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَّنَذِيرًا وَّلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ

اونه ئې ليږلی موږ ته مګر ټولو خلقو د پاره[ع] زيری ورکوونکی او ويروونکی لکن زيات د خلقو

لَا يَعْلَمُونَ ﴿۲۸﴾ وَيَقُولُونَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ إِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِينَ ﴿۲۹﴾

نه پوهيږي او وائي دوی چه کله به وي دا وعده د قيامت که ئې تاسو رښتيني

قُلْ لَّكُمْ مِّيعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَأْخِرُونَ عَنْهُ سَاعَةً

وواية ته مقرره ده تاسو لره وعده د يوې ورځې چه وروسته به نه شي له هغه څخه يو ساعت

وَّلَا تَسْتَقْدِمُونَ ﴿۳۰﴾ ع وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَلَا

اونه به تړی مخکې شئ او وائي هغه کسان چه کافران شوي دي هيڅکله به ايمان را نه وړو پر دې قران او نه

ف ۱

چه اذن وکړي خدای ده ته بالياره د ده د شفاعت بل چا ته يعنې يا معنې دا چه تا ته اذن وي د دې چه هر چا ته شفاعت کوې کوه ئې او يا دا چه د فلانکي ليا که شفاعت کوې اجازه ده در ته ۱۲ تيسير ۲ روايت دی چه په ورځ د قيامت به هر څوك سره په ويره او هيبت کښې وي هم شفاعت کړونکي چه موږ ته به ورکړي اذن وشي که نه چه د چا شفاعت وکړو. او ګنهګاران پردي چه زموږ لپاره به اذن د شفاعت چا ته وشي کنه او دا ويره د دوی به باقي وي بلکه چه فرمائي حتی اذا فزع عن قلوبهم الاية ۱۲ تيسير

ف ۳

يعني دوی به له در کولو د جواب چپ شي نو ته ورته وواية چه خدای روزي در کوي ۱۲ منه

ف ۴

په حديث شريف کښې راغلي دي چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چه په پخوانو زمانو کښې به پيغمبر خاص خپل قوم ته ليږل کيدې او زه ټولو خلقو ته ليږلی شوی يم يعنې رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د عرب او هم د عجمو ۱۲ منه

ف ۵

يا په دا مي لو يه ګمراهي کښې يو چه ښکاره ده. حاصل دا چه معلوم به شي په قيامت کوم يو له د غه دواړو طائفو له دې معاملې سره پر سمه لاره روان وو او کوم يو د خپلې ګمراهي په درياب کښې غرق وو ۱۲ تيسير

۳ ع ۹ | نصف

بِالَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ ۭ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ مَوْقُوْفُوْنَ عِنْدَ
پر هغه کتاب چه وړاندې د ده دی اوکه ووینې ته هغه چه ظالمان وو دروَلي شوي وي په نزد

رَبِّهِمْ ښ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضِ ِۨ الْقَوْلَ ۚ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ
درب د دوی چه ګرځوي به بعضي د دوی بعضو نورو ته خبره وائي به هغه کسان

اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لَوْلَآ اَنْتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۳۱﴾ قَالَ
چه کمزوري کړل شوي وې هغه کسانو ته چه لوئي ئي کړې وې که چیرې نه وې تاسو نو خامخا وو موږ ایمان اوړونکي

الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْٓا اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ عَنِ
ووائي هغه کسان چه لوئي ئي کړې وې هغه کسانو ته چه کمزوري کړل شوي وې ایا موږ منع کړي وئ تاسو له

الْهُدٰى بَعْدَ اِذْ جَآءَكُمْ بَلْ كُنْتُمْ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ
لارې سمې نه وروسته له هغه نه چه راغله تاسو ته بلکه وئ تاسو کافران او وبه وائي هغه کسان

اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا بَلْ مَكْرُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ اِذْ تَاْمُرُوْنَنَآ
چه ضعیفان کړي شوي وې هغه کسانو ته چه لوئي ئي کړې وه بلکه دا فریب ستاسو وو د شپې او د ورځې هغه چه امر به کاوه تاسو

اَنْ نَّكْفُرَ بِاللّٰهِ وَنَجْعَلَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ۭ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ لَمَّا رَاَوُا
موږ ته چه کافران شو موږ پر خدای باندې او پیدا کړو ده لره شریکان او پټه به کړي دوی پشیماني هر کله چه ووینې دوی

الْعَذَابَ ۭ وَجَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ فِيْٓ اَعْنَاقِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ هَلْ يُجْزَوْنَ
عذاب او وبه ګرځوو موږ ځنځیرونه په غاړو د هغه کسانو کښې چه کافران شوي دي نه

اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا
ورکول کیږي جزا دوی ته مګر د هغه چه وو دوی کول به ئي اونه وو لیږلی موږ په هیڅ کلي کښې هیڅ ویرونکی مګر

قَالَ مُتْرَفُوْهَآ ۙ اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۴﴾ وَقَالُوْا نَحْنُ اَكْثَرُ
وبه ویل مشرانو د هغه بیشکه موږ پر هغه چه لیږلي شوي ئي تاسو پر هغه کافران یو او ویل به ئي چه موږ زیات

اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ۙ وَّمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿۳۵﴾ قُلْ اِنَّ رَبِّيْ يَبْسُطُ
یو له جهته د مالونو او اولادو اونه یو موږ په عذاب کړي شوي ووایه ته چه بیشکه رب زما پراخوي

الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۶﴾ ع وَمَآ
روزي هغه چاته چه اراده ئې وشي او تنګوي ولیکن زیات د خلقو نه پوهیږي اونه دي

لہ
لے بین یدیه څخه مراد مخکني کتابونه لکه توریت انجیل او نور کتابونه یا جنت دوزخ قیامت مراد دي چه مخکښې راتلونکي دي ۱۲ موضح ۲ جواب د لو محذوف دي یعني که ته حال د کافرانو مشرکانو چه په ورځ د قیامت کښې الله تعالی ته مخامخ شوي وي نو ډیر تعجب به وکړې ۱۲ فتح البیان ۳ ابن ابي رزین رضي الله عنه څخه روایت شوی دی چه دوو کسانو په شراکت تجارت سره کاوه هغه نو چه د دوی نه یو کتابونو عالم وو په غاړه د دریاب چیرته په سوداګرۍ پسې تللی وو او هغه دوم په کور کښې پاتې شوی وو هر کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی پیغمبر کړای شو او د خلقو را بللو الله تعالی طرف ته شروع کړل نو هغه مسافر سوداګر ته هم خبر ورسید نو هغه خپل ملګري ته چه په کور ناست وو خط ولیږلو د رسول الله ص د حالاتو پوښتنه ئي ترې څخه وکړه نو هغه ورته ولیکل چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعدار په قریشو کښې هغه خلک دي چه ډیر کم نسبه او عاجز خلق دي نو هغه خپل تجارت پرېښوده او راغی هغه خپل ملګري ته ئي وویل چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بوځه هر کله چه دی د رسول الله په خدمت کښې حاضر شو نو ئي پوښتنه وکړه چه ته د څه شي حکم کوې نو رسول الله ص وفرمایل چه زه فلانکي کار ته خلق را بولم نو هغه سوداګر و ویل چه زه شاهد یم چه ته د خدای تعالی رسول ئې رسول الله ص ورته وفرمایل پوښتنه دې څنګه وکړه چه زما رسول والی تا له څه معلوم کړه نو هغه و ویل چه د هر پیغمبر تابعداران کم نسبه وي (یعني په اول کښې) او غریبان وي وروسته له دې معاملې څخه الله تعالی دا آیت شریف نازل کړ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه سوداګر ته جواب ولیږه چه ستا د خبرې تصدیق الله تعالی نازل کړ روایت کړه ابن ابي حاتم ۱۲ فتح وابن کثیر واسباب النزول ۴ غرض دا چه کفار وائي چه موږ لکه په دې دنیا کښې چه اباد یو او عزتمن یو په آخرت کښې به هم داسې یونو الله تعالی رد د دې خبرې د دوی وکړ چه د اپراخي د رزق دلیل د رضا د خدای نه دی ۱۲ ...
ع ۴
۱۰

أَمْوَالُكُمْ وَلَآ أَوْلَادُكُم بِالَّتِي تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَىٰٓ إِلَّا مَنْ آمَنَ

مالونه ستاسو او نه اولاد ستاسو داسي شي چه نژدې کوي تاسو ته نزد زمونږ په نزدیکت سره ف١ مګر نژدې کوي هغه چه ایمان ئې راوړی

وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولَٰٓئِكَ لَهُمْ جَزَآءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا وَهُمْ

وی او عمل کوی نیك نو دغه کسان دوی لره ده جزا دوچنده په سبب د هغه چه عمل کوی دوی او دوی

فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ ﴿٣٧﴾ وَالَّذِينَ يَسْعَوْنَ فِيٓ آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ

به ماڼیو د جنت کښې به امن وي او هغه کسان چه کوښښ کوي په ایتونو زمونږ کښې عاجزونکي زمونږ ف٢

أُولَٰٓئِكَ فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُونَ ﴿٣٨﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ الرِّزْقَ

دغه کسان په عذاب کښې به حاضر کړی شوی وي وو وایه ته چه بیشکه رب زما پراخوی روزی

لِمَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ لَهُۥ ۚ وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن شَيْءٍ فَهُوَ

هغه چا ته چه اراده ئې وشي له بندګانو خپلو څخه او تنګوي هغه لره او هغه شي چه خیرات ئې کړم له کوم شي څخه نو دی

يُخْلِفُهُۥ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٣٩﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ

بدله ور کوی د هغه او دی بهتر د روزی ور کوونکو دی ف٤ او یاد کړه هغه ورځ چه جمع به کړي دوی خدای بیا به

يَقُولُ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾ قَالُوا سُبْحَانَكَ

ووائي پرښتو ته ایا دا کسان تاسو لره چه عبادت به ئې کاوه وبه وائي پرښتي پاکي ده تا لره

أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِم ۖ بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُم

ته دوست زمونږ ئې بی له دوی څخه ف٥ بلکه وو دوی چه عبادت به ئې کاوه د شیطانانو زیات د دوی به

بِهِم مُّؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ فَالْيَوْمَ لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَلَا

پر هغوی باندی ایمان راوړونکي وو نو نن ورځ به مالکان نه وي بعضي ستاسو بعضي نورو لره د نفع رسولو او نه

ضَرًّا وَنَقُولُ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّتِي كُنتُم بِهَا

د ضرر دفع کولو او به وایو مونږ هغه کسانو ته چه ظلم ئې کړی وي چه وڅکئ عذاب د هغه اور چه وئ تاسو چه پر هغه به

تُكَذِّبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالُوا مَا هَٰذَآ إِلَّا

مو دروغ ویل او هر کله چه لوستل شي پر دوی ایتونه زمونږ ښکاره نو وائي دوی نه دی دا (محمد) مګر

رَجُلٌ يُرِيدُ أَن يَصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ آبَآؤُكُمْ وَقَالُوا مَا

یو سړی چه اراده لري دی چه منع کړي تاسو له هغه څخه چه عبادت به ئې کاوه پلارانو ستاسو او وائي دوی نه دی

ف١ په نزدیکت سره څخه چه نژدی والی خدای تعالی ته په نیك عمل سره دی نه په مال او اولاد سره هغه تاسو لره ١٢

ف٢ یعنی په ګمان خپل سره ١٢

ف٣ په حدیث شریف کښی راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چه په هره ورځ کښی دوه پرښتی له اسمان څخه را کښته کیږی یوه داسی دعا کوی چه ای الله خیرات کوونکی ته بدله ورکړه او بله داسی دعا کوی چه ای الله ممسك بخیل ته هلاکت ورکړي ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢ ١٢

ف٤ او دی بنه د ټولو روزی رسانو دی څکه چه دی رازق حقیقی دی او نور یو ول واسطه دي په دی رزق کښی ١٢ تیسیر

ف٥ غیر له دوی یعنی مونږ دوستي خاص له تاسره کوو نه له بل چا سره او په خپله عابدان یو مونږ نو څرنګه به څان دبل چا معبود جوړ وو. او دوی په واقع کښی زمونږ عبادت نه کاوه بلکه دوی له ډیره جهله د شیطانانو عبادت کاوه څکه چه د هغو فرمانبردار وو چه څه هغوی ور ته ویل هغه به ئې کول ١٢ ٣١٢ تیسیر

هٰذَآ اِلَّآ اِفْكٌ مُّفْتَرًى ۗ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ

دا مګر دروغ دي تړلی شوي په خدای او وائي هغه کسان چه کافران شوي دي حق ته هر کله چه راغلی دوی ته

اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٤٣﴾ وَمَآ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ كُتُبٍ يَّدْرُسُوْنَهَا وَمَآ

چه نه دے دا مګر سحر دی ښکاره ۔ او نه دي ورکړي مونږ دوی له کتابونه چه وائي دوی هغه ۔ او نه دي

اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ قَبْلَكَ مِنْ نَّذِيْرٍ ﴿٤٤﴾ وَكَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۙ

لیږلی مونږ دوی ته مخکې له تا نه هیڅ ویرونکی پیغمبر او نسبت د دروغو کړي وو هغه کسانو چه مخکې له دوی نه وو

وَمَا بَلَغُوْا مِعْشَارَ مَآ اٰتَيْنٰهُمْ فَكَذَّبُوْا رُسُلِيْ ۫ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿٤٥﴾

او نه دي رسیدلي دوی لسمې برخې د هغه چه ورکړي وه مونږ هغوی ته نو نسبت د دروغو کړه هغوی رسولانو زما ته نو څرنګه وو انکار زما هغوی پر

قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ مَثْنٰى وَفُرَادٰى ثُمَّ

و وایه ته چه بیشکه د خبره کوم تاسو ته په یوه خبره سره دا چه ودریږئ تاسو د خدای د پاره دوه دوه او یو یو بیا

تَتَفَكَّرُوْا ۫ مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ ۗ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ

سنه فکر وکړئ چه نشته په ملګری ستاسو باندې هیڅ لیونتوب نه دی دی مګر ویرونکی دی تاسو لره په

يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيْدٍ ﴿٤٦﴾ قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ ۗ

مخکښې د عذاب سخت ۔ و وایه ته هغه چه سوال کوم زه له تاسو څخه د اجر نو هغه دی ستاسو وي

اِنْ اَجْرِيَ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿٤٧﴾ قُلْ اِنَّ

نه دی اجر زما مګر په خدای تعالی ۔ او دی په هر شي باندې شاهد دی ۔ و وایه ته چه بیشکه

رَبِّيْ يَقْذِفُ بِالْحَقِّ ۚ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿٤٨﴾ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ

رب زما اچوي حق په پیغمبرانو ته عالم دی پر پټو باندې ۔ و وایه ته چه راغلی حق او نه پیدا کولی شي کولی

الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ ﴿٤٩﴾ قُلْ اِنْ ضَلَلْتُ فَاِنَّمَآ اَضِلُّ عَلٰى نَفْسِيْ ۚ

باطل چه شیطان دی او نه ئی دوباره پیدا کولی شي ۔ و وایه ته چه که ګمراه شوم زه نو بیشکه د اخبره ده چه ګمراه کیږم پر ځان خپل

وَاِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوْحِيْٓ اِلَيَّ رَبِّيْ ۭ اِنَّهٗ سَمِيْعٌ قَرِيْبٌ ﴿٥٠﴾ وَلَوْ

او که لاره پیدا کړه ما نو په سبب د دې به وي چه وحي کوي ماته رب زما بیشکه دی اوریدونکی دی نږدې دی ۔ او که

تَرٰٓى اِذْ فَزِعُوْا فَلَا فَوْتَ وَاُخِذُوْا مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿٥١﴾ وَقَالُوْٓا

ووینې ته هغه چه ویریږي دوی نو نه به وي خلاصون له عذابه څخه او ونیول شي دوی له ځای نږدې څخه او وائي دوی

ع ۵

ع ۹

۱ عربو ته څکه له رسول الله صلی الله علیه وسلم پیغمبر نه وو راغلی او نه ورته ئی له قرآن څخه بل کتاب راغلی وو دوی به مخکې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د ابراهیم او اسماعیل وائي دوي چه که مونږ ته الله تعالی پیغمبر رالیږلی وی نو مونږ به له نورو خلقو څخه زیات هدایت حاصل کړی هر کله چه الله تعالی په فضل خپل سره رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم او قرآن ئی ورباندې نازل کړ نو دوی انکار ورڅخه وکړ او قبول ئی نکړ او د بیبیئی دهغه ئی اختیار کړه ابن کثیر ۱۲

۲ حاصل دا چه الله تعالی فرمائی مخکنی کفار دومره اباد وو چه دوی ئی لسمه حصه هم نه شي کیدے او سره له هغه هم هلاک شول نو دوی به سره له کفره څرنګه بچ شي ۱۲

۳ یعنی چه زما خبره ئی قبول نکړه نو ټول هلاک شول ۱۲ منه

۴ یعنی ته ای زما حبیبه صلی الله علیه وسلم دې خلقو ته و وایه چه حق او ایمان راغلو یعنی بنه ښکاره شول او د کفر بیخ و ختل شو هر کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د فتحې د مکې په ورځ مسجد حرام ته ننوتی نو چاپیره د خانه کعبې بتان پراته وو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به په نیزه باندې وهل او ویل به ئی چه قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا او قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيْدُ معنی د دې مبارکې آیت دا دی ده چه ته دې خلقو ته و وایه چه راغلی حق چه اسلام دی او محوه شو باطل بیشکه چه باطل محوه کیدونکی دی ۱۲ ابن کثیر و جامع

۵ خلاصه دا ده چه هر کله چه د اپه ورځ د هغې نه څخه سره وا ته وواړه نو د هغه د عابه هیڅ به الله د هغه په تقبلیږي ۱۲ روح البیان

۶ مراد له مکان قریب څخه قبر یا میدان د حشر دی او بعضو مفسرینو ویلي دي چه مراد ئی کسانو څخه هغه لښکر دی چه په نیت د ورانولو د کعبې مبارکې به راشي نږدې قیامته او الله تعالی به دوی ټول نږدې مکې معظمې ته په ځمکه کښې ډوب کړي ۱۲

ءَامَنَّا بِهِۦ وَأَنَّىٰ لَهُمُ ٱلتَّنَاوُشُ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾ وَقَدْ كَفَرُوا۟

چه ایمان راوړی دی مونږ پرده او څرنګه به وي دوی لره نیول د ایمان له ځایه لیری ځنه او به تحقیق کافران شوي وو دوی

بِهِۦ مِن قَبْلُ ۖ وَيَقْذِفُونَ بِٱلْغَيْبِ مِن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ ﴿٥٣﴾

پر خدای پخوا له دی ځنه — او ویشتل به کوی دوی پر غیب — له ځایه لیری ځنه

وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ كَمَا فُعِلَ بِأَشْيَاعِهِم

او پرده به واچوله شي په منځ د دوي کښی او په منځ د هغه شی کښی چه ارمانی کوی دوی لکه چه کړی شو وو اکاریر لو دوی

مِّن قَبْلُ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ فِى شَكٍّ مُّرِيبٍۭ ﴿٥٤﴾

مخکی له دی ځنه بیشکه هغوی وو په اضطراب — اچونکی شک کښی

سُورَةُ فَاطِرٍ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ خَمْسٌ — بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ — وَأَرْبَعُونَ آيَةً وَخَمْسُ رُكُوعَاتٍ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی مهربان دی

ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ جَاعِلِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا

ټوله ثنا خدای لره ده چه پیدا کونکی د اسمانو — او د ځمکی دي — ګرځوونکی د پرښتو دی — پیغمبران

أُو۟لِىٓ أَجْنِحَةٍ مَّثْنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَ ۚ يَزِيدُ فِى ٱلْخَلْقِ مَا يَشَآءُ ۚ

خاوندان د وزرو — دوه دوه — او دری دری او څلور څلور — زیاتوالی کوی په پیدا ایښت کښی هغه قدر چه اراده کوی ئی

إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١﴾ مَّا يَفْتَحِ ٱللَّهُ لِلنَّاسِ مِن رَّحْمَةٍ

بیشکه چه خدای په هر شي باندي قادر دی — هغه چه پرانزی خدای لپاره د خلقو — له رحمت ځنه

فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۖ وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦ ۚ وَهُوَ

نو نشته بندونکی هغه لره او هغه چه بندئی کړی نو نشته لیږونکی هغه لره وروسته له بندولو ده — او دی

ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ ۚ هَلْ

غالب دی څیښتن د حکمت دي — ای خلقو — یاد کړئ — نعمت د خدای پر تاسو باندي — ایا شته

مِنْ خَٰلِقٍ غَيْرُ ٱللَّهِ يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۚ لَآ إِلَٰهَ

بل پیدا کونکی بی له خدای ځنه چه روزی درکوی تاسو ته له اسمان ځنه او له ځمکی ځنه نسته لائق د عبادت بل څوک

إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٣﴾ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ

مګر دی دی نو کوم طرف ته تاسو ګرزول کیږئ او که نسبت د دروغو کوی دوی تا ته نو په تحقیق نسبت د دروغو کړی شوي وو پیغمبرانو ته

ف ٥٢
او ویل به دوی په نا دیده
نا خبره د رسول الله ۱۲ او
بعث په باب کښی نامناسب
اقوال چه رسول ۳ بر ئی ساحر
شاعر کاهن بالله او کتاب الله
بر ئی سحر شعر او کهانة بالله ۲

ف ٢
الله تعالی پرښتی کوځرلرونکی
ع ٦ پیدا کړی دي چه الوزی او په
٩ تلوار حکم د خدای رسوی بعضو
١٢ د دوه وزری وي او د بعضو د ر
وزری وي او د بعضو له دی ځنه
زیات کوځر وزری وي لکه چه
په حدیث شریف کښی راغلي
دي چه په یقین سره رسول الله
صلی الله علیه وسلم په شپه د معراج
کښی جبرائیل علیه السلام
ولید چه شپږ سوه وزری وې
ئی وُو او د دوو وزرو په
ما بین کښی ئی دومره فاصله
وه چه لکه د مشرق او مغرب چه ده
پرښتو لره صورت او وزری نه
شته او عبادت ذکر او تسبیح
ویل د الله د دوی کار دی
پر دوی باندی ایمان راوړل
واجب دی نو کیفیت د دوی
الله تعالی ته معلوم دي او بدئ
فاسد تاویل پکښی کول کفر دی ۱۲
روح البیان و وجیز وغیره
ف ٣ یعنی زیاتوالی کوی په
پیدا ایښت کښی هر څومره چه ئی
اراده وشی په وزرو د پرښتو
کښی یا په صفاتو د انسانانو کښی
لکه علم، حلم، عقل، کرم، فصاحت
حسن، ملاحت، قوت، شجاعت
صبر، تواضع، عفت، محبت، صدق
اللّٰهم ارزقنا من کلها حظا
وفیرا ۱۲ حقانی

مِنْ قَبْلِكَ ۚ وَإِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٤﴾ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ وَعْدَ

مخکې له تا نه   او طرف د خدای ته بیرته ګرزي ټول کارونه   اې خلقو بیشکه ١   چه وعده

اللّٰهِ حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا ۖ وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُورُ ﴿٥﴾

د خدای حقه ده نو دې نه غولوي تاسو دا ژوند نږدې او دې نه غولوي تاسو په خدای باندې غولونکی

إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ

بیشکه چه شیطان تاسو لره دښمن دی نو تاسو هم ونیسئ دی دښمن   بیشکه دا جبره دا چه رابولي دوه ٢ ډله خپله

لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿٦﴾ الَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ عَذَابٌ

چه شي دوی له ملګري د دوزخ نه   هغه کسان چه کافران شوي دي مقرر دی دوی لره عذاب

شَدِيدٌ ۖ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ

سخت او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے وي او عمل کوي ښیګنو   ده دوی لره بخښنه   او اجر

كَبِيرٌ ﴿٧﴾ أَفَمَنْ زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ فَرَآهُ حَسَنًا ۖ فَإِنَّ اللّٰهَ ع ١ ٧ ١٣

لوئ   ایا نو هغه څوک چه ښائسته شوي وي ده ته بد عمل د ده نو ویني دې هغه ښه ٣   نو بیشکه چه خدای

يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۖ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ

ګمراه کوي هغه څوک چه اراده ئې وشي او لاره ښیي هغه چا ته چه اراده ئې وشي نو نه دې ځي (یعنې مه خفه کیږه ته) نفس ستا دوی پسې

حَسَرَاتٍ ۚ إِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٨﴾ وَاللّٰهُ الَّذِي أَرْسَلَ

له جهته د افسوس   بیشکه چه خدای عالم دی په هغه چه دوی ئې کوي   او خدای هغه ذات دی چه لیږلي ئې دي

الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَاهُ إِلَىٰ بَلَدٍ مَيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ

نو راپورته کړې دا بادونو وریځ نو راوانه کړو مونږ دا وریځ هغه ښهر مړه ته نو ژوندي کړو مونږ په هغه

الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ كَذَٰلِكَ النُّشُورُ ﴿٩﴾ مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ

ځمکه پس له مرګ د هغې نه   داسې دی راپورته کیدل له قبرو نه   هر څوک چه وي چه اراده لري د عزت

فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا ۚ إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ

نو خدای لره دے عزت ټول   ده ته   وریخیژي   کلمې ٤ پاکې   او عمل نیک

يَرْفَعُهُ ۚ وَالَّذِينَ يَمْكُرُونَ السَّيِّئَاتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ۖ

پورته کوي خدای ئې یا قبلوي ئې   او هغه کسان چه فریبونه جوړوي بد   دوی لره عذاب دی سخت

ف ١

وعده د الله تعالیٰ حقه ده یعنی بیا ژوندی، قیامت، حساب، پل صراط، عملنامې ورکیدل، ثواب، جنت، دوزخ او داسې نور کارونه د قیامت ټول حق دي د دنیا په معاشو باندې هیڅ مه غولیږئ ١٢ فتح

ف ٢ ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما فرمایلي دي چه هرکله رسول الله صلی الله علیه وسلم دا دعا وکړه چه اللّٰهُمَّ أَعِزَّ دِينَكَ بِعُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ أَوْ بِأَبِي جَهْلِ ابْنِ هِشَامٍ. یعنې ای الله غالب کړه ته دین ستا په عمر ابن خطاب یا ابو جهل ابن هشام په ایمان راوړلو سره. نو الله تعالیٰ حضرت عمر رض په اسلام سره مشرف کړ او ابو جهل ئې ګمراه پریښود دا ایت شریف په حق د دوی دواړو کښې نازل شوي دي چه أَفَمَنْ زُيِّنَ الآية ١٢ اسباب النزول

ف ٣ یعنې لکه چه دا ځمکه پوره مړه وي کښې وچه کلک وي چه باران پروشي نو تروتازه اباده شي همدا رنګ دا مخلوقات به ټول وروسته له خاورې کیدلو نه بیا ژوندي شي ١٢

ف ٤

مراد له الکلم الطیب نه ذکر دعا او تلاوت د قران دي او له عمل صالح نه مراد فرض دي نو معنی داسې شوه چه په ادا کولو د فرضو سره ذکر دعا او تلاوت د قران کریم قبلیږي او که ئې فرض ادا نه کړل نو دا ټول ئې نه قبلیږي یا مراد له کلمې طیبې نه لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ ده نو دې معنی داسې شوه چه په برکت د کلمې طیبې سره نور عملونه ټول قبلیږي ځکه چه بې له ایمانه هیڅ عمل قبول نه دي ١٢ فتح و جامع

وَمَكْرُ أُولَٰٓئِكَ هُوَ يَبُورُ ﴿١٠﴾ وَاللَّهُ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ
اومکر د دی کسانو هغه به هلاك شي اوخدای پیدا کړي یئ تاسو له خاورې څخه بیا له نطفې څخه

ثُمَّ جَعَلَكُمْ أَزْوَاجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ ۚ وَمَا
بیا گرزولي یئ تاسو جوړې اونه اخلي حمل هیڅ ښځه اونه زیږوي حمل مگر په علم د ده سره اونه

يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٍ وَلَا يُنقَصُ مِنْ عُمُرِهِ إِلَّا فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ
اوږدیږي عمر د هیڅ عمراوږد کړي شوي اونه کمیږي له عمر د هغه څخه مگر په کتاب کښې لیکلي دي بیشکه

ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١١﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرَانِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ
چه دا کار پر خدای باندې آسان دی او برابر نه دي دواړه دریابونه دا یو خوږ دی ډیر خوږ

سَائِغٌ شَرَابُهُ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ ۖ وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا
تیریدونکی دی اوبه د ده او دا بل تریو دی ډیر تریخ اوله هر یوه څخه خورئ تاسو غوښې تازه

وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ۖ وَتَرَى الْفُلْكَ فِيهِ مَوَاخِرَ
اوراباسئ ورڅخه کالي چه اغوندئ تاسو هغه اووینې ته کښتۍ څیرونکی د اوبو لپاره

لِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢﴾ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ
د دې چه طلب وکړئ تاسو له فضل د ده څخه او بنائي چه تاسو شکر وکاږئ ننباسي دی شپه په

وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي
ورځ کښې اوننباسي دی ورځ په شپه کښې او تابع کړي دي ده لمر او سپوږمۍ هر یو گرزي

لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۚ وَالَّذِينَ تَدْعُونَ
ترهغه وخته پر نامه کړي شوي پورې دا ذات خدای دی رب ستاسو له ده دي پاچاهي او هغه بتان چه بولئ تاسو

مِن دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِن قِطْمِيرٍ ﴿١٣﴾ إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا
بې له ده څخه مالکان نه دي دوی د پردې د زړي د خرما که بولئ تاسو دوی نه اوري دوی

دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ
بلنه ستاسو او که واوري فرضاً نو نه درکوي جواب تاسو ته او په ورځ د قیامت به دوی منکر شي

بِشِرْكِكُمْ ۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ ﴿١٤﴾ يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنتُمُ الْفُقَرَاءُ
پر دې شرك ستاسو اونه به کړي خبر تا په مثل د خبردار خدای اي خلقو تاسو محتاج یئ

ع ۲

ف۱ یعنې نارینه او ښځه ۲ جلالین
ف۲ یعني تاسو به ئې پخپله اغوندئ چه استعمال د ملغلرو نارینه ته هم جائز دی (موضح) .. یا معنی دا چه ستاسو ښځې ئې لپاره د ښائست تاسو ته اغوندي. نو گویا تاسو پخپله واغوستلې ۱۲ روح البیان

ف۳ کالي له ملغلرو او له مرجانو څخه چه اغوندئ ئې تاسو ښځو خپلو ته ۱۲ تنبیه دا مثال دی د مومن او د کافر چه د دواړو کرځه هم په بعضې صفاتو کښې سره برابر دي لکه خوراك، ښائست، خوب، سخاوت، شجاعت اما په ډیرو کښې فرق سره لري لکه چه مومن په سبب د ایمان او نیکو عملو سره خوږ دی او کافر له جهته د کفر او نافرمانۍ تریو تریخ دی ۱۲ یسیر

ف۴ تر هغه وخته پورې چه پر نامه کړي شوي دي چه منتهی د دوره یا ورځ د قیامت ده چه جریان به ئې خراب شي ۱۲

ف۵ منکر به شي دوی په دې شریکولو او په دې عبادت ستاسو والي به ما کنتم ایانا تعبدون ه یعني نه وئ تاسو زموږ عبادت کړي ۱۲

إِلَى اللَّهِ ۖ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ﴿١٥﴾ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَأْتِ بِخَلْقٍ

خدای ته او خدای دی بې پروا دی ثنائی ویلی شوی دی که اراده وشی د ده نو بوځی تاسو او را به ولی پیدا ئینت

جَدِيدٍ ﴿١٦﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ ﴿١٧﴾ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ

نوی او نه دی دا کار پر خدای باندې گران او نه پورته کوی هیڅ نفس گنهگار بار د گناه د بل نفس

وَإِن تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَىٰ حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَلَوْ كَانَ

او که راوبولی درونده باری بل څوك بار د گنا هو خپلو ته وا به نه خستل شی له هغه هیڅ شی که څه هم وی د ابلل شوی

ذَا قُرْبَىٰ ۗ إِنَّمَا تُنذِرُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ وَأَقَامُوا

خپلوی بیشکه دا خبره ده چه ویروی ته هغه کسان چه ویریږی له رب خپل څخه په پټه سره او سم دروی

الصَّلَاةَ ۚ وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفْسِهِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ ﴿١٨﴾ وَمَا

لمونځ او هر چا چه ځان پاك كړ نو بیشکه دا خبره ده چه ځان ئې پاك كړ لپاره د ځان خپل او الله ته دی ور تلل او نه دی

يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ وَالْبَصِيرُ ﴿١٩﴾ وَلَا الظُّلُمَاتُ وَلَا النُّورُ ﴿٢٠﴾ وَلَا الظِّلُّ

برابر ړوند او لیدونکی او نه تیاری او نه رڼا او نه سیوری

وَلَا الْحَرُورُ ﴿٢١﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ وَلَا الْأَمْوَاتُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ

او نه گرمی او نه دی برابر ژوندی او نه مړی بیشکه چه خدای اوروی

مَن يَشَاءُ ۖ وَمَا أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي الْقُبُورِ ﴿٢٢﴾ إِنْ أَنتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾

هغه چا ته چه اراده ئې وشی او نه ئې ته اورونکی هغه چا ته چه په قبرونو کښی پراته دي نه ئې ته مگر ویرونکی

إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۚ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا

بیشکه چه مونږ لیږلی ئې ته په حقه سره زیری ورکونکی او ویرونکی او نه ده هیڅ امت مگر تیر شوی دی په هغه کښې

نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾ وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ جَاءَتْهُمْ

ویرونکی او که نسبت د دروغو کوی دوی تاته نو په تحقیق چه نسبت د دروغو کړی و هغه کسانو چه مخکښې له دوی څخه وو دوی ته راغلی وو

رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ وَبِالزُّبُرِ وَبِالْكِتَابِ الْمُنِيرِ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَخَذْتُ الَّذِينَ

رسولان د دوی په ښکاره نخښو او په سفارو او په کتاب روښانه بیا ونیول ما هغه کسان

كَفَرُوا ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٢٦﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ

چه کافران شوی وو نو څرنگه وو انکار زما پر دوی ایا نه وینې ته بیشکه خدای نازل کړی دی له اسمانه څخه

١ په دی ایت شریف کښی دیر وعظ دي او ویرول دی چه فرائض د الله تعالی دی همیشه تول خلق پر وخت اداء کوی او امر بالمعروف نهی عن المنکر دی خامخا کوی او له خدای څخه دی نه غافله کیږی امام جعفر طیار رضی الله تعالی عنه ویلی دی چه زه یوه ورځ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وم او مخامخ زمونږ یو غر وو نو رسول الله صلی الله علیه واله وسلم ما ته وویل چه ما سلام دی غره ته ورسوه او ورته ووایه چه اوبه دی درکړی که در پکښی وی نو زه کړم ویلی دی چه ورغلم هغه غره ته او ورته می وویل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پر تا باندې سلام ویلی دی چه اوبه دی درکړی نو هغه غره ما ته وویل چه ما سلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ووایه او ورته ووایه چه هر کله ما دا ایت شریف واوریدی چه فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ یعنی وویریږئ د هغه اور څخه چه خشاك د هغه سړی او ډبری وی نو ما له دی ویری څخه چه هغه ډبری چه خشاك د دوزخ به وی نه یم نو دومره می وژړل چه اوبه راپکښی وچی شوی ١٢ روح

٢ له الله تعالی تشبیه ورکړه دی کفارو ته له مړو سره یعنی لکه چه مړی ته نصیحت کول هیڅ فائده نه رسوی همدارنگه کفارو ته نصیحت د پیغمبر علیه السلام هیڅ فائده نه رسوی په دی ایت کښی نفی د اسماع ده یعنی بل ته اورول نه سمع یعنی خپله اوریدل یعنی مړی څو خبری د ژوندو اوری لکن جواب نه شی ورکولی ١٢ منه

٣ له بینات څخه مراد معجزی وی یقینی دلائل ١٢

٤ او له زبر څخه هغه کتابونه مراد دی چه په هغه کښی وعظ او نصیحت شوی او له کتاب منیر څخه هغه کتاب مراد دی چه احکام پکښی وي ١٢ فتح البیان

مَاءً ۚ فَأَخْرَجْنَا بِهِ ثَمَرَٰتٍ مُّخْتَلِفًا أَلْوَٰنُهَا ۚ وَمِنَ ٱلْجِبَالِ جُدَدٌۢ

اوبه نورا ایستلي دي مونږ په دې اوبو میوې چه مختلف دي رنګونه د دوي او له غرو څخه لوټي دي

بِيضٌ وَحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهَا وَغَرَابِيبُ سُودٌ (٢٧) وَمِنَ ٱلنَّاسِ

سپيني او سري چه مخالف دي رنګونه د دوي او تور دي (بعضې) ډیر او له خلقو څخه

وَٱلدَّوَآبِّ وَٱلْأَنْعَٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَ ۗ إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ

او له ژوندو سرو څخه او له چارپایانو څخه چه مختلف دي رنګونه د هغه همداسې بیشکه دا خبره ده چه ویریږي له خدای څخه

مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ (٢٨) إِنَّ ٱلَّذِينَ

له بندګانو د ده څخه عالمان بیشکه چه خدای غالب دی بخښونکی دی بیشکه هغه کسان

يَتْلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَأَقَامُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُوا۟ مِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ

چه وائي کتاب د خدای او سم دروي لمونځ او خیرات کوي بعضې له هغه څخه چه ورکړي دي مونږ

سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَٰرَةً لَّن تَبُورَ (٢٩) لِيُوَفِّيَهُمْ أُجُورَهُمْ

په پټه او په ښکاره امید لري د داسې سوداګرۍ چه نه هلاک کیږي چه پوره ورکړي خدای دوی ته اجرونه د دوی

وَيَزِيدَهُم مِّن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ غَفُورٌ شَكُورٌ (٣٠) وَٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ

او زیاتوالی ورکړي دوی له فضل خپل څخه بیشکه چه دی بخښونکی دی شکر قبلونکی دی او هغه شی چه وحې کړي دي مونږ

إِلَيْكَ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ هُوَ ٱلْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ

تاته له کتاب څخه هغه حق دی رښتیا کونکی دی هغه کتابو له چه مخکښې د ده دي بیشکه چه خدای

بِعِبَادِهِۦ لَخَبِيرٌۢ بَصِيرٌ (٣١) ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَيْنَا

په بندګانو خپلو باندې خبردار دی لیدونکی دی بیا میراث پاته کړو مونږ دا کتاب هغه کسانو ته چه غوره کړي دي مونږ

مِنْ عِبَادِنَا ۖ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهِۦ وَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ

له بندګانو خپلو څخه نو بعضې له دوی څخه ظالم دی په ځان خپل او بعضې له دوی څخه میانه رو دی او بعضې له دوی څخه

سَابِقٌۢ بِٱلْخَيْرَٰتِ بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْكَبِيرُ (٣٢)

مخته کیدونکی دی نیکو ته په اذن د خدای سره دا کار دا فضل لوی دی

جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَ

جنتونه د اقامت دي ننوځي به دوی هغه ته ګینه دار کیږي به دوی په هغه کښې له بالو له سرو زرو څخه

ـله یعني هغه څوک چه علم معرفت لري هغه له خدای څخه ویریږي ابن عباس رضي الله تعالی عنهما ویلي دي چه علماء هغه دي چه پوهیږي چه الله تعالی په هر شي باندې قادر دی په دې آیت د عکرمه کښې د ابن عباسؓ دا قول دی چه عالم بالرحمن په بندګانو کښې هغه سړی دی چه له الله تعالی سره هیڅ شی نه شریکوي وحلال حلال بولي او حرام حرام بولي او حکم د الله تعالی پر ځای کوي او یقین لري چه زه به الله تعالی ته حاضریږم او د عملو حساب به ورکوم سعید ابن جبیرؒ ویلي دي چه ویره له الله تعالی څخه دا ده چه تا له نافرماني د خدای څخه منع کوي ۱۲ ابن کثیرؒ ۲ـله مراد له دې کسانو څخه صحابه کرامؓ او تابعین او صالحین دي د امت محمدي صلی الله علیه وسلم تر قیامته پورې اللّٰهم صل علی روح سیدنا محمد في الأرواح وعلی جسده في الأجساد وعلی قبره في القبور وعلی آله وصحبه وسلم ۱۲

۳ـله یعني مونږ حکم کړی دی او مقرره کړې موده د دې چه وارثان د دې قرآن کریم به وروسته له رسول کریم صلی الله علیه وسلم څخه عالمان د دې امت شي ۱۲ فتح البیان ۴ـله ابن کثیرؒ ویلي دي چه الله تعالی دا امت په درې قسمه کړي دي یو ظالم لنفسه هغه دی چه بعضې واجب ورڅخه پاته وي او پر بعضو محرماتو اخته وي دوهم مقتصد هغه دی چه واجبات کوي او له حرامو څخه ځان ساتي او بعضې مستحبات ورڅخه فوتیږي او بعضې مکروهات ورڅخه صادریږي دریم سابق بالخیرات هغه دی چه ټول واجبات مستحبات کوي او ټول محرمات او مکروهات او بعضې مباحات هم پریږدي رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي چه سابق بالخیرات هغه خلق دي چه بې حسابه جنت ته ځي او مقتصد هغه دي چه حساب به پرې آسان وي او ظالم لنفسه هغه چه په میدان د محشر کښې بهتر ډیري موده پورې په غمو کښې به پاته وي بیا به په اخیر کښې په رحمت د الله تعالی سره جنت ته داخل شي او وبه وائي چه الحمد لله الذي أذهب عنا الحزن یعني حمد دی هغه ذات لره چه لیرې ئي کړلو مونږ څخه خفګان (غم) ۱۲ ابن کثیرؒ

لُؤْلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٣٣﴾ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ

او په ملغلرو باندې او جامې د دوی به په هغه کښې ريښمي وي او وائي به دوی چه ثنا ده هغه خدای لره چه لرې يې بوتلې

عَنَّا الْحَزَنَ ۖ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ ﴿٣٤﴾ الَّذِي أَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ

له موږ نه خفگان بیشکه چه رب زموږ خامخا بخښونکی شکر قبلونکی دی هغه ذات دی چه ديره يې کړو موږ ځاې د استوګنې کښې

مِنْ فَضْلِهِ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴿٣٥﴾

له فضل خپل نه نه رسيږي موږ ته په دې کښې هيڅ تکليف او نه رسيږي موږ ته په دې کښې ستوماني

وَالَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ نَارُ جَهَنَّمَ لَا يُقْضَىٰ عَلَيْهِمْ فَيَمُوتُوا وَ

او هغه کسان چه کافران شوي دي دوی لره دی اور د دوزخ حکم به نه کیږي پر دوی چه مړه شي او نه به

لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِنْ عَذَابِهَا ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِي كُلَّ كَفُورٍ ﴿٣٦﴾ وَهُمْ

سپکیږي له دوی نه له عذابه د دې دوزخ هم داسې موږ جزا ورکوو هر یو ناشکره ته او دوی به

يَصْطَرِخُونَ فِيهَا رَبَّنَا أَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِي كُنَّا

فرياد کوي په دې دوزخ کښې ای ربه زموږ وباسه موږ چه عمل وکړو نیك بې له هغه نه چه وو موږ

نَعْمَلُ ۚ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ ۖ

چه کول به مو ایا عمر نه و ورکړې موږ تاسو ته دومره قدر چه پند اخلې به په هغه کښې څوك چه پند اخلې او راغلی وو تاسو ته ویرونکی

فَذُوقُوا فَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ نَصِيرٍ ﴿٣٧﴾ إِنَّ اللَّهَ عَالِمُ غَيْبِ السَّمَاوَاتِ

نو وڅکئ عذاب نو نشته ظالمانو لره هيڅ مددګار بې شکه چه خدای عالم دی پر غیب د آسمانو باندې

وَالْأَرْضِ ۚ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٣٨﴾ هُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ

او د ځمکې باندې بیشکه چه دی عالم دی په خبرو د سينو باندې دی هغه ذات دی چه ګرزولي يې تاسو خليفګان

فِي الْأَرْضِ ۚ فَمَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ۖ وَلَا يَزِيدُ الْكَافِرِينَ كُفْرُهُمْ

په ځمکه کښې نو هر څوك چه کافر شو نو پر ده دې ضرر د کفر ده او نه زیاتوي کافرانو لره کفر د دوی

عِنْدَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا ۖ وَلَا يَزِيدُ الْكَافِرِينَ كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ﴿٣٩﴾

په نزد د رب د دوی مګر غضب او نه زیاتوي کافرانو لره کفر د دوی مګر تاوان

قُلْ أَرَأَيْتُمْ شُرَكَاءَكُمُ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ

ووايه ته ایا وینئ تاسو شريکان ستاسو هغه چه بولئ يې تاسو بې له خدای نه

ف ١

او داسې به وائي چه ای ربه زموږ ترآخره پورې ١٢

ف ٢

په حدیث شریف کښې راغلي دي چه مراد له دې عمر نه شپیته کاله دي. او بعضو څلویښت کاله ویلي دي. په حدیث شریف کښې راغلي دي چه په ورځ د قیامت به د آواز وشي چه د شپیتو کالو خاوندان چیرې دي ١٢ ١٢ ١٢ ١٢

ف ٣

په دې آیت شریف کښې الله تعالی په مشرکانو باندې دلیل قائم کړو وئ ویل د امعبودان چه تاسو يې عبادت کوئ ما ته وښیئ چه د دوی څه شراکت دې له خدای سره ایا ځمکه یا آسمانونه يې پیدا کړي له خدا سره. یعنې هیڅ شی يې نه دې پیدا کړي او نه يې وس سته او هیڅ کتاب داسې نشته چه په هغه کښې شرك او کفر جائز وي بلکه دوی په خبرو د ځوانو خلقو باندې غلیدلي دي چه موږ ځکه د دوی عبادت کوو چه زموږ سپارښت به وکړي خدای ته او دا خبره دروغ ده او فریب دی ١٢

ع ١١ ١٦

فوائد سلفیه

ع ٥ او راغلی وو تاسو ته ویرونکی چه پیغمبر یا قرآن یا بل کتاب یا مرګ یا سپین ویښته. نو دوی به وائي چه هو عمر دی راکړې وو او ویرونکی هم راغلی وو. نو به الله تعالی ورته ووائي چه فَذُوقُوا الآيَة ١٢

یسیر

أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا مِنَ الْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ ۚ أَمْ
چه وښیئ ماته چه کوم شی پیدا کړی دی دوی له ځمکې څخه او که دی دوی لره شراکت په اسمانو کښې او که
آتَيْنٰهُمْ كِتٰبًا فَهُمْ عَلٰى بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ بَلْ إِنْ يَعِدُ الظّٰلِمُونَ بَعْضُهُمْ
ورکړی دی مونږ دوی ته کتاب نو دوی په ښکاره دلیل دی له هغه څخه بلکه نه کوی وعده ظالمان بعضے د دوی
بَعْضًا إِلَّا غُرُورًا ﴿٤٠﴾ إِنَّ اللّٰهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ أَنْ تَزُولَا ۚ
له بعضو نو سره مګر د غلولو بیشکه چه خدای ساتی اسمانونه او ځمکه له دی څخه چه بی ځایه سی
وَلَئِنْ زَالَتَا إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهٖ ۚ إِنَّهٗ كَانَ حَلِيمًا
او که بی ځایه شی دواړه نو وبه نه ساتی دا دواړه هیڅوک پس له ده څخه بیشکه دا خدای دی خاوند د حلم
غَفُورًا ﴿٤١﴾ وَأَقْسَمُوا بِاللّٰهِ جَهْدَ أَيْمٰنِهِمْ لَئِنْ جَاءَهُمْ نَذِيرٌ
بخښونکی دی او قسمونه به خوړل په خدای سره په سختو قسمو سره د دوی که راغلی دوی ته یو ویرونکی نو شی دوی خامخا
لَّيَكُونُنَّ أَهْدٰى مِنْ إِحْدَى الْأُمَمِ ۚ فَلَمَّا جَاءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ
به لاره بیا کونکی له یو د پخوانو امتو څخه نو هر کله چه راغلی دوی ته ویرونکی نو زیات نه کړل هغه دوی مګر
إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾ اسْتِكْبَارًا فِي الْأَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ ۚ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ
له حقه تیښتی له حق څخه په سبب د تکبر سره په ځمکه کښې او د مکر بد له او نه چاپیره کیږی مکر
السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهٖ ۚ فَهَلْ يَنْظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ ۚ فَلَنْ تَجِدَ
بد مګر په کونکو د هغه باندی نو انتظار نه کوی دوی مګر طریقې د پخوانو خلقو نو ګوره سره به پیدا نه کړی
لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَبْدِيلًا ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّتِ اللّٰهِ تَحْوِيلًا ﴿٤٣﴾ أَوَلَمْ يَسِيرُوا
طریقې د خدای لره بدلون او لسره به پیدا نه کړی ته طریقې د خدای لره بدلید له ایا نه ګرځی دوی
فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَكَانُوا
په ځمکه کښې نو چه وګوری چه څرنګه شوه اخیر کار د هغو کسانو چه مخکې له دوی څخه وو او وو دوی
أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۚ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعْجِزَهٗ مِنْ شَيْءٍ فِي السَّمٰوٰتِ
ډیر سخت له دوی څخه په قوت کښې او نه دی خدای داسې چه عاجزه کړی دی هیڅ شی په اسمانو کښې
وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ إِنَّهٗ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿٤٤﴾ وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ
او نه په ځمکه کښې بیشکه چه دا خدای دی عالم قادر له او که چیری ونیولی خدای له دا خلق

۵١
روایت دی چه قریشو وویل مخکې له بعثت د رسول الله صلی الله علیه وسلم چه اهل کتابو خپلو رسولانو تکذیب وکړ نو دوی وویل چه لعنت د خدای دی وی پر یهودو او نصاراؤ چه د خدای رسولان ئې ونه منل قسم دی که مونږ ته رسول راغلی وای نو خامخا به مونږ د دوی پر سیمو وو پر لاره له هر یوی د دوو ډلو څخه بیا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پیدا شو او دوی ونه مانه نو نازل شو چه وَأَقْسَمُوا بِاللّٰهِ الآیة ۱۲ یسیر ۲ له رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه ځان بچ کړئ له بد مکر څخه نو په تحقیق بد فریب چاپیره کیږی له هغه چا څخه چه کړی ئې وی او له طرفه د الله تعالی به ور څخه پوښتنه وکړل شي چه دا دی ولې کول لکه چه حدیث شریف دی مَن نوقش فِي الحِسَابِ لَهَلَكَ. له چا سره چه سختي وشي په حساب کښې نو دهغه لپاره هلاکت دي محمد ابن کعب ویلی دی چه دري کارونه چه چا وکړل نو هغه به نجیله کښې ګرفتار شي او ور څخه خلاص به نه شي یو بد فریب دویم پر چا زیاتی کول دریم وعده ماتول ۱۲ ابن کثیر ۳ له نو هر کله چه دوی پر سیمه طریقه نه منی نو د پخوانو په شان به عذاب پر راشي ۱۲ وحیدي ۴ له څوک کله د توان لري چه له ږیم د ده له حکمه څخه بهر ووزي ۱۲ ۵ له عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه ویلي دي چه نږدی ده چه سمسارکه په خپل غار کښې په عذاب شي په سبب د بدو عملو د انسانانو بیا ئې دا ایت وویله چه وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ الآیة رواه ابن ابي حاتم ۱۲ ابن کثیر رح

بِمَا كَسَبُوا مَا تَرَكَ عَلَىٰ ظَهْرِهَا مِن دَابَّةٍ وَلَٰكِن يُؤَخِّرُهُمْ إِلَىٰ أَجَلٍ

پر هغه چه دوی ئې کوی نو پرېنښې ئې نه وو پر شا د دې ځمکې هیڅ ګرزیدونکی ولکن وروسته کوی ئې تر هغې نیټې

مُّسَمًّى ۚ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِعِبَادِهِ بَصِيرًا ﴿٤٥﴾ ع

پر نامه کړی شوې پورې نو هر کله چه راغلې اجل د دوی نو بیشکه خدای دی پر بندګانو خپلو باندې لیدونکی

٥ ع ٨ ١٧

سُورَةُ يٰسٓ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثٌ وَّثَمَانُونَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوعَاتٍ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

يس ﴿١﴾ وَالْقُرْآنِ الْحَكِيمِ ﴿٢﴾ إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٣﴾ عَلَىٰ صِرَاطٍ

خدای ته ښه خبر دی معنی د دې قسم دی په قرآن محکم باندې بیشکه چه ته خامخا له لېږل شویو څخه ئې پر لاره

مُّسْتَقِيمٍ ﴿٤﴾ تَنزِيلَ الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ ﴿٥﴾ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّا أُنذِرَ آبَاؤُهُمْ

سمه باندې نازل شوی دی له غالب مهربان خدای څخه چه وویروې ته هغه قوم چه نه دی ویرول شوی پلاران د دوی

فَهُمْ غَافِلُونَ ﴿٦﴾ لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلَىٰ أَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٧﴾

نو دوی نا خبره دی خامخا په تحقیق واجبه شوې ده خبره د عذاب پر ډیرو د دوی باندې نو دوی ایمان نه راوړي

إِنَّا جَعَلْنَا فِي أَعْنَاقِهِمْ أَغْلَالًا فَهِيَ إِلَى الْأَذْقَانِ فَهُم مُّقْمَحُونَ ﴿٨﴾

بیشکه چه مونږ ګرزولي دي مونږ په غاړو د دوی کښې طوقونه نو هغه رسیدلي دي زنو ته نو دوی سر پورته کړل شوی دي

وَجَعَلْنَا مِن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ

او ګرزولې ده مونږ پر مخ د دوی پرده او له شا د دوی پرده نو پټې کړې دي مونږ سترګې د دوی

فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿٩﴾ وَسَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ

نو نه وینی حق او برابره ده پر دوی که ویروې ته دوی او که نه

تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠﴾ إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ وَخَشِيَ

ویروې ته دوی ایمان نه راوړي دوی بیشکه دا خبره ده چه ویروې ته هغه څوک چه اتباع کوي د قرآن او ویریږي

الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ ۖ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ ﴿١١﴾ إِنَّا نَحْنُ

له خدای څخه په پټه سره نو زیری ورکړه ده ته په بخښنه سره او په اجر نیک سره بیشکه چه مونږ

له حضرت ابو هریره رض څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه هر چا چه سورة یٰسٓ د شپې پوره ووایه نو دی به په سهار کښې په داسې حال کښې داخل شي چه ګناهونه به ئې بخښل شوي وي او هر چا چه حٰمٓ الدخان د شپې ووایه نو دی به په سهار کښې داخل شي چه بخښلی شوی به وي. ابن حبان رض له جندب ابن عبد الله رض څخه روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه سورة یٰسٓ د شپې هر چا تلاوت کړ لپاره د رضا د خدای نو د ده ګناهونه به وبخښل شي. امام احمد رح له معقل ابن یسار رض څخه روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه ووائې تاسو سورة یٰسٓ په نزد د مړو یعنې چه د چا ځنکدن نزدې وي. ابن عباس رض روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه زما دا خوښه ده چه زما دا خوښه ده چه زما په امت کښې د هر یو په سینه کښې دا سورت پروت وي. علماؤ ویلي دي چه د دې سورت یو خاصیت دا دی چه د هر مشکل په نیت سره ولوستل شي نو الله تعالی به ئې اسان کړي او که مړي ته وویل شي نو الله تعالی به رحمتونه پرې نازل کړي او روح به ئې په اسانۍ سره ووځي ۱۲ ابن کثیر

ك٢ نقل دي چه ولید ابن مغیره وویل چه زه حٰمٓ او محمد پر کافرو باندې وشرم هر کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راتږدې شو نو الله تعالی ئې سترګې ړندې کړې چه هیڅ ئې نه لیدل نو بیرته نا امیده خپل قوم ته راغلی او هغوی ئې هم نه لیدل نو هغوی ورباندې اواز وکړ چه اولی ده ورته دا حال بیان کړ دا ایت شریف په حق د هغه کښې راغلی دي چه وَجَعَلْنَا الایة ۱۲ روح

نُحْيِ الْمَوْتٰى وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوْا وَاٰثَارَهُمْ ۣؕ وَكُلَّ شَيْءٍ
ژوندی کوو مړی اولیکو هغه چه مخکے لیږلی دی دوئ اوشاترپاتے عملونه دوئ ع اوهرشی

اَحْصَيْنٰهُ فِيْٓ اِمَامٍ مُّبِيْنٍ ﴿١٢﴾ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا
شمارلی دی مونږ هغه په پیشوا ښکاره کښی چه لوح محفوظ دے اوبیان کړه دی خلقوته یو مثال

اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ ۘ اِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿١٣﴾ اِذْ اَرْسَلْنَآ
داوسیدونکو دکلی هغه وخت چه راغلل هغه ته لیږلی شوی هغه چه ولیږل مونږ

اِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوْهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوْٓا اِنَّآ
هغوی ته دوه کسه نو نسبت د دروغو وکړو دوی د داوړو ته نو قوی موکړل دریم سړی نو وویل دوی چه بیشکه مونږ

اِلَيْكُمْ مُّرْسَلُوْنَ ﴿١٤﴾ قَالُوْا مَآ اَنْتُمْ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۙ وَمَآ اَنْزَلَ الرَّحْمٰنُ
تاسوته لیږلی شوی یو وویل هغوی چه نه ئی تاسو مګر سړی په مثل زمونږ اونه دی نازل کړی خدای

مِنْ شَيْءٍ ۙ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا تَكْذِبُوْنَ ﴿١٥﴾ قَالُوْا رَبُّنَا يَعْلَمُ اِنَّآ اِلَيْكُمْ
هیڅ شی نه ئی تاسو مګر دروغ وائی وویل پیغمبرانو رب زمونږ پوهیږی چه مونږ تاسوته

لَمُرْسَلُوْنَ ﴿١٦﴾ وَمَا عَلَيْنَآ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿١٧﴾ قَالُوْٓا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ لَئِنْ
خامخا لیږلی شوی یو اونسته پرمونږ مګر رسول ښکاره وویل هغه خلقو چه بیشکه مونږ بدفالی کړیده په تاسو تا

لَّمْ تَنْتَهُوْا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٨﴾
که منع نه شوئ تاسو نو خامخا به سنګسار کړو تاسی او خامخا به مسه کړی تاسو له مونږ څخه عذاب دردناک

قَالُوْا طَآئِرُكُمْ مَّعَكُمْ ۭ اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ ۭ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ
وویل پیغمبرانو چه بدفالی ستاسو له تاسو سره ده ایا که پند درکول کیږی تاسوته بلکه تاسو یو قوم ئی

مُّسْرِفُوْنَ ﴿١٩﴾ وَجَآءَ مِنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَّسْعٰى
اسراف کونکی اوراغلی له پایه د هغه ښهر څخه یو سړی چه راتلو غستل ئی ٣ه

قَالَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٢٠﴾ اتَّبِعُوْا مَنْ لَّا يَسْـَٔلُكُمْ
وئی ویل ای قومه زما اتباع وکړئ دلیږلی شویو اتباع وکړئ د هغه چا چه نه غواړی له تاسو څخه

اَجْرًا وَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿٢١﴾
مزدوری او دوی لاره پیدا کونکی دی

وقف غفران
آثار په معنی د قدموهم راغلی دے نو معنی دا به شوه چه لیکو مونږ هغه قدمونه د دوئ چه په نیک کار پسی ئی اخلی په حدیث شریف راغلی دی چه یوه ټولی له
ع ١ ١٢
١٨ اصحابو کرامو څخه اراده وکړه چه کورونه نژدی حرم شریف ته جوړ کړے چه مسجد نبوی ته نژدی یو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم پر دی خبر شو
وقف لازم
نو دوی ئی را وغوښتل بیان ئی وویل ورته چه یا بنی سلمه دیارکم تکتب آثارکم یعنی ای بنی سلمه لازم اوسئ له خپلو کورو سره لیکل کیږی قدمونه ستاسو. مطلب دا چه څومره ستاسو قدمونه زیاتیږی
وقف غفران
هغه قدر ثوابونه زیاتیږی ١٢ روح البیان واسباب النزول غیره
٢ یعنی تاسو چه مونږ ته غلی ئی نو باران پر مونږ بند شو نو تاسو ولاړ شئ چه بیار را باندی اباد شی ١٢ روح البیان
٣ نوم د هغه حبیب نجار وو چه په اول کښی هغه پردو باندی ایمان راوړے وو روایت دی چه دا حبیب نجار په اصل کښی جولا وو چه ریښمی کپړی به ئی جوړولی او نژدی ښهر ته په یو غار کښی به ئی عبادت د خدای کاوه هرکله چه ئی دا قصه د دے پیغمبرانو واوریده نو په منډه شو راغلی ٢ عه یعنی هغه عمل چه وروسته له مرګه ورپسی رهیږی که د خیر وی لکه تصنیف تدریس یا نهر کښل یا کوهی کښل یا مسجد جوړول یا لاره جوړول یا وقف کول د څکے هدیره یا مدرسه جوړول او دامی نور د خیر کارونه او که د شر وی لکه د ناجائز کار و بنیاد ښوول لکه حاکمان د دی زمانی چه هر یو شی ناروا عمل جاری کړی په ناروا سره ١٢ تیسیر

وَمَا لِيَ لَآ أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٢﴾ ءَأَتَّخِذُ

او څه دی ما لره چه عبادت به نه کوم د هغه خدای چه پیدا کړی ئی یم زه او هغه ته به بیرته بوتلل شئ تاسو ایا و نیسم

مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً إِن يُرِدْنِ الرَّحْمَٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّي شَفَٰعَتُهُمْ

بی له هغه نه نور معبودان که اراده وکړی پرما باندې خدای د ضرر دفع به نه کړی له ما نه شفاعت د دوی

شَيْـًٔا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ إِنِّيٓ إِذًا لَّفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٢٤﴾ إِنِّيٓ ءَامَنتُ

هیڅ شی او نه به خلاص کړی ما بیشکه زه به په دغه وخت کښې خامخا په ګمراهۍ ښکاره کښې یم بیشکه ما ایمان راوړی

بِرَبِّكُمْ فَاسْمَعُونِ ﴿٢٥﴾ قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ۖ قَالَ يَٰلَيْتَ قَوْمِي

په رب ستاسو باندې نو واورئ له ما نه وویل شو چه ننوځه جنت ته وویل ده ای کاشکې قوم زما

يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ ﴿٢٧﴾ وَمَآ

پوهیدلی په هغه چه بخښنه وکړه ما ته رب زما او وئی ګرزولم زه له عزت ورکړی شوو نه او نه دی

أَنزَلْنَا عَلَىٰ قَوْمِهِۦ مِنۢ بَعْدِهِۦ مِن جُندٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَمَا كُنَّا

رالیږلی مونږ پر قوم دده باندې وروسته له ده نه هیڅ لښکر له اسمان نه او نه یو مونږ

مُنزِلِينَ ﴿٢٨﴾ إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً فَإِذَا هُمْ خَٰمِدُونَ ﴿٢٩﴾

نازلونکی یعنې د لښکرو نه وو عذاب مګر او از یو نو ناڅاپه دوی مړه یخ پراته وو

يَٰحَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ ۚ مَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِۦ

ای افسوس دی پیی کافرو بندګانو باندې نه دی راغلی دوی ته هیڅ رسول مګر وو دوی په هغه پورې به

يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٣٠﴾ أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ الْقُرُونِ أَنَّهُمْ

ئی مسخرې کولې ایا نه وینی دوی چه څو مره هلاک کړی دی مونږ مخوالو دوی نه له اهل د زمانو نه بیشکه

إِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿٣١﴾ وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٣٢﴾

هغوی دوی ته بیرته نه راګرزی او نه دی ټول مګر ټول به په نزد زمونږ حاضر کړی شوی وی

وَءَايَةٌ لَّهُمُ الْأَرْضُ الْمَيْتَةُ أَحْيَيْنَٰهَا وَأَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ

او علامه دوی له ځمکه مړه ده چه ژوندی کړه مونږ دا او راویستو له دی نه دانې نو له هغه نه

يَأْكُلُونَ ﴿٣٣﴾ وَجَعَلْنَا فِيهَا جَنَّٰتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَٰبٍ وَفَجَّرْنَا

خوری دوی او پیدا کړی دی مونږ په دی کښې باغونه له خرما وو نه او له انګورو نه او جاری کړی دی مونږ

سه ۱

یعنی هغه کسان چه تاسو معبودان مقرر کړی دی د هغوی هیڅ اختیار نشته که الله تعالیٰ ما ته څه تکلیف ورسوي نو هم دی ئی نشی دفع کړې که ئی اراده و شی او که نه وي نو سپارښت د دوی به ما ته هیڅ فائده و نه رسوی او نه به می له هغې سختۍ نه خلاص کړي که چیری ما دوی معبودان مقرر کړل نو زه به په ګمراهۍ ښکاره کښې یم ځکه چه قادر نافع ضار به پریږدم او عاجز بې دسته به معبود مقرر کړم ۱۲

ابن کثیر و جامع البیان

سه ۲ وویل شوی دي چه هغه قوم دی شهید کړ او بعضو عالمانو ویلي دی چه دی الله پاك ژوندی اسمان ته وخیژولی ۱۲

موضح

سه ۳

هغه قوم په سبب د دښمنۍ سره دی شهید کړ او ده په جنت کښې هم د هغوی خیرخواهي غوښتله ویل به ئی چه که دوی ته زما حال معلوم شی نو ایمان به راوړي ۱۲ ۱۲ ۱۲

سه ۴

پرښتې د اسمان صرف د کومك لپاره د رسول الله صلی الله علیه نازلې شوی دی او نو رسابقی قومونه هر څومره چه هلاك شوی دي په هیڅ یو کښې پرښتې نه دی راغلي څوك په باد هلاك شوی دي او څوك په زلزله او څوك په تند راو څوك بیزو کیان شوی دي او بیا هلاك شوی دی ۱۲ ۱۲

تفسیر وحیدی

فِيهَا مِنَ الْعُيُونِ ﴿٣٤﴾ لِيَأْكُلُوا مِنْ ثَمَرِهِ وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ

په دې کښې له چينو څخه لپاره د دې چه وخوري دوی له ميوو د هغه څخه او نه ده پيدا کړې دا ميوه لاسو د دوی

أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٣٥﴾ سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنْبِتُ

آيا نو دوی شکر نه ادا کوي پاکي ده هغه خدای لره چه پيدا کړي ئې دي جوړې (اقسام) يعنې ټول له هغه شيانو څخه چه را زرغونوي

الْأَرْضُ وَمِنْ أَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٦﴾ وَآيَةٌ لَهُمُ اللَّيْلُ

ئې ځمکه او له ځانو د دوی څخه او له هغو څخه چه نه پوهيږي دوی او يوه علامه ده دوی لره شپه ده

نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَإِذَا هُمْ مُظْلِمُونَ ﴿٣٧﴾ وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ

چه را وباسو موږ له هغې څخه ورځ نو ناڅاپه دوی په تياره کښې وي او لمر ځي هغه ځای د قرار

لَهَا ذَلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَالْقَمَرَ قَدَّرْنَاهُ مَنَازِلَ حَتَّى عَادَ

د ده ته دا حکم د غالب عالم خدای دی او سپوږمۍ لره په اندازه کړې موږ دي لره ځايونه منزلونه تر هغه چه بيرته وګرځي

كَالْعُرْجُونِ الْقَدِيمِ ﴿٣٩﴾ لَا الشَّمْسُ يَنْبَغِي لَهَا أَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ

په شان د ښاخ د خرما زړې نه دی لمر مناسب ده لره دا چه لاندې کړي سپوږمۍ

وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴿٤٠﴾ وَآيَةٌ لَهُمْ

او نه شپه مخته کيدونکې ده له ورځې څخه او ټول ستوري په آسمان کښې لامبو وهي او يوه علامه د دوی لره دا ده

أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿٤١﴾ وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِنْ مِثْلِهِ

چه بيشکه موږ سواره کړي مو دي اولاد د دوی په بيړۍ ډکه کړې شوې کښې او پيدا کړي دي موږ دوی لره په شان د کشتۍ

مَا يَرْكَبُونَ ﴿٤٢﴾ وَإِنْ نَشَأْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيخَ لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنْقَذُونَ ﴿٤٣﴾

هغه چه دوی پرې سوريږي او که اراده وشي زموږ نو غرق به کړو دوی نو نه به وي فرياد رس دوی لره او نه به دوی خلاص کړل شي

إِلَّا رَحْمَةً مِنَّا وَمَتَاعًا إِلَى حِينٍ ﴿٤٤﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا مَا

مګر نو ئې غرقوو لپاره د رحمت له موږ څخه او لپاره د نفعې اخستلو تر وخت د مرګ پورې او هر کله چه وويل شي دوی ته چه وويريږئ له عذابه هغه

بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٥﴾ وَمَا تَأْتِيهِمْ مِنْ

چه مخکښې ستاسو دی او له هغه عذابه چه له شا درپسي راځي سبا ئې چه پر تاسو باندې به رحمت وکړل شي او نه راځي دوی ته هيڅ

آيَةٍ مِنْ آيَاتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤٦﴾ وَإِذَا قِيلَ

نخښه له نخښو د رب د دوی څخه مګر وو دوی له هغه څخه مخ ګرځونکي او هر کله چه وويل شي

له لابي ذر رض څخه روايت شوی دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل په هغه وخت کښې چه لمر پټ شو چه اے ابوذره ته پوهيږې چه لمر چيرته ولاړ شي ما وويل چه الله او د ده نبي پوهيږي رسول الله ص وفرمايل دا لمر ځي ترڅو پورې چه سجده د خدای ته وکړي تر عرش لاندې بيا اذن وغواړي نو اذن ورته وشي د بيا راختلو له طرف د مشرق څخه نو نږدې ده چه دی به سجده وکړي او قبوله به نه شي سجده د ده او اذن به وغواړي نو اذن به ورته ونکړل شي او ورته به وويل شي چه بيرته هغه ته ولاړ شه چه ورڅخه راغلې ئې نو دی به له طرفه د مغرب څخه راوخيږي نو همدا مراد دی له دې قوله د الله تعالی څخه چه والشمس تجري لمستقر لها. رسول الله ص فرمايلي دي چه مستقر د ده لاندې د عرش دی ورځ وغيره ۱۲ امام بخاري ومسلم ۱۲ روح وغيره ۲ حاصل دا چه الله تعالی فرمائي چه نه د لمر طاقت کښې دا شته چه په سپوږمۍ پسې ورسيږي او د وارو سره يو ځای شي او نه د شپې توان شته چه لمر را پريږدي او شپه شپه وي بلکه هر شی چه الله ټاکلی مقرر کړی دی هغسې کيږي ۱۲ ۳ مراد له کشتۍ څخه کشتۍ د نوح عليه السلام ده چه نه قسم قسم اسبابو او حيوانانو څخه ډکه شوې وه او ذريات هغه وو چه په شا کانو د پلرانو کښې پراته وو يعنې موږ مړدې کشتۍ کښې اول پلرانو د دوی سواره کړي وو په داسې حال کښې چه اولادونه ئې په شا کښې موجود وو ۱۲ جامع ۴ ابن عباس رضی الله عنهما ويلي دي چه تاسو پوهيږئ په معنې د دې آيت چه وخلقنا لهم من مثله ما يركبون څه ده موږ وويل نه ده وويل چه مراد له دې څخه هغه کشتۍ دي چه له نوح څخه وروسته جوړې شوې دي په شان د هغه کشتۍ ۱۲ ابن کثير يا مراد ترې څخه اوښان دي چه د وچې کشتۍ دي ۱۲ روح ۵ ما بين ايديكم يعنې هغو مخوانو واقعو ته نظر وکړئ وما خلفكم يعنې د قيامت واقعو ته نظر وکړئ

يا معنې دا چه تاسو مخکښنو او راتلونکو ګناهو ته موهکر وکړئ له ابن عباس څخه روايت دی چه له ما بين ايديكم څخه مراد آخرت دی يعنې عمل د آخرت لپاره وکړئ او له ما خلفكم څخه دنيا ده يعنې مه ئې غولوئ ۱۲ روح جامع

لَهُمْ اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ۙ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

دوی ته چې خیرات وکړئ له هغه مال نه چې درکړی دی تاسو ته خدای نو وایي هغه کسان چې کافر شوي دي هغه کسانو ته چې ایمان یې راوړی

اَنُطْعِمُ مَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ اَطْعَمَهٗٓ ۖ اِنْ اَنْتُمْ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۴۷﴾

ایا مونږ طعام ورکړو هغه چا ته چې که اراده شوې وای د خدای طعام به یې ورکړی و، نه یئ تاسو مګر په ګمراهۍ ښکاره کښې

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۸﴾ مَا يَنْظُرُوْنَ

او وائي دوی چې کله به وي دا وعده د قیامت که یئ تاسو رښتیني — انتظار نه کوي دوی

اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً تَاْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُوْنَ ﴿۴۹﴾ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

مګر اواز یو ته چې ونیسي به دوی او دوی به جګړې کوي — نو طاقت به نه لري دوی

تَوْصِيَةً وَّلَآ اِلٰٓى اَهْلِهِمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۵۰﴾ ع ۳ وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَاِذَا هُمْ

د وصیت کولو او نه به اهل خپل ته بیرته ورځي — او پو کړل شي به شپیلۍ کښې نو ناڅاپه دوی به

مِّنَ الْاَجْدَاثِ اِلٰى رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ ﴿۵۱﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَا مَنْۢ بَعَثَنَا

له قبرو نه رب خپل ته زغلي — وائي به دوی افسوز دی مونږ لره — چا راپورته کړو مونږ

مِنْ مَّرْقَدِنَا ۜ هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۵۲﴾ اِنْ كَانَتْ

له ځایه د خوب زمونږ نه دا هغه ده چې وعده ئې کړې وه خدای او رښتیا ویلي وو پیغمبرانو — نه وه دا نفخه

اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمْ جَمِيْعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَالْيَوْمَ

مګر اواز یو دی — نو ناڅاپه دوی به ټول به نزد زمونږ حاضر کړل شي — نو نن ورځ به

لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا وَّلَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۴﴾ اِنَّ اَصْحٰبَ

ظلم نه کیږي پر هیڅ نفس د هیڅ شي او نه به جزا درکول کیږي تاسو ته مګر د هغه چې وئ تاسو چې کول به مو — بیشکه چې یاران د

الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِيْ شُغُلٍ فٰكِهُوْنَ ﴿۵۵﴾ هُمْ وَاَزْوَاجُهُمْ فِيْ ظِلٰلٍ عَلَى

د جنت به نن ورځ په معاش کښې خوند اخستونکي وي — او ښځې د دوی به — په سیورو کښې په

الْاَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔوْنَ ﴿۵۶﴾ لَهُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ وَّلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ﴿۵۷﴾

تختو باندې تکیه کونکي وي — وي به دوی لره په هغه کښې میوې او وي به دوی لره هغه چه غواړي ئې

سَلٰمٌ ۣ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ﴿۵۸﴾ وَامْتَازُوا الْيَوْمَ اَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۵۹﴾

سلام به وي ویل له رب مهربانه نه — او جلا شئ نن ورځ — ای کافرانو

ف ۱ یعنې خلق به د دنیا په کاروبار او خرید و فروخت کښې اخته وي او په بازار او په ځایونو ناستي کښې به د مجلسونو کوي چه ناڅاپه به قیامت پر راشي بیا د هیچا توان نه وي چه وصیت وکړي او یا به کور ته تلای شي په صحیح البخاري و مسلم کښې له ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه ناڅاپه به قیامت قائم شي په داسې حال کښې چه دوو کسانو به جامه خوره کړې وي لیا به د خرڅولو او اخستلو نو ته به نه وي خرڅه کړې او نه به ئې ونغاړي او چه قیامت به پر راشي او سړی به راشي خپل حوض ته لیا به د او ئې خښلو نو او به به نه وي څښلي هغه نه او سړی به د اوښې خپلې شیدې راوړي وي خو به ئې نه څښي او سړی به کوله د وړي خولې ته پورته کړي او نه به ئې وخوری بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ایت کړ و دا یه چه تاخذهم وهم یخصمون — روح وغیره

ف ۲ مراد له دې شپیلۍ نه هغه دویمه شپیلۍ ده په حدیث شریف کښې راغلي دي چه د دواړو شپیلو په منځ کښې به څلوېښت کاله فاصله وي — ف ۳ له حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دی چه الله تعالیٰ به پخپله مؤمنانو ته وواي چه سلام یعنې بې له واسطې دبل چا نه ئې ورکړي بیا الله نصیراً ۱۲ — روح وفتح

أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَا بَنِي آدَمَ أَن لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطَانَ ۖ إِنَّهُ لَكُمْ

آيا حکم نه وو کړی ما تاسو ته ای امنو د آدم چه عبادت مه کوئ د شیطان بیشکه چه دی تاسو لره دښمن

عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٦٠﴾ وَأَنِ اعْبُدُونِي ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ

ښکاره دی او چه عبادت کوئ زما دا عبادت زما لاره ده سمه او خامخا په تحقیق

أَضَلَّ مِنكُمْ جِبِلًّا كَثِيرًا ۖ أَفَلَمْ تَكُونُوا تَعْقِلُونَ ﴿٦٢﴾ هَٰذِهِ جَهَنَّمُ

گمراه کړی وو ده له تاسو څخه خلق ډیر آیا نو نه وی تاسو چه پوهیدلی دا چه دی هغه دوزخ دی

الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٦٣﴾ اصْلَوْهَا الْيَوْمَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٦٤﴾

چه وی تاسو وعده بهئ درسره کیدله ننوزئ ده ته نن ورځ په سبب د هغه چه وی تاسو کافر کیدلی

الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَىٰ أَفْوَاهِهِمْ وَتُكَلِّمُنَا أَيْدِيهِمْ وَتَشْهَدُ أَرْجُلُهُم بِمَا

نن ورځ به مهر ووهو پر خولو د دوی باندے او خبرے به وکړی له مونږ سره لاسونه د دوی او شاهدی به ووائی پښے د دوی پر هغه

كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ نَشَاءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰ أَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ

چه دوی به کول ئی او که اراده شوی وای زمونږ نو خامخا محوه والی به موږ وسترګو د دوی پسے به منډه کړی وے لارے ته نو مخته شوی وو دوی لاری ته

فَأَنَّىٰ يُبْصِرُونَ ﴿٦٦﴾ وَلَوْ نَشَاءُ لَمَسَخْنَاهُمْ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَاعُوا

نو څرنګه به لیدلے ئی وی دوی هغه لاره او که اراده شوی وی زمونږ نو خامخا به مسخ کړی وو مونږ دوی پر ځایو خپلو نو طاقت به نه وو د دوی

مُضِيًّا وَلَا يَرْجِعُونَ ﴿٦٧﴾ وَمَن نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ ۖ أَفَلَا

د مخکښے تللو او نه به بیرته کیدلی شی او هر څوک چه عمر ورکړو مونږ هغه ته نسکور کړو مونږ به هغه په پیدائښت کښے آیا نو نه کړی دوی

يَعْقِلُونَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنبَغِي لَهُ ۚ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ

عقل او نه پوهیږی او نه دی ښوولی مونږ ده ته شعر او نه ښائیده ده لره شعر ویل نه دی دا قرآن مګر پند دی

وَقُرْآنٌ مُّبِينٌ ﴿٦٩﴾ لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيًّا وَيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى

او قرآن دی ښکاره لپاره ددے چه وویروی هغه کس چه وی ژوندی او واجبه شی خبره د عذاب پر

الْكَافِرِينَ ﴿٧٠﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا

کافرانو باندے او نه وینی دوی چه بیشکه مونږ پیدا کړی مو دی دوی لره هغه څه چه جوړ کړی دی لاسو زمونږ چارپایان

فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلْنَاهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا

نو دوی هغه لره مالکان وي او تابع کړی مو دی هغه دوی لره نو بعضے له هغو څخه سوارلی د دوی دی او بعضے له هغو څخه

وقف غفران

۴ ع ۱۷ ۳

له له حضرت انس رض څخه روایت دے چه مونږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو چه ناڅاپه ئی وخندل بیائی وویل چه تاسو پوهیږئ چه ما په څه شی وخندل نو مونږ وویل چه خدائے او رسول ئی ښه پوهیږی رسول الله وویل چه زه می خندل په خبرو د بنده له رب خپل سره چه وبه وائی دے ای ربه زما تا زه په امن کښی کړی یم له ظلم څخه نو الله تعالی به ورته ووائی چه هو نو بنده به ووائی چه زه نه قبلوم شاهد پر ځان خپل مګر چه شاهد هم له ځانه زما څخه وي نو الله تعالی به ورته ووائی چه بس دی کرام الکاتبین او ځان ستا پر تا باندے شاهدان نو مهر به ووهل شی پر خوله د ده باندے او وبه ویل شی اندامو د ده ته چه ګویان شئ نو هغوی به شاهدی د عملو د ده پر ده باندے ووائی بیا به ژبه د ده ګویا نه شی چه دی به ورته ووائی چه هلاک دی وی تاسو لره ما خو هم ستاسو لپاره جګړه کوله یعنی چه ستاسو نه عذاب څخه به شی خو تاسو نجیله اقرار وکړ نو په دوزخ کښی واوس سوځئ ۱۲ صحیح مسلم وروح البیان ۲ حاصل دے ایتو دادی چه د امنافقانو او کافرانو دے لائق دی چه سخت عذابونه پرے نازل شی او ړانده شی او صورتونه ئی مسخ شی ولیکن مونږ ئی په دوی کار و نه مونږ ته اسانه دے مګر زمونږ مهربانی ده چه دوی ته مو مهلت ورکړی دی ۱۲ ۳ حاصل دا چه وخت د زوړوالی کښی هر یو قوت کم شی د لاسو پښو دماغ او هر څه ئی ضعف راشی حتی په ډیر زوړوالی کښی د ورکوالی په شان کمزوری شی ۱۲ منه ۴ له ابن عباس رض او له نورو څخه هم روایت دی چه اولاد د عبدالمطلب نه او بنځو به شعر وایه بی له رسول الله ص څخه چه ده ص شعر نه شو ویلی او دا چه ده ص ویلی دی أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ. أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ او یا نور داسی مقفی عبارتونه چه له خولی د ده څخه صادر شوی دا بی له قصد او تکلف د ده څخه صادر شوی دی او شعر ویل خکه له ده سره لائق نه وو چه په هغه کښی اکثر دروغ ویل او بد بنائسته کول او ښائسته بد ول دي او په تکلیف سره قافئ برابرول دی او دا کار له شانه د پیغمبر علیه الصلوات والتسلیمات سره بالکل لائق نه دے ۱۲ روح وجلع

يَأْكُلُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ۚ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾ وَاتَّخَذُوا

خوړ کړي دوئ او سته دوئ لره په هغه کښې نفعې او شیان د څښلو ایا نو دوی شکر نه ادا کوي او نیولي دي دوئ

مِنْ دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لَعَلَّهُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ

بې له خدای څخه معبودان سنائي چه له دوی سره به مدد وکړل شي طاقت نه لري هغوی د مدد د دوی

وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ مُحْضَرُونَ ﴿٧٥﴾ فَلَا يَحْزُنْكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّا نَعْلَمُ مَا

او دا معبودان به دوی لره لښکر وحاضر کړی شوي نو خفه دې نکړي تا خبرې د دوی بیشکه مونږ پوهیږو په هغه

يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٦﴾ أَوَلَمْ يَرَ الْإِنْسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِنْ نُطْفَةٍ

چه پټوي ئې پټ کوي او پر هغه چه دوی ئې ښکاره کوي ایا نه ویني انسان چه بیشکه مونږ پیدا کړی دی مونږ دی له نطفې څخه

فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُبِينٌ ﴿٧٧﴾ وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ

نو ناګاه دی جګړه کونکے دی ښکاره او بیانوي دی مونږ لره یو مثال او هیر کړی دی ده پیدا ئېښت خپل وائي دی

مَنْ يُحْيِي الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾ قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنْشَأَهَا أَوَّلَ

څوك به ژوندي کړي دا هډوکي او دا وراسته دي ووایه چه ژوندي به کړي دا هغه ذات چه پیدا کړي دي دا وړمبي

مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾ الَّذِي جَعَلَ لَكُمْ مِنَ الشَّجَرِ

وار او دی پر هر قسم پیدا ئېښت عالم دی هغه ذات چه پیدا کړی ئې دی تاسو لره له ونې (درختې)

الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَا أَنْتُمْ مِنْهُ تُوقِدُونَ ﴿٨٠﴾ أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ

شنې څخه اور نو ناګاه تاسو له هغه څخه اور بلوئ ایا نه دی هغه ذات چه پیدا کړی ئې دی

السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَنْ يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ ۚ بَلَىٰ وَهُوَ الْخَلَّاقُ

اسمانونه او ځمکه قادر پر دي چه پیدا کوي مثل د دوئ هو دی او دی پیدا کونکی دی

الْعَلِيمُ ﴿٨١﴾ إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾

عالم دی بیشکه دا خبره ده چه حکم د ده هر کله چه اراده وکړي د یو شي دي چه ووائي هغه ته چه شه نو جوړ شي

فَسُبْحَانَ الَّذِي بِيَدِهِ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾

هغه خدای لره چه په لاس د ده کښې پاچاهي د هر شي ده او ده ته به بیا نو تلل شي تاسو ته

سُورَةُ الصَّافَّاتِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَاثْنَتَانِ وَثَمَانُونَ آيَةً وَخَمْسُ رُكُوعَاتٍ

وقف غفران

ع ١٦/٥ ۔ ٤

ف ١

روایت شوی دی چه یو ورځ ابي ابن خلف رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلی او په لاس کی ئې یو وروست هډوکی راخستی وو. او هغه ئې رژاوه. او وئې ویل ای محمده صلی الله علیه وسلم، ایا دا هډوکی به خدای پاك بیا ژوندی کړي او حال دا چه دی وروست دی؟ نو محمد صلی الله علیه وسلم ورته وویل چه هو. او تا به هم بیا ژوندی کړي او په دوزخ کښې به دې داخل کړي. نو دا ایت شریف په حق د هغه خبیث کښې نازل شوی وو چه اولم یر الانسان الاية روح البیان واسباب النزول

ف ٢

په عربستان کښې دوه درختې کیږي چه د یوې نوم مرخ او د بلې نوم عفار ده ښکاره خاصه د هغو دا ده چه دوه لښتې د هغو څخه را واخستل شي او یوه پر بله و مښل شي چه شنې وي دواړه نو په قدرت د خدای سره له هغه څخه اور را پیدا شي مرخ نر دی او غفار ښځه ده ۱۲ روح

ف ٣

فضائل د سورت یٰسٓ چه په احادیثو سره ثابت شوی دی ډیر زیات دی. په حدیث شریف کښې راغلی دی چه په تحقیق هر شي لره زړه وي او زړه د قران یٰسٓ دی ۱۲ روح البیان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د خدای چه ښه بخښونکی ډیر مهربان دی

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ﴿۱﴾ فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ﴿۲﴾ فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ﴿۳﴾ اِنَّ اِلٰهَكُمْ

قسم دی په هغه پرښتو چه صف تړونکی دی په صف دروله او قسم دی په هغو چه شړونکو دی شیطانانو لره په شړلو سره او قسم دی په هغو چه ویونکو دی د ذکر لره بیشکه معبود ستاسو

لَوَاحِدٌ ﴿۴﴾ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ﴿۵﴾

خامخا یو دی رب د اسمانو دی او د ځمکې دی او د هغه څه چه په منځ د دې دواړو کښې دي او رب د مشرقو دی

اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِزِيْنَةِ ِنالْكَوَاكِبِ ﴿۶﴾ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطٰنٍ

بیشکه چه مونږ ښائسته کړی دی دا اسمان په ښائست سره چه ستوري دي او په ساتنه سره له هره شیطانه

مَّارِدٍ ﴿۷﴾ لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ

چه سرکښه وی غوږ نه نیسی د اپیریان هغه ډلې لوئې ته او ویشتل کیږی دوی له هره

جَانِبٍ ﴿۸﴾ دُحُوْرًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ﴿۹﴾ اِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ

طرفه څخه لپاره د شړلو او شته دوی لره عذاب سخت مګر هغه څوک چه تښتول ئې وکړل تښتولو سره

فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ﴿۱۰﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ اَهُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمْ مَّنْ

نو تابع شي په ده پسې لمبه د اور روښانه کونکی نو وپوښته ته دا مشرکان چه ایا دوی سخت دی له جهته د پیدا ښت او که هغه څوک

خَلَقْنَا ۭ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ طِيْنٍ لَّازِبٍ ﴿۱۱﴾ بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُوْنَ ﴿۱۲﴾

چه پیدا کړی دی مونږ بیشکه چه مونږ پیدا کړی دی دوی له ختې سریښناکې څخه بلکه تعجب کوې ته او مسخرې کوی دوی

وَاِذَا ذُكِّرُوْا لَا يَذْكُرُوْنَ ﴿۱۳﴾ وَاِذَا رَاَوْا اٰيَةً يَّسْتَسْخِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَقَالُوْٓا اِنْ

او هر کله چه پند ورکړې شي دوی ته پند نه اخلي او هر کله چه ووینی دوی یوه علامه نو مسخرې پورې کوی او وائی دوی نه دی

هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵﴾ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿۱۶﴾

دا مګر سحر دی ښکاره ایا هر کله چه مړه شو مونږ او شو خاوري او هډوکی ایا مونږ به پورته کړل شو بیا

اَوَاٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ﴿۱۷﴾ قُلْ نَعَمْ وَاَنْتُمْ دَاخِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ

او که پلاران زمونږ مخکینی ووایه ته چه هو او تاسو به ذلیلان یئ نو بیشکه دا خبره ده چه دا قیامت چغه ده

وَّاحِدَةٌ فَاِذَا هُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَقَالُوْا يٰوَيْلَنَا هٰذَا يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿۲۰﴾

یوه نو ناګاه دوی به ګوري او وائی به دوی چه افسوس دی مونږ لره دا ورځ د جزاء ده

سلہ علامه ابن جریر لا ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کړی دی چه پخوا به شیطانانو په اسمان کښې خپل د ناستې ځایونه جوړ کړی وو په هغه کښې به کښینستل او وحی به ئې اوریدله او ستوری به دوی نه ویشتل دوی چه به د الله تعالیٰ حکم واوریدی نو ځمکې ته به راکښته شول او له هغه اصل نه یې خبرې سره به ئې نه نوی خبرې له ځانه ورته لګه په حدیث شریف کښې چه راغلی دی چه دوی به کړول له هغې سره زیاتات له سلو دروغو څخه نو به ئې خلقو ته بیانولې نو هغوی به ورباندې یقین کاوه هرکله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم پیغمبر شو نو له شیطانانو سره دا اسی کار شروع شو چه هر ځای به کښینستل نو اور به راغلی او هغوی به ئې وسوځول نو شیطانانو ابلیس ته د افریاد ونه وکړل هغه ورته وویل چه څه حادثه پیښه شوې ده ځکه د اسی کار وشو نو هر طرف ته ئې لښکرونه ولیږل لپاره د حال د راوړلو نو ځان ئې رسول الله صلی الله علیه وسلم په بطن نخله کښې په لمانځه ولاړ و نو پیریانو ولید او ابلیس ته ئې خبر ورکړ هغه وویل چه دا هغه نوی کار دی یعنی په سبب د ده د الفت پر مونږ راغلی دی ۱۲ ابن کثیر وغیره

سلہ یعنی چه په عبادت د خدای کښې صفونه صفونه ولاړ وی په ادب او احترام سره ۱۲ عه روایت دی چه هرکله رسول الله ۳ دا کمان و ده چه هر ځای چه د اقران د اوریدې نو ایمان به راوړی نو بیا چه مشرکانو د مکې وا وریدې او ایمان ئې رانه وړه بلکه لاندې مسخری ورسی کولی نو ده ډیر تعجب وکړ نو نازل شو بَلْ عَجِبْتَ الآیة ۱۲ تیسیر

هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِي كُنْتُمْ بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿٢١﴾ احْشُرُوا الَّذِينَ

دا ورځ د فيصلې ده هغه ورځ چه وئ تاسو بېړې باندې نسبت د دروغو ځه كاوه راجمع كړئ هغه كسان

ظَلَمُوا وَأَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿٢٢﴾ مِنْ دُونِ اللَّهِ فَاهْدُوهُمْ

چه ظلم ئې كړى دى او ملګري د دوئ او هغه چه وو دوئ چه عبادت به ئې كاوه بې له خدائ څخه نو لاره وښيئ دوئ ته

إِلَىٰ صِرَاطِ الْجَحِيمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ ﴿٢٤﴾ مَا لَكُمْ لَا

هغه لارې د دوزخ ته او ودروئ دوئ بيشكه چه دوئ پوښتنه ترې څخه كيدونكي دي څه مانع دې تاسو لره چه نه كوئ

تَنَاصَرُونَ ﴿٢٥﴾ بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُونَ ﴿٢٦﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ

مرسته يو له بل سره بلكه دوى به نن ورځ غاړه ايښوونكي وي او مخ به كړي بعضې د دوى

عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٧﴾ قَالُوا إِنَّكُمْ كُنْتُمْ تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ ﴿٢٨﴾

پر بعضو نورو باندې پوښتنه به يو د بل څخه كوي وبه وائي دوئ چه بيشكه تاسو وئ راتلې به مونږ ته له راسته طرف څخه

قَالُوا بَلْ لَمْ تَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٢٩﴾ وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ

وبه وائي ورته هغوئ بلكه نه وئ تاسو پخپله ايمان راوړونكي او نه وُو مونږ لره پر تاسو باندې هيڅ دليل

بَلْ كُنْتُمْ قَوْمًا طَاغِينَ ﴿٣٠﴾ فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَا إِنَّا لَذَائِقُونَ ﴿٣١﴾

بلكه وئ تاسو يو قوم سركشه نو واجبه شوه پر مونږ باندې خبره د رب زمونږ بيشكه چه مونږ څاخكونكي يو د عذاب

فَأَغْوَيْنَاكُمْ إِنَّا كُنَّا غَاوِينَ ﴿٣٢﴾ فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْعَذَابِ

نو ګمراهان كړي مونږ تاسو بيشكه چه مونږ وُو ګمراهان نو بيشكه چه دوئ به په دغه ورځ كښې په عذاب كښې

مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴿٣٤﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا

شريكان وي بيشكه چه مونږ همدا رنګه كار كوُو په كافرانو باندې بيشكه چه دوئ وُو هر كله

قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا

چه وبه ويل شو دوئ ته چه نشته بل معبود مګر خدائ دى نو تكبر به ئې كاوه او ويل به ئې آيا مونږ پريښودونكي يو

آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَجْنُونٍ ﴿٣٦﴾ بَلْ جَاءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٣٧﴾

د خدايانو خپلو لپاره د شاعر لېوني بلكه راغلى دى په حقه سره او رښتيا بولي دى پخواني رسولان

إِنَّكُمْ لَذَائِقُو الْعَذَابِ الْأَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَمَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنْتُمْ

بيشكه چه تاسو خامخا څاخكونكي ئې د عذاب دردناك او نه دركړى شي تاسو ته جزا د هغه مګر د هغه چه وئ تاسو

ع ١ / ٤١ / ٥

ف ١ ابن عباس رضه او سعيد ابن جبير رض او نورو ډيرو مفسرينو ويلي دي چه مراد له ازواجهم څخه هغه كسان دى چه د دوئ په شان وي يعني شرابخواره به له شرابخوارو سره وي او سود خواره به له سودخورو سره وي په قوت القلوب كتاب كښې ليكلي دي يو سړي له عبدالله ابن مبارك رح څخه پوښتنه وكړه چه زه خياط يم او كله كله د ظالمانو كالي ګنډم ، هم ګنهګار نو ويريږم چه له مدد ګارانو د دوئ څخه به حساب شم ابن مبارك ورته وفرمايل چه ته له مدد ګارانو د دوئ څخه نه ئې بلكه عين ظالم ئې او مدد ګاران د ظالمانو هغه كسان دي چه پر تا باندې ستنې او تار او نه خرڅوي ١٢ روح وغيره
ف ٢ په حديث شريف كښې راغلي دي چه په ورځ د قيامت كښې به هيڅ بنده له ځاى څخه قدم پورته نكړي ترڅو چه د څلورو شيانو پوښتنه ورڅخه ونشي د عمر چه په څه كښې ئې صرف كړى دى او د عمل چه څه عمل ئې كړى دئ او د مال چه په څه طريقه ئې ګټلي دى او په څه شي كښې ئې لګولي دي او د ځوانۍ چه په څه شي كښې ئې زړه كړې ده رواه الترمذي عن ابن مسعود رض
ف ٣ له ابو هريره رضي الله تعالى عنه څخه روايت شوى دى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چه ما ته حكم شوى دى چه له خلقو سره به جنګونه كوم ترڅو چه ووائي لا اله الا الله هر چا چه كلمه وويله نو هغه له ما څخه مال او ځان بچ كړل مګر په حق د اسلام كښې يعنې د كوم يو قصور په بدله كښې لكه زنا يا خون نو پر هغه به نيول كيږي) او حساب د هغه به پر خدائ باندې وي او فرمايل ئې چه خدائ تعالى په قرآن كښې ذكر د هغه كسانو وكړ چه تكبر كوي په هغه وخت كښې چه وويل شي دوى ته چه بل معبود بې له الله څخه نشته نو غرور

وكړي او دا خبره دوئ ونه منله ٢ فتح البيان ف ٣ تكبر به ئې كاوه يعني دي بدبختو به له كلمې د توحيد څخه انكار او نفرت كاوه او كفر او شرك به ئې خوښولو ١٢ منه رح

تَعْمَلُونَ ﴿۳۹﴾ إِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿۴۰﴾ أُولٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ

کول به مو مګر بندګان دخدای چه خالص کړی شوی وی دوی چه دی مقرردی دوی لره رزق

مَّعْلُومٌ ﴿۴۱﴾ فَوَاكِهُ ۚ وَهُم مُّكْرَمُونَ ﴿۴۲﴾ فِي جَنّٰتِ النَّعِيمِ ﴿۴۳﴾ عَلٰى

معلوم میوی به وی او دوی لره به عزت ورکړل شوی وی په جنتوا باد وکښی ناست به وی په

سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِينَ ﴿۴۴﴾ يُطَافُ عَلَيْهِم بِكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿۴۵﴾ بَيْضَآءَ

په تختو مخامخ سره ګرځول کیږی به پردوی کاسی له شرابو جاری څخه تک سپین به وی

لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِينَ ﴿۴۶﴾ لَا فِيهَا غَوْلٌ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ ﴿۴۷﴾

خوندور به وی څښونکو لره نه به وی په هغه کښی آفت او نه به دوی له هغه څخه بیخوده کړی شی

وَعِندَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِينٌ ﴿۴۸﴾ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ ﴿۴۹﴾

او وی به په نزد د دوی حوری کوتاه سترګی غټ سترګی ګویا که دوی چه دی هګۍ دی پټی ساتلی شوی

فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَتَسَآءَلُونَ ﴿۵۰﴾ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ

نو مخ به کړی بعضی د دوی پر بعضو نورو چه پوښتنه به وکړی یو له بل څخه وبه وائی یو ویونکی له دوی څخه

إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ ﴿۵۱﴾ يَقُولُ أَءِنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِينَ ﴿۵۲﴾ أَءِذَا مِتْنَا

چه بیشکه وو ماله یو ملګری ویل به ئی ماته ایا ته چه ئی له باور کونکو څخه ئی پر قیامت ایا هر کله چه مړه شو مونږ

وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظٰمًا أَءِنَّا لَمَدِينُونَ ﴿۵۳﴾ قَالَ هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ﴿۵۴﴾

او شو مونږ خاوری او هډوکی ایا مونږ ته به جزا ورکړل شی وبه وائی هغه ایا تاسو ځوتونکی کتونکی دوزخ ته

فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِي سَوَآءِ الْجَحِيمِ ﴿۵۵﴾ قَالَ تَاللّٰهِ إِن كِدتَّ لَتُرْدِينِ ﴿۵۶﴾

نو وبه ګوری نو وبه وینی هغه چه منځ د دوزخ کښی وبه وائی ورته چه قسم دی پر خدا چه نږدی وی ته چه هلاک دی کړی

وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ الْمُحْضَرِينَ ﴿۵۷﴾ أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ ﴿۵۸﴾

او که نه وی نعمت د رب زما نو خامخا وم به زه له حاضر کړی شویو څخه دوزخ ته ایا نو نه یو مونږ مړه کیدونکی

إِلَّا مَوْتَتَنَا الْأُولٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿۵۹﴾ إِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ

مګر هغه مرګ زمونږ اولنی او نه یو مونږ په عذاب کړی شوی بیشکه چه دا خامخا دا بری

الْعَظِيمُ ﴿۶۰﴾ لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُونَ ﴿۶۱﴾ أَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا

لوی دی مثل د دی لره نو عمل دی وکړی عمل کونکی ایا دا شی ښه دی له جهته د میلمستیا

سله ابن عباس رضی الله تعالی عنه ویلی دی چه د دنیا په شرابو کښی څلور کارونه دی. نشه سر دردی، قی، او بولی نو الله ج شراب د جنت له دی څلورو څخه پاک کړل. او یو روایت له ابن عباس څخه داسی هم شوی دی چه مراد له غول څخه د خیټی درد دی یعنی شراب د جنت به داسی وی چه د خیټی درد به نه ورځنی پیدا کیږی ۱۲ فتح البیان وغیره

سله ام سلمه رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی چه هغی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل چه د حور عین څه معنی ده نو دی صلی الله علیه وسلم وویل چه حوری غټ سترګی به وی چه په سترګو کښی به ئی سرځی او سپینوالی داسی معلومیږی لکه سپین رنګی پټوس بیائی ورڅخه پوښتنه وکړه چه كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُونٌ څه معنی. نو ده صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه داسی نازلی به وی لکه د هګۍ د ننه پرده چه ده ۱۲

تفسیر ابن کثیر

سله حضرت عبد الله ابن عباس فرمایلی دی چه هر کله الله تعالی جنتیانو ته ووائی چه اوس په خوند مره خوراک او څښاک کوئی نو دوی به عرض وکړی چه ایا مونږ لره بیا مرګ کیدل نشته که څنګه نو الله تعالی به ورته وفرمائی چه نه. نو به دوی ووائی چه إِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ۱۲ وحیدی

سله ایا دا چه مخکښی ذکر شول مخکی چه نعمتونه د جنتیانو

أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلْنٰهَا فِتْنَةً لِّلظّٰلِمِينَ ﴿٦٣﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٌ

اوکه درخته د زقوم [1] بیشکه چه مونږ ګرځولې ده دا عذاب لپاره د ظالمانو بیشکه چه دا درخته ده

تَخْرُجُ فِيٓ أَصْلِ الْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيٰطِينِ ﴿٦٥﴾

چه راوزي په بیخ د دوزخ کښې غنچه د دې درختې ګویا چه دا سرونه د شیطانانو دي نو

فَإِنَّهُمْ لَاٰكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِـُٔونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿٦٦﴾ ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ

بیشکه چه دوی به خامخا خوړونکي وي له هغې نه نو ډکونکي به وي له هغې نه خیټې لره نو بیشکه چه دوی لره به

عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيمٍ ﴿٦٧﴾ ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ ﴿٦٨﴾

په هغه باندې خامخا ګډول وي لپاره د اوبو ګرمو نه بیا بیشکه چه ورتلل د دوی به ضرور د دوزخ ته وي

إِنَّهُمْ أَلْفَوْا اٰبَآءَهُمْ ضَآلِّينَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلٰىٓ اٰثٰرِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴿٧٠﴾ وَلَقَدْ

بیشکه چه دوی پیداکړي دي پلاران خپل ګمراهان نو دوی په قدمو د هغو پسې زغلي

ضَلَّ قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ﴿٧٢﴾

او خامخا په تحقیق ګمراه شوي وو مخکې له دوی نه اکثر د اولني خلق او خامخا په تحقیق چه لیږلي وو مونږ په دوی کښې ویرونکي

فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عٰقِبَةُ الْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿٧٤﴾ ع

نو وګوره ته چه څرنګه شوا خیر کار د ویرول شویو مګر بندګان د خدای چه خالص کړي شوي وو

وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيبُونَ ﴿٧٥﴾ وَنَجَّيْنٰهُ وَأَهْلَهُ مِنَ

او خامخا په تحقیق اواز کړی وو مونږ ته نوح [2] نو خامخا ښه جواب ورکونکي یو یعنې مونږ او خلاص مو ورکړ ده ته او اهل د ده

الْكَرْبِ الْعَظِيمِ ﴿٧٦﴾ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِينَ ﴿٧٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ

تر له غمه لویه نه او وو مو ګرځول اولاد د ده دوی باقي پاته کیدونکي او پرېښوو مونږ پر ده

فِي الْاٰخِرِينَ ﴿٧٨﴾ سَلٰمٌ عَلٰى نُوحٍ فِي الْعٰلَمِينَ ﴿٧٩﴾ إِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي

په وروستنو خلقو کښې سلام دي پر نوح په مخلوقاتو کښې [3] مونږ هم دارنګ جزا ورکوو

الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿٨١﴾ ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْاٰخَرِينَ ﴿٨٢﴾

نیکي کونکو لره بیشکه چه دی له بندګانو زمونږ مؤمنانو نه وو بیا غرق کړل مونږ هغه نور خلق

وقف لازم

وَإِنَّ مِنْ شِيعَتِهِ لَإِبْرٰهِيمَ ﴿٨٣﴾ إِذْ جَآءَ رَبَّهُ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾

او بیشکه چه له ډلې د ده نه [4] خامخا ابراهیم وو هغه وخت چه راغلی دی رب خپل ته په زړه سلامت سره

ف ۱ حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روایت شوی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ایت شریف ووایه چه اِتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ یعنی وویرېږئ له خدای څخه په حق ویریدلو سره او مه مرئ مګر په حالت د اسلام کښې فرمایلي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم چه په یقین سره که یو څاڅکه د درختي د زقوم په کور د دنیا باندې راوڅاڅي خامخا به تباه کړي په اهل د دنیا باندې اسباد معاش د دوی نو څه حال به وي د هغه چا چه خوراک د هغه به زقوم وي. رواه امام ترمذي رحمة الله تعالی – ابن کثیر و روح البیان

ف ۲ نوح علیه السلام ته ادم ثاني ویل کیږي ځکه چه کفار تول په طوفان سره غرق شول او یو څو کسان مسلمانان ۲ ع ۵۳ ۶ چه له ده سره په کشتۍ کښې سواره وو هغه هم بې اولاده وو. نو دا څه انسانان چه دي تول د ده علیه السلام له دریو زامنو سام، حام، یافث څخه پیدا شوي دي ۱۲ منه رحمه

ف ۳ ویل شوي دي چه هر څوک دا ایت شریف د ماښام وخت ووائي او پر ځان باندې ئې چف کړي نو هیڅ زهر داره شی به ضرر ور ته ونه رسوي ۱۲ ف ۴ د حضرت نوح او ابراهیم علیهما الصلوة والسلام په منځ کښې د وه زره یو سل څلوېښت ۲۱۴۰ کاله فاصله وه ۱۲ منه رح

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَاذَا تَعْبُدُونَ ﴿٨٥﴾ أَئِفْكًا آلِهَةً دُونَ
په هغه وخت کښې چه ویل ده پلار خپل ته او قوم خپل ته دخه شي عبادت کوئ تاسو ایا د روغ خدایان بې
اللَّهِ تُرِيدُونَ ﴿٨٦﴾ فَمَا ظَنُّكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٨٧﴾ فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي
له خدای نه اراده لرئ تاسو نو څه دی ګمان ستاسو په رب د مخلوقاتو باندې نو نظر وکړه په نظر کولو سره په
النُّجُومِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴿٩٠﴾ فَرَاغَ إِلَىٰ
ستورو کښې نو ووئې ویل چه زه ناجوړه یم نو وګرځېدل هغوی له ده نه شا کونکي ده ته نو راغلی دی پټ هغه
آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٩١﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنطِقُونَ ﴿٩٢﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ
معبودانو د دوی ته نو ووئې ویل چه ایا نه خورئ تاسو دا خوراک و نه څه بلا ده پر تاسو چه خبرې نه کوئ نو راغلی دی پر هغوی
ضَرْبًا بِالْيَمِينِ ﴿٩٣﴾ فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾ قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا
په وهلو سره په لاس ښي نو مخ کړ هغه کافرانو ده ته را ځغستل ئې و ویل ده ایا عبادت کوئ تاسو د هغه شي
تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾ قَالُوا ابْنُوا لَهُ بُنْيَانًا
چه تاسو ئې تو ږئ او خدای پیدا کړي ئې تاسو او هغه چه کوئ ئې تاسو وویل دوی چه جوړه کړئ ده لره یو بناء
فَأَلْقُوهُ فِي الْجَحِيمِ ﴿٩٧﴾ فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ ﴿٩٨﴾
نو وغورزوئ دی په ګرم اور کښې نو اراده وکړه دوی په هغه د فریب نو وګرځول موږ دوی خوار دلیل
وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾ رَبِّ هَبْ لِي مِنَ
او وویل ابراهیم چه بیشکه زه تلونکی یم رب خپل ته ژر دی چه لاره به وښائی ماته ای ربه زما راکړه ماته فرزند له
الصَّالِحِينَ ﴿١٠٠﴾ فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ
صالحانو څخه نو زېری وکړو موږ ده ته په هلك صبرناك سره نو هر کله چه ورسېدی له ده سره عمر د کار کولو ته وویل ده
يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَىٰ فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ
ای زویه بیشکه چه زه وینم په خوب کښې چه زه حلالوم تا نو فکر وکړه چه څه مصلحت وینې ته وویل هغه
يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ ﴿١٠٢﴾
ای پلاره زما وکړه ته هغه چه حکم درته کیږي ژر دی چه پیدا به کړې ما که اراده شوې وي د خدای له صبر کونکو څخه
فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾ وَنَادَيْنَاهُ أَن يَا إِبْرَاهِيمُ ﴿١٠٤﴾ قَدْ
نو هر کله چه غاړه کېښوده دواړو حکم د خدای ته او وې اچاوه دی پر مخ باندې او اواز وکړو موږ ده ته چه ای ابراهیم په تحقیق

ف ۱ غرض دا چه ابراهیم علیه السلام د دوی په مخکښې په علم نجوم کښې وکتل او د دوی هم د علم نجوم عاملان ؤ نو دوی ته ئې وویل چه زه ناجوړه یم. مراد د ده علیه السلام دا وو چه زه نخوا ناجوړه شوی وم یا به په اینده کښې ناجوړه شم فی الحال څه مریض یم. ابن عطاءرح ویلی دي چه زه ناجوړه یم له مخالفته ستاسو څخه په عبادت د بتانو کښې. او یا دا چه ناجوړه یم یعنې مرم به ۱۲ روح ۲ف یعنې د هغه مشرکانو دا عادت وو چه خوراك به ئې د بتانو په مخ کښې کېښود په دې نیت چه برکت ئې شي په بتانو سره نو ځکه ابراهیم علیه السلام ورته وویل چه الا تاکلون ۱۲ روح البیان ۳ف له ابن عباس رض څخه روایت دی چه دې کفارو یو لوی دیوال له پره رو څخه جوړ کړ چه دیرش ګزه لوړ ؤ او شل ګزه پلن ؤ او هغه ئې له لرګو څخه ډك کړ بیائې اور ورکړ چه انکار شو نو ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام ئې پکښې وغورزاوه مکر الله تعالی دی روغ سلامت وساتی ۱۲ روح ۴ف یعنې چه د دیار لسو کالو شو ۱۲ روح ۵ف ویل شوی دی چه ابراهیم علیه السلام پر اتمه شپه د ذالحجې د میاشتې خوب ولید چه خپل زوی حلال کړم. نو سهار دی ټول په فکر کښې وو چه دا خوب څرنګه دی او تعبیر ئې څه دی بیا پر نهمه شپه ئې هم دا سې خوب ولید نو یقین ئې راغلی چه حکم د ذبحې د زوی راته وشو نو سهار ته په تدبیر د ذبحې د هغه کښې وو په لسمه شپه ئې بیا دا سې خوب ولید. نو راغلی او زوی خپل ئې پر دې خوب خبر کړ نو هغه په خوشحالی سره قبول کړ. په زړګونو رحمتونه دی وی پر دا سې زوی ۱۲ روح موضح

صَدَّقْتَ الرُّءْيَا ۚ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ

چه رښتیا کړتا خوب خپل بیشکه چه موږ همدا رنګه جزا ورکوو نیکی کونکو لره بیشکه چه دا کار دا

الْبَلَاءُ الْمُبِينُ ﴿١٠٦﴾ وَفَدَيْنَاهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ ﴿١٠٧﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي

ازمیښت ؤ ښکاره او خلاص کړ موږ دی په قربانی لوئی سره ؎۱ او پریښووه موږ پرده په

الْآخِرِينَ ﴿١٠٨﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ﴿١٠٩﴾ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١١٠﴾

وروستو خلقو کښی دا چه سلام په ابراهیم ؑ باندی همدا رنګه موږ جزا ورکوو نیکی کونکو ته

إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١١﴾ وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِنَ

بیشکه چه دوی له بندګانو زموږ مؤمنانو څخه ؤ ؎۲ او زیری ورکړ موږ ده ته په اسحٰق ؑ سره چه پیغمبر وو له

الصَّالِحِينَ ﴿١١٢﴾ وَبَارَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلَىٰ إِسْحَاقَ ۚ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ

صالحانو څخه او برکت کړی ؤ موږ پر ده باندی او په اسحٰق ؑ باندی او له اولاده د دی دواړو څخه نیکی کونکی دی

وَظَالِمٌ لِنَفْسِهِ مُبِينٌ ﴿١١٣﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَىٰ مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿١١٤﴾

او ظالم دي پر ځان خپل ښکاره او خامخا په تحقیق احسان کړی ؤ موږ په موسیٰ ؑ او په هرون ؑ باندی

وَنَجَّيْنَاهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ ﴿١١٥﴾ وَنَصَرْنَاهُمْ فَكَانُوا

او خلاص کړی مو ؤ دا دواړه او قوم د دی دواړو له غمه لویه څخه ؎۳ او مدد مو کړی ؤ وله دوی سره نو وو دوی

هُمُ الْغَالِبِينَ ﴿١١٦﴾ وَآتَيْنَاهُمَا الْكِتَابَ الْمُسْتَبِينَ ﴿١١٧﴾ وَهَدَيْنَاهُمَا

دو غالبه او ورکړی مو وو دی دواړو ته کتاب روښانه او لار موښوولی وه دی دواړو ته

الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿١١٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِي الْآخِرِينَ ﴿١١٩﴾ سَلَامٌ عَلَىٰ

لار سمه او پریښی وه موږ په دی دواړو پسی په وروستو خلقو کښی سلام دی پر

مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٢١﴾ إِنَّهُمَا مِنْ

موسیٰ ؑ باندی او پر هرون ؑ باندی بیشکه چه موږ همدا رنګه جزا ورکوو نیکانو لره بیشکه دا دواړه له

عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٢٢﴾ وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ

بندګانو زموږ مؤمنانو څخه وو او بیشکه چه الیاس ؑ خامخا له لیږل شویو څخه ؤ هغه وخت چه وویل ده قوم خپل ته

أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ ﴿١٢٥﴾ اللَّهَ

ایا نه ویریږئ تاسو له خدایه څخه ؎۴ ایا عبادت کوئ تاسو د بعل بُت او پریږدی تاسو عبادت د ښه پیدا کونکو د خدای

؎۱ له ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما څخه روایت دی چه هغه مرږ چه هابیل قربانی کړی وو او قبول شوی ؤ والله تعالیٰ هم هغه وری ابراهیم علیه السلام ته راولیږی چه پر ځای د اسمٰعیل علیه السلام کښی ئی حلال کړ او دا نوروخت ئی په جنت کښی څر کاوه ۱۲ روح البیان

؎۲ له دی ایت شریف څخه معلوم ږی چه له فبشرنٰه بغلٰم حلیم وغ څخه مراد اسمٰعیل علیه السلام دی. اکثرو مفسرینو داراے دی چه ذبیح الله هم دی دی. والله تعالیٰ اعلم ۱۲

؎۳ چه هغه ضرر رسول ؤ د فرعون او قوم د ده ته ۱۲

؎۴ حضرت الیاس علیه السلام د هرون علیه السلام له اولاد څخه وو دی الله تعالیٰ د بعلبک ښهر ته لیږلی وو. د دی خلقو یو بت وو چه نوم ئی بعل ؤ دوی به عبادت د هغه کاوه ۱۲

؎۵ یهود او نصاریٰ او مسلمانان قول معنوی منی ۱۲

رَبَّكُمْ وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿١٢٦﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿١٢٧﴾

چه رب ستاسو دی او رب د پلارانو ستاسو چه اولنی وو نو دروغ گڼلو دوئ نو بیشکه چه دوئ حاضر کړی شوی دی

اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿١٢٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِى الْاٰخِرِيْنَ ﴿١٢٩﴾

مگر بندگان د خدای چه خالص کړی شوی دی او پرېښوده موږ پر ده پسې وروستنو خلقو کښی

سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ يَاسِيْنَ ﴿١٣٠﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٣١﴾ اِنَّهٗ

سلام دی پر الیاس ع م باندی بیشکه چه موږ همدارنگه جزاء ورکوو نیکانو ته بیشکه چه دی

مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٣٢﴾ وَاِنَّ لُوْطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٣٣﴾ اِذْ

له بندگانو زمونږ مؤمنانو نه وو او بیشکه چه لوط ع م خامخا له پیغمبرانو شو نه وو هغه وخت

نَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٣٤﴾ اِلَّا عَجُوْزًا فِى الْغٰبِرِيْنَ ﴿١٣٥﴾ ثُمَّ

چه خلاصون مو ورکړ ده او اهل د ده ټولو ته مگر یوه زړه ښځه چه په باقی پاتې کیدونکو کښی وه بیا

دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿١٣٦﴾ وَاِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ عَلَيْهِمْ مُّصْبِحِيْنَ ﴿١٣٧﴾ وَبِالَّيْلِ

هلاک کړل موږ هغه نور او بیشکه چه تاسو تیریږئ پر دوئ باندی په سهار کښی او په شپه کښی

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿١٣٨﴾ وَاِنَّ يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٣٩﴾ اِذْ اَبَقَ اِلَى

ایا نو تاسو عقل نه لرئ او بیشکه چه یونس ع م خامخا له پیغمبرانو شو نه وو هغه وخت چه وتښتید دی

الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿١٤٠﴾ فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِيْنَ ﴿١٤١﴾ فَالْتَقَمَهُ

بیړۍ ډکی کړی شوی ته نو قرعه اندازی ئی وکړه نو شو دی له مغلوب کړی شو نه نو کوله کړ دی

الْحُوْتُ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿١٤٢﴾ فَلَوْلَآ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ ﴿١٤٣﴾ لَلَبِثَ

ماهی او دی ملامت کونکی وو د ځان خپل نو که نه وای دا خبره چه وو دی له تسبیح ویونکو نه خامخا د رنګ به کړی وو ده

فِىْ بَطْنِهٖٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿١٤٤﴾ النصف فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيْمٌ ﴿١٤٥﴾

په خیټه د ماهی کښی تر هغه ورځی پوری چه پورته کیږی خلق نو وغورځاوه موږ دی په ډاګ او دی ناروغه وو

وَاَنْۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّنْ يَّقْطِيْنٍ ﴿١٤٦﴾ وَاَرْسَلْنٰهُ اِلٰى مِائَةِ اَلْفٍ

او زرغونه کړه موږ پر ده درخته له کدو نه او ولیږلو موږ دی یو لک خلقو

اَوْ يَزِيْدُوْنَ ﴿١٤٧﴾ فَاٰمَنُوْا فَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ﴿١٤٨﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ اَلِرَبِّكَ

بلکه زیات تونه نو ایمان راوړی هغوی نو نفعه مو ورکړه هغوی ته تر یو وخته پوری نو پوښتنه وکړه له هغوی نه چه ایا رب ستا ره

ع ٤ ٨

ف١
چه هغه ښځه ددی وه چه ایمان ئی نه وو راوړی پردی باندی نو هغه هم هلاکه شوه سره له خپله قومه سره ١٢

ف٢
یعنی د هغوی کلی ستاسو په لاره کښی دی چه تاسو ورباندی تیریږئ ١٢ منه رحمه ربه

ف٣
مراد له تسبیح ویلو ددی نه الله تعالی یادول وو یا لمونځ کول وو یا دا کلمه ویل وو چه لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّىْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ١٢ ١٢ ١٢

ف٤
یقطین وني درختی د کدو ته ویل کیږی د کدو دا خاصیت دی چه مچان ورباندی نه کښینی نو ځکه الله تعالی پر یونس علیه السلام باندی راشنه کړه چه له مچانو ځنی بچ شی. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چا وویل چه ستا کدو خوښ دی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه هو دا درخته د ورور زما ده چه یونس علیه السلام وو ١٢ روح البیان

ف٥ نو ته پوښتنه وکړه له دی کفارو د مکې ځنی لپاره د الزام. یا له جهینه او بنی خزاعه او بنی ملیح قبیلو ځنی چه پرښتی لونړه د خدای بولی. یعنی دا لول و پوښتنه لدی قسمه چه اَلِرَبِّكَ الْبَنٰتُ ١٢

الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُونَ ﴿١٤٩﴾ أَمْ خَلَقْنَا الْمَلَائِكَةَ إِنَاثًا وَهُمْ

لو په دی او دوی لره زامن دی ۔ او که پیدا کړی دی مونږ پرښتی ښځی ۔ او دوی

شَاهِدُونَ ﴿١٥٠﴾ أَلَا إِنَّهُمْ مِنْ إِفْكِهِمْ لَيَقُولُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَدَ اللَّهُ وَإِنَّهُمْ

حاضر وُو پیدا ایښت د هغوی ته ۔ واوره چه بیشکه دوی له د روغو خپلو څخه خامخا وائی ۔ چه ولد راوړی دی خدائے

لَكَاذِبُونَ ﴿١٥٢﴾ أَصْطَفَى الْبَنَاتِ عَلَى الْبَنِينَ ﴿١٥٣﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ

او بیشکه چه دوی خامخا د روغژن دی ۔ ایا خوښی کړی دی خدائے لوڼه پر زامنو باندے ۔ څه دی تاسو لره څرنګه

تَحْكُمُونَ ﴿١٥٤﴾ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٥﴾ أَمْ لَكُمْ سُلْطَانٌ مُبِينٌ ﴿١٥٦﴾ فَأْتُوا

حکم کوئ تاسو ۔ ایا پند نه اخلئ تاسو ۔ او که شته تاسو لره دلیل ښکاره ۔ نو راوړی

بِكِتَابِكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿١٥٧﴾ وَجَعَلُوا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا

کتاب خپل ۔ که ئ تاسو رښتینی ۔ او ګرځولی دی دوی په منځ د خدائے او په منځ د پرښتو کښے او یا د پیریانو کښی خپلوی

وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٥٨﴾ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٥٩﴾

او خامخا په تحقیق پوه دی پرښتے یا پیریان چه بیشکه دوی خامخا حاضر کړی شوی دی ۔ پاکی د خدائے لره له هغه څخه چه وائی دوی

إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٠﴾ فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴿١٦١﴾ مَا أَنْتُمْ

مګر بندګان د خدائے چه خالص کړل شوی وی ۔ نو بیشکه تاسو ئ او هغه چه عبادت ئې کوئ تاسو ۔ نه ئ تاسو

عَلَيْهِ بِفَاتِنِينَ ﴿١٦٢﴾ إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيمِ ﴿١٦٣﴾ وَمَا مِنَّا إِلَّا لَهُ

پر هغه ګمراه کونکی ۔ مګر د هغه چا چه اخلیدونکے وی په دوزخ کښی ۔ او نشته له مونږ څخه هیڅوك مګر مقرر دی ده لره

مَقَامٌ مَعْلُومٌ ﴿١٦٤﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّونَ ﴿١٦٥﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُونَ ﴿١٦٦﴾

ځائے مقرر کړی شوے ۔ او بیشکه چه مونږ خامخا صف تړونکی یو لپاره د عبادت ۔ او بیشکه چه مونږ خامخا مونږ تسبیح ویونکی یو

وَإِنْ كَانُوا لَيَقُولُونَ ﴿١٦٧﴾ لَوْ أَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِنَ الْأَوَّلِينَ ﴿١٦٨﴾ لَكُنَّا

او شان دا و و چه و و دوی ویل به ئې که وای په نزد د مونږ کتاب له پخوانو خلقو څخه ۔ نو خامخا به وُو مونږ

عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿١٦٩﴾ فَكَفَرُوا بِهِ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿١٧٠﴾ وَلَقَدْ

بندګان د خدائے خالص کړل شوی ۔ نو کافران شول دوی پر هغه کتاب نو ژر دی چه پوه به شئے دوی ۔ او خامخا په تحقیق

سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ ﴿١٧١﴾ إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُورُونَ ﴿١٧٢﴾

مخته شوی ده خبره زمونږ له بندګانو زمونږ لیږلو شویو سره چه بیشکه دوی له دوی سره کومك کړی شوی دی

ف ۱ یعنے جن پر دی خبره پوه دی چه هر څوك په دوی کښے کافر وے هغه به کښیو ږی په عذاب ز ما کښی ۔ او یا پرښتی پر دے خبره پوه دی چه ویونکی د دے خبری خامخا حاضر کړل شوی دی دوزخ ته
ف ۲ یعنی دوی وائی چه پرښتی لوڼه د الله تعالیٰ دی ۱۲
ف ۳ له ابوذر غفاری رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه زه وینم هغه چه تاسو ئ نه وینی او اورم هغه چه تاسو ئې نه اوری آسمان اواز ونه وکړل او لائق دے ده له دے سره دا چه اواز ونه وکړی یعنے اواز د ژړا او غم څکه چه په ټول اسمان کښی د دوو ګوتو قدر ځائے خالے نشته چه پر هغه دی پرښتی خدائے ته سر په سجده نه وی ایښی قسم په الله تعالیٰ دی که چیرے تاسو ته هغه احوال معلوم شے چه ما ته معلوم شوی دی نو تاسو به خاندلی لږ او ژړلی به ډیر او تاسو ته به په پر شو باندی لذت څو سره هیڅ خوند پاته نه شی ۔ او تاسو لوبه ډیرے څخه دباندی ځنګلو ته ووزئ چغی به وهئ کړزئ به ابن عساکر رضی الله تعالیٰ عنه هم په دی مضمون سره حدیث نقل کړی دی په هغه کښی دا قدر زیات دی چه ورسته له دی خبری څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ایت شریف ووایه چه وَاِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّوْنَ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

وَإِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۱۷۳﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۴﴾ وَّاَبْصِرْهُمْ

او بیشکه چه لښکر زمونږ خامخا دوی غالب دي نو وګرځه ته له دوی نه تر یو وخته پوري او وګوره دوی ته

فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۵﴾ اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۷۶﴾ فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ

نو ژر دي چه به وويني دوى (عاقبت خپل) ايا نو په عذاب زمونږ تلوار کوي دوى نو هغه وخت چه نازل شي عذاب په غولي د دوى

فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۱۷۷﴾ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۸﴾ وَّاَبْصِرْ

نو بد دى صباح د ويرول شوو او وګرځه ته له دوى نه تر يو وخته پورې او وګوره دوى ته

فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾

نو ژر دي چه به وويني دوى پاکي ده رب ستا لره رب د عزت لره له هغه څه چه نسبت ئې کوي دوى ده ته

وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۲﴾

او سلام دى په ليږل شويو باندې او ثناء ده خداى رب د مخلوقاتو لره

سُوْرَةُ صٓ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ وَّثَمٰنُوْنَ اٰيَةً وَّخَمْسُ رُكُوْعَاتٍ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د خداى چه بخښونکى دى مهربان دے

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِي الذِّكْرِ ﴿۱﴾ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ﴿۲﴾

خدای پوهیږي په معنی د دې قسم دے په قرآن چه خاوند د پند دے بلکه هغه کسان چه کافر شوي دي په تکبر کښي دي او په مخالفت کښي دي

كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ﴿۳﴾ وَعَجِبُوْٓا

ډير هلاک کړي دي مونږ مخکې له دوى نه اهل د زمانو نو چغه ئې وهله او نه وه هغه وخت د خلاصيدو او تعجب کوي دوى

اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿۴﴾

چه راغلى دوى ته ويرونکى له دوى نه او وائي کافران چه دى ساحر دى دروغژن

اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ﴿۵﴾ وَانْطَلَقَ الْمَلَاُ

ايا وګرځول ده دا ټول خدايان خداى يو بيشکه چه دا خامخا يو شى دى ډير عجيب او روان شوه ډله د مشرانو

مِنْهُمْ اَنِ امْشُوْا وَاصْبِرُوْا عَلٰٓى اٰلِهَتِكُمْ اِنَّ هٰذَا لَشَيْءٌ يُّرَادُ ﴿۶﴾

د دوى نه چه ځئ او صبر کوئ په معبودانو خپلو بيشکه چه دا خامخا يو شى دى چه اراده ئې کړى شوې ده

مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ اِنْ هٰذَآ اِلَّا اخْتِلَاقٌ ﴿۷﴾ ءَاُنْزِلَ

نه دي اوريدلي مونږ دا خبره په دين وروستني کښي نه دى دا توحيد مګر دروغ دي ايا نازل کړى شوى

---

۱ روايت دي چه هر کله د غنمت آيت نازل شو نو مشرکانو وويل چه د غه وخت کله راشي چه مونږ به زار و خوار شو نو دا آيت شريف نازل شو چه اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ط ۱۲ ۲ روايت کړى شوے دى چه هر کله دا آيت شريف نازل شو چه فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ نو د کفارو وويل چه دا کار به کله وي نو الله تعالى دا آيت شريف نازل کړ چه فَاِذَا نَزَلَ الاية ۱۲ جامع و وجيز ۳ له حضرت على رضى الله تعالى عنه نه مرفوع روايت نقل دى چه د چا به دا خوښه شي چه پيمانه د ثواب ورته ورکول شي په پيمانه لويه نو وى دي آخره خاتمه د مجلس د ده سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ تر آخره پورې. طبراني رحمه الله روايت کړي دي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دي چه هر چا ورسته له هر لمانځه سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ تر اخيره د سورت وويل درې واره نو ده واخستله پيمانه کامله د اجر څخه ۱۲ روح و جامع ۴ روايت دى چه مشرانو د قريشو ابو طالب ته راغلل او ورته وئى ويل چه ته زمونږ مشرئى نو ته داوايه چه ته زمونږ او ستا د وراره ترمنځ کښي حکم وکړه (يعنى محمد صلى الله عليه وسلم) چه د دى زمونږ د معبودانو بدنه وائى او مونږ به د ده په معبود کار نه لرو نو هر کله چه ابو طالب دا خبره د رسول الله ته وکړه نو هغه ورته وويل چه زه ما تره ايا زه نه را بولم دوى دا سى خبرى ته چه دوى ته به ټول عرب ګردن نهاده (تابع) شي په سره به د دې ټول عجم مالکان شي نو ابو جهل چه په هغه مجلس کښي ناست وو وويل چه هغه خبره څه ده مونږ به ئى ومنو او ستا د خپر نوري په مثل د هغه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل چه ووائى لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ نو ټول په هيبت سره له مجلس څخه ولاړه شول چه جامي ئى راټولې کړلي او وئى ويل اَجَعَلَ الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۱۲ روح و جامع د منثور و غيره ۵ يعني هغه پخواني اديان خو مونږ لا درې خدايان درې دي نعوذ بالله من العقيدة الفاسدة ۱۲

ع ۵ ۹ ۲۳

۱ په دين وروستني کښي چه دين د نصارا او دوى هم مونږ دا خبره نه ده اوريدلي چه الله تعالى واحد لا شريک دے ځکه چه نصارا عقيده لري چه خدايان درې دي

عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِنۢ بَيْنِنَا ۚ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِّن ذِكْرِي ۖ بَل لَّمَّا

پرده باندې قرآن له منځ زمونږ څخه بلکه دوی په شك کښې دی له قرآن زما څخه بلکه نه دي

يَذُوقُوا عَذَابِ ﴿٨﴾ أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيزِ الْوَهَّابِ ﴿٩﴾

څکلې دوی عذاب زما ایا په نزد د دوی دی خزانې د رحمت د رب ستا چه غالب دی بخښونکی دی

أَمْ لَهُم مُّلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ فَلْيَرْتَقُوا فِي الْأَسْبَابِ ﴿١٠﴾

او که دوی لره ده پاچاهي د اسمانونو او ځمکې او هغه چه منځ د دواړو کښې دی نو ودې خیژي دوی اسمانته په اسبابو سره

جُندٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِّنَ الْأَحْزَابِ ﴿١١﴾ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ

لوئي لوئي لښکري دي دغه ځای کښې چه شکست ورکړل شوي دي له ډلو څخه نسبت د دروغو کړي وو مخکې له دوی څخه قوم د نوح ع

وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ ذُو الْأَوْتَادِ ﴿١٢﴾ وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ وَأَصْحَابُ لْأَيْكَةِ ۚ

او عادیانو او فرعون خاوند د میخونو او ثمودیانو او قوم د لوط ع او اوسیدونکو د ځنګل

أُولَٰئِكَ الْأَحْزَابُ ﴿١٣﴾ إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿١٤﴾ ع ١٠

دغه کسان لوئي لوئي ډلې وې نه وو دا ټول مګر تکذیب ئې کړي وو د رسولانو نو ثابت شو عذاب زما دوی لره

وَمَا يَنظُرُ هَٰؤُلَاءِ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ ﴿١٥﴾ وَقَالُوا

او انتظار نه کوي دا کسان مګر د اواز یو ته چه نشته هغه لره هیڅ ګرزیدل (ډیل) او وائی دوی

رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ ﴿١٦﴾ اصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ

ای ربه زمونږ په تلوار راکړه مونږ ته حصه زمونږ مخکې له ورځې د حساب څخه صبر کوه ته په هغه چه وائی دوی

وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوُودَ ذَا الْأَيْدِ ۖ إِنَّهُ أَوَّابٌ ﴿١٧﴾ إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ

او یاد کړه بنده زمونږ داود ع خاوند د قوت بیشکه چه دی رجوع کونکی وو بیشکه چه مونږ تابع کړي وو غرونه له ده سره

يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ ﴿١٨﴾ وَالطَّيْرَ مَحْشُورَةً ۖ كُلٌّ لَّهُ أَوَّابٌ ﴿١٩﴾

چه تسبیح به ئې وئیله سره د ده په اخر د ورځې او وړاندې کښې او مرغان چه جمع کړی شوی به وو هر یو د ده لره رجوع کونکي وو په تسبیح سره

وَشَدَدْنَا مُلْكَهُ وَآتَيْنَاهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ﴿٢٠﴾ وَهَلْ أَتَاكَ

او محکمه کړي وه مونږ پاچاهي د ده او ورکړي مو وه ده لره پیغمبري او فیصله کول د اختلافو او ایا راغلې دی تا ته

نَبَأُ الْخَصْمِ إِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿٢١﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَىٰ دَاوُودَ فَفَزِعَ

خبر د جګړه کونکو هغه وخت چه راوختل پر دیوال هغه وخت چه داخل شول پر داود ع نو وویریدی دی

ل روایت کړي شوی دی چه فرعون لوی لوی میخونه د اوسپنې ساتلي وو. هر چاته چه به په غصه شو نو پر ځمکه به ئې پریېستی او هغه میخونه به ئې په پښو او پر لاسو وهل او ځکه نو نوم د هغه ذو الاوتاد کېښول شو

روح البیان

۲ یعنی د داود علیه السلام ډیر قوت وو په عبادت کولو کښې. په صحیح البخاري وصحیح مسلم کښې حدیث شریف دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي چه ډیر خوښ لمونځ الله تعالی ته لمونځ د داود علیه السلام دی او ډیره روژه الله تعالی ته روژه د داود علیه السلام ده نیمه شپه به ئې خوب وکړ او دریمه حصه د شپې کښې به پورته شو لمونځ به ئې وکړ بیا به ئې شپږمه حصه د شپې خوب وکړ او روژه به ئې یوه ورځ نیوله او یوه ورځ به ئې خوړله او هر کله چه له دښمن سره به (په جنګ کښې) مخامخ شو نو تلیښته به ئې نه کوله داواب معنی دا چه په هر حال کښې رجوع کونکي وو طرف د الله تعالی ته ۱۲ روح البیان وابن کثیر

مِنْهُمْ قَالُوْا لَا تَخَفْ خَصْمٰنِ بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ فَاحْكُمْ بَيْنَنَا

له هغوی څخه نو وویل هغوی چه مه ویرېږه دوه جګړه کوونکي دي چه ظلم کړی دی بعضو زمونږ پر نورو بعضو باندې نو حکم وکړه په منځ زمونږ کښې

بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَآ اِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ﴿٢٢﴾ اِنَّ هٰذَآ اَخِىْ لَهٗ تِسْعٌ

په حقه سره او زیاتی مه کوه او لاره وښیه مونږ ته سمه لاره بیشکه چه دا ورور زما دی ده لره نه

وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً وَّلِىَ نَعْجَةٌ وَّاحِدَةٌ فَقَالَ اَكْفِلْنِيْهَا وَعَزَّنِىْ فِى

نوی میږی او ماله میږه یوه ده نو وائی دی چه ما ته را کړه دا او غلبه ئې کړې ده په ما باندې په

الْخِطَابِ ﴿٢٣﴾ قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ اِلٰى نِعَاجِهٖ ۗ وَاِنَّ كَثِيْرًا

خبرو کښې وویل داود چه خامخا ظلم کړی دی ده پر تا په غوښتلو د میږې ستا له میږو خپلو سره او بیشکه چه ډیر

مِّنَ الْخُلَطَآءِ لَيَبْغِىْ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

له شریکانو څخه خامخا ظلم کوی بعضې د دوی پر بعضو نورو باندې مګر هغه کسان چه ایمان ئې راوړی وی او عمل کوي

الصّٰلِحٰتِ وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ ۗ وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ

د نیکو او لږ دی دوی او یقین وکړ داود چه بیشکه وازمیو مونږ دی نو بخښنه ئې وغوښته له رب خپل څخه

وَخَرَّ رَاكِعًا وَّاَنَابَ ﴿٢٤﴾ السجدة فَغَفَرْنَا لَهٗ ذٰلِكَ ۗ وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى

او راپریوتی رکوع کوونکی او رجوع ئې وکړه نو بخښنه وکړه مونږ ده ته د دې کار او بیشکه چه ده لره په نزد زمونږ خامخا نزدیکت وو

وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿٢٥﴾ يٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً فِى الْاَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ

او ښه ځائې د راتلو دی ای داود بیشکه چه مونږ کړزولی مو ته تا لره خلیفه په ځمکه کښې نو حکم کوه په منځ

النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۗ اِنَّ

د خلقو کښې په حقه سره او پیروی مه کوه د هوا (نفس) نو ګمراه به کړی تا له لارې د خدای څخه بیشکه

الَّذِيْنَ يَضِلُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌۢ بِمَا نَسُوْا يَوْمَ

هغه کسان چه ګمراه کیږي له لارې د خدای څخه مقرر دی دوی لره عذاب سخت په سبب د هغه چه هیر کړی ده دوی

الْحِسَابِ ﴿٢٦﴾ ع وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ۗ ذٰلِكَ ظَنُّ

ورځ د حساب او نه دي پیدا کړي مونږ دا آسمان او ځمکه او هغه چه په منځ د دې دواړو کښې دی عبث دا ګمان

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنَ النَّارِ ﴿٢٧﴾ ۗ اَمْ نَجْعَلُ الَّذِيْنَ

د هغه کسانو دی چه کافران شوی دي نو هلاک دی هغه کسانو لره چه کافران شوی دي له اوره آیا و به ګرځوو مونږ هغه کسان

ابن کثیر رحمه الله تعالیٰ وایی دی
چه مفسرین په دی ځای کښی نور
قصه نقل کوی چه اکثر د هغه له
قصو د بنی اسرائیلو څخه نقل شوی
دي له رسول الله صلی الله علیه
وسلم څخه داسی حدیث په دی
باب کښی نه دی نقل شوی چه
اتباع د هغه واجب وي نو بهتره
دا ده چه رد دي قصی په تلاوت
دی بسوالی وکړل شی او علم د
دی دی الله تعالیٰ ته وسپارل
شی ځکه چه قرآن عظیم او مضامین
ئې ټول حق دی. په تفسیر
روح البیان کښی لیکلی دی چه
حضرت علی کرم الله وجهه
به ویل چه هر چا چه قصه د داود
علیه السلام پر هغه طریقه سره
وکړه چه قصه کوونکی ئې بیانوی
نو زه به ئې یو سل او شپیته دُري
ووهم او دا حد د هغه چا دی چه
دروغ ئې پر انبیاء علیهم السلام تړلی
تړلي وي ۲ له ابن عباس رضی الله
تعالیٰ عنه څخه روایت شوی دی چه
رسول الله صلی الله علیه وسلم سجده وکړه په سورت
ص کښی او وئې ویل چه دا سجده د
حضرت داود علی نبینا و علیه السلام
وه لپاره د توبی قبلید لو او مونږ
لپاره د شکر ادا کولو روح و ابن کثیر
۳ حاصل دا چه په ورځ د قیامت
کښی به له حاکمانو څخه ډیر تحقیق
او پوښتنه کیږي که چیری دوی
په دنیا کښی حکم کښی انصاف نه وی
کړی نو سخته سزا به ورکړل
شی لکه چه حدیث شریف دی چه
په جهنم کښی ژرنده ده
تدور بعلماء السوء. بد علما
۱ به ورپکښی وریږدی ۳ ۱۳

ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلْمُفْسِدِينَ فِى ٱلْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ ٱلْمُتَّقِينَ

چه ایمان ئې راوړی دی او عمل ئې کړی دی نیکو په شان د فساد کونکو په ځمکه کښې اوکه به وګرزوو پرهیزګاران

كَٱلْفُجَّارِ ﴿٢٨﴾ كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟

لکه بدکاران دا قران یو کتاب دی چه نازل کړی مو دی تا ته برکتناک دی لپاره ددې چه فکر وکړی دوی په ایتو د ده کښې او چه پند پرې واخلي

ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٢٩﴾ وَوَهَبْنَا لِدَاوُۥدَ سُلَيْمَٰنَ ۚ نِعْمَ ٱلْعَبْدُ ۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿٣٠﴾

خاوندان د عقلو او ورکړی وو مونږ داؤد علیه السلام ته سلیمان ع م نیک بنده وو دې بیشکه چه دې رجوع کونکی وو خدای ته

إِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِٱلْعَشِىِّ ٱلصَّٰفِنَٰتُ ٱلْجِيَادُ ﴿٣١﴾ فَقَالَ إِنِّىٓ أَحْبَبْتُ حُبَّ

یاد کړه هغه وخت چه وړاندې کړل شو ده ته په اخیر د ورځې کښې درې لښنو ولاړ اسونه نو ووېل ده بیشکه زه چه خوښه مې کړه محبت

ٱلْخَيْرِ عَن ذِكْرِ رَبِّى حَتَّىٰ تَوَارَتْ بِٱلْحِجَابِ ﴿٣٢﴾ رُدُّوهَا عَلَىَّ ۖ فَطَفِقَ

د اسانو له ذکر د رب خپل نه تر هغو چه پټ شو لمر په پرده کښې بیرته راولئ اسونه په ما نو شروع وکړه ده

مَسْحًۢا بِٱلسُّوقِ وَٱلْأَعْنَاقِ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَٰنَ وَأَلْقَيْنَا عَلَىٰ

پر وهلو د هغه په پنډیو (پښو) او په غاړو او خامخا په تحقیق ازمیلی وو مونږ سلیمان ع م او غورځولی وو مونږ په

كُرْسِيِّهِۦ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ ﴿٣٤﴾ قَالَ رَبِّ ٱغْفِرْ لِى وَهَبْ لِى مُلْكًا لَّا

تخت د ده یو جسد بیا رجوع ئې وکړه خدای ته ووېل ده ای ربه زما بخښنه وکړه ما ته او راکړه ما ته داسې پاچاهي چه نه

يَنۢبَغِى لِأَحَدٍ مِّنۢ بَعْدِىٓ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلْوَهَّابُ ﴿٣٥﴾ فَسَخَّرْنَا لَهُ ٱلرِّيحَ

ښائی هیچا پس له ما څخه بیشکه چه ته هم ته ورکونکی ئې بخښونکی ئې، نو تابع کړ مونږ ده لره باد

تَجْرِى بِأَمْرِهِۦ رُخَآءً حَيْثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾ وَٱلشَّيَٰطِينَ كُلَّ بَنَّآءٍ

چه روان به په حکم د ده سره نرم هر ځای ته چه اراده به وشوه د ده او تابع کړی مو وو پیریان هر ښا کونکی

وَغَوَّاصٍ ﴿٣٧﴾ وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِى ٱلْأَصْفَادِ ﴿٣٨﴾ هَٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمْنُنْ

او غوطې وهونکی او نور دیوان وو تړلی شوی وو په زنځیرو کښې دا بخښش زمونږ دی نو احسان کوه

أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٩﴾ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَـَٔابٍ ﴿٤٠﴾

یا بند وه بی له حسابه څخه او بیشکه چه ده لره په نزد زمونږ خامخا نزدیکت وو او ښه ځای د راتلو

وَٱذْكُرْ عَبْدَنَآ أَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِىَ ٱلشَّيْطَٰنُ بِنُصْبٍ

او یاد کړه بنده زمونږ ایوب هغه وخت چه اواز وکړ ده رب خپل ته چه زه چه یم مسه کړم شیطان په سختۍ سره

ـــــ

روایت دی چه حضرت سلیمان علیه السلام ته په غزا د شام او د نصیبین کښې زر عربی اسونه پر لاس ورغلل نو بیا ورځ پس له لمانځه د ماښین څخه کښېنستی او حکم ئې وکړ چه دا اسان را پر مخ کښې تیر وئ او ده د هغو تماشه کوله تر هغو چه لمر پټ شو او لمونځ د ماز یګر او یا وظیفه د ده قضا شو نو دیر خفه شو او وئې ویل چه دا اسان را ولئ او د هغو اسانو غاړې او پښې ئې په توره ووهلې ۱۲ روح وغیره ۲

روایت کړی شوی دی چه سلیمان علیه الصلوٰة والسلام له خپلو میرمنو د ارانو څخه خفه شوی وو نو حکم چه په غزا کښې به ئې مستی کوله نو ئې وویل چه زه به ن شپه وګرزم یعنی جماع به وکړم له او یاو ښځو سره چه له هری یوی څخه به هلک پیدا شی چه جهاد به کوی په لاره د خدای کښې او انشاءالله ئې و نه ویل نو وزیر د ده اصف ورته وویل چه انشاءالله ووایه لیکن د ده هیر شول نو ښځو نه د یوی څخه سوی هیچا حمل نه واخستی چه هغه هم نیم هلک پیدا شو چه یوه ستر که یوه پښه او یو لاس ئې وو نو دایې هغه راووړ او پر تخت د ده ئې واچوئ دا هغه جوسه وه چه الله تعالیٰ فرمائی وَأَلْقَيْنَا عَلَىٰ كُرْسِيِّهِۦ جَسَدًا۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه که چیری سلیمان علیه السلام انشاءالله ویلی وای نو هغو ټولو به په لاره د خدای کښې جهاد کړی وو او ټول به سواره وو یعنی او یا ۳ زامن به ئې پیدا شوی وو ۱۲ روح وموضح وصحیح البخاری ۳ هر یوه چه به انسانانو ته تکلیف ورکاوه نو سلیمان علیه السلام به هغه په زنځیرو کښې بند کړ بعضی تر اوسه پوری بندیان دی ۱۲ موضح الفرقان

وقف لازم

وَّعَذَابٍ ﴿۴۱﴾ اُرْكُضْ بِرِجْلِكَ ۚ هٰذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ ﴿۴۲﴾

او په عذاب سره ووهه پښه خپله پر ځمکه دا ځای د لمباودی یخ او د څښلو دی

وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرٰى لِاُولِى الْاَلْبَابِ ﴿۴۳﴾

او ور مو کړه ده ته اهل د ده او مثال د هغوی له هغوی سره په مهربانی سره له خپله طرفه او لپاره د پند اخستلو خاوندانو د عقلو لره

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِبْ بِّهٖ وَلَا تَحْنَثْ ؕ اِنَّا وَجَدْنٰهُ صَابِرًا ؕ

او واخله په لاس خپل سره جارو نو ووهه ښځه خپله پر هغه او ځان مه حانثوه بیشکه چه مونږ لیدلی مو دی صبر کونکی

نِعْمَ الْعَبْدُ ؕ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿۴۴﴾ وَاذْكُرْ عِبٰدَنَاۤ اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ

ښه بنده وو دی بیشکه چه دی رجوع کونکی و خدای ته او یاد کړه ته بندګان زمونږ ابراهیم او اسحق او یعقوب علیهم السلام

اُولِى الْاَيْدِىْ وَالْاَبْصَارِ ﴿۴۵﴾ اِنَّاۤ اَخْلَصْنٰهُمْ بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ ﴿۴۶﴾ ۚ

چه خاوندان د لاسو او د سترګو وو بیشکه چه مونږ خالص کړي وو دوی خالص خوی سره په یادولو د کور د آخرت

وَاِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْاَخْيَارِ ﴿۴۷﴾ ؕ وَاذْكُرْ اِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ

او بیشکه چه دوی په نزد زمونږ له غوره کړي شویو بهترو خلقو څخه وو او یاد کړه اسماعیل ع‍م او الیسع ع‍م

وَذَا الْكِفْلِ ؕ وَكُلٌّ مِّنَ الْاَخْيَارِ ﴿۴۸﴾ ؕ هٰذَا ذِكْرٌ ؕ وَاِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ لَحُسْنَ

او خښتن د ضمانت او دا ټول له بهترو خلقو څخه وو دا چه دی پند دی او په تحقیق چه پرهیزګارانو لره ښه ځای

مَاٰبٍ ﴿۴۹﴾ ۙ جَنّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْاَبْوَابُ ﴿۵۰﴾ ۚ مُتَّكِـِٕيْنَ فِيْهَا يَدْعُوْنَ

د ورتلو دی جنتونه د اقامت دي پرانستلی شوی وی دوی ته دروازی د هغه تکیه کونکی وي په هغه کښی غواړی به

فِيْهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيْرَةٍ وَّشَرَابٍ ﴿۵۱﴾ وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ اَتْرَابٌ ﴿۵۲﴾

په هغه کښی میوي ډيري او شیان د څښلو او وی به نزد د دوی بندونکی د سترګو همزولی حورې

هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۵۳﴾ اِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهٗ مِنْ نَّفَادٍ ﴿۵۴﴾ ۚ

دا هغه دي چه وعده ئی کیدله تاسو سره لپاره د ورځی د حساب بیشکه چه دا رزق زمونږ دی نشته ده لره خلاصید

هٰذَا ؕ وَاِنَّ لِلطّٰغِيْنَ لَشَرَّ مَاٰبٍ ﴿۵۵﴾ ۙ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿۵۶﴾

خبره دا ده او بیشکه چه سرکشو ته خامخا بد ځای دی د ورتلو دوزخ دی ننوزي به دوی هغه ته نو بد ځانګوده دا

هٰذَا ۙ فَلْيَذُوْقُوْهُ حَمِيْمٌ وَّغَسَّاقٌ ﴿۵۷﴾ ۙ وَّاٰخَرُ مِنْ شَكْلِهٖۤ اَزْوَاجٌ ﴿۵۸﴾ ؕ هٰذَا

دا دې عذاب نو ودې څکي دوی دا او به ګرمی او نو ونه دی او بل عذاب له قسمه د دی څخه ډیر قسمونه دي دا

ف ۱ مفسرینو رحمهم الله تعالے ویلی دي چه ابلیس په شکل د طبیب سره کښیناستی چه د مریضانو دوائی به ئی کول. نو د ایوب علیه السلام ښځه ورته راغله ورته ئی وویل چه فلانکی سړی چه فلانی مرض ئی دی علاج به ئی وکړی. هغه وویل چه هو په دې شرط چه څه وخت هغه جوړه شي نو دا قدر دی ووائی چه ته شفا ورکړې. یعنې چه تا ته جوړه کړم او نور به شی د څخه ونه غواړم. نو هغه بی بی راغله او ایوب علیه السلام ته ئی دا حال بیان کړ نو هغه پوه شو چه دا شیطان دی. نو ئی دې ته وویل چه والله که زه جوړ شوم نو تا به سل لښتی ووهم. نو جبرائیل علیه السلام ورته راغلی ورته ئی وویل چه له طرفه د الله تعالیٰ څخه دا حکم دی چه دی بی بی ستا ډیر خدمت کړی دی وهل ئی لائق نه دي او وهه قوده یا جارو واخله چه سل ډکی لري او دا ور باندی ووهه نو له قسم څخه به خلاص شی" روح البیان وغیره

ایمان خپل ایا وژنئ تاسو یو سړی له دې سبب نه چه وائی دی رب زما خدای دی او په تحقیق چه راغلی دی تاسو ته

له

چه ایمان ئې راوړی دے له ده سره یعنې اوس بیا دوئ وادار کړی کړې پر زامنو د دوی چه له دې نه څه بیزاره شي لکه څنګه چه تاسو د ده په وجه قتل پرې کړی کړي وو ۱۲ التیسیر

۲ روایت دی چه درباریانو به فرعون د موسی علیه السلام له قتل نه منع کوئ چه مبادا عذاب راشي او یا فرعون په خپله ویریدی له قتل د ده نه مګر خپله بهادری به ئې ښکاره کوله چه ما نو تر اوسه پریږدی دی چه مړ کړم نو به ورنه خلاص شم تفسیر حقانی

۳ له ابن عباسؓ نه روایت دی چه د فرعون له قومه نه بې له دې یو کس او بل چا ایمان نه وو راوړی یو دا سړی وو او بله بی بی د فرعون وه او بل هغه سړی چه د فرعون او قوم حال ئې موسی علیه السلام ته راوړی وو چه دوی مشوره کړی ده چه تا قتل کړی. په حدیث شریف سره ثابته شوې ده چه خبره د عدل او د انصاف کول ظالم پاچا ته مخامخ له جهاد کولو نه بهتره ده. عروة ابن زبیر رضی الله تعالی عنه وئیلی دی چه ما عبدالله ابن عمرؓ ته ووئیل چه ما په هغه سخت کار خبر کړه چه مشرکانو له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره کړی وو نو هغهؓ ووئیل چه رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم کعبې سره لمونځ یا طواف کاوه نو عقبه کافر راغلی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ئې له څادر نه کلك ونیوه او ورته ئې وئیل یا ته مونږ منع کوې له هغه څه نه چه عبادت به ئې کاوه پلار نو زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ووئیل هو. په دې حال کښې ابوبکر صدیق رضی الله عنه راغلی او په رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم ئې غیرت وکړو او له هغه کافر نه ورنه ئې پورې کوه او هلته ئې په زوره ووئیل چه اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّىَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ مِنْ رَّبِّكُمْ. او له سره کو څخه ئې او ښکے

بهید لی ۱۲

۳
ع ۷
۸

بِالْبَیِّنٰتِ مِنْ رَّبِّکُمْ ؕ وَاِنْ یَّكُ كَاذِبًا فَعَلَیْهِ كَذِبُهٗ ۚ وَاِنْ یَّكُ

په ښکاره نخښو سره له رب ستاسو څخه اوکه وي دی دروغژن نو پر ده دي دروغ د ده اوکه وي دی

صَادِقًا یُّصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِیْ یَعِدُكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا یَهْدِیْ مَنْ

رښتینې نو وبه رسیږي تاسو ته بعضې عذاب چه وعده ئې کوي له تاسو سره بیشکه چه خدای لاره نه ښیئ هغه چا ته

هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿۲۸﴾ یٰقَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْیَوْمَ ظٰهِرِیْنَ فِی

چه دی اسراف کونکی وي دروغژن وي ای قومه زما تاسو لره د ه پاچاهي نن ورځ چه غالب ئی په

الْاَرْضِ ؗ فَمَنْ یَّنْصُرُنَا مِنْۢ بَاْسِ اللّٰهِ اِنْ جَآءَنَا ؕ قَالَ

ځمکه کښې نو څوك به مدد وکړي له موږ سره له عذابه د خدای څخه که راغلی موږ ته وویل

فِرْعَوْنُ مَاۤ اُرِیْكُمْ اِلَّا مَاۤ اَرٰی وَمَاۤ اَهْدِیْكُمْ اِلَّا سَبِیْلَ

فرعون چه نه ښیم تاسو ته مگر هغه چه مصلحت وینم زه او نه ښایم تاسو ته مگر لاره

الرَّشَادِ ﴿۲۹﴾ وَقَالَ الَّذِیْۤ اٰمَنَ یٰقَوْمِ اِنِّیْۤ اَخَافُ عَلَیْكُمْ مِّثْلَ

د هدایت (هوښیارتیا) او وویل هغه کس چه ایمان ئې راوړی وو ای قومه زما بیشکه چه زه یم ویریږم پر تاسو په مثل

یَوْمِ الْاَحْزَابِ ﴿۳۰﴾ مِثْلَ دَاْبِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ وَالَّذِیْنَ

د عذاب د ورځې د ډلو په مثل د حال د قوم د نوح ؑ او عادیانو او ثمودیانو او د هغه کسانو

مِنْۢ بَعْدِهِمْ ؕ وَمَا اللّٰهُ یُرِیْدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ﴿۳۱﴾ وَیٰقَوْمِ اِنِّیْۤ اَخَافُ

چه پس له دوی څخه وو او نه دی خدای چه اراده لري د ظلم کولو پر بندگانو او ای قومه زما بیشکه چه زه ویریږم

عَلَیْكُمْ یَوْمَ التَّنَادِ ﴿۳۲﴾ یَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِیْنَ ۚ مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ

پر تاسو له عذابه د ورځې د رابللو څخه هغه ورځ چه وبه گرځئ تاسو شا کونکی نه به وي تاسو لره له عذابه د خدای

مِنْ عَاصِمٍ ۚ وَمَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ

څخه هیڅوك ساتونكی او هر څوك چه گمراه کړ خدای نو نه به وي هغه لره هیڅوك لاره ښوونکی او خامخا په تحقیق چه راغلی تاسو ته وو

یُوْسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَیِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِیْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ ؕ

یوسف ؑ مخکې له دې څخه په نخښو ښکاره و سره نو همیشه وئ تاسو په شك کښې له هغه څخه چه راغلی وو ده تاسو ته هغه

حَتّٰۤی اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ یَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا ؕ كَذٰلِكَ

تر څو پورې چه وفات شو هغه نو وویل تاسو چه له سره به او نه لیږي خدای وروسته له هغه څخه بل پیغمبر همدارنگه

۱

ورځې د قیامت ته یوم التناد له دې جهته ویل کیږي چه په دغه ورځ به خلق یو بل ته ناري وهي جنتیان به ئې دوزخیانو ته او دوزخیان به جنتیانو ته ناري وهي. او هر ډله یو ډله به په نامه د دخپل مشر سره رابلل کیږي. هغه سړی مؤمن اول دوئ له عذابه د دنیا څخه او بیائې له عذابه د آخرت څخه ووېرول.

فتح البیان

۲

روایت دی چه موسی علیه السلام وروسته له وفاته د یوسف علیه السلام څخه څلور شپیته کاله وروسته پیدا کړی دي او دې دوارو په زمانه کښې هم دا یو فرعون موجود وو چه عمر د ده څلور سوه شپږ څلویښت کاله وو ۲

منه رحمه ربه

يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ﴿۳۴﴾ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ

گمراه کوی خدای هغه څوك چه دی اسراف کونکی وی شکمن وی هغه کسان چه جګړی کوی په

اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۭ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ

آیتونو د خدای کښی بی له دلیل څخه چه راغلی دی دوی ته لوی دی له دا خبره په نزد د خدای او په نزد

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۭ كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰي كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿۳۵﴾

د هغه کسانو چه ایمان ئی راوړی دی همدا رنګه مهر وهی خدای په د هر زړه د تکبر کونکی ظالم باندی

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ﴿۳۶﴾

او وویل فرعون ای هامانه جوړه کړه ماته یو ماڼۍ شائی زه ورسیږم لارو ته

اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ فَاَطَّلِعَ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى وَاِنِّىْ لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا ۭ وَكَذٰلِكَ

لارو د اسمانو ته نو چه وخیژم زه خدای د موسیٰ ته او بیشکه چه زه ګمان کوم پر ده د دروغژن او همدا رنګه

زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوْۗءُ عَمَلِهٖ وَصُدَّ عَنِ السَّبِيْلِ ۭ وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ

ښائسته کړی شوی وو فرعون ته بد عمل د ده او منع کړل شوی و ودی له لاری سمی څخه او نه وو مکر د فرعون

اِلَّا فِيْ تَبَابٍ ﴿۳۷﴾ ع وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِكُمْ

مګر په هلاك کښی او وویل هغه کس چه ایمان ئی راوړی وو ای قومه زما اتباع وکړی زه چه وښیم تاسو ته

سَبِيْلَ الرَّشَادِ ﴿۳۸﴾ يٰقَوْمِ اِنَّمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ ۡ وَّاِنَّ

لاره سمه ای قومه زما بیشکه دا خبره ده چه دا ژوند نږدی لږ فائده ده او بیشکه

الْاٰخِرَةَ هِىَ دَارُ الْقَرَارِ ﴿۳۹﴾ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا ۚ

چه اخرت دی کور د قرار دی له هر چا چه عمل وکړ د بدئ نو به ورکړی جزاء مګر په مثل د هغه

وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰۗىِٕكَ

او هر چا چه عمل وکړ نیك له نارینه څخه یا له ښځی څخه او دی مؤمن وی نو دغه کسان

يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۴۰﴾

داخلیږی به جنت ته روزی به ورکیږی په هغه کښی بی حسابه یعنی ډیره

وَيٰقَوْمِ مَا لِيْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ وَتَدْعُوْنَنِيْٓ اِلَى النَّارِ ﴿۴۱﴾

او ای قومه زما څه دی ما لره چه بولم تاسو خلاصون ته او تاسو بولی ما او رته

سله

له عبد الله ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ پر بوریئ باندی بیده شوی وو چه راپورته شو نو د هغه بوریي نغمی د ده په صورت مبارك کښی معلومیدلی. نو ابن مسعود رضی ورته وویل چه یا رسول الله که ته مونږ ته حکم وکړی نو تا ته به بستره غوړه وو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه څه دی ما لره او دنیا لره نه یم زه مګر په شان د یو سپور چه د یوی د ونی سیوری ته واوړی بیا په اخر د ورځی کښی ورڅخه ولاړ شی. او هغه ونه پریږدی. له حضرت انس رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه رسول الله علیه الصلوٰة والتسلیم ماته وویل ای زویکیه زما دیر والی وکړه د یاد ولو د مرګ. هر کله چه تا مرګ ډیر یاد کړ نو له دنیا څخه به دی زړه تور شی او اخرت ته به دی فکر شی او اخرت چه کور د قرار دی او دنیا چه دده غلونکی ده او غلیبلی هغه څوك دی چه په دنیا باندی وغلیږی ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

۴ ع ۱۰ ۹

تَدْعُونَنِي لِأَكْفُرَ بِاللَّهِ وَأُشْرِكَ بِهِ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ وَأَنَا

بولی تاسو ما دې ته چه کافر شم زه په خدای او چه شریک مقرر کړم له ده سره هغه چه نه دی ما ته په هغه علم او زه

أَدْعُوكُمْ إِلَى الْعَزِيزِ الْغَفَّارِ ﴿٤٢﴾ لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ لَيْسَ

بولم تاسو غالب خدای بخښونکی ته حقه ده دا خبره چه بیشکه هغه شی چه بولی تاسو ما هغه ته نشته

لَهُ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْآخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَا إِلَى اللَّهِ وَأَنَّ

هغه لره قبلول د خبرې په دنیا کښې او نه په آخرت کښې او بیشکه چه ورتلل زمونږ خدای ته دی او بیشکه چه

الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴿٤٣﴾ فَسَتَذْكُرُونَ مَا أَقُولُ لَكُمْ

اسراف کونکی دوی یاران د اور دی نو چه یاد به کړئ تاسو هغه چه وایم زه تاسو ته

وَأُفَوِّضُ أَمْرِي إِلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ بَصِيرٌ بِالْعِبَادِ ﴿٤٤﴾ فَوَقَاهُ اللَّهُ

او سپارم زه کار خپل خدای ته بیشکه چه خدای لیدونکی دی په بندګانو باندې نو وساتو دی خدای له

سَيِّئَاتِ مَا مَكَرُوا وَحَاقَ بِآلِ فِرْعَوْنَ سُوءُ الْعَذَابِ ﴿٤٥﴾ النَّارُ

سختو د هغه څخه چه مکر کړی وو دوی او چاپیره شو پر آل د فرعون باندې بد عذاب چه هغه اور دی ئے

يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا

وړاندې کیږی به دوی پر هغه په صبا او په ماښام او پر هغه ورځ چه ودریږی قیامت چه داخل کړئ

آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ ﴿٤٦﴾ وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ فِي النَّارِ فَيَقُولُ

آل د فرعون په ډیر سخت عذاب کښې او یاد کړه هغه وخت چه جګړې به کوی دوی په اور کښې نو وائی به

الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنْتُمْ

ضعیفان هغه کسانو ته چه تکبر ئې کړی وو چه بیشکه مونږ وو تاسو لره پیروان آیا نو ئې تاسو

مُغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا مِنَ النَّارِ ﴿٤٧﴾ قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُلٌّ فِيهَا

دفع کونکی له مونږ څخه حصه له اوره څخه وبه وائی هغه کسان چه تکبر ئې کړی وو بیشکه چه مونږ ټول په دوزخ کښې یو

إِنَّ اللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ ﴿٤٨﴾ وَقَالَ الَّذِينَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ

بیشکه چه خدای په تحقیق حکم ئې وکړه مینځ د بندګانو کښې او وبه وائی هغه کسان چه په اور کښې وی خزانچیانو

جَهَنَّمَ ادْعُوا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِنَ الْعَذَابِ ﴿٤٩﴾

د دوزخ ته چه دعا وکړئ رب خپل ته چه سپک کړی له مونږ څخه یوه ورځ له عذاب څخه

ف له

روایت دی چه فرعون حکم وکړه چه دا سړی قتل کړئ او یو ده لره ئی له خاصو خلقو خپلو څخه پسی ورولیږه او دی ولاړ او په یو غره کښې په لمانځه مشغول شو او الله تعالی یو څو درندګان لپاره د څوکیدارئ د ده مقرر کړل هر کله چه هغه دله د فرعون په ده پسې راغله او دا حال د ده ئی ولید نو په ویره سره بیرته راغله او فرعون ئی خبر کړ نو فرعون هغه ټول مړه کړل چه دا خبره دا سی نه وی مشهوره شی ۱۲ روح البیان ع یعنې داد دروغو معبودان ستاسو څخه نه څوك رابللي شی حکه چه ژبه نه لری او نه خود چادعا قبلولی شی بلکه جمادات بې فائده دي ۱۲ منه ۲ له اهل السنة والجماعة دا آیت شریف پر حقیقت د عذاب د قبر دلیل کړی دی چه په صحیح البخاری و مسلم کښې له عبدالله ابن عمر رض څخه روایت شوی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه په تحقیق هر کله چه څوك له تاسو څخه مړ شی نو سهار او ماښام په ده ته هغه ځای ئې ښکاره کیږی چه په قیامت کښې به دی په هغه کښې وی که دوزخی وی نو دوزخ به ورته وړاندې کیږی او که جنتی وی نو جنت به ورته وړاندې کیږی او ورته به ویل شی چه دا ستا ځای دی او تر قیامته پورې به په دې ځای کښې ئې امام نووی رحمة الله علیه ویلی دی چه دا اهل سنتو دا مذهب دی چه عذاب د قبر حق دی او په دې باب کښې ډیر احادیث نبویه علی صاحبها الف الف سلام و صلوة وتحیة راغلی دی ۱۲ ۲ ۳ روح البیان و فتح البیان وغیره

قَالُوٓا اَوَلَمْ تَكُ تَاْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ؕ قَالُوْا بَلٰى ؕ قَالُوْا

وبه وائی ورته دوی ایا نه وو راغلی تاسو ته رسولان ستاسو معجزو واضحو سره وبه وائی چه هو راغلی وو نو وبه وائی خزانچیان

فَادْعُوْا ۚ وَمَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿٥٠﴾ ع اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا

چه بولئ خدای او نه دی دعا د کافرانو مګر په ګمراهۍ کښې ده له بیشکه چه مونږ خامخا مدد کوو له پیغمبرانو زمونږ سره

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُوْمُ الْاَشْهَادُ ﴿٥١﴾ لا

او له هغه کسانو سره چه ایمان ئې راوړے دے په دې ژوند نزدې کښې او په هغه ورځ چه وبه درېږي شاهدان

يَوْمَ لَا يَنْفَعُ الظّٰلِمِيْنَ مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ

په هغه ورځ به نفع نه رسوی ظالمانو ته عذرونه د دوی او دوی لره لعنت دے او دوی لره

سُوْٓءُ الدَّارِ ﴿٥٢﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى وَاَوْرَثْنَا بَنِيْٓ

بد کور دے او خامخا په تحقیق چه ورکړې وو مونږ موسیٰ ؑ ته هدایت او په میراث ورکړو مونږ بنی

اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ ﴿٥٣﴾ هُدًى وَّذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿٥٤﴾ لا

اسرائیلو ته کتاب چه لاره سمه وه او پند لو لپاره د خاوندانو د عقلو

فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ

نو صبر کوه بیشکه چه وعده د خدای حقه ده او بخښنه غواړه ګناه د خپلې لره او تسبیح وایه پیوست له حمده

رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ ﴿٥٥﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ

د رب خپل سره په ماښام او په سهار کښې بیشکه هغه کسان چه جګړې کوی په ایتو د خدای کښې بې له

سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۙ لا اِنْ فِيْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا كِبْرٌ مَّا هُمْ بِبَالِغِيْهِ ۚ ج

دلیل څخه چه راغلې وی دوی ته نه دی په سینو د دوی کښې مګر تکبر دی چه نه دی رسیدونکی هغه ته

فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿٥٦﴾ لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ

نو پناه وغواړه په خدای پورې بیشکه چه هم دی اوریدونکې دی لیدونکې دی خامخا پیدا کول د اسمانونو

وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

او د ځمکې ډیر لوی دی له پیدا ښته د خلقو څخه ولیکن زیات د خلقو نه

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۙ ٥ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

پوهیږی او نه دی برابر ړوند او لیدونکی او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے

له حاصل دا چه د غه خزانچیان
٥ ع ٣ ١٠ د دوزخ به دوی ته ووائی چه
مونږ خو ستاسو سپارښت کوو
بلکه تاسو پخپله دعا او زاری
وکړئ او د عا د کافرانو به په دغه
ورځ کښې هیڅ کله قبوله نه شی ١٢
منه رحمه ربه

٢ له نقل شوی دی چه کفارو
د مکې د قران او بعثت کښې اختلاف
کاوه چه دا کتاب کلام د خدای
نه بلکه د بشر دی او پیاشوندی
کیدل وروسته له مرګه څخه محال
دی نو دا ایت شریف نازل شو چه
اِنَّ الَّذِیْنَ یُجَادِلُوْنَ الاٰیة ١٢ سه
چه هغه دوزخ دی ١٢ روح البیان

ع ه
معنی د لِذَنْبِكَ یا خو دا ده چه
معافی وغواړه له الله تعالیٰ څخه
لپاره دامت خپل او یا مراد له
ګناه موڅخه هغه صغیره ګناه ده
چه مخکې له نبوت څخه له رسول
الله صلی الله علیه وسلم څخه صادر
شوی وو منه رحمه الله تعالیٰ

ع ه
بیشکه چه وعده د خدای حقه ده
د مدد د انبیاؤ او د هلاك د
دښمنانو او دا د موسیٰ علیه السلام
له حاله معلوم کړه چه په اخر کښې
د الله تعالیٰ له طرفه مدد دوی سره
وشو په مقابله د فرعون کښې ١٢
منه رحمه ربه

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَلَا الْمُسِيْٓءُ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾ اِنَّ
او عمل ئې کړي دي ښه نیکو او نه بدکاره لږ پند اخلې تاسو بیشکه چه

السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۹﴾
قیامت خامخا رانلونکې دی نشته شك په هغه کښې مګر زیات د خلقو ایمان نه راوړي

وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ
او ویلي دي رب ستاسو بولئ ما زه به قبلول وکړم تاسو له بیشکه هغه کسان چه تکبر کوي

عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ ﴿۶۰﴾ ع اَللّٰهُ الَّذِيْ
له عبادت زما څخه ژر دي چه داخل به شي دوی په دوزخ کښې چه ذلیل به وي خدای هغه ذات دی

جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ
چه ګرځولی ئې دی تاسو له شپه چه ارام وکړئ په هغه کښې او ګرځولی ئې دی ورځ بښوونکي بیشکه چه خدای

لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۶۱﴾
خامخا خاوند د فضل دی پر خلقو باندې مګر زیات د خلقو شکر نه اداء کوي

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۘ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؗ فَاَنّٰى
دا ذات رب ستاسو پیدا کونکی د هر شي دی نشته بل څوك لائق د عبادت مګر دی دی نو کوم طرف ته

تُؤْفَكُوْنَ ﴿۶۲﴾ كَذٰلِكَ يُؤْفَكُ الَّذِيْنَ كَانُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ يَجْحَدُوْنَ ﴿۶۳﴾
ګرځول کیږئ تاسو همدارنګه ګرځول کیږي له حق څخه هغه کسان چه وو هغوئ پر ایتونو د خدای باندې انکار کونکي

اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ قَرَارًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً وَّصَوَّرَكُمْ
خدای هغه ذات دی چه ګرځولې ئې ده تاسو له ځمکه ځای د قرار او ګرځولی ئې دی اسمان چت او صورتونه ئې جوړ کړي

فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ
دي ستاسو نو ښائسته کړي ئې دي صورتونه ستاسو او روزي ئې درکړې ده تاسو ته له پاکو شیانو څخه دا دی خدای

رَبُّكُمْ ۚۖ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۴﴾ هُوَ الْحَيُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ
رب ستاسو نو ډیر برکتي دی خدای رب د ټولو مخلوقاتو دی ژوندی دی نشته لائق د عبادت بل څوك مګر دی

فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۵﴾
نو بولئ دی خالص کونکي اوسئ ده لره د عبادت ټول ثنا خدای لره ده چه رب د مخلوقاتو دی

ـــــ
ل له نعمان ابن بشیر څخه روایت دے دی چه رسول الله صلے الله علیه وسلم به فرمایل چه په یقین سره دعا کول عبادت دے بیائې دا ایت شریف وواییه چه وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ الاٰیة. له ابوهریره رضی الله تعالے عنه څخه روایت دے چه رسول الله صلے الله علیه وسلم فرمایلي دي چه دعا مغزه د عبادت دے پیر و روایت د ابن عباسؓ کښې راغلي دي چه دُعا بهتر عبادت دی او طریقه د دعا کولو دا ده چه لاسونه دی تر سینه پورې پورته نیسي او په اول او اخیر کښې دي درود شریف ووائي او پر قبلیدو د دعا دې یقین وکړي او په اخیر کښې دی دواړه لاسونه پر مخ را تیر کړي ۲ روح البیان وغیره
ع ۱۰ ۶ ۱۱
ع په حدیث شریف کښې راغلي دي چه هر چا چه سوال ونکړ له الله تعالی څخه نو الله تعالی به ورته په غضب شي ۳ ابن جریر رضی الله تعالے عنه ویلي دي چه یو ډلي له اهل علم څخه حکم کړی دی چه هر څوك لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ووائي نو وروسته دی اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ هم ووائي بنا پر دی قول د الله تعالے باندې چه عمل را شي. له ابن عباسؓ څخه روایت شوی دی چه هر چا لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وویل نو وروسته دی اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ هم ووائي بنا پر دې قول د الله تعالے فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ الاٰیة. له سعید ابن جبیر رضی الله تعالے عنه څخه روایت دی چه هر څوك مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ نو لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دي ووائي او وروسته له دې څخه دې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ووائي بیائې دا ایت شریف ووایه
عبدالله ابن زبیر به له هر لمانځه څخه وروسته سلام ګرځولو دا دعا ویله چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا نَعْبُدُ اِلَّا اِيَّاهُ لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ او ویل ئې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به وروسته له هر لمانځه څخه دا کلمې لوستلې او اواز سره به ئې ویلې ۱۲ ابن کثیر

قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ

و وایه چه زه بیشکه چه منع کړی شوی یم له دی نه چه عبادت کوم هغه بتانو چه بولئ تاسو بی له خدایه نه

لَمَّا جَاءَنِيَ الْبَيِّنَاتُ مِنْ رَبِّي وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ لِرَبِّ

هر کله چه راغلل ما ته دلیلونه له ربه زما نه او امر کړی شوی دی ما ته چه غاړه کیږدم رب

الْعَالَمِينَ ﴿٦٦﴾ هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ

د مخلوقاتو ته دی هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی تاسو له خاورو نه بیا له منی نه

ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ

بیا له چکی وینی نه بیا راوباسی تاسو واړه بیا تربیت کوی ستاسو چه ورسیږئ قوت خپل ته

ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا ۚ وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفَّىٰ مِنْ قَبْلُ ۖ وَلِتَبْلُغُوا

بیا چه شئ تاسو زاړه او بعضی له تاسو نه هغه څوک دی چه مړ کیږی مخکی له دی نه او چه ورسیږئ تاسو

أَجَلًا مُسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ هُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ ۖ

نیټی پر نامه کړی شوی ته او دپاره د دی چه تاسو عقل وکړئ دی هغه ذات دی چه ژوندی کول کوی او مړل کوی

۷ ع ۸ ۱۲ فَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ ﴿٦٨﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى

نو په هغه وخت کښی چه حکم وکړی د یو کار نو بیشکه دا خبره ده چه وائی دی هغه ته چه شه موجود شه نو موجود شی ایا نه ګوری ته

الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ﴿٦٩﴾ الَّذِينَ

هغه کسانو ته چه جګړی کوی په ایتونو د خدای کښی کوم طرف ته ګرځولی دوی هغه کسان دی

كَذَّبُوا بِالْكِتَابِ وَبِمَا أَرْسَلْنَا بِهِ رُسُلَنَا ۖ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٧٠﴾

چه نسبت د دروغو کوی دی قران او هغه له چه لیږلی دی موږ په هغه پیغمبران خپل نو ژر دی چه پوه به شی دوی

إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلَاسِلُ يُسْحَبُونَ ﴿٧١﴾ فِي الْحَمِيمِ

په هغه وخت کښی چه طوقونه به په غاړو د دوی کښی وی او ځنځیرونه به هم وی راکشول کیږی به دوی په اوبو ګرمو کښی

ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ ﴿٧٢﴾ ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ

بیا به په اور کښی سوځول کیږی دوی بیا به وویل شی دوی ته چه چیری دی هغه بتان چه وی تاسو

تُشْرِكُونَ ﴿٧٣﴾ مِنْ دُونِ اللَّهِ ۖ قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا بَلْ لَمْ نَكُنْ نَدْعُو

شریکول به مو بی له خدایه نه وبه وائی دوی چه ورک شول له موږ نه بلکه نه وو موږ چه بلل به مو

۱ه روایت کړی شوی دی چه کفارو د قریشو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل چه ایا ته نه ګوری دین د خپل پلار عبدالله ته او دین د خپل نیکه عبدالمطلب ته یعنی څرنګه به دین دی نو ته په هغه عمل وکړی نو الله تعالی دا ایت شریف نازل کړ چه قل انی نهیت ان اعبد الذین الایة ۱۲ مه حاصل دا چه دا کارونه د الله تعالی دی دپاره د دی ئی کوی چه تاسو فکر وکړئ او پوه شئ چه کونګی د داسی مختلفو کارونو والا خو الله دی د بل چا پکښی هیڅ اختیار نشته ۱۲ منه رحمه

۲ه اکثر مفسرین وائی چه دا ایتونه د قدریه و په حق کښی نازل شوی دی چه له تقدیر نه منکر دی او وائی چه انسان د خپلو کارونو پوره پوره اختیار لری او دی د خپلو افعالو خالق دی. ابن سیرین وئیلی دی چه که چیری دا د قدریه په باب کښی نه وی نازل شوی نو په هیڅ بد چا په حق کښی نازل شوی وی ۱۲ تفسیر وحیدی

۳ه چه د هغوی پرستش به به موکاوه او د سختی په وخت کښی به مونږ دوی ته ملاتړ غوښتو

۴ه یعنی هغوی له مونږ څخه داسی جلا او بیزاره شو ګویا چه مونږ دوی په دنیا کښی نه بلل او نه مو دوی عبادت کړی وو ۱۲ تفسیر وحیدی

مِن قَبْلُ شَيْئًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ الْكَافِرِينَ ﴿٧٤﴾ ذَٰلِكُم بِمَا كُنتُمْ

مخکې له دې څخه هیڅ شی دارنګه ګمراه کوي خدای کافران دا کار په سبب د هغه دې چه وئ تاسو

تَفْرَحُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ تَمْرَحُونَ ﴿٧٥﴾ ادْخُلُوا

خوشحالي به مو کوله په ځمکه کښې په ناحقه سره او په سبب د هغه دې چه وئ تاسو تکبر به مو کاوه ننوزئ

أَبْوَابَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٦﴾

په دروازو د دوزخ کښې همیشه په هغه کښې نو بده دی ځای د آرام د تکبر کونکو دا دوزخ

فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ ۚ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي

نو صبر کوه بیشکه چه وعده د خدای حقه ده نو که وښیو مونږ تا ته بعضې هغه عذاب

نَعِدُهُمْ أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ﴿٧٧﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا

چه وعده ئې کوو له دوی سره یا وفات کړو تا نو مونږ ته به بیا راوستلی شي دوئ او خامخا په تحقیق لیږلي وو مونږ

رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ مِنْهُم مَّن قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن

رسولان مخکې له تا څخه بعضې له دوی څخه هغه دي چه بیان کړي مو دي پر تا باندې او بعضې له دوی څخه

لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ۗ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ

هغه دي چه نه مو دي بیان کړي پر تا باندې او نه سنبائي هیڅ رسول لره دا چه راوړي یوه معجزه

إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ فَإِذَا جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ

مګر په اذن د خدای سره نو هر کله چه راغلی حکم د خدای حکم به وکړ اسی په حقه سره او تاوان به وکړي

هُنَالِكَ الْمُبْطِلُونَ ﴿٧٨﴾ ع اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَنْعَامَ لِتَرْكَبُوا

په دغه ځای کښې باطلو نکي خلق (یعنې دروغژن) خدای هغه ذات دی چه پیدا کړي ئې دي تاسو لره چارپایان سپریږئ

مِنْهَا وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوا عَلَيْهَا

پر بعضو د دوئ او بعضې له دوی څخه خورئ تاسو او د تاسو لره په دوی کښې نفعې او چه ورسیږئ تاسو په دوی سره هغه

حَاجَةً فِي صُدُورِكُمْ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٨٠﴾

حاجت ته چه په سینو ستاسو کښې وي او پر دوی باندې او کشتیو باندې بار بریږئ تاسو

وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ فَأَيَّ آيَاتِ اللَّهِ تُنكِرُونَ ﴿٨١﴾ أَفَلَمْ يَسِيرُوا

او ښئي تاسو ته نخښې د قدرت خپل نو له کومې له علامو د خدای څخه تاسو انکار کوئ آیا نو نه ګرزي دوئ

ع ٨ ١٣

سله

یعنې بعضې رسولان مونږ لیږلي دي چه د هغوی بیان مي تا ته نه دی کړی له حضرت علي کرم الله وجهه څخه روایت دی چه الله ج یو پیغمبر لیږلی وو چه هغه عبد حبشي وو نو د هغه بیان الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نه دی کړی له ابوذر رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه ما وویل ای رسوله د خدای پیغمبران څو مره دي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چه یو لک او څلرویشت زره دي. رسولان له دوی څخه دری سوه او ښلس دي-- رواه امام احمد رح ترجمه فتح وکشاف القرآن

ع ٥

په یو حدیث شریف کښې راغلی دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه الله تعالی اته زره پیغمبران رالیږلی دي څلور زره په بني اسرائیلو کښې او څلور زره په باقي خلقو کښې وو. ایمان راوړل پر ټولو پیغمبرانو په طریقه د اجمال سره فرض دي. یعنې هر څو مره پیغمبران چه د الله له طرفه څخه رالیږل شوي دي هغه ټول حق دي ١٢

فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ط

په ځمکه کښې چه وګوري دوئ چه څرنګه شو اخير کار د هغه کسانو چه مخکې له دوئ څخه وُو

كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْهُمْ وَاَشَدَّ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ فَمَآ اَغْنٰى

وُو هغوی زيات له دوئ څخه او سخت وُو له جهته د قوت او له جهته د نخښو په ځمکه کښې نو هيڅ دفع ونکړه

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

له دوئ څخه هغه چه وو هغوی چه کول به ئې نو هر کله چه رابه غلل هغوی ته رسولان د هغوی په نخښو ښکاره سره

فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ

خوشحاله به شو دوی پر هغه چه له دوئ څخ به وُو له علم څخه او چاپيره به شو پر هغوی هغه عذاب چه وُو دوی پر هغه

يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿٨٣﴾ فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ وَ

پورې به ئې مسخرې کولې نو هر کله چه وليدې دوی عذاب زمونږ نو وبه ئې ويل چه ايمان مو راوړے دے پر خدای يواځي

كَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿٨٤﴾ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ اِيْمَانُهُمْ

او کافر شو مونږ پر هغه چه وو مونږ له هغه سره موشريك نيوی نو نه وُو داکار چه نفع رسولی وی دوی ته ايمان د دوے

لَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ فِيْ عِبَادِهٖ ج وَ

هر کله چه وبه ليدے دوی عذاب زمونږ عادت د خدای دی هغه چه په تحقيق تير شوی دی په بندګانو د ده

خَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٨٥﴾ ع

او تاوانی شول په دغه ځای کښې کافران

سُوْرَةُ حٰمٓ السَّجْدَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دي

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿٢﴾ ج كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ

خدای عالم دے په معنی د دے ۱ دا قرآن نازل شوی دی له خدای بخښونکی مهربانه دا يو کتاب دی چه واضح بيان کړی شوی دي ايتونه د ده

قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٣﴾ لا بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ج فَاَعْرَضَ اَكْثَرُهُمْ

قرآن عربی دی لپاره د هغه قوم چه پوهيږي زيري ورکونکی دی او ويرونکی دی نو مخ وګرځوی زياتو د دوی

فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿٤﴾ وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ

نو دوی نه اوري حق او وائی دوی چه زړونه زمونږ په پردو کښې دي له هغه شي څخه چه بولې ته مونږ هغه ته

۱ له جابر ابن عبد الله رضی الله عنه څخه روايت دي چه يوه ورځ قريش جمع شول وئې ويل چه تاسو فکر وکړئ چه څوك په مونږ کښې په شعر او سحر او کهانت کښې ښه ماهر دی نو هغه دې ددے سړی ته ورشي چه زمونږ جماعت ئې تار په تار کړه او زمونږ کار ئې خراب کړ او زمونږ پر دين ئې عيب ووايه خبرې دې ورسره وکړي او ودې ګوري چه دے څه جواب ورکوی نو خلقو وويل چه بی له عتبه ابن ربيعه څخه بل څوك نشته چه دا کار وکړای شي نو هغه ئې رسول الله صلے الله عليه وسلم ته ورولیږو هغه راغلے رسول الله صلے الله عليه وسلم ته ئې وويل چه اے محمد (ص) ته ښه ئې او که عبد الله او عبد المطلب ښه وُو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم چپ شو بيا عتبه وويل که چيرې دا خلق ستا نه ښه وي نو دوی خو ددے معبودانو چه ته ورباندې بد وائې عبادت کړلو او که ته ترې ښه ئې کمان له دوی څخه ښه ئې نو خبرې وکړه چه مونږ ئې واورو او قسم پر خدای دے چه ته پر خپل قوم باندې دومره بد بخت (سپړلی) څخه هم سپيره ئې چه زمونږ جماعت دې تار په تار کړی دے او زمونږ کار دې ګډ وډ کړ او زمونږ پر دين دې عيب ووايه او مونږ دې په ټولو عرب کښې مشهور کړو چه په قريشو کښې کاهن دی قسم په الله دی چه دے حالت ته نوبت ورسيدے چه لکه د حاملې ښځې آواز ته انتظار دي چه يو پر بل توره راوباسو اے سړيه که ستا مال ته ضرورت وي نو مونږ به تا ته دومره مال سره جمع کړو چه ته له ټولو قريشو څخه غنی شې او که دے ښځې ته حاجت وی نو د قريشو په ښځو کښې ئې ته خوښې کړه نو مونږ به تا ته لس ښځې په نکاح سره درکړو نو رسول الله صلے الله عليه وسلم ورته وويل چه ستا خبره خلاصه کړه عتبه وويل چه هو نو رسول الله وويل بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ او دا سورة ئې تر فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ وَّثَمُوْدَ پورې ورته ووايه. عتبه وويل چه بس بس

مستا څخه بله خبره يعنی جواب بی له دی نشته نو رسول الله صلے الله عليه وسلم ورته وويل چه نه. نو هغه ولاړ او قريشو ته ئې دا بيان وکړ ۱۲ فتح البيان من نفسه وروح البيان

له ویل شوی دي چه دا ایات شریف نازل شوی دي په باب د ناجوړه معذورو خلقو کښې چه توان د عبادت کولو ئې ختم شي یعنې دوئ ته به دومره ثواب د عبادت ورکړے شي

وَفِيٓ اٰذَانِنَا وَقۡرٌ وَّمِنۡۢ بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ حِجَابٌ فَاعۡمَلۡ اِنَّنَا

او په غوږونو زمونږ کښې درنوالے دے او په مینځ زمونږ او په مینځ ستا کښې پرده ده نو عمل کوه ته بیشکه چه مونږ

عٰمِلُوۡنَ ۝۵ قُلۡ اِنَّمَآ اَنَا بَشَرٌ مِّثۡلُكُمۡ يُوۡحٰۤى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمۡ اِلٰهٌ

هم عمل کونکی یو ووایه ته چه بیشکه اخبره دا ده چه زه سړے یم په شان ستاسو وحی کیږي ماته دا چه بیشکه معبود ستاسو معبود دے

وَّاحِدٌ فَاسۡتَقِيۡمُوۡۤا اِلَيۡهِ وَاسۡتَغۡفِرُوۡهُ ؕ وَوَيۡلٌ لِّلۡمُشۡرِكِيۡنَ ۝۶

یو دے نو سم ودرېږئ او مخ کړئ طرف د ده ته او بخښنه وغواړئ له ده نه او افسوس دے لپاره د مشرکانو

الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ وَهُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ هُمۡ كٰفِرُوۡنَ ۝۷ اِنَّ

هغه کسان چه نه ورکوي زکوٰة او دوئ په اخرت باندې دوی کافر کیدونکي دي بیشکه

ع 15 الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمۡ اَجۡرٌ غَيۡرُ مَمۡنُوۡنٍ ۝۸ قُلۡ

هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے او عمل کړي ئې نیکو دوی لره اجر دے چه نه دے قطع کیدونکے له ووایه ته

اَئِنَّكُمۡ لَتَكۡفُرُوۡنَ بِالَّذِيۡ خَلَقَ الۡاَرۡضَ فِيۡ يَوۡمَيۡنِ وَتَجۡعَلُوۡنَ

ایا بیشکه تاسو کافران کیږئ په هغه خدای باندې چه پیدا کړې ئې ده ځمکه په دوو ورځو کښې او مقرروئ تاسو

لَهٗۤ اَنۡدَادًا ؕ ذٰلِكَ رَبُّ الۡعٰلَمِيۡنَ ۝۹ وَجَعَلَ فِيۡهَا رَوَاسِيَ مِنۡ

ده لره شریکان دا ذات رب د ټولو مخلوقاتو دے او پیدا کړي ئې دي په ځمکه کښې غرونه محکم

فَوۡقِهَا وَبٰرَكَ فِيۡهَا وَقَدَّرَ فِيۡهَاۤ اَقۡوَاتَهَا فِيۡۤ اَرۡبَعَةِ اَيَّامٍ ؕ سَوَآءً

بر سیره پر دې او برکت ئې اچولے دے په دې کښې او یو اندازه کړې ئې په دې کښې روزۍ د دې په څلورو ورځو کښې برابري دي

لِّلسَّآئِلِيۡنَ ۝۱۰ ثُمَّ اسۡتَوٰۤى اِلَى السَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا

لپاره د پوښتنه کونکو بیا ئې اراده وکړه د پیدا کولو د اسمان ته او دے لوګې وو نو وې ویل دې ته

وَلِلۡاَرۡضِ ائۡتِيَا طَوۡعًا اَوۡ كَرۡهًا ؕ قَالَتَاۤ اَتَيۡنَا طَآئِعِيۡنَ ۝۱۱ فَقَضٰهُنَّ

او ځمکې ته راشئ دواړه په خوښه یا په ناخوښۍ ووئیل دواړو راغلو مونږ په خوښه سره نو مقرر ئې کړل

سَبۡعَ سَمٰوَاتٍ فِيۡ يَوۡمَيۡنِ وَاَوۡحٰى فِيۡ كُلِّ سَمَآءٍ اَمۡرَهَا ؕ وَزَيَّنَّا

دا اوه اسمانونه په دوو ورځو کښې او مقرر ئې کړ په هر یو اسمان کښې کار د هغه او ښائسته کړي دي مونږ

السَّمَآءَ الدُّنۡيَا بِمَصَابِيۡحَ ۖۗ وَحِفۡظًا ؕ ذٰلِكَ تَقۡدِيۡرُ الۡعَزِيۡزِ

دا اسمان نژدې په ډیوو سره او په ساتنه سره دا کار اندازه کول د غالب

لکه چه ئې په حالت د روغتیا او طاقت کښې ئې کاوه. ۲ حضرت مجاهد وئیلي دي چه مطلب ئې دا دے چه ستا خبرې ته دوئ غوږ نه نیسي او دوئ په پردو کښې دي. ۳ او غوږونو کښې ئې کاڼه والے دے او په مینځ کښې پرده ده. ۴ ورباندې هیڅ اثر نشي کولائ چه زړه ئې نه پوهیږي. ۵ مونږ به دین باندې قائم او سوچه شرک او بت پرستي نه پاکه وي. ۶ لاإله إلا الله مطلب دا چه زړه په جادو کړیمه کا هن نه یم بلکه ستاسو په شان انسان یم مګر داسې فرق مودي چه په ما وحی نازلیږي. ۷ ابن عباس رضی الله عنه روایت دے چه یهودیان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او ئې پوښتنه وکړه د پیدائښت د اسمانونو او ځمکې نه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چه الله پاک ځمکه په دوو ورځو کښې پیدا کړه یکشنبه او دوشنبه او پیدا ئې کړل غرونه او هغه چه په کښې دي په ورځ د سه شنبې او پیدا ئې کړل ونې اوبه ښارونه آباد او خرابي او ورانې په څلورو ورځو کښې شوې. الله تعالیٰ فرمائي چه قُلۡ اَئِنَّكُمۡ لَتَكۡفُرُوۡنَ بِالَّذِيۡ تر لِّلسَّآئِلِيۡنَ پورې بیا ئې ووئیل چه اسمان پیدا کړ او په ورځ د جمعې کښې ستوري لمر سپوږمۍ او پرښتې پیدا کړې. یهودیانو وویل چیا محمد (ص) بیا څه وشو؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل ثم استوی علی العرش بیا ئې برابر کړو په عرش. چه څرنګه د الله شان سره مناسب وي. نو یهودو وویل چه بیا ئې ارام وکړي. دې وویل کاشکې خبره پوره وکړي بیا دوی وویل چه الله تعالیٰ پاک له ارام وکړي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیر په غصه شو نو الله تعالیٰ دا ایات شریف نازل کړچه وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِيۡ سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ وَّمَا مَسَّنَا مِنۡ لُّغُوۡبٍ فَاصۡبِرۡ عَلٰى مَا يَقُوۡلُوۡنَ یعنې خامخا مونږ پیدا کړي دي اسمانونه او ځمکه او هغه چه په مینځ د دوی کښې دي په شپږو ورځو کښې او نه ده مسه کړي مونږ هیڅ ستړیا نو صبر کوه په هغه چه دوی وائي ۱۲ فتح من نفسه

۳ له یعنې الله تعالیٰ اسمانانو ته حکم وکړ چه لمر سپوږمۍ او ستوري راوباسه او ځمکې ته ئې وفرمایل چه اوبه چینې وبهوه او ګیاه راشنکوه نو دې دواړو فرمانبرداري وکړه او دا ئې وشول ۱۲ منه

الْعَلِيمِ ﴿١٢﴾ فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صَاعِقَةً مِّثْلَ صَاعِقَةِ

عالم خدای دی   نو که وګرځیدل دوی له حق څخه نو ووایه ته چه ویروم تاسو له سخت عذابه څخه په مثل د عذاب د

عَادٍ وَثَمُودَ ﴿١٣﴾ إِذْ جَاءَتْهُمُ الرُّسُلُ مِن بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ

عادیانو او ثمودیانو   هغه وخت چه راغلل دوی ته پیغمبران   له مخکښې د دوی څخه   او له

خَلْفِهِمْ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ ۖ قَالُوا لَوْ شَاءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ مَلَائِكَةً

او له شاته د دوی څخه چه عبادت مه کوئ تاسو مګر د خدای رو ویل دوی که اراده کړی وای رب زمونږ نو خامخا رالیږلی به ئی وی ملائکې

فَإِنَّا بِمَا أُرْسِلْتُم بِهِ كَافِرُونَ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ

نو بیشکه چه مونږ په هغه شی چه لیږلی شوی یئ تاسو پر هغه کافران یو   نو هر چه عادیان وو نو تکبر ئی وکړ په ځمکه کښې

بِغَيْرِ الْحَقِّ وَقَالُوا مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ۖ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ

په ناحقه سره   او وئی ویل   چه څوک دی سخت له مونږ څخه په قوت کښې آیا نه وینی دوی چه بیشکه هغه خدای

الَّذِي خَلَقَهُمْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۖ وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يَجْحَدُونَ ﴿١٥﴾

چه پیدا کړی ئی دی دوی هغه سخت دی له دوی څخه له جهته د قوت   او وو دوی پر ایتونو زمونږ انکار به ئی کاوه

فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي أَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيقَهُمْ

نو ولیږه ومونږ پر دوی باندی باد   تند   په   ورځو سپیرو کښې   چه وڅکو پر دوی باندی

عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۖ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَخْزَىٰ

عذاب د خوارئ   په دې ژوند نژدی کښې   او خامخا عذاب د آخرت ډیر خوارونکی دی

وَهُمْ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٦﴾ وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَاهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمَىٰ عَلَى

او له دوی سره به مدد ونکړل شی   او هر چه ثمودیان وو نو لار وښوده مونږ دوی ته نو خوښ کړ دوی ړوندوالی په

الْهُدَىٰ فَأَخَذَتْهُمْ صَاعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُونِ بِمَا كَانُوا

سمه لاره باندې   نو ونیول دوی سخت عذاب چه آواز وو   سپکونکی عذاب   په سبب د هغه چه وو

يَكْسِبُونَ ﴿١٧﴾ وَنَجَّيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴿١٨﴾ وَيَوْمَ يُحْشَرُ

هغوی کول به ئی   او خلاص کړه مونږ هغه کسان چه ایمان ئی راوړی وو او وو هغوی چه پرهیزکاری ئی کوله   او یاد کړه هغه ورځ چه راجمع به کړی شی

أَعْدَاءُ اللَّهِ إِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٩﴾ حَتَّىٰ إِذَا مَا جَاءُوهَا شَهِدَ

دښمنان د خدای طرف د اور ته   نو دوی به راحصار کړی شی   تر هغه وخته پوری چه راشی دوی دوزخ ته شاهدی به ورکړی

ع ۲ — ۱۰ — ۱۶

ع۲

هغه سپیری ورځی له یوې چهارشنبې څخه تر بلې چهارشنبې پورې وې او وه ورځی او اته شپې سخت باد پرې وچلیده چه د دوی مکانونه ئی ونړول او دوی ئی والوزول او هلاک ئی کړل ۱۲ منه رحمه الله

ع۵

ډیر سخت له مونږ څخه په قوت کښې چه پر مونږ دی عذاب راولیږی او دوی په بدن هم ډیر غټ او په قوت کښې هم داسې چه یو سړی به له دوی څخه لویه ډبره له غره څخه په لاس واخستله او بل وطن ته به ئی یووړه ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

تیسیر افغانی

ـله لہ انس ابن مالك رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه ورځ وخندل بیائی وویل چه ایا تاسو له ما څخه پوښتنه نه کوئ چه دا ولې خندل وکړل

عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝٢٠

پر دوی باندې غوږونه د دوئ او سترګې د دوی او څرمنې د دوی په سبب د هغه کار چه وو دوی چه کول به ئې

وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدْتُمْ عَلَيْنَا ۖ قَالُوا أَنْطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي

او وبه وائی دوئ څرمنو خپلو ته چه ولې شاهدي ورکوئ تاسو پر مونږ باندې وبه وائی هغوی چه ګویا کړو هغه خدای

أَنْطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ۝٢١

چه ګویا کړې ئې دی هر شی او ده پیدا کړی ئی تاسو اول وار او ده ته به بیرته ورګرځول شئ

وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُونَ أَنْ يَشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَا

او نه وئ تاسو چه پټاوه به مو دا کار ۲ چه شاهدي به ورکړي پر تاسو باندې غوږونه ستاسو او نه

أَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُودُكُمْ وَلَٰكِنْ ظَنَنْتُمْ أَنَّ اللَّهَ لَا يَعْلَمُ

سترګې ستاسو او نه څرمنې ستاسو ولیکن ګمان کړی وو تاسو چه بیشکه خدای نه پوهیږی

كَثِيرًا مِمَّا تَعْمَلُونَ ۝٢٢ وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِي ظَنَنْتُمْ

پر ډیرو له هغه څخه چه تاسو به کول دا ؤ ګمان ستاسو پر رب ستاسو هغه چه کاوه به تاسو

بِرَبِّكُمْ أَرْدَاكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ مِنَ الْخَاسِرِينَ ۝٢٣ فَإِنْ يَصْبِرُوا

پر رب ستاسو هلاک کړی ئی ګمان ستاسو نو وګرځیدئ له تاوانیانو څخه نو که صبر کوی دوئ

فَالنَّارُ مَثْوًى لَهُمْ ۖ وَإِنْ يَسْتَعْتِبُوا فَمَا هُمْ مِنَ الْمُعْتَبِينَ ۝٢٤

نو اور ځای د دوی لره او که قبولیت غواړي دوئ نو نه دي دوئ له قبول کړی شوو څخه

وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَاءَ فَزَيَّنُوا لَهُمْ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ

۳ او مقرر کړی دی مونږ دوی لره ملګری نو ښائسته کړی دی هغوی دوی ته هغه کار چه مخکې د دوی او هغه کار چه شاته د دوی

وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِي أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِنَ

او ثابته شوې ده پر دوی خبره د عذاب په هغه ډلو کښې چه په تحقیق تیره شوی دی مخکې له دوی څخه له

الْجِنِّ وَالْإِنْسِ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا خَاسِرِينَ ۝٢٥ ع وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا

پیریانو او سړو څخه بیشکه چه هغوی وو تاوانیان او وائی هغه کسان چه کافران شوی دی

لَا تَسْمَعُوا لِهَٰذَا الْقُرْآنِ وَالْغَوْا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ۝٢٦

غوږ مه نیسئ دې قرآن ته او چغې وهئ په وخت د ویلو د ده کښې ښائی چه تاسو غالب شئ عه

خندل صحابه کرامو رضی الله عنهم وویل ولې یا رسول الله نو رسول الله ص وفرمایل چه تعجب می وکړ له جګړې د بنده څخه له رب خپل سره په ورځ د قیامت کښې چه بنده به ووائی ای ربه ایا ته له ما سره وعده نه وه کړې چه ظلم به را باندې نه کوې نو الله تعالیٰ به ورته ووائی چه هو دا له تاسره وعده وه نو بنده به ووائی چه زه خو شاهد د کبل چانه منم رچه را باندې وائی ئی بی له خپله ځانه نو الله پاک به ورته ووائی چه ایا زه او زما پرښتې کراما کرام الکاتبین بس نه یو شاهدان بنده به ووائی ای ربه تا زه په امن کښې کړې یم له ظلم څخه نو زه بی له خپل ځان څخه بل شاهد نه قبلوم. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه الله تعالیٰ به بیا خوله د ده باندې مهر ووهي او اندامونه د ده به شاهدي ووائی پر هغه کار چه کړی ئی وی نو بنده به هغوی ته ووائی چه هلاک دی شوی تاسو له ما چه جګړه کوله خاطر ستاسو څخه ځلاصون لیاره ۱۲

۲ یعنې تاسو به بد عملونه پټ په مخفی توګه کول او دا مو ګمان نه چه خپل اندامونه به شاهدي را باندې وائی په ورځ د قیامت څخه چه له قیامته منکر وی فتح ۲ حاصل دا چه تاسو به د لوی شر پټ کول په دنیا کښې هغه تول له دې جهته څخه نه وو چه بیا به ستاسو اندامونه در باندې ګواهی ووائی بلکه له دې جهته څخه وو چه تاسو الله په هر کار چه تاسو کول خبر نه باله او دا ځکه چه دی کافرانو به ویل چه هر کار د مونږ پټ ښکاره کوو پر هغه الله تعالیٰ خبر دی او چه پټ ئې کوو پر هغه نه دی خبر نو الله جل مجده ورته وائی چه ۳ وَذَٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِي ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ ۱۲ ۳ یعنې ع ۱۷ شیطانانو چه ملګری د دوی دی بد اعمال دوی ته ورته ښکاره کړی دی چه په دنیا کښې ئې په کفر او ګناه مبتلا کړی دی او اخرت څخه منکر کړل چه نه حشر او نشر سته نه ثواب شته او نه عذاب ۱۲ عه غالب شئ

خلق به مسلمانان نه شي هر کله چه رسول الله ص به په مکه معظمه کښې په لوړ اواز سره قرآن شریف وایه نو دې کافرانو مردارانو بل خلق او ویلو ته نه پرېښوول یو بل ته به ئې ویل چه شور زوږ وبه کړئ ښائی چه په دې تدبیر سره تاسو کامیاب وکړئ ۱۲ تفسیر وحیدی

فَلَنُذِيقَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا عَذَابًا شَدِيدًا وَّلَنَجْزِيَنَّهُمْ

نو خامخا به مونږ وڅکوو هغه کسانو باندې چه کافران شوي دي عذاب سخت او خامخا به جزا ورکړو دوی ته

أَسْوَأَ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٧﴾ ذٰلِكَ جَزَاءُ أَعْدَاءِ اللّٰهِ

بده جزا د هغه عمل چه وُو دوی چه کول به ئې | دعذاب جزا د دښمنانو د خدای ده

النَّارُ ۚ لَهُمْ فِيهَا دَارُ الْخُلْدِ ۖ جَزَاءً بِمَا كَانُوا بِاٰيٰتِنَا

اور دی مقرر دی دوی لره په دغه اور کښې کور د همیشه والي جزا ور کول په سبب د هغه چه وُو دوی پر آیتونو زمونږ

يَجْحَدُونَ ﴿٢٨﴾ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا رَبَّنَا أَرِنَا الَّذَيْنِ

ئې انکار کاوه | او وبه وائي هغه کسان چه کافران شوي دي ای ربه زمونږ وښیه مونږ ته هغه دوه کسان

أَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ أَقْدَامِنَا لِيَكُونَا

چه گمراه کړي ئې وو مونږ له پیریانو څخه او له سړو څخه چه وګرځوو مونږ دوی دلاندې د قدمو خپلو

مِنَ الْأَسْفَلِينَ ﴿٢٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا

چه شي دواړه له کښته خلقو څخه (ذلیلانو څخه) بیشکه هغه کسان چه وویل هغوی رب زمونږ خدای دی بیا محکم ولاړ وو پر دې خبره

تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا

چه را کښته کیږي به پر دوی باندې پرښتي چه مه ویریږئ او مه خفه کیږئ او خوشحال اوسئ

بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ ﴿٣٠﴾ نَحْنُ أَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي

په هغه جنت چه وئ تاسو وعده به ئې در سره کیدله | مونږ یو دوستان ستاسو | په

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْاٰخِرَةِ ۚ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ

ژوند نږدې کښې او په آخرت کښې او مقرر دي تاسو لره په آخرت کښې هغه نعمتونه چه شوق ورته کیږي نفسونو ستاسو

وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾ نُزُلًا مِّنْ غَفُورٍ رَّحِيمٍ ﴿٣٢﴾ وَمَنْ

او مقرر دي تاسو لره په آخرت کښې هغه شیان چه تاسو ئې غواړئ | میلمستیا ده له بخښونکي مهربان خدای څخه | او څوک دی

أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَّقَالَ

ډیر ښائسته له جهته د خبرې له هغه چا څخه چه را بولي خلق خدای ته | او عمل کوي نیک | او وائي

إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾ وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ۚ

چه بیشکه زه له مسلمانانو څخه یم عمه | او نه برابر ده | نیکي | او نه بدي

ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه ویلي دي چه استقامت دا دی چه هیڅ شی له الله تعالی سره شریک نکړي. ابو سفیان ابن عیینه ویلي دي چه یو سړي وویل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته په اسلام کښې داسې یوه خبره وښیه چه ورپسته له تا څخه د هغه پوښتنه له هیچا څخه ونکړم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چه ووایه امنت بالله یعنې ایمان می راووړی دی پر خدای باندې بیا پر دې باندې محکم ولاړ اوسه راوي ویلي دي چه ما وویل هغه کوم شی دی چه زه ورڅخه پرهیز وکړم نو حضرت صلی الله علیه وسلم ژبې مبارکې ته اشاره وکړه. یعنې ژبه به دې ډیره مه غږوه ١٢ روح البیان وفتح البیان

عمه ویل شوي دي چه مراد له دې کس څخه محمد صلی الله علیه وآله وسلم دی او بعضو ویلي دي چه دا آیت په باب د مؤمنانو کښې نازل شوي دي ١٢ عمه ویل شوي دي چه دا آیت شریف په حق د ابوسفیان کښې نازل شوي دی چه په اول کښې دی د دښمن ووُ د رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم بیا هر کله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اسلام د ده قبول کړ او لور د ده ام المؤمنین ام حبیبه رضی الله عنها په نکاح واخستله نو د لسوز زړه ئې خوږ محکم دوست شو د رسول الله صلی الله علیه وعلی آله وصحبه وسلم ٣ وحیدی

٣
ع ٧
١٨

اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِیْ بَیْنَكَ وَبَیْنَهٗ عَدَاوَةٌ

دفع کوه ته په هغه خصلت سره چه هغه بېر ښه وي نو ناڅاپه هغه څوك چه په منځ ستا او په منځ د ده کښې دښمني وي

كَاَنَّهٗ وَلِیٌّ حَمِیْمٌ ﴿۳۴﴾ وَمَا یُلَقّٰىهَاۤ اِلَّا الَّذِیْنَ صَبَرُوْا ۚ وَ

لکه چه دے دوست ډیر مهربان او نشي ښوولی دا خوی مګر هغه کسانو ته چه صبر کوي

مَا یُلَقّٰىهَاۤ اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِیْمٍ ﴿۳۵﴾ وَاِمَّا یَنْزَغَنَّكَ مِنَ

او نه شي ښوولی دا خوی مګر خیښتن د برخې لوئی ته او که وګرزوی تا له

الشَّیْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۳۶﴾

طرفه د شیطان یو ګرزونکے له نو پناه نیلسه په خدای پورې بیشکه دی او رېدونکی دی عالم دی

وَمِنْ اٰیٰتِهِ الَّیْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ؕ لَا تَسْجُدُوْا

او له علاموده ده څخه دی شپه او ورځ او لمر او سپوږمۍ سجده مه کوی

لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَهُنَّ اِنْ

تاسو لمر ته او نه سپوږمۍ ته او سجده کوئ هغه خدائ ته چه پیدا کړی ئې دی دا که

كُنْتُمْ اِیَّاهُ تَعْبُدُوْنَ ﴿۳۷﴾ فَاِنِ اسْتَكْبَرُوْا فَالَّذِیْنَ عِنْدَ

ئې تاسو چه خاص ده له عبادت کوی نو که لوئی وکړه دوئ نو هغه څوك چه په نزد

رَبِّكَ یُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّیْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا یَسْـَٔمُوْنَ ﴿۳۸﴾ السجدة

د رب ستا سو دی تسبیح وائی ده له په شپه کښې او په ورځ کښې او دوی نه ستړی کیږی او له

وَمِنْ اٰیٰتِهٖۤ اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً فَاِذَاۤ اَنْزَلْنَا عَلَیْهَا

علاموده ده څخه دا چه بیشکه ته وینی ځمکه وچه کلکه په هغه وخت کښې چه نازل کړو موږ پرې باندی

الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ؕ اِنَّ الَّذِیْۤ اَحْیَاهَا لَمُحْیِ الْمَوْتٰی ؕ اِنَّهٗ

اوبه نو وښوریږی او پړسیږی بیشکه هغه خدا ئے چه ژوندۍ کړی ئې ده دا خامخا ژوندی کونکی د مړو بیشکه دی

عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿۳۹﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ یُلْحِدُوْنَ فِیْۤ اٰیٰتِنَا

په هر شي باندی قادر دی بیشکه هغه کسان چه کجروی کوی ع په ایتو زموږ کښې

لَا یَخْفَوْنَ عَلَیْنَا ؕ اَفَمَنْ یُّلْقٰی فِی النَّارِ خَیْرٌ اَمْ مَّنْ یَّاْتِیْۤ اٰمِنًا

نه دی پټ دوی پر موږ باندی ایا هغه څوك چه اچول کیږی په اور کښې ښه دے او که هغه څوك چه راشي به امن کښې

ف ۱

مراد له دی نزغ څخه وسوسه د شیطان ده یعنی هرکله چه تا په زړه کښې څه وسوسه د شیطان راشي نو ته اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ وایه نو هغه به دفع کیږي په صحیح بخاری او مسلم کښې روایت دے چه د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم په مخکښې دوه کسانو جنګ او ښکنځل وکړل او هغه یو ته ډیر قهر راغلے وو نو رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم وفرمایل چه ما ته یوه خبره معلومه ده چه که دا سړے وکړي نو دا قهر به ورڅخه ولاړ شي هغه خبره دا ده اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ نو هغه سړی ته وویل چه ایا پر ما د لیونی ګمان کوئ وشو نو رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه واله وصحبه وسلم دا ایت شریف ووایه چه اِمَّا یَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّیْطٰنِ الآیة ۔ فتح البیان

ع یعنې چه صاف لوستل معنی ئې پریږدی او اړول معنی او مطلب ئې را و باسی ۔

+ + +

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ ۙ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۴۰﴾

په ورځ د قیامت کوئ هر څه چه خوښ وی ستاسو بیشکه چه دے په هغه چه تاسو ئی کوئ لیدونکے دے

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَآءَهُمْ ۚ وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ عَزِيْزٌ ﴿۴۱﴾

بیشکه هغه کسان چه کافران شوی دی په قران باندې هرکله چه راغلے دے دوئ ته او بیشکه چه دے خامخا کتاب دے عزتمن

لَّا يَاْتِيْهِ الْبَاطِلُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ۗ تَنْزِيْلٌ

نه راځی ده ته باطل له مخکښی طرفه د ده نه او نه له شا طرفه د ده نه رالیږل شوی دی

مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ ﴿۴۲﴾ مَا يُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدْ قِيْلَ لِلرُّسُلِ

د حکیم خدائے نه چه ثنائی ویلی شوی ده نه ویل کیږی تا ته مګر هغه چه په تحقیق ویل شوی دی پیغمبرانو ته

مِنْ قَبْلِكَ ۗ اِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ وَّذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۴۳﴾ وَلَوْ

مخکښی له تا نه بیشکه چه رب ستا خامخا خاوند د بخښنی دی او څښتن د عذاب دردناک دی او که

جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا لَّقَالُوْا لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ ۗ ءَاَعْجَمِيٌّ

مونږ ګرځولے وے دا قران په عجمی ژبه نو خامخا به ویلی وو دوئ ولی نه دی واضح بیان شوی ایتونه د ده ایا عجمی دی

وَّعَرَبِيٌّ ۗ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ ۗ وَالَّذِيْنَ

او خلق عربی دی ووایه ته چه دا قران لپاره د هغه کسانو دی چه ایمان ئی راوړے دے لاره ښودونکے او شفا ورکونکے دے او هغه کسان چه

لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ۗ اُولٰٓئِكَ

ایمان نه راوړی په غوږونو د دوئ کښی درنوالے دے او دا قران پر دوئ ړوندوالے دے دغه کسان چه دی

يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ ﴿۴۴﴾ ع وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ

بلل کیږی اواز ورته کیږی له ځائے لیری نه او خامخا په تحقیق ورکړی وو مونږ موسیٰ ته کتاب

فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ۗ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ

نو اختلاف وکړے شو په هغه کښی او که چیری نه وے خبره مخکښی شوی له رب ستا نه نو خامخا حکم به کړے شوے وو

بَيْنَهُمْ ۗ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۴۵﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا

منځ د دوئ کښی او بیشکه چه دوئ خامخا په شک کښی دی له دے قران نه اضطراب کښی اچونکے دی هرڅوک چه وکړی کار نیک

فَلِنَفْسِهٖ وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ۗ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۴۶﴾

نو لپاره د ځان ځان ئی دے او هرڅوک چه بد کار وکړی نو پر ده به بار وی او نه دے رب ستا ظلم کونکے پر بندګانو باندې

له حضرت علی رضی الله تعالی عنه ویلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل خبردار اوسئ ژر دے چه رابه شی لویه فتنه نوما ورته وویل چه خلاصید له هغه څه به شی نو وې ویل کتاب د خدائے سره چه په ده کښی قصی د مخکنو او وروستنو خلقو ستاسو او حکم واضح دے په منځ ستاسو کښی هرڅوک چه پرېږدی دا قران د ظالم وی نو هلاک به کړی دی او هرڅوک چه طلب د هدایت د ده نه سوی بل څه کښی وکړی نو ګمراه به ئی کړی خدائے او دا قران رسئ د خدائے دے محکم او نصیحت دے محکم او دی لاره سمه ده هغه ده چه نه ګرځی په ده سره هواګانی یعنی هرڅوک چه په ده عمل وکړی نو ګمراه به نه شی او نه ګډیږی له ده سره ژبی او نه مړیږی له ده نه علماء او نه زړیږی له ډیرو ویلو یعنی له ډیرو ویلو نه زوړ نه کیږی او نه ختمیږی عجائب د ده دا قران هغه شی دے چه پیریانو واوریدلو نو صبر ونکړے شو نه بیریانو نو هغه وخت ئی وویل بیشکه چه مونږ واوریدو قران عجیب چه لاره ښیی هوښیاری ته نو ایمان مو راوړے پرده او هرڅوک چه په ده سره خبری وکړی رښتیا ئی وویل او هرڅوک چه پرده عمل وکړی نو اجر ورته ملاویږی او هرڅوک چه حکم وکړی په ده سره نو انصاف ئی وکړو او هرڅوک چه بلنه وکړه ده ته نو لاره ورته وښودل شوه لاره سمه ته

۵ ع ۱۲ ۱۹

کذا فی المصابیح ۱۲ ارشد ۲ له یعنی لکه مخکنو قومونو به خپلو پیغمبرانو ته شاعر جادوګر او لیونی ویل او کافرانو تا ته هم وائی نو لکه چه هغوی په صبر کاوه هم صبر کوه ۳ له روایت دے چه کفارو د قریشو به ویل چه دا قران ولی په عربی دے مونا داوه چه بعضے عجمی هم وای چه دواړو طائفو خلقو ته فائده رسیدے نو نازل شو

الا لعنة الله ... چه قران ته وائی ... هم راسے دوی ته را پلی قران ته هیڅ فائده نه رسوی ... تیسیر

إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَمَا تَخْرُجُ مِن ثَمَرَاتٍ مِّنْ أَكْمَامِهَا وَ

طرف دده ته گرزول کیږي علم د قیامت او نه راوزي هیڅ قسم میوې له جامو خپلو څخه

مَا تَحْمِلُ مِنْ أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ ۚ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَائِي

او نه حامله کیږي هیڅ ښځه او نه زیږي مګر په علم دده سره او په هغه ورځ چه اواز به کړي دوي ته چه چیرته دي شریکان زما

قَالُوا آذَنَّاكَ مَا مِنَّا مِن شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَدْعُونَ

نو وبه وائي دوي چه خبر کړي مونږ تاته نشته له مونږ څخه هیڅوک شاهد دې او ورک به شي له دوي څخه هغه چه ساتنه وې دوي عبادت به کا

مِن قَبْلُ ۖ وَظَنُّوا مَا لَهُم مِّن مَّحِيصٍ ﴿٤٨﴾ لَّا يَسْأَمُ الْإِنسَانُ مِن دُعَاءِ

د مخه نه او یقین به راشي دوي ته چه نشته دوي لره هیڅ ځاي د تښتې لا نه ستړي کیږي انسان له غوښتلو

الْخَيْرِ وَإِن مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَئُوسٌ قَنُوطٌ ﴿٤٩﴾ وَلَئِنْ أَذَقْنَاهُ رَحْمَةً مِّنَّا

د خیر څخه او که ورسیږي دده ته بیخیري نو دئ ډیر نا امیده وي ډیر نا امیده او که وڅکو مونږ دده ته رحمت له خپل ځان څخه

مِن بَعْدِ ضَرَّاءَ مَسَّتْهُ لَيَقُولَنَّ هَٰذَا لِي وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً

پس له سختي څخه چه رسیدلي وي ده ته نو وبه وائي دئ چه دا خاص ما لره او ګمان نه کوم زه پر قیامت د رسیدونکي

وَلَئِن رُّجِعْتُ إِلَىٰ رَبِّي إِنَّ لِي عِندَهُ لَلْحُسْنَىٰ ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ الَّذِينَ

او که بوتلل شوم زه د رب خپل ته نو بلیشکه ما لره دده څخه خامخا نیکي ده چه جنت دئ نو خامخا به خبر کړو مونږ هغه کسان

كَفَرُوا بِمَا عَمِلُوا وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنْ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿٥٠﴾ وَإِذَا أَنْعَمْنَا

چه کافران شوي دي پر هغه چه کړي وو دوي او خامخا به وڅکو پر دوي باندې له عذاب سخت څخه او په هغه وخت کښې چه ورکړو نعمت

عَلَى الْإِنسَانِ أَعْرَضَ وَنَأَىٰ بِجَانِبِهِ وَإِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُو دُعَاءٍ

مونږ پر انسان باندې وګرزي له حق څخه او لیرې کړي ځان خپل او په هغه وخت کښې چه ورسیږي دده ته ضرر نو خاوند د دعا

عَرِيضٍ ﴿٥١﴾ قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ اللَّهِ ثُمَّ كَفَرْتُم بِهِ مَنْ

اوږدې وي ووایه تایا وینې تاسو که وي دا قرآن له جانبه د خداي څخه بیا کافران شئ تاسو پر ده نو څوک دئ

أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾ سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَ

ډیر ګمراه له هغه چا څخه چه وي هغه په مخالفت لیرې کښې له خدايه څخه ژر ده چه وبه ښیو مونږ دوي ته نښې خپلې په اطراف کښې

فِي أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ

او په نفسو د دوي کښې ترڅو چه ښکاره شي دوي ته چه بیشکه دا قرآن حق دئ ایا بس نه دئ رب ستا لره

۱

وَنَجْوٰىهُمْ ۭ بَلٰى وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿٨٠﴾ قُلْ اِنْ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ
او مشورې د دوی داسې نه ده بلکه اورو او رسولان زمونږ د دوی سره لیکي عملونه د دوی ووایه که چیری وی دے خدای لره

وَلَدٌ ۖ فَاَنَا اَوَّلُ الْعٰبِدِيْنَ ﴿٨١﴾ سُبْحٰنَ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ رَبِّ
اولاد نو زه به اول له عبادت کوونکو څخه وم پاکی ده رب د اسمانو لره او د ځمکې لره رب

ف ١
ع ٦ ١١ هرڅو مره نعمتونه د جنت چه
١٢ دي هغه ټول په دی دوه لفظه
کښې ادا شوي دي ځکه چه په جنت
کښې خو یا معاشونه دي یا دیدار
دي اول ئې په اول لفظ کښې
اداء شو ثانی ئې په ثانی کښې یعنی
چه وفيها ما تشتهيه الانفس
وتلذ الاعين دي ١٢ التيسير
ف ٢ کافران د مکې سره راجمع
شول نو ئې ویل چه زمونږ له بې
پروائی څخه د دې پیغمبر کار پر
مخ ولاړ او س د اسې بند و بست
وکړئ چه هر څوك د ده تابع
شي نو د هغه قربان دې هغه
په وهلو سره د ده له دین څخه
بیرته وګرزوي او څوك چه
له بهر څخه ده ته راځي نو هغه ته
په لاره کښې سړي کښینوئ چه
له ده څخه ئې منع کوي نو الله تعالی
وفرمایل چه دوی په پټ کښې لو
زما د حبیب ﷺ کوشش کوی
او زه به هم د دوی پټ کار بر
لګه چه په بدر کښې د اکار واقع
شو ١٢ موضح وروح البيان
ف ٥
روایت دی چه مالك به
څلویښت یا اتیا یا سل کاله یا زر
کاله جواب نه ورکوی پس
له دی موده څخه به بیا داسې
جواب ورکړي .. مالك پرښته
ده پر دوزخ مقرره ده ١٢ ١٢
منه رحمه ربه
وصلی الله علی خیر
خلقه محمد واله
اجمعين

الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا حَتّٰى يُلٰقُوْا

عرش لره له هغه څخه چه بیان کوي دوی نو پرېږده دوی چه بحث کوي او لوبې کوي تر څو چه ملاقات وکړي

يَوْمَهُمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿۸۳﴾ وَهُوَ الَّذِيْ فِي السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِي

له دوی له ورځې خپلې سره هغه چه وعده ئې کیږي له دوی سره او دے هغه ذات دے چه په اسمان کښې معبود دے او په

الْاَرْضِ اِلٰهٌ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ﴿۸۴﴾ وَتَبٰرَكَ الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

ځمکه کښې هم معبود دے او دے خاوند د حکمت دے عالم دے او برکتناک دے هغه ذات چه ده لره ده پاچاهي د اسمانو

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ وَعِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۵﴾

او د ځمکې او د هغه چه په منځ د دے دواړو کښې دي او په نزد د ده علم د قیامت دے او ده ته به تاسو بیرته بوتلل شئ

وَلَا يَمْلِكُ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الشَّفَاعَةَ اِلَّا مَنْ شَهِدَ

او اختیار نه لري هغه خدایان چه دوی ئې عبادت کوي بې له ده څخه د شفاعت مګر هغه څوک چه شاهدي ئې وېلې وي

بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۶﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ

په حقه سره او دوی پوهیږي او که پوښتنه وکړې ته له دوی څخه چا پیدا کړي دي دوی نو خامخا به ووائي دوی چه خدای

فَاَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۸۷﴾ وَقِيْلِهٖ يٰرَبِّ اِنَّ هٰۤؤُلَآءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۸۸﴾ فَاصْفَحْ

نو کوم طرف ته دوی ګرزولے کیږي او پوهیږي په دے خبره د پیغمبر چه ئې ویل اے ربه بیشکه دا کسان یو قوم دے چه ایمان نه راوړي نو مخ وګرزوه

عَنْهُمْ وَقُلْ سَلٰمٌ ؕ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۹﴾ ع

له دوی څخه او ووایه سلام مې یا غوارم له شره ستاسو څخه نو ژر دے چه پوه شئ

سُوْرَةُ الدُّخَانِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ تِسْعٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د خدای چه بخښونکی دے مهربان دے

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ اِنَّاۤ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا

خدای پوهیږي په معنا د دے قسم دے په کتاب ښکاره کوونکي چه بیشکه مونږ نازل کړی مو دے قرآن په شپه برکتناکه کښې بیشکه مونږ

مُنْذِرِيْنَ ﴿۳﴾ فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ ﴿۴﴾ اَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا ؕ اِنَّا كُنَّا

یو وېرونکي په دے شپه کښې فیصله کیږي هر کار د حکمت د حکم په وحې سره له نزده زمونږ څخه بیشکه چه مونږ یو

مُرْسِلِيْنَ ﴿۵﴾ رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۶﴾ رَبِّ السَّمٰوٰتِ

لیږونکي د پیغمبرانو لپاره د رحمت له رب ستا څخه بیشکه چه دے اورېدونکے دے عالم دے چه رب د اسمانو

ل ا
په دې ایت کښې سخت وېرول دي له طرفه د الله تعالی څخه کافرانو لره او تسلي ورکول دي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ۱۲ روح وفتح

ع ۲
دا اکثرو مفسرینو رحمهم الله قول دے چه مراد له لیلة مبارکة څخه شپه د لیلة القدر ده او دا شپه په میاشت د روژې کښې ده قتادة رضی الله تعالی عنه ویلي دي چه ټول قرآن شریف په شپه د قدر له لوح محفوظ څخه اول اسمان ته نازل شوی دي بیا له دې اسمان څخه پر درویشت کاله کښې په حسب د ضرورت وخت په وخت ځمکے ته په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې راغلي دي نو الله تعالی صفت د دے شپې وکړه چه دا شپه ډیره برکتناکه ده او قرآن په دے کښې نازل شوی دی او مصلحتونه د دنیا او اخرت په دے شپه کښې مقرریږي او جبرائیل ع او پرښتې په دې شپه کښې نازلیږي لکه چه په سورة قدر کښې به بیان د دے راشي ۱۲ روح وفتح

ع ۳
په دے خبره کښې اختلاف دی د علماؤ چه لیلة القدر کومه یوه شپه ده. د اکثرو علماؤ دا قول دی چه دا په اخیر د رمضان شریف کښې په طاقو شپو کښې ده او بعضو ملے دي چه په منځ د میاشتے د شعبان شپه ده. والله اعلم ۱۲

وصلی الله علی النبی الکریم

وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۘ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿٧﴾ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ
او د ځمکې دی او د هغه څه چې په منځ د دې دواړو کښې دي که یئ تاسو یقین کونکي نشته لائق د عبادت مګر دی دی ژوندي کوي او وژل کوي
رَبُّكُمْ وَرَبُّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٨﴾ بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ يَّلْعَبُوْنَ ﴿٩﴾ فَارْتَقِبْ
رب ستاسو دی او رب د پلارانو ستاسو چې تیر شوي دي بلکه دوی په شك کښې دي چه لوبې کوي نو منتظر اوسه
يَوْمَ تَاْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ ﴿١٠﴾ يَّغْشَى النَّاسَ ؕ هٰذَا عَذَابٌ
هغه ورځې ته چه راوړي اسمان لوګی ښکاره پټ به کوي خلق دا عذاب دی
اَلِيْمٌ ﴿١١﴾ رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ ﴿١٢﴾ اَنّٰى لَهُمُ الذِّكْرٰى وَقَدْ
دردونکی ای ربه زمونږ لیری کړه له مونږ نه دا عذاب بیشکه مونږ ایمان راوړونکی یو کوم ځای نه وي دوی ته پند اخستل او بیشکه
جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوْا مُعَلَّمٌ مَّجْنُوْنٌ ﴿١٤﴾ اِنَّا
راغلی وو دوی ته رسول بیانونکی بیا وګرځیدل دوی له هغه نه او وئ ویل ښودونه کړی شوی دی ده ته لیونی دی بیشکه مونږ
كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيْلًا اِنَّكُمْ عَآئِدُوْنَ ﴿١٥﴾ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ
لیری کونکي یو د عذاب لږ بیشکه تاسو بیرته ګرځیدونکی یئ هغه ورځ چه نیول وکړو مونږ نیول
الْكُبْرٰى ۚ اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ
محکم بیشکه مونږ بدل اخستونکی یو او خامخا یقیناً ازمایلې وه مونږ مخکې له دوی نه قوم د فرعون او راغلې وو دوی ته
رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ ﴿١٧﴾ اَنْ اَدُّوْٓا اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ ؕ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿١٨﴾ وَّاَنْ
رسول نیك چه را کړئ ما ته بندګان د خدای بیشکه زه تاسو لره رسول یم امین او چه
لَّا تَعْلُوْا عَلَى اللّٰهِ ۚ اِنِّيْٓ اٰتِيْكُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿١٩﴾ وَاِنِّيْ عُذْتُ
سرکشي مه کوئ پر خدای باندې چه ما راوړې دي تاسو لره دلیل ښکاره او بیشکه زه پناه غواړم
بِرَبِّيْ وَرَبِّكُمْ اَنْ تَرْجُمُوْنِ ﴿٢٠﴾ وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا لِيْ فَاعْتَزِلُوْنِ ﴿٢١﴾ فَدَعَا
په رب زما او په رب ستاسو چه سنګسار کړئ تاسو ما او که باور نه کوئ پر ما باندې نو کوښه شئ له ما نه نو دعا وکړه
رَبَّهٗٓ اَنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُوْنَ ﴿٢٢﴾ فَاَسْرِ بِعِبَادِيْ لَيْلًا اِنَّكُمْ
له رب خپل نه چه بیشکه دا کسان یو قوم دې ګنهګاران نو روان کړه بندګان زما د شپې بیشکه چه په تاسو پسې به
مُّتَّبَعُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ؕ اِنَّهُمْ جُنْدٌ مُّغْرَقُوْنَ ﴿٢٤﴾ كَمْ تَرَكُوْا
د رتلل وکړل شي او پریږده دریاب ولاړ په ارام سره بیشکه دوی لښکر دی غرق کړی شوی دي ډیر پریښودل دوی

ف ۱
روایت دی چه هر کله کفارو د قریشو ډیره سرکشي وکړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ښیرې وکړې وئ ویل چې ای الله سخت کړې عذاب په مضرو باندې رمضر نوم د قبیلې دی او قحط ورباندې راولیږه لکه قحط د زمانې د حضرت یوسف علیه السلام نو دا دعا د ده الله تعالی قبوله کړه او دا سې قحط ورباندې راغلی چه په هغه کښې ئې مرداري او څرمنې او هډوکي اووینې او وښم داوښانو سره ګډ وخوړل او له ډیر لوږې نه به سړي د ځمکې او اسمان په منځ کښې لوګی لیدئ او څبرې دیوبل به ئې نه اوریدلې او نه به ئې سره لیدل نو ابو سفیان سره له نورو ملی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او خواستونه ئې ورته وکړل چه دعا وکړه چه دا سختي ولاړه شي او وعده ئې وکړه چه بیا به مونږ ایمان راوړو لکه چه الله تعالی وائی چه ربنا اکشف عنا العذاب الاٰیة ۱۲ روح البیان

ف ۲
فرعون بنی اسرائیل بندیان او مینې وو له شام نه او دخان مریان کړي ئې وو نو حضرت موسی علی نبینا وعلیه السلام ورته وویل چه دوئ پریږده چه شام ته ولاړ سی ۱۲ ۱۲ ۱۲

ف ۳
هر کله چه موسی علیه السلام او بنی اسرائیل له دریاب نه تیر شول او اراده ئې وکړه چه بیا دریاب برابر کړه و وهم چه فرعون او لښکر ئې راپسې رانشي نو الله ورته حکم وکړ چه په خپل حال ئې پریږده ۱۲

وحیدی

مِنْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۲۵﴾ وَّزُرُوْعٍ وَّمَقَامٍ كَرِيْمٍ ﴿۲۶﴾ وَّنَعْمَةٍ كَانُوْا فِيْهَا

له باغونو او له چینو څخه او له فصلونو څخه او له ځایونو ښائسته وو څخه او له نعمتونو څخه چه وو دوي په هغه کښي

فٰكِهِيْنَ ﴿۲۷﴾ كَذٰلِكَ وَاَوْرَثْنٰهَا قَوْمًا اٰخَرِيْنَ ﴿۲۸﴾ فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَآءُ

اباد همداسي کړو مونږ او په میراث موورکړل دغه قوم بل ته نو ونه ژړل پر دوی باندي اسمان

ع ۲۹ ۱۴ وَالْاَرْضُ وَمَا كَانُوْا مُنْظَرِيْنَ ﴿۲۹﴾ وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنَ

او ځمکې او نه وو دوي ورکړلي شوي یعني مهلت ورکړل شوي او خامخا په تحقیق خلاص ورکړل مونږ بني اسرائیلو ته له

الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ ﴿۳۰﴾ مِنْ فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ كَانَ عَالِيًا مِّنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۱﴾

عذابه سپکونکي څخه له فرعون څخه بیشکه چه دی وو سرکښه له اسراف کونکو څخه

وَلَقَدِ اخْتَرْنٰهُمْ عَلٰى عِلْمٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَاٰتَيْنٰهُمْ مِّنَ الْاٰيٰتِ

او خامخا په تحقیق غوره کړي وو دوي په علم سره پر خلقو باندي او ورکړي مودي دوی ته له علامو څخه

مَا فِيْهِ بَلٰٓؤٌا مُّبِيْنٌ ﴿۳۳﴾ اِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَيَقُوْلُوْنَ ﴿۳۴﴾ اِنْ هِيَ اِلَّا مَوْتَتُنَا

هغه چه په هغه کښي ازمیښت وو ښکاره بیشکه دا کسان خامخا وائي چه نه ده دا عاقبت زمونږ مګر مرګ

الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُنْشَرِيْنَ ﴿۳۵﴾ فَاْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۳۶﴾

اولنۍ دی او نه یو مونږ را پورته کړل شوي له قبرو څخه نو راولئ پلاران زمونږ که ئ تاسو رښتیني

اَهُمْ خَيْرٌ اَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ وَّالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ اَهْلَكْنٰهُمْ اِنَّهُمْ كَانُوْا

ایا دوي غوره دي او قوم د تبع پاچا او هغه کسان چه مخکي له دوي څخه وو هلاك کړل مونږ دوی بیشکه چه دوی وو

مُجْرِمِيْنَ ﴿۳۷﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿۳۸﴾

ګنهکاران او نه دي پیدا کړي مونږ اسمانونه او ځمکه او هغه چه په منځ د دواړو کښي دي چه لوبي کونکي یو

مَا خَلَقْنٰهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ

نه مودي پیدا کړي دواړه مګر په حقه سره ولیکن زیات د دوي نه پوهیږي بیشکه چه ورځ د جدائۍ

مِيْقَاتُهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۴۰﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِيْ مَوْلًى عَنْ مَّوْلًى شَيْئًا وَّلَا هُمْ

وعده د دوي ده د ټولو هغه ورځ چه دفع کولی به نه شي دوست له هیڅ دوست څخه هیڅ شی او نه به له دوی سره

ع ۲ ۴۲ ۱۵ يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۱﴾ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۴۲﴾ اِنَّ شَجَرَتَ

مدد وکړل شي مګر هغه څوك چه مهرباني پروکړي خدای بیشکه چه دی غالب د مهربانه دی له بیشکه چه درخته

۵۱

روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي چه هر یو مؤمن لره په اسمان کښي دوه دروازي دي له یو څخه ئی رزق راځي او بل دروازه عمل د ده ختیږي نو هرکله چه دا مؤمن مړ شي نو هغه دواړه دروازي پر ده ژاړي بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ایت شریف وواییه چه فما بکت علیهم الارض والسماء په دې حدیث شریف کښي راغلي دي چه پر مؤمن باندي ژړا کړي له ځمکې څخه هغه ځای د لمانځه او د عبادت او له اسمان څخه په ده پسي ژاړي هغه ځای د ختلو د عمل د ده روایت دی چه هرکله کافر مړ شي نو په راحت کښي شي له ده څخه اسمان او ځمکه او ښهرونه او بندګان نو ژړا نه کوي په ده پسي نه ځمکه او نه اسمان ۱۲ روح البیان وغیره

۵۲

تُبّع دیمن پاچا نوم وو قوم د ده بت پرست وو او ده په تورات باندي ایمان راوړي وو او ابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روایت شوی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه تاسو بنکنځل مه کوئ تبع ته په یقین سره هغه ایمان راوړي وو ۱۲ فتح وغیره

۵۳

چه مهرباني پروکړي خدای نو هغه به دخپل عزیز دوست خپلو قریبانو سپارښت کوي په اذن ورکولو د الله تعالی سره ۱۲

منه رحمه ربه

وصلی الله علی حبیبه المصطفی واله وسلم

لـه

الزَّقُّوْمِ ﴿٤٣﴾ طَعَامُ الْاَثِيْمِ ﴿٤٤﴾ كَالْمُهْلِ ۚ يَغْلِيْ فِي الْبُطُوْنِ ﴿٤٥﴾ كَغَلْيِ

دزقوم له خوراك د گنهګارو دی (یعنی کفار) په شان د سکرو ویلی کړل شوی جوشیږي به په خیټو کښې لکه جوشیدل

الْحَمِيْمِ ﴿٤٦﴾ خُذُوْهُ فَاعْتِلُوْهُ اِلٰى سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ صُبُّوْا فَوْقَ

داوبو ګرمو ونیسئ دی نو راکش کړئ دے منځ د دوزخ ته بیا توی کړئ بالا

رَاْسِهٖ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيْمِ ﴿٤٨﴾ ذُقْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْكَرِيْمُ ﴿٤٩﴾ اِنَّ

پر سر د ده له عذابه د اوبو ګرمو څخه وڅکه بیشکه ته هم ته غالب وې عزت دار وې بیشکه

هٰذَا مَا كُنْتُمْ بِهٖ تَمْتَرُوْنَ ﴿٥٠﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ مَقَامٍ اَمِيْنٍ ﴿٥١﴾

دا عذاب هغه دی چه وی تاسو پرده باندے شك به موکاوه بیشکه پرهیزګاران به په ځای د امن کښې وي

فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿٥٢﴾ يَّلْبَسُوْنَ مِنْ سُنْدُسٍ وَّاِسْتَبْرَقٍ

په باغونو کښې او په چینو کښې اغوندی به له مهینو وریښمو څخه او له پیڼو وریښمو څخه

مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿٥٣﴾ كَذٰلِكَ وَزَوَّجْنٰهُمْ بِحُوْرٍ عِيْنٍ ﴿٥٤﴾ يَدْعُوْنَ فِيْهَا

مخامخ به وی سره تول همدا رنګ او جوړے به ور کړو دوی ته ښائسته غټ سترګی غواړی به دوی په هغه جنتو کښې

بِكُلِّ فَاكِهَةٍ اٰمِنِيْنَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوْقُوْنَ فِيْهَا الْمَوْتَ اِلَّا الْمَوْتَةَ

هر قسم میوی په امن کښې به وي نه به څکے دوی په هغه کښې مرګ مګر هغه مرګ

الْاُوْلٰى ۚ وَوَقٰىهُمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ﴿٥٦﴾ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكَ ؕ ذٰلِكَ هُوَ

اولنۍ او وبه ساتی دوی له عذابه د او رګرم څخه له جهته د فضله له رب ستا څخه دا کار هم دا

الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿٥٧﴾ فَاِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٥٨﴾

بری دے لوئی نو بیشکه دا خبره چه آسانه کړی دی موږ د اقرآن پر ژبه ستا باندے سبائی چه دوی پند واخلی

فَارْتَقِبْ اِنَّهُمْ مُّرْتَقِبُوْنَ ﴿٥٩﴾

نو منتظر او سه بیشکه چه دوی هم انتظار کوونکی دي

سُوْرَةُ الْجَاثِيَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سَبْعٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی دے مهربان دی

حٰمٓ ﴿١﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿٢﴾ اِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ

خدای پوهیږي پر معنا د دے رنازلیدل د کتاب له طرفه د خدای څخه دی چه غالب دی خاوند د حکمت دے بیشکه چه په آسمانو کښې

زقوم یوی د رختی نوم دی چه په دوزخ کښې ده چه ډیر تر خه ده او خوراك د دوزخیانو به وي له ابن عباس رضی الله تعالی عنهما څخه روایت شوی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمایل چه په یقین سره که چیری یو څاڅکی د درختی د زقوم په دنیا باندی راوڅاڅي نو د دنیا پر خلقو به سبا ب د ژوند د دوی ګډوډ کړي نو څه حال به وي د هغه چاچه خوراك د هغه زقوم وي ۲ روح و فتح وغیره ۲ جنتیان به په جنت کښې مرګ و نه څکي مرګ دا یو مرګ دے چه په دنیا کښې ورباندے تیر شي په صحیح البخاری او مسلم کښې راغلی دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه په ورځ د قیامت به مرګ په صورت د یو ګډ (قمر) وری راوستل شي او د جنت او د دوزخ په مابین کښې به ودرول شي بیا به حلال کړل شي بیا به وویل شي چه اے جنتیانو همیشه پاته کیدل دي مرګ نشته . په بل حدیث شریف کښې راغلی دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمایل چه جنتیانو ته به وویل شی چه په تحقیق ستاسو لپاره جوړوالی دے هیڅکله به ناجوړه نه شئ او همیشه ژوندی به یاست هیڅکله به مړه نه شئ هر وخت به په نعمتو کښې یی هیڅکله به تنګحاله نه شئ او قوی ځوانان به یی هیڅکله به زاړه نه شئ ۱۲ فتح وابن کثیر ۳ حورے ورته ځکه ویل کیږي چه سترګی به یی ډیری تورے وي په حدیث شریف کښې راغلی دي چه جنتي بنی آدمه ښځه به او یا درجی تر حورو د جنت بهتره وي ۱۲ منه رحمه الله

٣
ع ١٧
١٦

وَالْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۝٣ وَفِيْ خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِنْ دَآبَّةٍ

او په ځمکه کښې خامخا علامې دي لپاره د مؤمنانو او په پیدائیښت ستاسو کښې او په هغه کښې چه خپاره دي له ګرځېدونکو

اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ۝٤ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

څخه علامې دي لپاره د قوم چه یقین کوي او په اختلاف د شپې کښې او د ورځې کښې او په هغه کښې چه نازل کړي دي خدای

مِنَ السَّمَآءِ مِنْ رِّزْقٍ فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيْفِ

له اسمان څخه له رزق څخه نو ژوندۍ کړې ئې ده په دې سره ځمکه وروسته له مرګ د دې څخه او په دې ګرځولو

الرِّيٰحِ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ۝٥ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ

د باد و کښې علامې دي لپاره د قوم چه عقل لري دا ایتونه د خدای دي چه مونږ ئې وایو د اپرتا باندې په حق سره

فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَ اللّٰهِ وَاٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۝٦ وَيْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ۝٧

نو په کومه خبره باندې به پس له خدایه او ایتو د ده څخه ایمان راوړي دوی هلاك دي هر د روغ تړونکي ګنهګار لره

يَّسْمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتْلٰى عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا

چه اوري ایتونه د خدای ویل کېږي پر ده باندې بیا ولاړ اوسي په کفر تکبر کونکی وي لکه چه نه دي اورېدلي هغه

فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝٨ وَاِذَا عَلِمَ مِنْ اٰيٰتِنَا شَيْئَا ِۨاتَّخَذَهَا هُزُوًا

نو زېری ورکړه ده ته په عذاب دردونکي سره او هر کله چه پوه شي له ایتونو زمونږ څخه پر یو شي باندې نو ونیسي په هغه توکو سره

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝٩ مِنْ وَّرَآئِهِمْ جَهَنَّمُ وَلَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ مَّا

دغه کسان مقرر دي دوی لره عذاب سپکونکی په مخکې د دوی دوزخ دي او دفع به نکړي له دوی څخه هغه

كَسَبُوْا شَيْئًا وَّلَا مَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْلِيَآءَ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝١٠

چه کړي وي دوی هیڅ شی او له هغه چه نیولي دي دوی بې له خدای څخه دوستان او مقرر دي دوی لره عذاب لوی

هٰذَا هُدًى وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ۝١١

دا لاره سمه ده او هغه کسان چه کافران شوي دي په ایتو د رب خپل باندې مقرر دي دوی لره عذاب بد ترین قسم د دردورکونکي

اَللّٰهُ الَّذِيْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِيَ الْفُلْكُ فِيْهِ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا

خدای هغه ذات دی چه تابع کړي ئې دي تاسو لره دریاب چه ګرځي بېړۍ په هغه کښې په حکم د ده سره او چه طلب کوي تاسو

مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝١٢ وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي

له فضله د ده څخه او د دې ئې چه تاسو شکر ادا کړئ او تابع کړي ئې دي تاسو ته هغه شیان چه په اسمانونو کښې او هغه چه

ع ١

سـ١ـه

یعنی هلاك دي لپاره د هغه چا چه دي کلام د خپل رب اوري بیا وروسته له هغه څخه بیا طرف د کفر او فساد ته وګرځي لکه نضر بن حارث کافر چه ده به قصې د پاچاهانو د عجمو په بیع واخستلې او خلقو ته به ئې ویلې لپاره د دې چه له قران څخه ئې منع کړي په صحیح مسلم کښې له عبد الله ابن عمر رضي الله تعالی عنه څخه روایت شوی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمایل چه تاسو ملك د دښمنانو ته قران شریف له ځانه سره مه وړئ له دې وېرې څخه چه مبادا هغه دښمن له ده سره بې ادبي ونکړي روح البیان وابن کثیر

سـ٢ـه

مراد له دې رزق څخه باران دئ چه په سبب د ده سره وچه ځمکه اباده او شنه شي و قسم قسم واښه بوټي او د رختي پکښې زرغونه شي

منه رحمه ربه

کتبه الاحقر عبد الکریم فاضل دار العلوم حقانیه غفر الله له ولوالدیه ولاساتذه ولمن له حق علیه آمین

٩/٥/٢٠٠٧

الْاَرْضِ جَمِيْعًا مِّنْهُ ط اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۱۳﴾ قُلْ لِّلَّذِيْنَ

حمکه کښې دي ټول له طرفه خپل څخه بیشکه په دې کار کښې علامې دي لپاره د هغه قوم چه فکر کوي ووایه ته هغه کسانو ته

اٰمَنُوْا يَغْفِرُوْا لِلَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ اَيَّامَ اللّٰهِ لِيَجْزِيَ قَوْمًا بِمَا كَانُوْا

چه ایمان ئې راوړے دے چه بخښنه کوي هغه کسانو ته چه امید نه لري د ورځو د خدائے لپاره د دے چه جزا ورکړي خدائے هغه قوم ته بدله د هغه څه چه وو دوی

يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۴﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ج وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَيْهَا ثُمَّ

کول به ئې هر چا چه عمل وکړ نیك نو لپاره د خپل ځان ئې دے او هر چا چه بد وکړل نو ضرر ئې پر هغه دے بیا به

اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ

رب ستاسو ته ور وستل شئ او خامخا په تحقیق ورکړي وو مونږ اولاد د یعقوب علیه السلام ته کتاب او حکم

وَالنُّبُوَّةَ وَرَزَقْنٰهُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ وَفَضَّلْنٰهُمْ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶﴾ ج

او پیغمبري او روزي مو ورکړي وه دوی ته له پاکو شیانو څخه او بهتر کړي مو وو هغوی پر خلقو د زمانې خپلې باندې

وَاٰتَيْنٰهُمْ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْاَمْرِ ج فَمَا اخْتَلَفُوْٓا اِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ

او ورکړي مو وو دوی ته دلیلونه ښکاره له کاره د دین څخه نو اختلاف ونکړ هغوی مګر پس له هغه څخه چه راغلے دوی ته

الْعِلْمُ لا بَغْيًا بَيْنَهُمْ ط اِنَّ رَبَّكَ يَقْضِيْ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا

علم له جهته د سرکشي څخه په منځ خپل کښې بیشکه چه رب ستا حکم به وکړي په منځ د هغوی کښې په ورځ د قیامت په هغه کښې

كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۷﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰكَ عَلٰى شَرِيْعَةٍ مِّنَ الْاَمْرِ فَاتَّبِعْهَا

چه وو دوی په هغه کښې ئې اختلاف کاوه بیا وګرزولې مونږ ته ولاړ په پراخه لاره باندې له کاره د دین څخه نو تابع اوسه

وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸﴾ اِنَّهُمْ لَنْ يُّغْنُوْا عَنْكَ مِنَ

او مه تابع کیږه د هوا د هغه کسانو چه نه پوهیږي بیشکه چه دوی هیڅ دفع به ونکړي له تا څخه له عذابه د

اللّٰهِ شَيْـًٔا ط وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ج وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۱۹﴾

خدائے څخه هیڅ شے او بیشکه چه ظالمان بعضے د دوی دوستان د بعضو نورو دي او خدائے دوست د پرهیزګارانو دے

هٰذَا بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۲۰﴾ اَمْ حَسِبَ

دا نصیحتونه دي لپاره د خلقو او لاره سمه ده او رحمت دے لپاره د هغه قوم چه یقین راوړي ایا ګمان کوي

الَّذِيْنَ اجْتَرَحُوا السَّيِّاٰتِ اَنْ نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لا

هغه کسان چه کوي بدکارونه داسې چه وبه ګرزوو دوی په شان د هغه کسانو چه ایمان ئې راوړے او عملونه ئې نیکان کړي دي

له روایت دے چه اصحاب کرام رضی اللہ تعالیٰ عنہم په غزا د بنی مصطلقو کښې په یو کوهي باندې چه نوم ئې مریسیع وُو دیره شول نو عبدالله ابن ابي منافق خپل مریئ لپاره د اوبو راوړلو ولیږلو نو هغه دیر وځنډید نو عبدالله ورته وویل چه ولې دومره ناوخته شوې هغه ورته وویل چه مریئ د حضرت عمر د کوهي پر غاړه ناست وُو او بل څوك ئې تر هغه پورې نه پرېښود ترڅو چه مشك ډک نه کړي د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم او ابوبکر صدیق او عمر فاروق رضی اللہ تعالیٰ عنہما ئې ډك كړل. نو ابن ابي وویل چه مثال زمونږ او مثال د دے کسانو (مؤمنانو) دامې دی لکه چه ویل شوي دي چه خپل سپې چاغ کړه چه بیا دې وخوري نو دا خبره عمر فاروق رضی اللہ تعالیٰ عنہ ته ورسیده نو هغه توره راواخسته او په هغه خبیث پسې روان شو نو الله تعالیٰ دا ایت شریف نازل کړ غرض د دے چه تا سوای مؤمنانو ئې دینا نو ته عفوه کوئ او کار مه پر لوئ او س دا حکم منسوخ شوی دے ۱۲ تا ۵۵ مسروق ویلي دي چه ماته یو سړي د مکې یو ځائی وښوولئ او را ته ئې وویل چه دا ځائي د ورور ستا تمیم داري دے چه ما لیدلے وُو چه په دې ځائے کښې یوه ټوله شپه ولاړ وُو چه لمونځ ئې کاوه او دا ایت ئې مکرر مکرر وایه او ژړل به ئې نقل دي چه فضیل رحمة الله علیه دا ایت ته چه ورسیدے نو بیا بیا به ئې وایه او ژړل به ئې چه ای فضیله ارکاشکے تا ته دا معلومه وای چه ته به د دے دوو ډلو څخه په کومه یوه ډله کښې ئې کفار وبه ویل چه مونږ به په اخرت کښې هم له دې مؤمنانو څخه ښه یو نو الله تعالیٰ پر دوی باندې رد وکړ وئې ویل چه دا ګمان دې دوی نه کوي ۱۲

سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿٢١﴾ ع وَخَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ
برابر به وي ژوند دوی او مرګ د دوی بد دی هغه چه دوی حکم کوي او پیدا کړي دي خدای اسمانونه

وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَلِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۢ بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿٢٢﴾
او ځمکه په حقه سره او چه جزا ورکړل سي هر نفس ته په هغه چه کړي وي ده او پر دوی به ظلم و نکړل سي

اَفَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ وَّخَتَمَ عَلٰى
ایا ووینې ته هغه څوك چه نیولی ئې ده معبود خپل هوا خپله او ګمراه کړی دی خدای په علم باندې او مهر ئې وهلی دی پر

سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ غِشٰوَةً فَمَنْ يَّهْدِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ
غوږ د ده باندې او پر زړه د ده باندې او ګرځولی ئې ده پر سترګو د ده باندې پرده نو څوك به لاره وښائي وروسته له

اللّٰهِ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٢٣﴾ وَقَالُوْا مَا هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوْتُ وَنَحْيَا
خدای څخه ایا نو تاسو پند نه اخلئ او وائي دوی نه دی دا ژوند مګر ژوند دنیا دي چه مرو موږ او ژوندي کیږو

وَمَا يُهْلِكُنَآ اِلَّا الدَّهْرُ وَمَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ اِنْ هُمْ اِلَّا
او نه هلاکوي موږ زمانه او نسته دوی لره په دې خبره باندې هیڅ علم نه دي دوی مګر

يَظُنُّوْنَ ﴿٢٤﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ مَّا كَانَ حُجَّتَهُمْ اِلَّآ اَنْ
ګمان کوي او هر کله چه ویل کیږي پر دوی باندې ایتونه زموږ ښکاره نو نه وي دلیل د دوی مګر دا چه

قَالُوا ائْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٥﴾ قُلِ اللّٰهُ يُحْيِيْكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ
وائي راولئ پلاران زموږ که ئې تاسو رښتیني و وایه ته خدای ژوندي کوي تاسو بیا به وژني تاسو

ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ
بیا به یو ځای کړي تاسو طرف د ورځې د قیامت ته چه نسته شك په هغې کښې مګر زیات د خلقو نه

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ ع وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ
پوهیږي او خدای لره ده پاچاهي د اسمانو او د ځمکې او په هغه ورځ چه ودریږي قیامت

يَوْمَئِذٍ يَّخْسَرُ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَتَرٰى كُلَّ اُمَّةٍ جَاثِيَةً كُلُّ اُمَّةٍ
په دغه ورځ به تاوانی شي باطل خلق (درغوږن) او وینې به ته هر امت ناست پر زنګنو ف۳ امت به

تُدْعٰٓى اِلٰى كِتٰبِهَا اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٨﴾ هٰذَا كِتٰبُنَا
رابلل کیږي طرف د عملنامې خپلې ته نن ورځ به جزا ورکول کیږي تاسو ته د هغه چه وي تاسو کول به دا کتاب زموږ دی

ع ٢ ١٠ ١٨

ف۱
سعید ابن جبیر رح ویلي دي چه دا ایت شریف نازل شوی د په حق د هغه کسانو باندې کافر کښې چه عبادت د کاڼو به ئې کاوه چه یو به ورته ښه ښکاره شو هغه بل به ئې پریښود او د هغه عبادت به ئې کاوه ۱۲

ف۲
یعنې په سبب د ډیر سختۍ او هیبت به خلق پر زنګنو پراته وي نقل دي چه کعب احبار حضرت عمر رضی الله عنه ته وویل چه په ورځ د قیامت به دوزخ سخت جوش ونه وهي نو باته به نه شي هیڅ مقرب فرښته او نه نبي لیږل شوی مګر وبه غورځیږي پر زنګنو بلکي چه خلیل الرحمن به هم دا وائي چه ای زما رب بل څوك نه غواړم لیکن نن ورځ مګر ځان خپل په بل روایت کښې راغلي دي چه حضرت ابراهیم علیه السلام او عیسیٰ علیه السلام به وائي چه نفسي نفسي یعنې نن ورځ مې بې له خپل ځانه هیڅ په کار نه دي ۱۲ ازروح وابن کثیر

ع ٣ ٥ ١٩

ف۳
په حدیث شریف کښې راغلي دي چه حضرت ابراهیم علیه وعلیٰ نبینا الصلوٰة والسلام به هم په دا سې هیبت او ویره کښې وي تاهغه به نبینا محمد المصطفیٰ صلی الله علیه وسلم پر یوه لوړه چوتره راښکاره شي چه ترټولو به لوړه وي او دغه مقام محمود دی ۱۲ وصلی الله تعالیٰ علیه وسلم

يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ ۚ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَمَّا
چه خبرې کوي پر تاسو باندې په حقه سره بیشکه مونږ وو چه لیکل به مو هغه چه وئ تاسو کول به مو نو هرچه
الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِي رَحْمَتِهِ ۚ
هغه کسان دي چه ایمان ئې راوړے دے او عملونه ئې کړي دي نیکو نو داخل به کړي دوي رب د دوي په رحمت خپل کښې
ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْمُبِينُ ﴿٣٠﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا أَفَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي
دا کار دا کامیابي ده ښکاره او هر څه هغه کسان چه کافران شوي دي به ویل شي ورته ایا نه وو ایتونه زما
تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنْتُمْ قَوْمًا مُجْرِمِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا قِيلَ
چه ویل کیدل به پر تاسو باندې نو تکبر وکړ تاسو او وئ تاسو قوم گنهگاران (یعني کافران) او کله چه به وویل شو
إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيهَا قُلْتُمْ مَا نَدْرِي مَا
چه بیشکه وعده د خدائے حقه ده او قیامت نشته شك په هغه کښې به ویل تاسو نه پوهیږو مونږ چه څه دي
السَّاعَةُ إِنْ نَظُنُّ إِلَّا ظَنًّا وَمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِينَ ﴿٣٢﴾ وَبَدَا لَهُمْ
قیامت گمان نه کوو مونږ مگر لږ گمان او نه یو مونږ یقین کونکي او ظاهره به شي دوي ته
سَيِّئَاتُ مَا عَمِلُوا وَحَاقَ بِهِمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٣٣﴾ وَقِيلَ
بدوالي د هغه چه کړي وو دوي او چاپیره به شي پر دوي هغه چه وو دوي په هغه پورې به ئې توکې کولې او وبه ویل شي
الْيَوْمَ نَنْسَاكُمْ كَمَا نَسِيتُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا وَمَأْوَاكُمُ النَّارُ وَ
چه نن ورځ به هیر کړو مونږ تاسو لکه چه هیر کړي وو تاسو ملاقات د ورځې ستاسو چه دا ده او ځاے ستاسو اور دے
مَا لَكُمْ مِنْ نَاصِرِينَ ﴿٣٤﴾ ذَٰلِكُمْ بِأَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا وَغَرَّتْكُمُ
او نشته تاسو لره هیڅوك مددگاران دا کار په سبب د دے دے چه بیشکه تاسو نیولے وو ایتونه د خدائے په توکو سره او غلولی
الْحَيَاةُ الدُّنْيَا ۚ فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُونَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٣٥﴾
وئ تاسو ژوندنۍ دنیا نو نن ورځ به و نه ایستل شي دوي له دے دوزخ څخه او نه به د دوي عذر قبول کړے شي
فَلِلَّهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمَاوَاتِ وَرَبِّ الْأَرْضِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٣٦﴾ وَلَهُ
نو خدائے لره ده تولة ثنا رب د اسمانو لره او رب د ځمکې لره رب د مخلوقاتو لره او ده لره ده
الْكِبْرِيَاءُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٣٧﴾
لوئي په اسمانو کښې او په ځمکه کښې او دی غالب دی خاوند د حکمت دے

ع ۴ / ۱۱ / ۲۰

ف ۱
په صحیح بخاري کښې راغلي دي چه په ورځ د قیامت به الله تعالی بعض بندگانو ته ووائي چه ایا ما تاته ښځه نه وه درکړي ایا ما تاته عزت او مرتبه نه وه درکړي ایا ما اسونه او اوښان ستا نه تابع کړي ایا ما ته رئیس او حاکم کړي نه وي چه له خلقو څخه به دې څلورمه حصه د مال اخستله نو هغه بنده به ووائي چه بیشکه خدایه دا شیان دې ماته را کړي وو نو الله تعالی به ورته ووائي چه ستا یقین په ملاقات زما سره وو نو دوي به ووائي چه نه نو الله تعالی به ورته ووائي چه نن ورځ به تا هیر کړم لکه چه تا ملاقات د دې ورځې هیر کړي وو ۱۲ ابن کثیر

ف ۲
په حدیث شریف کښې راغلي دي چه الله تعالی فرمائي لوئي کول زما څادر دي او بزرگي زما ازار (لنګ) دے نو هر څوك چه له دې دوو څخه یو یوشي زما څخه واخلي نو زه به ئې په دوزخ کښې وغورزوم غرض دا چه لوئي کول خاصه د خدای ده له بل هیچا سره لائقه نه ده ۱۲ وصلی الله علی محمد وآله واصحابه اجمعین

سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ خَمْسٌ وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د خدای چه ډیر بخښونکی دی مهربان دی

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾ مَا خَلَقْنَا

خدای پوهیږی په معنی د دې نازلیدل د دې کتاب له طرفه د خدای غالب خاوند د حکمت څخه دی نه دی پیدا کړی مونږ

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَاۤ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ؕ

اسمانونه او ځمکه او هغه شیان چه په منځ د دوی کښی دي مګر په حقه سره او په نیته مقرره شوی سره

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَمَّاۤ اُنْذِرُوْا مُعْرِضُوْنَ ﴿۳﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ

او هغه کسان چه کافران شوی دي له هغه شي څخه چه ورته ویرول کیږي مخ ګرځونکی دي ووایه ایا وینئ تاسو هغه څه چه دعبادت

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ شِرْكٌ

ئې کوئ تاسو بې له خدای څخه وښیئ ماته څه شي پیدا کړی دي دوی له ځمکی څخه او که دوی لره شریکوالی دی

فِى السَّمٰوٰتِ ؕ اِیْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَاۤ اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ

په اسمانونو کښی راوړی ماته کوم کتاب مخکښی له دې څخه یا باقی علامه له علمه څخه ؂۲

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴﴾ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ

که ئې تاسو رښتینی او څوک دی ډیر ګمراه له هغه چا څخه چه بولی دوی بې

اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗۤ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ

له خدای څخه هغه کس چه نه قبلیدل شي کولی ده لره تر ورځی د قیامته پورې او دوی له بلنی د دوی څخه

غٰفِلُوْنَ ﴿۵﴾ وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ اَعْدَآءً وَّكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ

غافل دي او په هغه وخت کښی چه راجمع شي خلق نو وي به دا معبودان دوی لره دښمنان او وي به په عبادت د دوی باندی

كٰفِرِيْنَ ﴿۶﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

انکار کوونکی او په هغه وخت کښی چه ویل کیږي پر دوی باندې ایتونه زمونږ ظاهر نو وائي هغه کسان چه کافران شوی دی

لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۷﴾ ؕ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ

حق ته هر کله چه راشي ورته چه دا سحر دی ښکاره ایا وائي دوی چه له ځانه جوړ کړی دی ده دا قران ووایه

؂۱

له ابن مسعود رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم سورت احقاف پر ما ولوستلو او ورولی وو او پر بل سړی ئی هم او ورولی وو نو هغه ته ئی زما څخه مخالف قراءة کړی وو نو ما هغه ته وویل چه دا قراءة تا ته دا سی چا ښودلی دی نو هغه ما ته وویل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا سورت دا سې راته او ورولی دی نو ملوره ته وویل چه والله ما ته هم رسول الله صلی الله علیه وسلم دا سورت ښوولی دی لیکن دا سی نه دی نو مونږ راغلو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نو ما وویل چه یا رسول الله ایا تا پر ما باندی دا سورت په دې شان نه دی ویلی نو هغه وویل چه هو ویلی می دی نو هغه بل سړی هم وویل چه دا سورت دې ماته دا سی نه دی قراءة کړی نو هغه ته ئې هم وویل چه هو او مخ مبارک د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم متغیر شوا او وی ویلچه فائده دی هر یو له تاسو څخه په هغه شان چه اوریدلی ئې وي هغه .. مخکښنی خلق چه له تاسو څخه هلاک شوی دي په سبب د اختلاف سره هلاک شوی دي ۱۲

؂۲

یا باقی علامه له علمه څخه مراد له دی علامی څخه یا دیو مخکښنی پیغمبر حدیث دی یا کوم مکتوب د هغه حاصل دا چه ای حبیبه زما (م) دی مشرکانو ته ووایه چه تاسو په دې شرك او کفر خپل باندې یو مخکښنی کتاب یا یو حدیث خبره د مخکښنو پیغمبرانو علیهم الصلوٰة والتسلیمات راوړی او حاضر ئی کړئ که چیری تاسو صادق ئی ۱۲ منه رحمه الله تعالی

إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَلَا تَمْلِكُونَ لِي مِنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَا
که زه ئې له خانه جوړه کړي وي ما دا نو ما لره له طرفه د خدای څخه د هیڅ شي دې نه خبر دی پر هغه
تُفِيضُونَ فِيهِ ۖ كَفَىٰ بِهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۖ وَهُوَ الْغَفُورُ
چه شروع کوې تاسو په هغه کښې بس دی دے شاهد په منځ زما کښې او په منځ ستاسو کښې او دی بخښونکی دی
الرَّحِيمُ ﴿٨﴾ قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَا أَدْرِي مَا يُفْعَلُ
مهربانه دے ووایه ته نه یم زه نوی راغلے له رسولانو څخه او نه پوهیږم زه چه څه به کیږي
بِي وَلَا بِكُمْ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ وَمَا أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٩﴾
له ما سره او نه له تاسو سره اتباع نه کوم زه مګر د هغه چه وحی کیږي ما ته او نه یم زه مګر ویروونکی ښکاره
قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن كَانَ مِنْ عِندِ اللَّهِ وَكَفَرْتُم بِهِ وَشَهِدَ شَاهِدٌ
ووایه ته ایا وینئ تاسو که وي اقران له نزده د خدای څخه او کافر شوی تاسو پرده باندے او شاهدي ويلې وي یو شاهد
مِّن بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَىٰ مِثْلِهِ فَآمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ ۖ إِنَّ اللَّهَ
له بني اسرائیلو څخه په شان د ده نو ایمان راوړے وای هغه او تکبر وکړ تاسو بیشکه چه خدای ج
لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿١٠﴾ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا
لار نه ښئي قوم ظالمانو ته او وائی هغه کسان چه کافران شوي دي هغه کسانو ته چه ایمان ئې راوړے دی
لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُونَا إِلَيْهِ ۚ وَإِذْ لَمْ يَهْتَدُوا بِهِ فَسَيَقُولُونَ هَٰذَا
که چیرے وای دا دین نو مخکے شوی به نه وو دوی له مونږ څخه دے ته او هغه وخت چه لار نه پیدا کوله دوی په دی قرآن نو ژر دے چه وبه ائي دوی چه دا
إِفْكٌ قَدِيمٌ ﴿١١﴾ وَمِن قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ وَهَٰذَا
دروغ دے پخوانی او مخکے له دی څخه کتاب د موسیٰ ؑ دے پیشوا او رحمت او دا
كِتَابٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنذِرَ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَبُشْرَىٰ
کتاب دی رښتینی کونکی د هغه پر ژبه عربی سره راغلی دی لپاره د دے چه وویروی هغه کسان چه ظلم ئې کړی دی او زیری دی
لِلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢﴾ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا فَلَا خَوْفٌ
لپاره د نیکانو بیشکه هغه کسان چه ویلي ئې دي رب زمونږ خدای دی بیا سم ولاړ شوي دي خبره نو نه به وي ویره
عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٣﴾ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ خَالِدِينَ
پر دوی باندی او نه به دوی خفه شي دغه کسان یاران د جنت دي همیشه به وي دوی

ف ۱

یعنې ای زما حبیبه صلی الله علیه واله وسلم ته دے خلقو ته ووایه چه زه تاسو ته اول پیغمبر نه یم راغلے بلکه مخکے له ما څخه ډیر پیغمبران تیر شوی دی او کوم کار ته چه به هغوی خلق رابلل زه هم تاسو هغه ته رابولم چه هغه توحید د الله تعالیٰ دی او ترک د شرک دی او دا ما ته معلومه نه ده چه له ما سره او له تاسو سره به څه معامله کیږي ځکه چه علم غیب خاصه د خدای دے ۱۲ روح وغیره

ف ۲

له ډیرو سلفو څخه نقل شوی دی چه مراد له دی شاهد څخه عبد الله بن سلام دے په صحیح بخاری او مسلم کښې له سعد ابن ابی وقاص رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دے چه ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نه دے اوریدلی چه کوم ژوندے سړی ته ئې ویلی وی چه دی جنتی دے غیر له عبد الله بن سلام څخه چه د هغه په حق کښې ئې ویلی وُو چه دے جنتی دے او دا ایت کریمه د هغه په حق کښې نازل شوی دی چه وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ روح وفتح وجامع

ف ۳

ویل شوی دی چه بعضے مشرکانو وویل چه مونږ سرداران او اشراف خلق یو که چیری په دین د اسلام کښې بهتروالے وای نو اول به مونږ قبول کړی وُو نو هغه وخت دا ایت شریف نازل شو ۱۲ ۱۲ تفسیر وحیدی

فِيهَا جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾ وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ

په همدغه کښې به وي جزا، په سبب د هغه چه وو دوی چه کول به ئې او حکم کړی دی مونږ انسانته له مور و پلار خپل سره

إِحْسَانًا ۖ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا ۖ وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ

د نیکئ کولو بار کړی وړی دی مور خپلې په سختئ سره او زیږولی وړی دی په سختئ سره او حمل د ده او جدا کول د ده له تی څخه

ثَلَاثُونَ شَهْرًا ۚ حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَبَلَغَ أَرْبَعِينَ سَنَةً قَالَ

دیرش میاشتې دي ترڅو چه هر کله ورسیدی کړی ځوانئ خپلې ته او ورسیده دی څلویښتو کالوته ۲ وویل ده

رَبِّ أَوْزِعْنِي أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ

ای ربه زما توفیق راکړی ما ته د دې چه شکر ادا کړم د نعمت ستا هغه نعمت چه دې کړی وو پر ما باندې او په

وَالِدَيَّ وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَصْلِحْ لِي فِي ذُرِّيَّتِي ۖ

مور او پلار زما باندې او چه عمل وکړم نیک چه راضي کیږې ته پر هغه او صلاحیت کیږده دې ما له په اولاد زما کښې

إِنِّي تُبْتُ إِلَيْكَ وَإِنِّي مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٥﴾ أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ

بیشکه چه ما توبه کښلې ده تا ته او بیشکه چه زه له غاړه ایښودونکو څخه یم تا ته دوی هغه کسان دي

نَتَقَبَّلُ عَنْهُمْ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَنَتَجَاوَزُ عَن سَيِّـَٔاتِهِمْ فِيٓ

چه قبلوو مونږ له دوی څخه ښه هغه چه کړی وي دوی او تیریږو کوو له گناهو د دوی څخه په

أَصْحَابِ الْجَنَّةِ ۖ وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿١٦﴾ وَالَّذِي

په یارانو د جنت کښې به وي وعده رښتینې د هغه چه وو دوی وعده به ئې ورسره کیدله او هغه کس چه

قَالَ لِوَالِدَيْهِ أُفٍّ لَّكُمَآ أَتَعِدَانِنِيٓ أَنْ أُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُونُ

ووئیل ده مور او پلار خپل له ربه بد حال دې وي تاسو دواړو ایا وعده کوئ تاسو ما سره چه زه راوبه ایستل شم له قبر څخه او په تحقیق چه تیر شوي دي زماني

مِن قَبْلِي وَهُمَا يَسْتَغِيثَانِ اللَّهَ وَيْلَكَ آمِنْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ

پخوا له ما څخه او دواړه فریاد کوي خدای ته او وائی ده ته هلاک دې وي تا لره ایمان راوړه بیشکه چه وعده د خدای

حَقٌّ فَيَقُولُ مَا هَٰذَآ إِلَّآ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٧﴾ أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ

حقه ده چه وائی دی نه دی دا خبرې مگر قصې د پخوانو خلقو دي دا هغه کسان دي

حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِم مِّنَ

چه ثابته شوې ده پر دوی خبره د عذاب په ډلو کښې چه په تحقیق تیر شوي دي پخوا له دوی څخه له

۱ له ابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه نقل شوی دی چه دا آیت شریف په حق د ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه کښې نازل شوی دی چه الله تعالی دعا د ده قبوله کړې وه هم په اسلام مشرف شوی وو او مور پلار وروڼه او زامن د ده ټول مسلمانان وو په اصحاب کرامو کښې بل څوک داسې نه وو نه په انصارو کښې او نه په مهاجرینو کښې چه دې ځپله او مور و پلار او زامن او لونړه ئې هم مسلمانان وو بې له ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه ۱۲ روح و فتح

۲ له دې آیت کریمه څخه معلومه شوه چه دعا چه عمر څلویښتو کالوته ورسیږي نو دا قسم دعا دې ډیره کوي او ویل په دې آیت کښې دا اشاره ده چه هر څوک څلویښتو کالوته ورسیږي نو له هر قسم گناه څخه دې توبه وکاږي او په رښتیا سره دې الله ته رجوع وکړي ۱۲ فتح البیان

۳ دا آیت شریف نازل شوی دی په بیان د هغه کس کښې چه دی کافر دی او مور و پلار ئې مسلمانان وي ئې نو دې نصیحت او خبرې د هغو نه منې او جفا ورسره کوي ۱۲ موضح القرآن

۴ یعنې دا چه زه بیرته ژوندی به راپاسوم ۱۲ ۵ فریاد کوي خدای ته یعنې دا دواړه ژاړي او دعا کوي چه ای الله جل جلاله ده ته توفیق وکړې د ایمان او ورته وائي ته هم وائي چه ويلك آمن ان وعد الله حق ماشاء الله لا قوة الا بالله

الْجِنِّ وَالْإِنسِ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا خَاسِرِينَ ﴿١٨﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجَاتٌ مِّمَّا عَمِلُوا ۖ

پيريانو څخه او له سړو څخه بيشکه چې دوی وو تاوانيان او لپاره د هر يو مرتبې دي په هغه کښې چې کړي دي دوی

وَلِيُوَفِّيَهُمْ أَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٩﴾ وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِينَ

او چې پوره ورکړي دوی ورته جزاء د عملونو د دوی او پر دوی به ظلم ونکړل شي او ياد کړه هغه ورځ چې وړاندې به کړل شي هغه کسان

كَفَرُوا عَلَى النَّارِ أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُم

چې کافران شوي دي پر اور او ورته به وويل شي چې وړې دې تاسو نيکۍ خپلې په ژوند ستا سو کښې د دنيا او وکړه اخستې ده تاسو

بِهَا فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ فِي

پر هغه باندې نو نن ورځ به جزا درکړې شي تاسو ته عذاب سپکونکی په سبب د هغه چې وئ تاسو تکبر به موکاوه په

الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنتُمْ تَفْسُقُونَ ﴿٢٠﴾ ع ٢ ٢ وَاذْكُرْ أَخَا عَادٍ إِذْ

ځمکه کښې په ناحقه سره او په سبب د هغه چې وئ تاسو گناهونه به موکول او ياد کړه ته ورور د عاديانو يعنې قصې هغه

أَنذَرَ قَوْمَهُ بِالْأَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَ

چې وويرولي ده قوم خپل په احقاف ځاي کښې او په تحقيق تير شوي وو نور ويرونکي په مخکښې د ده او له

مِنْ خَلْفِهِ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ

شا ته د ده څخه چې عبادت مه کوئ تاسو مگر د خداي بيشکه چې زه ويريږم پر تاسو له عذابه د ورځې

عَظِيمٍ ﴿٢١﴾ قَالُوا أَجِئْتَنَا لِتَأْفِكَنَا عَنْ آلِهَتِنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن

لوئې څخه وويل دوی آيا راغلې ته موږ ته چې منع کړې موږ له معبودانو خپلو څخه نو راوړه موږ ته هغه چې وعده ئې کوې موږ ته د عذاب سره

كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٢٢﴾ قَالَ إِنَّمَا الْعِلْمُ عِندَ اللَّهِ وَأُبَلِّغُكُم مَّا

ئې ته له رښتيا ويونکو څخه وويل هغه چې بيشکه دا خبره ده چې علم په نزد د خداي دی او رسوم زه تاسو ته هغه

أُرْسِلْتُ بِهِ وَلَٰكِنِّي أَرَاكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُونَ ﴿٢٣﴾ فَلَمَّا رَأَوْهُ عَارِضًا

چې ليږل شوی يم زه په هغه سره مگر زه وينم تاسو لره قوم چې جهالت کوئ نو هر کله چې وليد دوی هغه عذاب وريځ

مُّسْتَقْبِلَ أَوْدِيَتِهِمْ قَالُوا هَٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ۚ بَلْ هُوَ مَا

مخ کونکې کنډواو ملکو د دوی ته نو وويل دوی چې دا وريځ ده باران کونکې پر موږ باندې بلکه دا هغه عذاب دی

اسْتَعْجَلْتُم بِهِ ۖ رِيحٌ فِيهَا عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٤﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍ بِأَمْرِ

چې تلوار به کوله تاسو په راتلو د ده باندې باد دی په ده کښې عذاب دردونکی دی هلاکوي هر شي په حکم

له

روايت دی چې حضرت عمر رضي الله تعالى عنه يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلی او هغه پر خالي کټ يا پوزي باندې پروت وو چې تغمې د هغه په بدن د ده صلى الله عليه وسلم کښې ښکاره شوي وي. نو حضرت عمر رضي الله تعالى عنه وژړل نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل کوم شي دې ژړوي ای عمر رض نو هغه ورته وويل يادمې شول کسرى او قيصر او هغه ابادې چې پر هغوی ده او ته رسول د رب العلمين ئې او دادی تغمې د بوريا په بدن مبارك ستا باندې ښکاره دي نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل دغه کسانو ته نعمتونه د دنيا ژر ورسيدل په بدلې د ژوند کښې او زموږ لپاره نعمتونه ساتل شوي دي لپاره د اخرت ١٢ روح و ابن کثير

٢ه په صحيح مسلم او ترمذی او نسائي او ابن ماجه کښې له بي بي عائشې رضي الله تعالى عنها څخه روايت شوی دی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم به د اعادت وو چې هرکله به باد راوالوتی نو ويل به ئې چې ای خدايه زه غواړم له تا څخه خير د دې باد او خير د هغه چې په ده کښې وي او خير د هغه چې ليږل شوی دی دا باد په هغه سره دا دعا په عربي کښې دا سې ده اللّٰهُمَّ اِنِّیْۤ اَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا فِيْهَا وَخَيْرَ مَاۤ اُرْسِلَتْ بِهٖ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا وَشَرِّ مَاۤ اُرْسِلَتْ بِهٖ او هر کله چې به په اسمان کښې وريځ راښکاره شوه نو رنگ مبارك به ئې کله وده سوا او د کوره څخه به را اوتی او ننوتی کله به مخته ولاړ او کله به شاته نو هر کله چې به باران شروع شو خفگان به ئې ختم شو نو ما ورڅخه د دې سبب پوښتنه وکړه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم راته وويل چې زه څه خبر يم چې دا خير دی که شر شايد د اپه داسې وي لکه چې په عاديانو باندې راغلې وه هر کله چې دوی وليده نو وئې ويل چې هٰذَا عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ١٢

رِبِّهَا فَاَصْبَحُوْا لَا يُرٰٓى اِلَّا مَسٰكِنُهُمْ كَذٰلِكَ نَجْزِي الْقَوْمَ

د رب د دوه سره نو وګرځېدل دوی چه لیدل کیدل مګر کورونه د دوی هم داسې جزا ورکوو مونږ قوم

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۲۵﴾ وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ فِيْهِ وَجَعَلْنَا

ګنهګارانو ته او خامخا په یقین قدرت ورکړی وو مونږ هغوی ته په هغه کښې چه قدرت مونږ نه دی درکړی تاسو ته او وګرځول مونږ

لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ

دوی لره غوږونه او سترګې او زړونه نو هیڅ دفع ونکړه له هغوی څخه نه غوږونو د هغوی او نه

اَبْصَارُهُمْ وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ مِّنْ شَيْءٍ اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ بِاٰيٰتِ

سترګو د هغوی او نه زړونو د هغوی هیڅ شی هغه وخت چه وو هغوی انکار به ئې کاوه په ایتونو

اللّٰهِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا

د خدای او چاپېره شو پر هغوی هغه عذاب چه وو دوی چه په هغه پورې به ئې مسخې کولې او خامخا په یقین هلاک کړې دي مونږ

حَوْلَكُمْ مِّنَ الْقُرٰى وَصَرَّفْنَا الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَلَوْلَا

هغه چه چاپیره دي ستاسو څخه له کلیو څخه او ډېر بیان کړي دي مونږ علامې نښانې چه دوی بیرته راوګرځي له کفر څخه نو ولې

نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً بَلْ ضَلُّوْا

مدد ونکړ له هغوی سره هغه کسانو چه نیولي وو هغوی بې له خدایه څخه لپاره د نزدیکت خدای ته نور خدایان بلکه ورک شول

عَنْهُمْ وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَاِذْ صَرَفْنَآ اِلَيْكَ

له هغوی څخه او دا بیان دروغ د هغوی وو او هغه دي چه وو هغوی دروغ به ئې تړل او یاد که هغه چه راوګرځول مونږ

نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُوْنَ الْقُرْاٰنَ فَلَمَّا حَضَرُوْهُ قَالُوْٓا

تا ته یوه ډله له پیریانو څخه چه اوریدونکي وو قرآن نو هر کله چه حاضر شول هغه ته وویل هغوی

اَنْصِتُوْا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا اِلٰى قَوْمِهِمْ مُّنْذِرِيْنَ ﴿۲۹﴾ قَالُوْا يٰقَوْمَنَآ

چه چپ شئ نو هر کله چه تمام شول لوستل د هغه نو وګرځېدل هغوی قوم خپل ته ویرونکي وویل هغوی ای قومه زمونږ

اِنَّا سَمِعْنَا كِتٰبًا اُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوْسٰى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ

بیشکه چه مونږ اوریدلی مو دی کتاب چه نازل کړی شوی دی وروسته له موسیٰ ع څخه چه رښتینی کونکی دی هغه کتاب چه

يَدَيْهِ يَهْدِيْٓ اِلَى الْحَقِّ وَاِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۳۰﴾ يٰقَوْمَنَآ اَجِيْبُوْا دَاعِيَ

په وړاندې د ده دی چه لاره ښیئ حق ته او لارې سمې ته ای قومه زمونږ قبلیدل وکړئ د بلونکي خدای

ف ۵
یعنې داسې دوی تول هلاک شول چه هیڅ نوم نښان ئې پاته نه سو وبلې شوې چه په داسې سخت باد پر دوی راوالوتی چه هیڅ نوم پاته نه سوا و تول ئې په شګو کښې ښخ کړل او ته ورځې په کښې دوب وو یا باد پر راغلی او په سمندر کښې ئې واچول ۱۲ تفسیر وحیدي

ف ۲
روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره د وعظ او نصیحت بنې ثقیف ته تللي وو چه هغوی ایمان نه پرې راوړی او دی ته څخه ناامید او خفه شو چه راتلی له طائف څخه مکې معظمې ته نو په لاره کښې پری سهار شو نو د سهار لمونځ ئې له اصحابو سره په بطن نخله ځای کښې کاوه نو قرآن ئې اوریدو پیریانو او ورپسې هر کله چه ترې ورته راغلل نو په حل ماین کښې ئې وویل چه چپ شئ او غوږ ونیسئ د اخه ولې چه بیا ئې واوریدل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم او ایمان ئې پرې راوړی چه و اذ صرفنا الیک ۱۲ تیسیر

ف ۳
په حدیث شریف کښې راغلي دي چه دا واقعه د راتلو د پیریانو په بطن نخله کښې واقع شوې ده چه دوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حاضر شوي دي لپاره د اوریدلو د قرآن شریف، صحیح خبره دا ده چه اتلل دیر دا نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دیر واره دا واقع شوې دی ۱۲ وحیدی

ف ۴
چه نازل کړی شوی دی له طرفه د خدای څخه وروسته له کتابه د موسیٰ ع او عیسیٰ ع ئې یاد نکړ حکه چه په انجیل کښې تول اوصلوح الله تعالی دي احکام په کښې نسته په مثل د تورات او بل خلق چه دوی یهود وو پر دین د موسیٰ علیه السلام پاندې ۱۲ تفسیر تیسیر

اللّٰهِ وَاٰمِنُوْا بِهٖ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ

او ايمان راوړئ په ده باندې بخښنه به وكړي تاسو ته د ګناهو ستاسو او خلاص به كړي تاسو له عذابه

اَلِيْمٍ ﴿۳۱﴾ وَمَنْ لَّا يُجِبْ دَاعِيَ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْاَرْضِ وَ

دردوركوونكي نه او هرچا چه قبليدل ونكړل د بلوونكي د خداى نو نه دے عاجزه كوونكي د خداى په ځمكه كښې

لَيْسَ لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءُ ؕ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۲﴾ اَوَلَمْ

او نه به وي ده لره بې له ده نه دوستان دغه كسان په ګمراهۍ ښكاره كښې دي ايا نه

يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ

ويني دوى چه بيشكه هغه خداى چه پيدا كړي ئې دي اسمانونه او ځمكه او ستړى شوے نه دے په پيدائښت د دوى باندې

بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ يُّحْيِۦَ الْمَوْتٰى ؕ بَلٰٓى اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۳۳﴾

قادر دى پر دے باندې چه ژوندي كړي مړي هو! قادر دے بيشكه چه دى په هر شي باندې قادر دى

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ؕ اَلَيْسَ هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ

او ياد كړه هغه ورځ چه وړاندې به كړل شي هغه كسان چه كافران شوي دي پر اور باندې ايا نه دے دا حق

قَالُوْا بَلٰى وَرَبِّنَا ؕ قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۴﴾

وبه وائي دوى هو او قسم دى په رب زمونږ باندې وبه وائي خداى چه نو وڅكئ عذاب په سبب د هغه چه وئ تاسو كافران كيدلئ به

فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ ؕ

نو صبر كوه ته لكه چه صبر كړي وو خاوندانو د عزم[۱] او تلوار مه كوه پر غوښتلو د عذاب دوى لره

كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوْعَدُوْنَ ۙ لَمْ يَلْبَثُوْٓا اِلَّا سَاعَةً مِّنْ نَّهَارٍ ؕ

لكه دوى په هغه ورځ چه وويني هغه عذاب چه وعده ئې كيږي له دوى سره د رنګ د رنګ نه ونكړي دوى مګر يو ساعت له ورځې نه

بَلٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ ع

رسول د جواب دي ايا نو هلاك به كړل شي مګر قوم فاسقان[۲]

سُوْرَةُ مُحَمَّدٍ مَّدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٍ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — وَّثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

شروع كوم په نامه د خداى چه بخښونكي دى مهربان دى

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ﴿۱﴾

هغه كسان چه كافران شوي دي او منع كوي خلق له لارې د خداى نه خراب كړي دي خداى عملونه د دوى

ف ۱ ويلے شوي دي چه اولوالعزم پيغمبران شپږ كسان دي ابراهيم عليه السلام، موسى عليه السلام، داود عليه السلام، سليمان عليه السلام، عيسى عليه السلام دي او محمد صلى الله عليه وسلم دي. او بعضو ويلي دي چه اولوالعزم د ولس پيغمبران دي چه ليږلي شوي وو بني اسرائيلو ته په شام كښې نو هغوى ئې نافرماني وكړه نو الله تعالى هغه پيغمبرانو ته وحي وكړه چه تاسو مصلحت وكړئ يا به تاسو په عذاب كړم او د ابني اسرائيل به خلاص كړم او يا به تاسو خلاص كړم او پر دوى به عذاب راولم نو دوى د امشوره وكړه چه مونږ دې په عذاب شو او دوى دې خلاص شي نو الله تعالى پر دوى باندې باچاهان مسلط كړل نو ئې بعض په اره شهيد كړل او بعض ئې پوست د سر او د مخ واړه وئ او بعضے ئې په دار كړل او ځوړند ئې په اور وسوځول نو الله تعالى خپل حبيب اكرم صلى الله عليه وسلم ته فرمائي چه ته هم په جفا د دے مشركانو باندې صبر كوه لكه چه هغوى صبر كړې وو ۱۲ تفسير روح البيان و ابن كثير

ف ۲ مراد له فاسقانو ئې كافران او مشركان دي چه حكم د الله تعالى نه منئ او په شرك او كفر كښې هميشه مبتلا وي ۱۲

ف ۳ په حديث شريف كښې راغلي دي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم به دعا بيا په لما ئې كښې د دا سورة وايه ۱۲

ع ۴ / ۹ / ۱۴

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَآمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ

او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے او عمل کوي د نیکو او ایمان ئې راوړے دے په هغه چه نازل شوے دے پر محمد صلی الله علیه وسلم

وَهُوَ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۙ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ ﴿٢﴾

او هغه حق دے له رب د دوی نه ویه رژوے خدائے د دوی نه ګناهونه د دوی او نیک به کړي حال د دوی

ذَٰلِكَ بِأَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَأَنَّ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّبَعُوا

دا کار په سبب د دے دے چه بیشکه هغه کسان چه کافران شوي دي اتباع ئې کړې ده د باطل او بیشکه هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے اتباع ئې کړې ده

الْحَقَّ مِن رَّبِّهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ لِلنَّاسِ أَمْثَالَهُمْ ﴿٣﴾ فَإِذَا لَقِيتُمُ

د حق له رب د دوی نه هم دا رنګه بیانوي خدائے د وړے له مثالونه د خلقو لپاره د عبرت نو هر کله چه ملاقات وکړئ تاسو

الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّىٰ إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا

له هغه کسانو سره چه کافران شوي دي نو وهئ غاړې د هغوی تر څو چه هر کله چه بنه مو قتل کړل دوی نو محکم کوئ

الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّىٰ تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا

قید ورل نو یا احسان وکړئ ورسته له هغه نه او یا پر بدل واخلئ تر څو چه کیږدي جنګ اسباب خپل

ذَٰلِكَ وَلَوْ يَشَاءُ اللَّهُ لَانتَصَرَ مِنْهُمْ وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَ بَعْضَكُم

خبره دا ده او که اراده وای د خدائے نو خامخا بدل به ئې اخستے وو له دوی نه مګر چه ازمیښت وکړي د بعضو ستاسو

بِبَعْضٍ ۗ وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ ﴿٤﴾

پر بعضو نورو او هغه کسان چه وژلي شوي دي په لاره د خدائے کښې نو له سره به خراب نکړي عملونه د دوی

سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ﴿٥﴾ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴿٦﴾

ژر دے چه لاره به وښئي دوی ته او نیک به کړي حال د دوی او داخل به کړي دوی جنت ته معلوم کړي ئې وو دوی ته جنت

ا؎ په حدیث شریف کښې راغلی دی چه هر شی لره یو ناوی وی او ناوی د قرآن سورة رحمٰن ده ۱۲ ۲؎ ویل شوی دی چه حضرت ادم علیه السلام او نورو ټولو بنی ادم ته ئی ور ښوولی او بعضو ویلی دی چه مراد له بیان څخه حلال او حرام او احکام شرعی دی او بعضو ویلی دی چه لیکل ورڅخه مراد دی ۱۲ ۳؎ یعنے په خپل مقرر وخت کښې خپله دوره پوره کوی د ستر ګو د ربو لو په اندازه شا او مخ ته نه کیږی یا معنے دا چه تول حساب او شمار د وختو د میاشتو او لمر له جهته دی ۱۲ ۴؎ الله ج دا ایت شریف په دے سورة کښې یو دیرش واره ذکر کړ صرف لپاره د یادولو د نعمتو خپلو او لپاره د تاکید لکه چه د عربو دا قاعده ده چه یوه خبره په تاکید سره کوی نو سپاسیائی وائی. سنت دی چه سامع دے پس له دی هر روایت څخه دا دعا وائی چه وَلَا بِشَيْءٍ مِّنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ له حضرت جابر رضی الله تعالٰی عنه څخه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم سورة رحمٰن تر اخیره پوری تلاوت کړ نو ئی وویل چه څه شوی دی ما ته چه تاسو می چپ ولیدئ خامخا پیریان تر تاسو دیر ښه وو په جواب کښې ما به نه وایه بر هغوی باندی دا ایت کریمه فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۱۲ ۱۲ روح وغیره

۵؎ چه یو خوږ دی او بل تریخ دے ۱۲

وَالْمَرْجَانُ ﴿۲۲﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۲۳﴾ وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَآتُ

او مرجان نو پر کوم یو له نعمتو د رب خپل تاسو دروغ وائی او دی خدای لره دی بیړئ روانی کړل شوی

فِي الْبَحْرِ كَالْأَعْلَامِ ﴿۲۴﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۲۵﴾ كُلُّ مَنْ — النصف ع ۱۵

په دریاب کښې په شان د غرونو نو پر کوم یو له نعمتو د رب خپل تاسو دروغ وائی ټول هغه څوک

عَلَيْهَا فَانٍ ﴿۲۶﴾ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ ﴿۲۷﴾ فَبِأَيِّ

چه په دی ځمکه کښې دی فانی کیدونکی دی او باقی پاته شی ذات د رب ستا چه خاوند د لوئی او د عزت ورکولو دی نو په کوم یو

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۲۸﴾ يَسْأَلُهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلَّ

له نعمتو د رب خپل تاسو دروغ وائی سوال کوی له ده نه هغه څوک چه په اسمانو کښې دی او چه په ځمکه کښې دی هره

يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ ﴿۲۹﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۳۰﴾ سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَ

ورځ دی په کار کښې دی نو پر کوم یو له نعمتو د رب خپل تاسو دروغ وائی ژر دی چه خلاص به سو تاسو ته ای

الثَّقَلَانِ ﴿۳۱﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۳۲﴾ يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ

سړو او پیریانو نو پر کوم یو له نعمتو د رب خپل باندی تاسو دروغ وائی ای ډلی د پیریانو او د سړو

إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ تَنْفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ فَانْفُذُوا

که طاقت کیږی ستاسو چه ووځئ تاسو له طرفو د اسمانو او د ځمکی نه نو ووځئ

لَا تَنْفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَانٍ ﴿۳۳﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۳۴﴾ يُرْسَلُ

و به نه وزئ تاسو مګر په قوت سره نو پر کوم یو له نعمتو د رب خپل تاسو دروغ وائی و به لیږل شی

عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِنْ نَارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرَانِ ﴿۳۵﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

پر تاسو باندی لمبه له اور نه او د ژیړ ویلی کړی شوی پر تاسو به بدل وانه خستل شی نو پر کوم یو له نعمتو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۳۶﴾ فَإِذَا انْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿۳۷﴾

د رب خپل باندی دروغ وائی تاسو نو په هغه وخت کښې چه وچاودل شی اسمان نو شی به سور ستا د څرمنی

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۳۸﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَا يُسْأَلُ عَنْ ذَنْبِهِ إِنْسٌ

نو پر کوم یو له نعمتو د رب خپل تاسو دروغ وائی نو په هغه ورځ به پوښتنه نه کیږی له ګناه خپلی څخه نه له انسانه

وَلَا جَانٌّ ﴿۳۹﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۴۰﴾ يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ

او نه له پیریانو څخه نو پر کوم یو له نعمتو د رب ستاسو تاسو دروغ وائی پیژندل کیږی به کافران

ف ۱

منیب ابن عبدالله له خپل پلار څخه روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ایت شریف وواییه ﴿كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ﴾ نو ما وویل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه څه کار دی نو ده صلی الله علیه واله وسلم راته وفرمایل چه ګناه بخښی او سختی لیری کوی او یو قوم لوړوی او بل کښته کوی چاته عزت او مرتبه ورکوی او څوک ذلیل او رسوا کوی. ﴿تُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ﴾ ۱۲ ۱۲ ۱۲

جامع البیان وابن کثیر وروح البیان

ف ۲

دا ایت شریف رد دی پر هغه کفارو چه وائی الله تعالی ځمکی اسمانونه پیدا کړل بیائی انتظام د دی بل چاته وسپارلی او دی پخپله په ارام سره کښینستی ﴿فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ﴾

۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

بِسِيمٰهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ ﴿٤١﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

پہ علامو د وی سرہ نو نیول کیږي پہ ویښتانو د تندي سرہ او پہ قدمو سرہ نو پہ کوم یو لہ نعمتو د رب خپل باندي

تُكَذِّبَانِ ﴿٤٢﴾ هٰذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٤٣﴾ يَطُوفُونَ

تاسو دروغ وائی دا هغه دوزخ دی چہ دروغ بہ ویل پردہ باندے کافرانو گرځي بہ دوی

بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ آنٍ ﴿٤٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٥﴾ وَلِمَنْ خَافَ

منځ د دہ کښے او پہ منځ د او بو گرمو کښے نو پہ کوم یو لہ نعمتو د رب خپل باندے دروغ وائی تاسو او لپارہ د هغہ چا چہ ویریږے

مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٧﴾ ذَوَاتَا أَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾

لہ درید لو څخہ د رب خپل نہ دوہ باغونہ دی نو پہ کوم یو لہ نعمتو د رب خپل تاسو دروغ وائی هغہ دوارہ باغونہ بہ خاوندان د ښانگو وے

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٩﴾ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴿٥٠﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

نو پر کوم یو لہ نعمتو د رب خپل باندے تاسو دروغ وائی پہ هغہ دوارو کښے بہ دوہ چینے بهیدونکي وي نو پر کوم یو لہ نعمتو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥١﴾ فِيهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴿٥٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

د رب خپل باندی تاسو دروغ وائی پہ هغہ دوارو باغو کښے بہ لہ هر قسم میوي څخہ دوہ قسمہ وي نو پر کوم یو لہ نعمتو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٣﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ فُرُشٍ بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ

د رب خپل باندی دروغ وائی تاسو تکیہ کونکی (ناست) بہ وي پہ بسترو باندے چہ استرونہ د هغے بہ لہ غټو ورېښمو څخہ وے

وَجَنَى الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٥﴾ فِيهِنَّ

د میوو د هغہ دوارو باغو بہ نږدې وي نو پر کوم یو لہ نعمتو د رب خپل باندی تاسو دروغ وائی وي بہ دی باغو کښے

قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿٥٦﴾ فَبِأَيِّ

بندلرونکي د سترگو (حوري) چہ نږدې شوي بہ نہ وي هغوي تہ مخکے لہ دوي څخہ او نہ پیري نو پر کوم یو

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٧﴾ كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿٥٨﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

لہ نعمتو د رب خپل باندی تاسو دروغ وائی گویا دوي بہ یاقوت او مرجان وي نو پر کوم یو لہ نعمتو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥٩﴾ هَلْ جَزَاءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ ﴿٦٠﴾ فَبِأَيِّ

د رب خپل باندي دروغ وائی تاسو نہ دہ جزا د نیکی مگر نیکی دہ نو پر کوم یو لہ

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦١﴾ وَمِنْ دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ﴿٦٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا

نعمتو د رب خپل باندی تاسو دروغ وائی او بی لہ دی دوہ نور باغونہ دے نو پر کوم یو لہ نعمتو د رب خپل تاسو

---

۵۱ پہ صحیح بخاري کښی لہ عبداللہ ابن قیس رضی اللہ تعالی عنہ څخہ روایت دی چہ پہ یقین رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم فرمایلي دی چہ دوہ باغونہ بہ دا سے وی چہ لوښی د هغہ او هغہ شیان چہ پہ هغہ کښی وي ټول بہ د سپینو زرو څخہ جوړ وي او دوہ باغونہ بہ نور داسے وی چہ لوښی او ټول شیان بہ ئی لہ سرو زرو څخہ وي. او هغہ کسان چہ پہ جنت عدن کښے اوسیږي نو د هغوی او د اللہ تعالی پہ منځ کښی بہ فقط څادر (پردہ) د کبریائی د خدا پاک د وجهی وي. لہ حضرت ابی درداء رضی اللہ تعالی عنہ څخہ روایت دی چہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم یوہ ورځ دا آیت ووایہ چہ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ نو ما وویل چہ کہ څہ هم زنا او غلائی کړی وي. نو رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم وفرمایل کہ څہ هم پزہ د ابو الدرداء کرومہ رسیږي کیږي یعنی کہ تہ خفہ کیږے هم بہ دا سی جزا پیدا کړي رواہ ابن جریر رحمہ اللہ تعالی علیہ ١٢ ابن کثیر رح

۵۲ مگر نیکی دہ. پہ حدیث شریف کښے راغلی دي چہ معنی د دے آیت ئی دا سی بیان کړی دہ.. چہ پر هر چا ما احسان وکړا و موحد می کړ نو بدلہ د هغہ جنت دہ ١٢ تفسیر وحیدی

تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٣﴾ مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿٦٤﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٥﴾ فِیْهِمَا

دروغ وائی تاسو تو به وی په ډېرو درختو باندې نو پر کوم يو له نعمتو د رب خپل تاسو دروغ وائی په هغه دواړو باغو کښې به

عَیْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴿٦٦﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٧﴾ فِیْهِمَا فَاكِهَةٌ

دوه چینې خوټېدونکې وي نو پر کوم يو له نعمتو د رب خپل تاسو دروغ وائی په هغه دواړو کښې به میوې وي

وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ﴿٦٨﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٩﴾ فِیْهِنَّ خَیْرٰتٌ

او خورما به وي او انار به وې نو پر کوم يو له نعمتو د رب خپل باندې تاسو دروغ وائی په دې باغو کښې به نیکې ښځې وي

حِسَانٌ ﴿٧٠﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧١﴾ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ فِی الْخِیَامِ ﴿٧٢﴾

ښائسته نو پر کوم يو له نعمتو د رب خپل باندې تاسو دروغ وائی حورې به وي بندې کړې شوې به وي په خیمو کښې [1]

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٣﴾ لَمْ یَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا

نو پر کوم يو له نعمتو د رب خپل باندې تاسو دروغ وائی رسیدلی به نه وي هغوی ته سړی مخکې له دوی څخه او نه

جَآنٌّ ﴿٧٤﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِـِٕیْنَ عَلٰی رَفْرَفٍ

پېرې نو پر کوم يو له نعمتو د رب خپل باندې دروغ وائی تاسو تکیه کونکې به وي په پړشو

خُضْرٍ وَّعَبْقَرِیٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٧٧﴾

شین رنګو باندې او عمده ښائسته باندې نو پر کوم يو له نعمتو د رب ستا سو تاسو دروغ وائی

تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِی الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ﴿٧٨﴾

برکتناك دے نوم د رب ستا چه خاوند د لوئی او عزت ورکولو دی [2]

سُوْرَةُ الْوَاقِعَةِ مَكِّیَّةٌ وَّهِیَ سِتٌّ وَّتِسْعُوْنَ اٰیَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١﴾ لَیْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿٣﴾ وقف لازم

په هغه وخت کښې چه ووړېږي قیامت نشته واقع کیدلو د هغه له پاره دروغ کښته کونکې دے پورته کونکې دی

اِذَا رُجَّتِ الْاَرْضُ رَجًّا ﴿٤﴾ وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ﴿٥﴾ فَكَانَتْ هَبَآءً

په هغه وخت کښې چه وښوروړل شي ځمکه په ښورولو سره او ووالوزول شي غرونه په الوزولو سره نو شي به دا غرونه غبار

---

[1] په صحیح بخاری کښې له حضرت ابو موسیٰ اشعری رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دي چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم به فرمایل چه هغه خیمه به یوه دانه د ملغلري وي چه منځ به ئې خالي وي او پلنوالی د هغې به شپیته میله وي او په هر یو کونج د هغه به اهل وعیال وي د لپاره د مؤمن چه هیڅوك به هغوی نه ویني او دی به ورته ځي او راځي ۲
روح البیان وجامع البیان

[3] په صحیح مسلم کښې له بي بي عائشې رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به سلام د لمانځه وګرځولو نو نه به کښېنستي مګر دومره قدر چه وبه ئې ویل اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ یَاذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ ۱۲
روح البیان وابن کثیر

مُّنۢبَثًّا ﴿٦﴾ وَّكُنْتُمْ اَزْوَاجًا ثَلٰثَةً ﴿٧﴾ فَاَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۙ مَاۤ اَصْحٰبُ

خوروؤ کړې شوې اوشئ به تاسو قسمونه درې نو یاران دښی طرف څه دي یاران

الْمَيْمَنَةِ ﴿٨﴾ وَاَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ۙ مَاۤ اَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ﴿٩﴾ وَالسّٰبِقُوْنَ

دښی طرف او یاران دچپ طرف څه دي یاران دچپه طرف او مخکی کونکیو ته

السّٰبِقُوْنَ ﴿١٠﴾ اُولٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿١١﴾ فِیْ جَنّٰتِ النَّعِیْمِ ﴿١٢﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ

مخکې کیدونکي به وي جنت ته دغه کسان نژدې کړې شوې دي خدائ ته په باغو د نعمتو کښی. به وي لویه ډله به وي له

الْاَوَّلِیْنَ ﴿١٣﴾ وَقَلِیْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِیْنَ ﴿١٤﴾ عَلٰی سُرُرٍ مَّوْضُوْنَةٍ ﴿١٥﴾ مُّتَّكِـِٕیْنَ

اولنو خلقو څخه او لږ خلق به وي له دې وروستنو خلقو څخه پر تختو او بدلو شوو باندې به ناست وي تکیه کونکي به وي

عَلَیْهَا مُتَقٰبِلِیْنَ ﴿١٦﴾ یَطُوْفُ عَلَیْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ ﴿١٧﴾ بِاَكْوَابٍ

پر هغه باندې مخامخ به وي سره راګرزي به پر دوی باندې هلکان همیشه کړې شوي په جامو

وَّاَبَارِیْقَ ۙ وَكَاْسٍ مِّنْ مَّعِیْنٍ ﴿١٨﴾ لَّا یُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا یُنْزِفُوْنَ ﴿١٩﴾

او په کوزو او په لوښو سره له شرابو څخه نه به سر خوږیږي د دوی له هغه شرابو څخه او نه به بیهوښه کیږي

وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا یَتَخَیَّرُوْنَ ﴿٢٠﴾ وَلَحْمِ طَیْرٍ مِّمَّا یَشْتَهُوْنَ ﴿٢١﴾ وَحُوْرٌ

او میوې به وي له هغه قسمو څخه چه دوی به ئې خوښوي او غوښې د مرغانو به وي له هغه قسمه د دوی چه خوښه به ئې کړي او حورې به

عِیْنٌ ﴿٢٢﴾ كَاَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُوْنِ ﴿٢٣﴾ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿٢٤﴾

غټ سترګی په شان د ملغلرو پټو ساتل شوو جزاء ورکول دي په سبب د هغه چه وو دوی کول به ئې

لَا یَسْمَعُوْنَ فِیْهَا لَغْوًا وَّلَا تَاْثِیْمًا ﴿٢٥﴾ اِلَّا قِیْلًا سَلٰمًا سَلٰمًا ﴿٢٦﴾

نه به اوري دوی په هغه کښی عبث خبرې او نه د ګناه خبرې مګر خبره چه سلام دے سلام دے

وَاَصْحٰبُ الْیَمِیْنِ ۙ مَاۤ اَصْحٰبُ الْیَمِیْنِ ﴿٢٧﴾ فِیْ سِدْرٍ مَّخْضُوْدٍ ﴿٢٨﴾

ملګرې د راسته طرف څه دي یاران د ښی طرف ۳ به بیرو بی اغزو کښی به وي

وَّطَلْحٍ مَّنْضُوْدٍ ﴿٢٩﴾ وَّظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ ﴿٣٠﴾ وَّمَآءٍ مَّسْكُوْبٍ ﴿٣١﴾ وَّفَاكِهَةٍ

او په کیلو کښی به وي چه ډکی به وي له میوو څخه او په سایه اوږده کړې شوې کښی به وي او په اوبو ورول شوو کښی به وي او میوه

كَثِیْرَةٍ ﴿٣٢﴾ لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ ﴿٣٣﴾ وَّفُرُشٍ مَّرْفُوْعَةٍ ﴿٣٤﴾

ډیرو کښی به وي چه نه به قطع کیږي هغه او نه به منع کول کیږي هغه او په پر شوو پورته کړل شوو کښی به وي

ك له دې وروستنو خلقو څخه یعنې چه له زمانې د حضرت آدم څخه تر حضرت عیسیٰ علیٰ نبینا وعلیهما السلام پورې سابقین تابعین د پیغمبرانو حساب شي نو د دې امت تر سابقینو به زیات شي ځکه چه مخکې پیغمبران د دې نه ډیر تیر شوي دي ۱۲ منه

ك ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه وئیلي دي چه په شرابو کښی څلور خاصیته دي بیهوښي[1] سر درد[2] قئ[3] او بول. او په شرابو د جنت کښی به دا یو هم نه وي بلکه خالص خوند به وي بې له ضرره ۲ روح وابن کثیر

ك یعنې چه اغزي به پکښی نه وي په حدیث شریف کښی راغلي دي چه په ځائ د اغزي کښی به به ئې یوه میوه وي چه هر یوه میوې به ئې دا ویا ؤ خوراکو په شان لذت وي ۱۲

ك په صحیح بخاري کښی له ابی هریرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت شوی دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایل چه په یقین سره په جنت کښی یوه درخته ده چه په سیوري د هغه کښی به سپور سل کاله مزل کوي او هغه به خلاصه نه شي که ستاسو خوښ وي ایعني تصدیق د دې نو ولولئ دا ایت چه وَظِلٍّ مَّمْدُوْدٍ ۱۲ روح وابن کثیر

ك له ابی سعید خدري رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په تفسیر د دې ایت کښی وفرمایل چه لوړوالی د هغه پرشو به د ومره وي لکه د اسمان او ځمکې په منځ کښی چه فاصله ده او د پنځوسو کالو لاره ده دا روایت په ترمذي شریف کښی راغلي دے ۱۲ تفسیر روح البیان وابن کثیر

إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً ﴿۳۵﴾ فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴿۳۶﴾ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴿۳۷﴾

بیشکه مونږ پیدا کړي دي په پیدا کولو سره نو ګرځولي مو دي انجوني عاشقانې پر خپلو څښتنانو همزولې

لِّأَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿۳۸﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿۳۹﴾ وَثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْءَاخِرِينَ ﴿۴۰﴾ ع ۱ ۴۸ ۱۴

لپاره د یارانو د راسته طرف دوی به لویه ډله وي له مخکنو خلقو څخه او لویه ډله به وي له وروستنو څخه

وَأَصْحَٰبُ ٱلشِّمَالِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلشِّمَالِ ﴿۴۱﴾ فِى سَمُومٍ وَحَمِيمٍ ﴿۴۲﴾

او یاران د چپه طرف څه دي یاران د چپه طرف په اور ګرم کښې به وي او په اوبو ګرمو کښې به وي

وَظِلٍّ مِّن يَحْمُومٍ ﴿۴۳﴾ لَّا بَارِدٍ وَلَا كَرِيمٍ ﴿۴۴﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَبْلَ

او په سایه کښې به د لوګي وي ډیر تور چه نه به یخ وي او نه به نیک بیشکه چه دوی وو مخکې

ذَٰلِكَ مُتْرَفِينَ ﴿۴۵﴾ وَكَانُوا۟ يُصِرُّونَ عَلَى ٱلْحِنثِ ٱلْعَظِيمِ ﴿۴۶﴾

له دې څخه اباد کړي شوي او وو دوی چه همیشه والی به ئې کاوه په لوی ګناه لویه باندې چه کفر وو

وَكَانُوا۟ يَقُولُونَ أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا

او وو دوی ویل به ئې ایا په هغه وخت کښې چه مړه شو مونږ او شو خاوري او هډوکي ایا مونږ به

لَمَبْعُوثُونَ ﴿۴۷﴾ أَوَءَابَآؤُنَا ٱلْأَوَّلُونَ ﴿۴۸﴾ قُلْ إِنَّ ٱلْأَوَّلِينَ وَٱلْءَاخِرِينَ ﴿۴۹﴾

بیا راپورته کړل شو او که پلاران زمونږ مخکني ووایه ته چه بیشکه اولني خلق او وروستني خلق

لَمَجْمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَٰتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿۵۰﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا

خامخا به یو ځای کړي شي هغه وخت د ورځې معلومې ته بیا بیشکه تاسو به ای

لَضَآلُّونَ ٱلْمُكَذِّبُونَ ﴿۵۱﴾ لَءَاكِلُونَ مِن شَجَرٍ مِّن زَقُّومٍ ﴿۵۲﴾ فَمَالِـُٔونَ

ګمراهانو د دروغ ویونکو خامخا خوړونکي به ئې له درختې د زقوم څخه نو ډکوونکي به ئې

مِنْهَا ٱلْبُطُونَ ﴿۵۳﴾ فَشَٰرِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ ٱلْحَمِيمِ ﴿۵۴﴾ فَشَٰرِبُونَ

له هغه څخه د نسو نو څښونکي به ئې پر هغه باندې له اوبو ګرمو څخه نو څښونکي به ئې په شان

شُرْبَ ٱلْهِيمِ ﴿۵۵﴾ هَٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴿۵۶﴾ نَحْنُ خَلَقْنَٰكُمْ

د څښلو د تږو اوښانو د جل وهلو دا میلمستیا د دوی ده په ورځ د جزاء مونږ پیدا کړي ئې تاسو

فَلَوْلَا تُصَدِّقُونَ ﴿۵۷﴾ أَفَرَءَيْتُم مَّا تُمْنُونَ ﴿۵۸﴾ ءَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُۥٓ

نو ولې باور نه کاوه تاسو ایا نو وینئ تاسو هغه چه منی اچوئ په رحمونو د ښځو کښې ایا تاسو پیدا کوئ هغه

ف ۱
او وو دوی چه همیشه
توب به ئې کاوه پر ګناه لویه
باندې چه شرک وو. او قسمونه
به ئې کول پر دې چه قیامت
نشته. او مونږ به هیڅکله
راپورته نکړل شو او داسې
نور ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

ف ۲
لاره خطا کونکو. چه هغه
لویه لاره د الله تعالیٰ
او د رسول الله نوئې ده یعنې
دروغ ویونکو حق ته ۱۲

ف ۳
ویل شوي دي چه د او
ښانو یو مرض دی لکه استسقا
چه هر څو مره اوبه څښي
نه پرې مړیږي. داسې
به دوزخیان هم لکه دا
اوښان پر داسې بلاء
ګرفتار وي... نعوذ
بالله من ذالک ۱۲

تفسیر وحیدي

أَمْ نَحْنُ الْخَالِقُونَ ﴿٥٩﴾ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ
اوکه مونږ پیدا کوونکي یو مونږ په اندازه کړی مودی په منځ ستاسو کښې مرګ او نه یو مونږ
بِمَسْبُوقِينَ ﴿٦٠﴾ عَلَىٰ أَن نُّبَدِّلَ أَمْثَالَكُمْ وَنُنشِئَكُمْ فِي مَا لَا
عاجز له دې نه چه بدل راولو نور خلق په مثل ستاسو او پیدا کوو تاسو په هغه صورتونو کښې چه تاسو ئې نه
تَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْأَةَ الْأُولَىٰ فَلَوْلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾
پوهیږئ او خامخا په یقین سره چه پوه وئ تاسو په هغه پیدا کولو اولنو باندې نو ولې مونه یادوئ قدرت د خدای ج
أَفَرَأَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴿٦٣﴾ أَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُ أَمْ نَحْنُ الزَّارِعُونَ ﴿٦٤﴾
ایا نو وینئ تاسو هغه چه کرئ تاسو ایا تاسو زرغونوئ هغه او که مونږ زرغونونکي یو
لَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَاهُ حُطَامًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ ﴿٦٥﴾ إِنَّا لَمُغْرَمُونَ ﴿٦٦﴾
که اراده شوې وای زمونږ نو ګرزولی به مو هغه ره زره نو ګرزولی به مو وئ تاسو تعجب به مو کاوه بیشکه مونږ تاوان کړلی شو
بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٦٧﴾ أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ ﴿٦٨﴾ أَأَنتُمْ
بلکه مونږ محروم کړل شو ایا نو وینئ تاسو هغه اوبه چه څښئ ئې ایا تاسو
أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنزِلُونَ ﴿٦٩﴾ لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ
نازلې کړې مودې اوبه له وریځې نه او که ئې مونږ نازلونکي یو که اراده شوې وای زمونږ نو ګرزولې به مو دا اوبه
أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ ﴿٧٠﴾ أَفَرَأَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ ﴿٧١﴾ أَأَنتُمْ
ډیرې ترخې نو ولې شکر نه اداکوئ تاسو ایا نو وینئ تاسو هغه اور چه بلوئ ئې ایا تاسو
أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنشِئُونَ ﴿٧٢﴾ نَحْنُ جَعَلْنَاهَا تَذْكِرَةً
پیدا کړې موده درخته د دې او که مونږ ئې پیدا کوونکي یو مونږ ګرزولې موده دا درخته نصیحت
وَمَتَاعًا لِّلْمُقْوِينَ ﴿٧٣﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾ فَلَا أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ
او نفع لپاره د مسافرانو نو تسبیح وایه په یوستله نوم د رب خپل سره چه لوی دی نو قسم اخلم زه په ځایونو د پریوتلو
النُّجُومِ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ ﴿٧٦﴾ إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ ﴿٧٧﴾
دستورو باندې او بیشکه چه دا قسم دی که تاسو پوهیږئ لوی چه بیشکه دا قرآن دی عزتمن
فِي كِتَابٍ مَّكْنُونٍ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ ﴿٧٩﴾ تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ
په کتاب پټ ساتلي شوي کښې دي چه نه مسه کوي دې مګر پاکان خلق ئې نازل سوی دی له رب

ف ١
د انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو څمکو ته تیرېدو نو الله تعالی ته وفرمایل چه د څمکه انصارو ولې نه کرلی هغوی وویل چه سبب د قحط سالی سره نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه کرلی ئې مووه ځکه چه الله تعالی وائی زه زرغونونکی یم که خوښه می شي په اوبو ئې زرغونه کړم او که خوښه می شي په بادئ زرغونه کړم او که خوښه می شي نو په تخم سره به ئې زرغونه کړم بیا رسول الله ص دا ایت ووایه أَفَرَأَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ الآیة روح ٢ په صحیح بخاري او مسلم کښې له ابی هریرة رض نه روایت دی چه په تحقیق سره رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي دا اور چه تاسو ئې بلوئ او یا یمه حصه ده له اوره د دوزخ اصحابو کرامو رضی الله عنهم وویل یا رسول الله ص قسم پر خدای دی چه دا اور به هم بس و رسول الله ص وفرمایل چه د دوزخ اور د دنیا تر اور ٦٩ شپیته حصې زیات دی یو حصې د دې تاوده لکه د دې اور نعوذ بالله منها ٢ روح وغیره ٣ ویل کیږي چه په عربو کښې خصوصاً په ملک د مغرب او د شام کښې دوه درختې دي چه دیوی نوم مرخ او دبلې عفار دې چه دهغو وار ولبنتی سره یو له بلې ولګیږي نو اور ترې بلیږي مراد له دې درختې نه هغه دي ٤ په حدیث شریف کښې راغلي دي چه هر کله دا ایت شریف نازل شو نو رسول الله ص وفرمایل چه دا به رکوع کښې کړئ یعنې په رکوع کښې دا سبی واي ٢ سبحان ربي العظيم ١٢ ٥ ابن عباس رضی الله تعالی عنه ویلي دي او اکثرو مفسرینو هم ویلي دي چه له مطهرون نه مراد پرښتې دي یعنې هغه کتاب چه په اسمان کښې دي د لوح محفوظ هغه بې له پرښتو بل څوک نشي مسه کولای یا معنی دا چه د قرآن هغه لا نشو مسه کوي چه لې پښتا او بې اودسې نه خلاص وي دا معنی اجمهورو علماؤ کړې ده یا معنی دا چه فائده او لذت د قرآن هغه څوک اخستلې شي چه له شرک نه پاک وي ١٢ اجماع مع

ع ٢٦ ٢
١٥

البیان او روح البیان سره مګر امام شوکاني ویلي دي چه د ابن عباس رض و شعبي او یو ډله علماؤ نه دا قول دی چه بې اودسه مسه کول د قرآن جائز دی ٢

الْعٰلَمِيْنَ ﴿٨٠﴾ اَفَبِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَنْتُمْ مُّدْهِنُوْنَ ﴿٨١﴾ وَتَجْعَلُوْنَ

دمخلوقاتوڅخه ایا په دی خبره باندي تاسو دروغ ویونکي یئ او کرزوی تاسو

رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿٨٢﴾ فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ ﴿٨٣﴾ وَاَنْتُمْ

حصه خپله داچه تاسو دروغ وائی نو ولی نه په هغه وخت کښي چه ورسیږي روح غاړي ته چه خبنکو ته او تاسو

حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿٨٤﴾ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ﴿٨٥﴾

په دغه وخت کښې گورئ ورته او موږ ډیر نږدي یو هغه ته له تاسوڅخه مګر تاسو نه وینئ

فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ ﴿٨٦﴾ تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٨٧﴾

نو ولی نه که ئ تاسو چه حساب به درسره نه کیږي چه وګرزوی هغه روح که ئ تاسو رښتینی

فَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿٨٨﴾ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ ۙ وَّجَنَّتُ

نو که چیري وی دغه کس له مقربینوڅخه نو خوشحالی ده ده لره او روزی ده او جنت

نَعِيْمٍ ﴿٨٩﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿٩٠﴾ فَسَلٰمٌ

دنعمتو دی او که وی دغه کس له یارانو د راسته طرف څخه نو سلامتیا ده

لَّكَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿٩١﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُكَذِّبِيْنَ

تالره له یارانو د راسته طرف څخه او که وی هغه کس له دروغو ویونکو

الضَّآلِّيْنَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿٩٣﴾ وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ ﴿٩٤﴾ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ

ګمراهانو څخه نو میلمستیا ده ورته له اوبو ګرمو څخه او ننوتل دی دوزخ ته بیشکه دا خبره خامخا دا

حَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿٩٥﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٩٦﴾ ع ٣ ع ٢٢ ١٦

حقه یقینی ده نو تسبیح وایه پیوسته له نامه د رب ستا سره چه لوی دی

سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ تِسْعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١﴾ لَهٗ مُلْكُ

پاکی بیانوی خدای لره هغه چه په اسمانونو کښي دي او چه په ځمکه کښي دي او دی غالب دی خاوند د حکمت دی د ده لره ده باچاهي

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٢﴾ هُوَ

داسمانو او د ځمکي ژوندي کول کوی او وژل کوی او دی په هر شی باندی قادر دی

سله

له عقبه ابن عامر جهنی څخه روایت دی چه هر کله دا ایت کریمه نازل شو نو رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه واله وسلم وفرمایل چه دا په رکوع کښي وائی . بیا چه سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى . نازل شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه دا په سجدٰ کښي وائی - دا روایت امام احمد ابوداؤد، ابن حبان بیهقی او حاکم رحمهم الله کړی دی ۱۲ روح البیان

سله ۲

له عبدالله ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی دي چه فرمایل به ئ هر چا چه سورة واقعه هره شپه تلاوت کړ نو هغه ته به لوږه هیڅکله پیښه نشی ۱۲ فتح القدیر وابن کثیر

سله ۳

په حدیث شریف کښي راغلی دی چه سورة حدید د سه شنبی په ورځ نازل شوی دی او اوسپنه هم د سه شنبی په ورځ پیدا شوی ده. او قابیل هم هابیل د سه شنبي په ورځ شهید کړی وو ... رسول الله صلی الله علیه وسلم د سه شنبي په ورځ له وینی کښلو څخه منع کړی ده ۲۵

الْاَوَّلُ وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ③ هُوَ
اولنی دی او وروستنی دی او ظاهر دی او باطن دئ او دی پر هر شی باندې ښه عالم دی دی

الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى
هغه ذات دے چه پیدا کړی ئی دي اسمانونه او ځمکه په شپږو ورځو کښې بیا ئی قرار ونیوئ پر

الْعَرْشِ ۚ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ
عرش باندې پوهیږی پر هغه چه ننوزی په ځمکه کښې او پر هغه چه راوزي له دی نه او پر هغه چه راکښته کیږی

مِنَ السَّمَآءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيْهَا ۖ وَهُوَ مَعَكُمْ اَيْنَ مَا كُنْتُمْ ۖ وَاللّٰهُ بِمَا
له اسمان نه او پر هغه چه خیژی په ده کښې او دا خدای سره له تاسو دی په هر ځای کښې چه یئ تاسو او خدای پر هغه

تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ④ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۖ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ
چه تاسو ئی کوئ لیدونکے دئ ده لره ده پاچاهي د اسمانو او د ځمکے او خدای ته گرزول کیږي

الْاُمُوْرُ ⑤ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۚ وَهُوَ
ټول کارونه ننه باسی شپه په ورځ کښې او ننه باسی ورځ په شپه کښې او دی

عَلِيْمٌ ۢبِذَاتِ الصُّدُوْرِ ⑥ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاَنْفِقُوْا مِمَّا
عالم دی په خبرو د سینو باندې ایمان راوړئ تاسو پر خدای او پر رسول د ده باندے او خیرات کوئ له هغه څخه

جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ ۚ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَاَنْفَقُوْا لَهُمْ اَجْرٌ كَبِيْرٌ ⑦
چه کړی ئی یئ تاسو خلیفگان په هغه کښې نو هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دي له تاسو څخه او خیرات کوی هغوی لره ثواب دے لوی

وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ۚ وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ
او څه مانع دی تاسو لره چه ایمان به نه راوړئ پر خدا باندے او رسول علیه السلام رابولی تاسو چه ایمان راوړئ پر رب خپل باندې

وَقَدْ اَخَذَ مِيْثَاقَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ⑧ هُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ عَلٰى
او په یقین سره اخستے ده خدای وعده ستاسو که ئی تاسو ایمان راوړونکي دا خدای هغه ذات دي چه نازلوی پر

عَبْدِهٖۤ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ۗ وَاِنَّ اللّٰهَ
بنده خپل باندې ایتونه ښکاره چه راوباسی تاسو له تاریکیو د کفر څخه رڼا د ایمان ته او بیشکه چه خدای

بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ⑨ وَمَا لَكُمْ اَلَّا تُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلِلّٰهِ
پر تاسو باندې خاوند مهربان دی رحم کوونکي دئ او څه مانع دی تاسو ته چه خیرات نه کوئ لاره د خدای کښې او خدای لره دے

ف ۱
شاه مفسرین حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنهما فرمایلی دی چه اسم اعظم د الله تعالیٰ په اول د سورت حدید په دي شپږو ایتو کښې دی په وخت د جنګ کښې که چا د ا پر غاړه کړل تیغ به پر ده باندې اثر ونکړی کما فی فتح الرحمٰن ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ روح البیان

ف ۲
یعني په اول کښې دا مال د نورو خلقو وو هغوی مړه شول نو ئی دا حاضر خلق مالکان شول. نو هوښیار بنده دی فکر وکړي چه دا می به له مونږ څخه هم پاته شی. نو مناسب به دا وی چه څه مال په لاره د خدای کښې خیرات کړي چه د اینده ذخیره ئی وی ۱۲ منه رحمه الله

مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ لَا يَسْتَوِيْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ

میراث د اسمانو او د ځمکی برابر نه دی له تاسو څخه هغه څوك چه خیرات ئې کړی وی مخکی

الْفَتْحِ وَقٰتَلَ ۭ اُولٰۗىِٕكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِيْنَ اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ

له فتح څخه او جهاد ئې کړی وي دغه کسان لوی دي له جهته د مرتبې له هغه کسانو څخه چه خیرات ئې کړی وي پس له دې نه

وَقٰتَلُوْا ۭ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝۱۰ ع ۱ ۱۰ ۱۷

او جهاد د کوی او له هر یو سره وعده کړی ده خدای د جنت او خدای پر هغه چه تاسو ئې کوی خبردار دی

مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗ وَلَهٗٓ

څوك دی هغه چه قرض ورکوی خدای ته قرض نیك نو دوچند به کړل شي ده ته او ده له ره

اَجْرٌ كَرِيْمٌ ۝۱۱ۚ يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ بَيْنَ

ثواب دی نیك یاد کړه هغه ورځ چه وینې به ته مومنان سړي او مومنې ښځې چه رغلی به نور د دوی په

اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

مخکښې د دوی او په راسته طرف د دوی زیری دی تاسو ته نن ورځ باغونه دي چه بهیږي به لاندې د در ختو دي

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝۱۲ۚ يَوْمَ يَقُوْلُ

ویالې همیشه به وي دوی په هغه کښې دا کار دا بری میندل دی لوی یاد کړه هغه ورځ چه وائی به

الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ

منافقان سړي او منافقانې ښځې هغه کسانو ته چه ایمان ئې راوړی وي وګورئ مونږ ته چه رڼا واخلو له رڼا ستاسو څخه

قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَاۗءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ۭ فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ

وبه ویل شي چه وګرزئ پر شا او د خپلو نو وغواړئ رڼا نو وبه وهل شي په منځ د دوی کښې دیوال چه هغه ته به

بَابٌ ۭ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ۝۱۳ۭ

دروازه وي د ننه طرف د هغه چه وي په هغه کښې به رحمت وي او ظاهر لا د هغه چه وي له طرفه هغه څخه به عذاب وي

يُنَادُوْنَهُمْ اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۭ قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ اَنْفُسَكُمْ

اواز به وکړی منافقان مؤمنانو ته آیا نه وو مونږ له تاسو سره وبه وائی هو ولیکن تاسو په فتنه کښې اچولي وو تاسو خپل ځانونه

وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ حَتّٰى جَاۗءَ اَمْرُ اللّٰهِ

او انتظار به کاوه تاسو او شکمن وی تاسو او غلولی تاسو ارزو ګانو تر څو چه راغلی حکم د خدای

ـله له امام کلبي څخه روایت دي چه دا ایت کریمه په حق د ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه کښې نازل شوی دی او په دی ایت کښې ښکاره دلیل دي په فضیلت د ده باندي ځکه چه ده تر هر چا ایمان اول راوړی دي. له عبدالله ابن مسعود رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چه اول دی کسانو په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی ایمان راوړی دی چه ابوبکر، عمار، ام سمیه، بلال، صهیب او مقداد رضی الله تعالی عنهم وو ۱۲ روح البیان

ـله مراد له قرضاً حسناً څخه خیرات کول دي په اخلاص سره بعضو علماؤ ویلي دي چه دا قرض ورکول خلق ته دا دی چه بنده ووائي سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ. او دا کلمې بهتره دی له ټولو اذکارو څخه ۱۲ روح

ـله عبدالله ابن مسعود رض په تفسیر د دې ایت کښې ویلي دي چه مؤمنانو ته به په اندازه د خپلو عملو سره نور ورکول کیږي د هغه په رڼا به په پل صراط باندي تیریږي. بعضو ته به په مثل د غره نور وي او بعضو ته به په مثل د ونې د کجوری (خورما) د ټولو څخه کم نور به د هغه چا وی چه د هغه په ګوته به نور وی چه کله به مړ کیږی او کله به روښانه کیږي ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاۗءُ ۱۲ فتح وروح

ـله یعنې محمد صلی الله علیه وسلم ته ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲ ۱۲

وَغَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ ﴿۱۴﴾ فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ

او غولولئ تاسو پر خدائے باندې غولونکي نو نن ورځ به وا نخستل شي له تاسو څخه فديه او نه له

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ۭ هِيَ مَوْلٰىكُمْ ۭ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۵﴾

هغه کسانو څخه چه کافران شوي دي ځائے د ورتلو ستاسو اور دی دا او ملګری ستاسو دی او بد ځائے د ورتلو دے دا دوزخ

اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ

ایا وخت نه دے راغلے هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے دے چه ویره وکړی زړونه د دوی په وخت د یاد د خدائے کښے او هغه ته چه نازل شوی دے

مِنَ الْحَقِّ ۙ وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ

له حق څخه او چه نه شي دوی له هغه کسانو څخه چه ورکړی شوی دی ورته کتاب مخوالدی څخه نو اوږده شوه

عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ۭ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ اِعْلَمُوْٓا

پر هغوی باندې زمانه نو سخت شول زړونه د هغوی او ډیر له هغوی څخه فاسقان دي پوه شئ

اَنَّ اللّٰهَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ

چه بیشکه خدائے ژوندئ کوی ځمکه پس له مرګه د دے څخه په تحقیق سره بیان وو تاسو ته اینونه ښکارئ چه تاسو به

تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۷﴾ اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَاَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا

عقل وکړئ بیشکه چه خیرات کونکی سړی او خیرات کونکی ښځی او هغه کسان چه قرض ورکوی خدائے ته قرض

حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۸﴾ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ

نیک دوچند به کړل سی دوی ته او دوی لره ثواب دی ډیر ښه او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے پر خدای ج

وَرُسُلِهٖٓ اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ ڰ وَالشُّهَدَاۗءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۭ لَهُمْ

او پر رسولانو د ده باندې دغه کسان دوی رښتینے دی او شاهدان به وی په نزد د رب د دوے دوی لره دی

اَجْرُهُمْ وَنُوْرُهُمْ ۭ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ

ثواب د دوی او نور د پل صراط د دوے او هغه کسان چه کافران شوی دی و نسبت د دروغو کوی ایتونو زمونږ ته دغه کسان یاران د

الْجَحِيْمِ ﴿۱۹﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ

دوزخ دي پوه شئ چه دا ژوند نژدې اور دے فانی دنیا ۳ لوبی او عبث دي او ښائست دی

وَّتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ ۭ كَمَثَلِ غَيْثٍ

او فخر کول دی په منځ ستاسو کښی او ډیرول دے په مالو او په اولاد کښی حال او صفت د دے دنیا په مثال د باران دے

ف۱ روایت دی چه مؤمنان په مکه معظمه کښی ډیر په سختی کښی وو او په عبادت کښی هم چسپ وو، نو هر کله چه هجرت ئے وکړ او اباد سول نو بیا په خشوع کښی سست شول نو دا ایت شریف نازل شو چه اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ۱۲ روح

ف۲ نقل شوی دی چه فضیل ابن عیاض رح په بدو کارو کښی شپه او ورځ مصروف وو نو ځا په یوه شپه روان وو چه یو چا دا ایت وایه او ده واورید نو ویر ډیر دیدی او هغه وخت ئے توبه وکښله او په اولیاء الله کښی داخل شو ۱۲ ۱۲ وحیدی

ف۳ نقل دی چه حضرت علی کرم الله وجهه حضرت عمار رض ته وویل چه ته په دنیا پسی مه خپه کیږه ځکه چه ټوله دنیا شپږ شیان دی. ۱ د خوراک شیان ۲ د څښلو شیان ۳ جامے ۴ خوشبوئی ۵ شیان د سوارلی او ښځی ۶. نو ښه خوراک د دے شات دی او هغه لاړی د مچیو دی او لوی شراب د دے او به دے او په هغه کښی ټول حیوانات سره برابر دی او ښه د جامو وریښم دی او هغه ګند د چینجی دی او ښه د خوشبو یو مشک دے او هغه وینه د اوسئ ده او سه ښه د سوارلو اس دی او هغه ډیر سړی سړی قتلیږی. او عمده د ښځو کوی مبال دي (یعنی استعمال د دوه ځایه د بولو په مل کښی) ۱۲ ۱۲ روح

أَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهُ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرَاهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُونُ حُطَامًا
چه بنه بنکاره شي زمیندارانو ته ګیاه دده بیا وچه شي نو وینې ته هغه زیړ کړې شوي بیا شي هغه ذره ذره
وَفِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيدٌ وَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٌ
او په اخرت کښې عذاب دی سخت او بخښنه ده له خدای څخه او رضامندي ده
وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ ﴿۲۰﴾ سَابِقُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن
او نه دے دا ژوند نړدی مګر نفع اخستل د غلیدلو دي مخته والی وکړئ بخښنې ته له
رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ
رب ستاسو څخه او باغ ته چه پلنوالی د هغه لکه پلنوالی د اسمان او د ځمکے له چه تیار کړې شوي دی
لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن
لپاره د هغه کسانو چه ایمان ئې راوړې دي پر خدای او پر د رسولانو د ده دا بخښنه مهرباني د خدای ده چه ورکوي ئې هغه چاته
يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿۲۱﴾ مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي
چه رضا ئې وي او خدای خاوند د فضل لوی دی نه رسیږي هیڅ غم په
الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا
ځمکه کښې او نه په ځانو ستاسو کښې مګر هغه لیکلے وي په کتاب کښې مخکې له هغه څخه چه پیدا کړي ئې موږ
إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿۲۲﴾ لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا
بیشکه چه دا کار پر خدای باندے اسان دئ لپاره د دے چه خفه نه شئ تاسو پر هغه باندے چه فوت شے له تاسو څخه او خوشحاله نه شئ
بِمَا آتَاكُمْ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿۲۳﴾ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ
پر هغه چه درکړې ئې تاسو ته او خدای دوستي نه کوي له هر فخر کوونکي تکبر کوونکي سره هغه کسان چه بخل کوي
وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ
او امر کوي خلقو ته په بخل کولو سره او هر څوک چه وګرزیدی نو بیشکه چه خدای دی بې پروا دئ
الْحَمِيدُ ﴿۲۴﴾ لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ
ثنائیلے شوی دے خامخا په یقین لیږلي وو موږ رسولان خپل په دلیلو ظاهرو او نازل کړې موږ وله هغوی سره کتاب
وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ
او تله یعنی انصاف لپاره د دے چه ودریږي خلق په انصاف سره او نازل کړې موږ د ده او سپنه چه په دې کښې جنګ دي

ف۱ هر کله چه پلنوالی د جنت د ومره اندازه شو نو فکر دے وکړل شي چه اوږد والی ئې څو مره وي سبحان الله اَللّٰهُمَّ اَدْخِلْنَا الْجَنَّةَ بِفَضْلِكَ وَكَرَمِكَ اِنَّكَ ذُوالْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۱۲ ف۲ یعنی هر قسم مصیبت چه دی خلقو ته رسیږي هغه مخکے په لوح محفوظ کښې لیکل شوي دي او ور مسته منکاره سي ۱۲ منه ف۳ مراد له خفګان څخه فریاد کول دي او له خوشحالي څخه مراد دا دي چه له شکر اداء کولو څخه غافل شي او کبر او غرور د دا خلے ۱۲ ف۴ تکبر او فخر کوونکي په اسبابو او سامان د دنیا سره. له حضرت جعفر صادق رضی الله تعالی عنه څخه روایت دے چه فرمایلے ئې دي ای زویه د ادم څه شوي دي تا له چه افسوس کوي پر فوت شوي باندې ځکه چه دا افسوس ئې تاته بیرته نه راګرزوي او خبیینه د ته تاته چه پر موجود خوشحالیږي ځکه چه ستا په لاس کښې به ئې مرګ نه پریږدي ۱۲ جامع البیان ف۵ روایت دے چه جبرائیل ع تله راوړه او نوح علیه السلام ته ئې وسپاره چه قوم خپل ته ووایه چه پردي تله تول کوئ ځکه چه په دې کښې انصاف دی ۱۲ ف۶ روایت دي چه هر کله ادم علیه له جنت څخه راکښته شو نو له ده سره پنځه شیان وو دا وسپني سندان او دوه پلکونه او بوسوهان او بوه ستن او یو څټک. او په او سپنه کښې ډیري نفع دي لپاره د خلقو چه اکثر کارونه ور څخه اخستل کیږي ۱۲

شَدِيدٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ بِالْغَيْبِ

سخت او نفع دی لپاره د خلقو او چه ظاهر کړي خدای هغه څوک چه مدد کوي له ده سره او له رسولانو د ده سره په غیاب کښي

٣ ع ٦ ١٩ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٢٥﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوحًا وَّاِبْرٰهِيمَ وَجَعَلْنَا فِي

بیشکه چه خدای قوي دی غالب دی او خامخا په یقین لیږلی وو موږ نوح ؑ او ابراهیم ؑ او وګرځولی موږ په

ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ۚ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُونَ ﴿٢٦﴾

اولاد د دواړو کښي پیغمبري او کتاب نو بعضي له هغوي څخه لاره پیدا کونکي شول او ډیر له هغوي څخه فاسقان

ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَاٰتَيْنٰهُ

بیا وروسته را واستول موږ په هغوي پسي رسولان خپل او وروسته مو راواستی عیسیٰ ؑ زوی د مریمی ؓ او ورکړی مو هغه ته

الْاِنْجِيلَ ۙ وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً ۗ

انجیل او وګرځولی موږ په زړونو د هغه کسانو کښي چه اتباع ئې کړې وه د هغه دوستي او مهرباني

وَرَهْبَانِيَّةَ ۨ ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَآءَ رِضْوَانِ

او گوښه نشینی له ځانه جوړه کړې وه هغوي نه وه مقرره کړې موږ هغه پر هغوي باندې مګر هغوي به کوله لپاره د طلب د رضامندۍ

اللّٰهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ فَاٰتَيْنَا الَّذِينَ اٰمَنُوا مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ

د خدای نو ساتنه و نکړه هغوي د هغې په حق ساتنې د هغې سره نو ورکړو موږ هغه کسانو ته چه ایمان ئې راوړی وو له هغوي څخه ثواب د هغوي

وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُونَ ﴿٢٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوا

او ډیر له هغوي څخه فاسقان وو اې هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دی ووېرېږئ له خدای څخه او ایمان راوړئ

بِرَسُولِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُورًا تَمْشُونَ

په رسول د ده باندې ورکړي به خدای تاسو ته دوه حصې له رحمت خپل څخه او وبه ګرځوي تاسو له رڼا چه ځئ به تاسو

بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَاللّٰهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٢٨﴾ لِّئَلَّا يَعْلَمَ اَهْلُ الْكِتٰبِ

په هغه سره او بخښنه به وکړي تاسو ته او خدای بخښونکی دی مهربان دی چه پوه نه شي اهل کتاب پردي

اَلَّا يَقْدِرُونَ عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ

چه قادر نه وي دوي پر هیڅ شي باندې له فضله د خدای څخه او بیشکه چه فضل په لاس د

٤ ع ٧ ٢٠ اللّٰهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٢٩﴾

خدای کښي دي چه ورکوي ئې هغه چا ته چه خوښه ئې شي او خدای خاوند د فضل لوی دی

١ه رهبانیت په عبادت کښي مبالغې ته وایي کبري چه روژې نیسي، زړې جامې اغوندي ځان له ښه خوراکو ساتي ښځې نه خوري ښې جامې نه اغوندي له نکاح کولو څخه ځان ساتي او په غارو او غرو کښي عبادت کوي روایت دی چه پر بوده ډله له اصحابو کرامو ؓ څخه د الله تعالیٰ ویره ډیره غالبه شوه نو بعضو اراده وکړه چه ځان له ښځو څخه جلا کړي او بعضو د غرو په سرو کښي د اوسید لو اراده وکړه او بعضو پر خپلو ځانو خوراک او څښاک منع کړل. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې کاره څخه منع کړل او وئې فرمایل چه په اسلام کښي رهبانیت نشته. او وئې فرمایل رهبانیت د امت زما په مسجدو کښي دی. یعنې که څوک عبادت د خدای ج کوي په مسجدو کښي دي ئې کوي نه پر سر د غرو نو لکه نصاریٰ ١٢

٢ه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د ا مسبحات سورتونه مخکې له بیدېدلو څخه ویل او ویل به ئې چه په دې کښي یو آیت دی چه له زرو آیتو څخه هم بهتر دی مسبحات سورتونه دا دي حدید، حشر، صف، جمعه، تغابن ١٢ روح البیان

٣ه مراد دي مؤمنانو څخه ایماندار خلق د اهل کتابو دي چه دوی له به دوه اجره ورکول کیږي په ورځ د قیامت کښي یو اجر د ایمان راوړلو پر خپل پیغمبر او بل اجر د ایمان راوړلو پر خپل نبي خاتم النبیین محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم ١٢

سُوْرَةُ الْمُجَادَلَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اثْنَتَانِ وَعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

سورة المجادله مدنی دی او دا دوویشت ایته او دری رکوع دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربانه دی

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيْ

په تحقیق سره واورېده[له] خدای پاك خبره د هغې ښځې چه جګړه ئی کوله له تاسره په باب د خاوند خپل کښې او فریاد ئی کاوه

اِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ①

خدای ته او خدای اوری سوال جواب ستاسو بیشکه چه خدای اوریدونکی دی لیدونکی دی

اَلَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَاۗىِٕهِمْ مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ ۭ

هغه کسان چه ظهار کوی له تاسو څخه له ښځو خپلو څخه نه دی هغوی میندی د دوی

اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا الّٰۗـِٔيْ وَلَدْنَهُمْ ۭ وَاِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا

نه دی میندی د دوی مګر هغه چه زیږولی ئی دی دوی او بیشکه چه دوی خامخا وائی ناآشنا

مِّنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ② وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ

له خبری څخه او دروغ وائی او بیشکه چه خدای عفوه کونکی بخښونکی دی[۲] او هغه کسان چه ظهار کوی

مِنْ نِّسَاۗىِٕهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ

له ښځو خپلو څخه بیا ګرځی هغه نه چه ویلی ئی وی نو (پر هغوی) ازادول د مرئی دي

قَبْلِ اَنْ يَّتَمَاۗسَّا ۭ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

مخکی له هغه څخه چه یو پر بل باندی لاس وهی دا حکم چه دی نصیحت کول دی تاسو ته پری سره او خدای پر هغه چه تاسو ئی کوی

خَبِيْرٌ ③ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ

خبردار دی نو هغه کس چه نه ئی درلود نو پر هغه روژی نیول د دوو میاشتو پر له پسی دی (پرله پسی) مخکی له هغه څخه

اَنْ يَّتَمَاۗسَّا ۭ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا

چه یو پر بل لاس وهی نو هغه څوك چه طاقت ئی ونه شو دی نو خوراك ورکول دي شپیتو مسکینانو ته

ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۭ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۭ

دا کار دی لپاره د دی چه ایمان راوړی تاسو پر خدای او په رسول د ده او دا احکام د خدای دی

[۱] روایت دی چه بی بی خولی څخه خپل خاوند پر یوه خبره خفه شو نو ئی ورته وویل چه ته پر ما باندی داسی ئی لکه شا د مور زما او په زمانه د جاهلیت کښی دا قاعده وه چه چا به دا سی لفظ خپلی ښځی ته وواید نو هغه به د همیشه لپاره پری حرامه شوه نو دا بی بی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او دا حال ئی ورته بیان کړ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چه زه نه وینم تا مګر چه حرامه شوی پر ده نو دی فریاد وکړ چه زه به څه وکړم یوازی عمر می له ده سره تیر شوی دی او له ده څخه می اولاد دی که ئی زه قبضه کړم نو وږی به شی او که ئی ده ته ورکړم نو ضائع به شی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا ورته وویل چه ته پر ده باندی حرامه ئی او دی بیا داسی زاری وکړه او سر به ئی آسمان ته پورته کړی یعنی الله تعالی ته به ئی زاری کوله چه ای الله ته دا فیصله پر خپل نبی صلی الله علیه وسلم باندی نازله کړی نو ناڅاپه جبرائیل علیه السلام دا څلور ایتونه د دی په حق کښی نازل کړل. حاصل دا چه د دی خاوند د کفارت اداء کړی نو دا ورباندی حلاله شی ۱۲ روح البیان مختصراً

[۲] یعنی د امت د ده رحم او کړه دی چه تاسو ته ئی کفارت مقرره کړه او که چیری ښځه په حقیقت کښی په مور بللو سره مور کیدلای نو خبره به ډیره مشکله وه ۱۲ ع پر له پسی یعنی پیوسته به ئی نیسی که ئی چیری یوه پکښی وخوړله بالاجهته د عذر یا بی عذره نو بیا به دوباره له سره بیا شپیته پوره کوی بعضو ویلی دی چه که ئی په عذر سره وخوړله بیائی د و بلره له سره څخه نیول لازمی نه دی. والله اعلم ۱۲

وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۴﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ

او کافرانو لره عذاب دے دردناک بیشکہ هغه کسان چه مخالفت کوی له خدایه څخه

وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَقَدْ اَنْزَلْنَآ

او له رسول ده څخه هلاک کړې شوی دي لکه چه هلاک کړې شوي وو هغه کسان چه مخکې وو له دوی څخه او په یقین سره نازل کړي دي

اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۵﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ

مونږ ایتونه واضح او کافرانو لره عذاب دی سپکونکی په هغه ورځ کښې چه پورته به کړي

اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ؕ اَحْصٰىهُ اللّٰهُ وَنَسُوْهُ ؕ

دوی خدای ټول نو خبر به کړي دوی په هغه چه کړي ئې وي حساب کړی دی هغه خدای او هیر کړی دي

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿۶﴾ ع اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا

او خدای په هر شي باندی شاهد دی ایا نه وینې ته بیشکه چه خدای پوهیږي په هغه

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى ثَلٰثَةٍ

چه په اسمانونو کښې او په هغه چه په ځمکه کښې دي نه وي پټې خبرې د درېو کسانو

اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ اِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ اَدْنٰى

مګر دی څلورم د هغوی وي او نه د پنځو مګر دی شپږم د هغوی وی او نه وی کم

مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا ۚ ثُمَّ

له دی څخه او نه زیات مګر دی له هغوی سره وي په هر ځای کښې چه وي بیا به

يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ

خبر کړي دوی په هغه چه کړي ئې وي په ورځ د قیامت بیشکه چه خدای په هر شي باندی

عَلِيْمٌ ﴿۷﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ

عالم دی ایا نه ګورې ته هغه کسانو ته چه منع کړې له پټو خبرو څخه بیا ګرځي دوی هغه ته

لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَيَتَنٰجَوْنَ بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ

چه منع کړې دوی له هغه څخه او پټې خبرې کوی په ګناه سره او په ظلم سره او په نافرمانی

الرَّسُوْلِ ؗ وَاِذَا جَآءُوْكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ ۙ

د رسول علیه السلام او په هغه وخت کښې چه راشي دوی تاته نو تحیه کوي تاته په هغه شان چه تحیه د رکوی تاته په هغه سره خدای جل شانه

ف ۱

په کشاف کښې لیکلي دي چه یوه ورځ ربیعه ابن عمرو او ورور د ده حبیب له صفوان ابن امیه سره مجلس کاوه. یوه له دوی څخه وویل چه ایا الله تعالیٰ پردې پوهیږي چه مونږ ئې وایو. بل وویل چه پر بعضو خبرو پوهیږي او پر بعضو نه. دریم وویل چه که پر بعضو پوهیږي نو بیا پر ټولو پوهیږي ځکه چه څه مانع ئې نشته له پوهیدلو څخه نو دا ایت شریف نازل شو چه اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ الایه ۱۲

ف ۲ دا ایت شریف په حق د یهودیانو او منافقانو کښې نازل شوی دي چه دوی به دری درې څلور څلور کسان یو ځای سره کښېنستل او پټ پټ مجلسونه به ئې سره کول او چه مؤمنان به ئې لیدل نو توکې به ئې ور سره کولې په دوی پوری او په سترګو به ئې اشارې ورته کولې چه هغوی خفه شي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم له دی څخه منع کړل ۱۲

ف ۳ د یهودیانو دا عادت وو چه هر وخت به له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مخامخ شول نو پر ده باندی د سلام په ځای السَّامُ عَلَيْكَ ورته ویل او سام د دوی په ژبه کښې مرګ یا قتل ته ویل کیږي رسول الله صلی الله د دوی په منافقت پوهیدی د اقدر جواب به ئې ورکړ چه وَعَلَيْكُمْ

روح البیان

وَيَقُولُونَ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ لَوۡلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُۚ حَسۡبُهُمۡ
او وائی دوی په نفسو خپلو کښې چه ولې نه په عذابوی مونږ خدای پر هغه چه مونږ ئې وایو بس دی دوی لره
جَهَنَّمُ يَصۡلَوۡنَهَاۖ فَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ۞٨ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ
دوزخ ته ننوزی به دوی په هغه کښې نو بد ځای دی ورتلو دا دوزخ ای هغه کسانو چه ایمان ئی راوړی دی
إِذَا تَنَٰجَيۡتُمۡ فَلَا تَتَنَٰجَوۡاْ بِٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِ وَمَعۡصِيَتِ
په هغه وخت کښې چه پټې خبری کوئ تاسو نو مصلحت مه کوئ تاسو په گناه سره او په ظلم سره او په نافرمانی
ٱلرَّسُولِ وَتَنَٰجَوۡاْ بِٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ إِلَيۡهِ
د رسول سره او مشوره کوئ په نیکئ سره او په پرهیزگاری سره او وویریږئ له خدای څخه هغه خدای چه هغه ته به
تُحۡشَرُونَ ۞٩ إِنَّمَا ٱلنَّجۡوَىٰ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ لِيَحۡزُنَ ٱلَّذِينَ
تاسو جمع کړل شئ بیشکه دا خبره ده چه پټې خبری له شیطان څخه دي چه غمژن کړی هغه کسان
ءَامَنُواْ وَلَيۡسَ بِضَآرِّهِمۡ شَيۡـًٔا إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَعَلَى ٱللَّهِ
چه ایمان ئی راوړی دی او نه دي ضرر رسونکی دوی ته هیڅ شی مگر په اذن د خدای سره او پر خدای باندي
فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۞١٠ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمۡ
نو توکل دی وکړی مؤمنان ای هغه کسانو چه ایمان ئی راوړی دی په هغه وخت کښې چه وویل شی تاسو ته
تَفَسَّحُواْ فِي ٱلۡمَجَٰلِسِ فَٱفۡسَحُواْ يَفۡسَحِ ٱللَّهُ لَكُمۡۖ وَإِذَا قِيلَ
چه پراخی وکړئ په ځایو نو د ناستی کښې نو پراخی وکړئ پراخوالی به وکړی خدای تاسو ته او په هغه وخت کښې چه وویل شی
ٱنشُزُواْ فَٱنشُزُواْ يَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَٱلَّذِينَ
تاسو ته چه ولاړ شئ نو ولاړ شئ پورته کوی خدای هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی له تاسو څخه او هغه کسان
أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ دَرَجَٰتٖۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ۞١١ يَٰٓأَيُّهَا
چه ورکړل شوی دی علم په مرتبو کښې او خدای پر هغه چه تاسو ئی کوئ خبردار دی ای هغه [1]
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَٰجَيۡتُمُ ٱلرَّسُولَ فَقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيۡ
کسانو چه ایمان ئی راوړی دی په هغه وخت کښې چه مشوره کوئ تاسو له رسول سره نو وړاندی کړئ په مخکښې د
نَجۡوَىٰكُمۡ صَدَقَةٗۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ وَأَطۡهَرُۚ فَإِن لَّمۡ
مصلحت خپل څه خیرات دا کار بهتر دی تاسو لره او ښه پاک دی نو که بیا نه

[1] دا ایت شریف نازل شوی دی په هغه وخت کښې چه مؤمنانو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ډیری پوښتنې کړې چه دی صلی الله علیه وسلم ئې ستړی کړ نو الله تعالیٰ حکم وکړ چه تاسو مجلس د رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حاضریږی نو اول هغه ته یو څه قدر صدقه راوړئ حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه ویلی دي چه پر دې ایت باندی هم ما عمل کړی دی دا ایت چه نازل شو نو زما څخه یو دینار وو نو هغه می پر لسو درهمو بدل کړ او په لس واره راتلو کښې می په رسول الله صلی الله علیه وسلم مصرف کړل بیا دا حکم ژر ترژره منسوخ شو په دی ایت سره چه أَأَشۡفَقۡتُمۡ أَن تُقَدِّمُواْ الآیة ۱۲

روح البیان

[2] چه ولاړ شئ نو ولاړ شئ یعنی چه تاسو ته حکم وشی چه له دی ځایه څخه ولاړ شئ نو تاسو حکم قبلوئ او ولاړیږئ او یا چه حکم د لمانځه کولو د پاره ته وشی نو ولاړیږئ او یا چه حکم د جهاد فی سبیل الله د پاره ته وشی نو څئ ورپسې ......

اللّٰهم احشرنا مع الشهداء والصالحین آمین

تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾ ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ

کړی پیدا تاسو (څه شی د خیرات) نو بیشکه چه الله بخښونکی دی مهربان دی ایا و یریدلی تاسو د دې څخه چه وړاندې کړئ په مخکښې

نَجْوٰىكُمْ صَدَقٰتٍ ؕ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ

د مصلحت خپل خیرات نو په هغه وخت کښې چه دا کار مو و نکړ او رجوع په رحمت سره وکړه خدای پر تاسو باندې

فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ

نو سم دروئ لمونځ او ورکوئ زکات او خبره منئ د خدای ج او د رسول د ده

ع ۲ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۳﴾ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا

او خدای پاك خبردار دی پر هغه چه تاسو ئی کوی ایا نه گورې ته هغه کسانو ته چه دوستی کوی له یو قومه سره

غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ؕ مَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ ۙ وَيَحْلِفُوْنَ

چه غضب کړی دی خدای پر هغوی باندې نه دی دوی له تاسو څخه او نه له هغوی څخه او قسمونه خوری

عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۴﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ؕ

په دروغو باندې او دوی پوهیږی تیار کړی دی خدای د دوی لپاره سخت عذاب

اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

بیشکه چه دوی بد دی هغه کار چه دوی ئی کوی نیولی دی دوی قسمونه خپل ډال

فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۱۶﴾

نو منعه کوی له لاری د خدای ج څخه نو دوی لره عذاب دی سپکونکی

لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْئًا ؕ اُولٰٓئِكَ

بالکل به دفع و نکړی له دوی څخه مالونه د دوی او نه اولاد د دوی له عذابه د خدای څخه هیڅ شی دغه کسان

اَصْحٰبُ النَّارِ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۷﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا

یاران د اور دی دوی به په هغه کښی همیشه وی په هغه ورځ چه راپورته کړی د وی خدای ټول

فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى

نو قسمونه به خوری ده ته لکه چه قسمونه خوری تاسو ته او گمان کوی چه بیشکه چه دوی پر

شَيْءٍ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۸﴾ اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ

یو شی دی خبردار او سه چه بیشکه دوی دوی دروغژن دی غالب شوی دی پر دوی باندی شیطان

له

عبدالله ابن ابی چه د منافقانو مشهور سردار وو د ده څخه علاوه په منافقانو کښې یو سړی عبدالله ابن نبتل لوی فسادی وو. له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره به نژدې نژدې کښیناستے او بیا به ئې د رسول الله د مجلس خبرې خپلو دوستانو یهودیانو په بیکاره طرز بیانولی. یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته وفرمایل چه پدې ساعت کښې یو سړے چوچی ستر کو والا لوی فسادی راتلونکی دی. هر کله چه هغه راشی نو له تاسو څخه دے یو هم له هغه سره خبره نه کوی پدې خبره کښې عبدالله ابن نبتل راغلی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چه ته او ستا ملګرې ما ته بد رد ولی وائی عبدالله ابن نبتل انکار وکړ او د کومو خلقو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم نومونه اخستی وو د هغه څخه هم انکاری شوا و ټولو په دروغو سره ډیر قسمونه وکړل پدې باندې الله تعالیٰ دیر آیتونه را ولیږل او وئی فرمایل چه څرنګه منافقو خلقو د خپل ځان او مال د مسلمانانو د لاس څخه د بچ کولو لپاره په دروغو د قسمونو طریقه اختیار کړې ده هم داسې به د قیامت په ورځ به د الله مخ ته هم دا قسمونه خوری چه په دنیا کښې مونږ به اخلاص مسلمانان وو مګر هلته به د دوی قسمونه هیڅ وا نه وړ خوری بیائی وفرمایل چه پر دې خلقو شیطان غالب شوی دی (د شیطان په قبضه کښې دي، د اخلق به پیا خر کښی ډیر خراب شی او فتح به د رسول الله ﷺ او ملګرو وی ۱۲ فتح البیان

فَأَنسٰىهُمْ ذِكْرَ اللَّهِ ۚ أُولٰٓئِكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ

نو هېر کړلو دوی څخه یاد د خدای دغه کسان ډله د شیطان ده خبردار اوسه چه بیشکه ډله

الشَّيْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُونَ ﴿١٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ يُحَآدُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ

د شیطان دوی تاوانیان بیشکه هغه کسان چه مخالفت کوي له خدای څخه او له رسول ده څخه

أُولٰٓئِكَ فِى الْأَذَلِّينَ ﴿٢٠﴾ كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِىٓ ۚ

دغه کسان په ذلیل شویو کښې دي لیکلې دی خدای[1] چه غلبه به وکړم زه او رسولان زما

إِنَّ اللَّهَ قَوِىٌّ عَزِيزٌ ﴿٢١﴾ لَّا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ

بیشکه چه خدای قوي دی غالب دی بیا به پیدا نکړې ته یو قوم چه ایمان راوړي پر خدای او په ورځ

الْاٰخِرِ يُوَآدُّونَ مَنْ حَآدَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوْ كَانُوٓا۟ اٰبَآءَهُمْ

د آخرت باندې چه دوستي به کوي دوی له هغه چا سره چه مخالفت کوي له خدای او له رسول ده سره که څه هم وي پلاران د دوی

أَوْ أَبْنَآءَهُمْ أَوْ إِخْوٰنَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِى

او یا زامن د دوی او یا ورونه د دوی او یا خپلوان د دوی دغه کسان چه دي لیکلې دی خدای په

قُلُوبِهِمُ الْإِيمٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ

زړونو د دوی کښې ایمان او محکم کړي ئې دي دوی په ملائکه سره له نزد خپل څخه او داخل به کړي دوی باغونو ته

تَجْرِى مِن تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُمْ

چه بهیږي به لاندې د هغې ویالې همیشه به وي په هغه کښې راضي شوی دی خدای له دوی څخه

وَرَضُوا۟ عَنْهُ ۚ أُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللَّهِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ

او راضي به شي دوی له هغه څخه دغه کسان ډله د خدای ده خبردار اوسه چه بیشکه ډله د خدای دوی

الْمُفْلِحُونَ ﴿٢٢﴾ ع

خلاصي بیدا کونکي دي

سُورَةُ الْحَشْرِ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ أَرْبَعٌ وَعِشْرُونَ اٰيَةً وَثَلٰثُ رُكُوعَاتٍ

سوره حشر مدني دی او دا څلور ویشت آیته او درې رکوع دي

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکي دي مهربان دی

ع ٣ ٣

ف ١

له مقاتل رضي الله تعالی عنه څخه روایت دي چه ده ویلي دي چه ده ویلي دي چه که چیري خدای تعالی موږ ته مکه او طائف او خیبر او چاپیره کلي ور څخه فتح کړل نو امید دي چه خدای به موږ ته په فارس او په روم باندې هم غلبه را کړي نو عبد الله ابن ابي منافق وویل چه تا سو ته فارس او روم هم داسې کلي ښکاریږي چه غلبه موبړ وکړه او فتح مو کړل و الله چه د هغوی لښکر هم ډیر دي او قوت ئې هم زیات دی نو الله تعالی دا آیت نازل کړ چه كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي ١٢ ط

ف ٢

عرض لردی آیت څخه دا دي چه ایمان او دوستي د کفار و سره نه جمع کیږي که څه هم ډیر نژدې خپلوي وي په حدیث شریف کښې راغلي دي چه هر څوک چه په ظالم پسې او وه قدمه ولاړ شي په نیت د مرستې د هغه نو دی محروم دی او الله تعالی وائي چه إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ یعنی موږ له مجرمانو څخه بدل اخستونکي یو ١٢

روح البیان وجامع

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ①

پاکي بيانوي خدای لره هغه شيان چه په اسمانو کښې دي او هغه چه په ځمکه کښې دي او دی غالب دی خاوند د حکمت دی

هُوَ الَّذِيْٓ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ

دی هغه ذات دی چه وويستل هغه کسان چه کافران شوي وُو له اهل کتابو څخه له

دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ۗ مَا ظَنَنْتُمْ اَنْ يَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ

کورو د هغوی څخه په اول جمع کيدلو کښې گمان نه کاوه تاسو چه به وځي دوی او دوی گمان وُو چه بيشکه دوی

مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ

منع کوونکي دوی دي قلاگاني د دوی له عذابه د خدای څخه نو راغلی دوی ته عذاب د خدای له هغه طرف څخه

لَمْ يَحْتَسِبُوْا ۗ وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ

چه گمان نه کاوه دوی او وئی غورزوله په زړو د دوی کښې ويره چه ورانول ئې کورونه خپل

بِاَيْدِيْهِمْ وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ ۗ فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ ②

په لاسو خپلو سره او په لاسو د مؤمنانو سره نو عبرت واخلئ ای خاوندانو د عقلو له

وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا ۗ

او که نه وای مقرر کړی خدای پر دوی باندې وتل له خپل وطن څخه نو به عذاب کړي ئې وو دوی په دنيا کښې

وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ③ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ

او دوی لره په آخرت کښې عذاب د اور دی دا کار په سبب د دې دی وو چه بيشکه دوی مخالفت کړی وُو

وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَآقِّ اللّٰهَ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ④

له خدای او له رسول د ده څخه او هر څوک چه مخالفت کوي له خدای څخه نو بيشکه چه خدای پاک سخت عذاب ورکوونکی

مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَآئِمَةً عَلٰٓى اُصُوْلِهَا

هغه چه پريکړي مو دي له خرماو څخه او يا مو پريښي دي هغه ولاړې پر بيخو خپلو باندې

فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ⑤ وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ

نو په اذن د خدای سره دي او چه وشرموي فاسقان او هغه شي چه راگرځولي دي خدای پر رسول خپل باندې

مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ

له هغه کفارو څخه نو نه دي زغلولي تاسو پر هغه باندې آسان او نه اوښان وليکن

ف

روايت دی چه په يهودو کښې يو قوم چه نوم ئې بني نضير وو مدينې ته څلور ميله کروه نږدې پراته وُو رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی سره صلح کړي وه چه تاسو به پر مونږ او مونږ به پر تاسو کار نه لرو. اتفاقاً يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم په يو کار پسې د دوی کلي ته ورغلي وُو او د يو ديوال سا ته ناست وُو چه يو سړي دوی په اتفاق مقرر کړ چه ته ورشه او يو غټه کاڼي بالا پر سر د ده را وغورزوه چه بالکل ور څخه خلاص شو. الله تعالی دی صلی الله عليه وسلم خبر کړ په يوه بهانه ور څخه مدينې ته راغلی او حال ئې ورولېږ و چه تاسو له دې وطن څخه ولاړ سئ مشرکانو د مکې چه خبر شول نو حال ئې ور ولېږ و چه کور ئې خپل وطن مه پرېږدئ مونږ ستاسو ملگري يو. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم پسې ورغلی يو ويشت شپې ئې قلابند کړل چه سبه تنگ شول او له مرستې د کفارو د مکې څخه هم لاعلاجه او نا اميده شول نو ئې صلح وکړه او له خپله کلي څخه روان شول. د آيتونو بيان د حال د هغوی کوي ١٢ ...

روح البيان مختصراً

اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٦﴾

خدای پاك مسلط کوی رسولان خپل پر هغه چا باندې چه رضائی وشی او خدای پر هر شی باندې قادر دی

مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ

هغه مال چه راگرزولی دی خدای پر رسول خپل باندې له اهل د کلیو څخه نو هغه خدای لره دی او رسول لره دي

وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ ۙ

او خاوندانو د خپلوی د رسول لره دي او یتیمانو لره دي او مسکینانو لره دي او مسافرانو لره دی

كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةًۢ بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ ؕ وَمَآ اٰتٰىكُمُ

لپاره د دې چه نه شی گرزیدونکی په منځ د غنیانو کښې له تاسو څخه او هغه شی چه درکوی ئې تاسو ته

الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۚ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

رسول ﷺ نو واخلئ هغه او هغه شی چه منع کوی تاسو له هغه څخه نو منع شئ او ویریږئ له خدای څخه

اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿٧﴾ لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ

بیشکه چه خدای پاك سخت عذاب ورکونکی دی دا مال فقیرانو هجرت کونکو لره دی هغه کسان

اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ

چه ایستل شوی دي له کورو خپلو څخه او له مالو خپلو څخه چه طلب کوی دوئ د مهربانی د

اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ

خدای څخه او د رضامندئ او کومك دوی له خدای سره او له رسول سره ئې دغه کسان دوئ

الصّٰدِقُوْنَ ﴿٨﴾ وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ مِنْ

رښتینی دي او هغه کسانو لره دي چه نیولی ئې دي کورونه او ایمان مخکې له دی

قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ

مهاجرینو څخه محبت کوی له هغه چا سره چه هجرت وکړی دوی ته او نه پیدا کوی دوی په سینو خپلو کښې

حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ

څه او حسد له هغه څخه چه ورکړی شو مهاجرینو ته او غوره کوی پر ځانو (نورکسان) که څه هم وی پر دوی باندې

خَصَاصَةٌ ۟ؕ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٩﴾

تنگی او هر څوك چه وساتل شو له بخله د خپل نفس نو دغه کسان هم دوئ خلاصی پیدا کونکی دي

وقف لازم

ف ۱

صحیح خبره دا ده چه دا ایت شریف نازل شوی دی په حق د ابو طلحه انصاری رضی الله تعالی عنه کښې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو میلمه راغلی وو او د هغه په کور کښې څه شی موجود نه وو نو وئی فرمایل ایا داسی څوك شته چه د دی میلمانه میلمستیا وکړی نو الله تعالی به پرې رحمت وکړی نو ابو طلحه رض ولاړ سو او هغه میلمه ئې کور ته بوتلی او ښځې ته ئې وویل چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم میلمه دی بنه بندوبست ئې وکړه نو هغه بی بی ولاړه او کو چنیان ئې بیده کړل او ډیوه ئې مړه کړه او څه خوراك چه موجود وو د هغه میلمه په مخکښې ئې کښیښوول او دوی هغه ته داسې ځان ښکاره کاوه چه مونږ هم وخوړه او په واقع کښې دوی هیڅ نه خوړل ځکه چه خوراك لږ وو نو الله تعالی دا ایت په صفت د دوی کښې نازل کړ ۱۲

وصلی الله علی النبی الامی الکریم وعلی اله وصحبه اجمعین

Scanned with CamScanner

وَالَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعۡدِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغۡفِرۡ لَنَا
او هغه کسان چه رابه شي وروسته له دوی څخه چه وائي به ای ربه زمونږه بخښنه وکړه مونږ ته

وَلِإِخۡوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالۡإِيمَانِ وَلَا تَجۡعَلۡ فِي قُلُوبِنَا
او هغه ورونړو زمونږ ته چه مخکې شوي دي له مونږ څخه په ايمان سره او مه ګرزوه په زړونو زمونږ کښې

غِلًّا لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠﴾ أَلَمۡ تَرَ إِلَى ع
کينه هغه کسانو ته چه ايمان ئي راوړي وي اي ربه زمونږ بيشکه ته مهرباني کونکي رحمت کونکي ئي ايا نه ګورې ته

الَّذِينَ نَافَقُوا يَقُولُونَ لِإِخۡوَانِهِمُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنۡ أَهۡلِ
هغه کسانو ته چه منافقان شوي دي چه وائي دوی هغه ورونړو خپلو ته چه کافران شوي دي له اهل

الۡكِتَٰبِ لَئِنۡ أُخۡرِجۡتُمۡ لَنَخۡرُجَنَّ مَعَكُمۡ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمۡ
کتابو څخه که چيرې وايستل شوئ تاسو نو مونږ به هم ووځو له تاسو سره او خبره به ونه منو په حق ستاسو کښې

أَحَدًا أَبَدًا وَإِن قُوتِلۡتُمۡ لَنَنصُرَنَّكُمۡ وَاللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ
د هيچا هيڅکله او که جنګ کيږي له تاسو سره نو مونږ به مرسته وکړو له تاسو سره او خدای شاهد وائي چه بيشکه دوی

لَكَٰذِبُونَ ﴿١١﴾ لَئِنۡ أُخۡرِجُوا لَا يَخۡرُجُونَ مَعَهُمۡ وَلَئِن قُوتِلُوا
دروغژن دي که چيرې وايستل شي دوی وبه نه ايستل شي هغوی له دوی سره او که جنګ وکړل شي له دوی سره

لَا يَنصُرُونَهُمۡ وَلَئِن نَّصَرُوهُمۡ لَيُوَلُّنَّ الۡأَدۡبَٰرَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٢﴾
مرسته به ونکړي هغوی ورسره او که ئي مرسته وکړه له دوی سره نو خامخا به وګرزوي شاګانې بيا به مرسته ورسره ونه کړل شي

لَأَنتُمۡ أَشَدُّ رَهۡبَةً فِي صُدُورِهِم مِّنَ اللَّهِ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ
سره خامخا تاسو سخت ئي له جهته د ويرې په سينو د دوی کښې له خدايه څخه دا کار په سبب د دې دی چه بيشکه دوی

قَوۡمٌ لَّا يَفۡقَهُونَ ﴿١٣﴾ لَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرًى مُّحَصَّنَةٍ
يو قوم دې چه نه پوهيږي جنګونه نه کوي دوی له تاسو سره په يو ځای مګر په کلو قلاګانو چاپير شوو کښې

أَوۡ مِن وَرَآءِ جُدُرِۢ بَأۡسُهُم بَيۡنَهُمۡ شَدِيدٌ تَحۡسَبُهُمۡ
او يا شاته د ديوالو څخه جنګ د دوی په منځ خپل کښې سخت وي ګمان به کوې ته پر دوی

جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمۡ شَتَّىٰ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٌ لَّا يَعۡقِلُونَ ﴿١٤﴾ ع
د يو ځای او زړونه د دوی تار په تار دي دا کار په سبب د دې دی چه بيشکه دوی يو قوم دې چه نه پوهيږي

ف ١
په دې آيت کښې الله تعالى په باب د منافقانو کښې پيشګوئي کړې او هغه بالکل رښتيا واقع شوه چه وروسته له نازليدو د دې آيت څخه عبدالله ابن ابي او څو نورو منافقينو يهودو بنونضير وته جواب ورولېږه چه تکړه او محکم شي په مقابل د مسلمانانو کښې که چيرې تاسو له وطن څخه وايستل شوئ نو مونږ به هم درسره وايستل شو او که مسلمانو درسره جنګ کاوه نو مونږ به مو مدد وکړو هر کله چه وخت راغلی او مسلمانانو بني نضير راګير کړل نو بيا منافق هم د دوی مرسته ونکړه لکه چه څرنګه الله تعالى ويلي وو هم داسې وشول ١٢

تفسير وحيدي

ف ٢
د اهل کتابو کافرانو ته ئي د منافقانو ورونړه وويل ځکه چه هغوی د دوی هم جنس دي او لکه دوی داسې کافران دي ١٢

كل من عليها فان

كَمَثَلِ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَرِيبًا ذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ

په شان د هغه کسانو چه مخکې وو له دوی څخه نژدې چې وڅکله بدي د کار خپل

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٥﴾ كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَانِ

او دوی لره عذاب دردونکی دے په مثل د شیطان په هغه وخت کښې چه وئې ویل انسان ته

اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ

چه کافر شه نو هر کله چه هغه کافر شو نو ئې وویل زه بیزاره یم له تا څخه بیشکه چه زه ویریږم د الله څخه چه رب

الْعَالَمِينَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَا أَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ فِيهَا

د مخلوقاتو دے نو شو آخیر د دے دواړو دا چه بیشکه دوی به په اور کښې وي همیشه به وي په هغه کښې

وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ ﴿١٧﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ ۲ ع ۵

او دا جزاء د ظالمانو ده ای هغه کسانو چه ایمان ئې راوړے دی وویریږئ له خدای څخه

وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ

او لازم دي چه وګوري هر نفس څه ئې لیږلي دي لپاره د صبا او ویریږئ له خدای څخه بیشکه چه خدائے خبردار دے

بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾ وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللَّهَ فَأَنسَاهُمْ

په هغه چه تاسو ئې کوئ او مه کیږئ تاسو په شان د هغه کسانو چه هیر کړی ئې دی خدائے نو هیر کړل خدائے

أَنفُسَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿١٩﴾ لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ

له دوی څخه نفسونه د دوی دغه کسان دوی فاسقان دي برابر نه دي ملګري د اور

وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۚ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴿٢٠﴾ لَوْ أَنزَلْنَا

او ملګري د جنت ملګري د جنت دوی کامیاب شونکي دي [١] که چیري نازل کړی وای مونږ

هَٰذَا الْقُرْآنَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ

دا قران په یو غره باندې نو خامخا به لیدلی وو تا هغه ویریدونکی چاودونکی له ویري

اللَّهِ ۚ وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾

د خدائے څخه او دا امثالونه بیانوو مونږ لپاره د خلقو نو بائی چه دوی به په کښې فکر وکړي

هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۖ هُوَ

دا خدائے هغه ذات دی چه نشته لائق د عبادت بل ملګري دی عالم دی په پټو باندې او په ښکاره باندې هم دی

[١] رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي چه کم په مرتبه کښې ترجنتیانو به هغه څوك وي چه دی خپلو باغو او خپلو ښځو او خپلو خادمانو ته ګوري او خپل جاه ته ګوري او په مزل د زرو کالو کښې کم دي د دوی څخه او عزتمن د دوی په نزد د خدای هغه څوك دي چه سهار ماښام به د الله تعالى دیدار کوی. بیا رسول الله صلى الله عليه وسلم دا ایت شریف ووایه وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ... او رسول الله صلى الله عليه وسلم به ویل چه آسان د دوزخیانو به لحیته د عذاب هغه څوك وی چه د هغه به دوه پاڼي رتسې د څپلیو او رڅخه جوړی وی چه د هغه څخه به ئې مازغه ایشی. د ده به دا ګمان نه وی چه له ما څخه بل چا عذاب زیات وی ١٢ روح البیان

الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿٢٢﴾ هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ

بخښونکی دی مهربان دی دا خدای هغه ذات دی چه نشته لائق د عبادت بل څوک مګر دی دی پاچا دے پاک دی

السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ۭ سُبْحٰنَ اللّٰهِ

اسلامت دی له هر تولو عیبو څخه امن ورکونکی دی ساتونکی دی غالب دے لوئی دی پاکی ده خدای لره

عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٢٣﴾ هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ۭ

له هغه څه چه خلق ورسره شرک کوی دا خدای الله دی پیدا کونکی دی برابرونکی دی صورت جوړونکی دے لره ده دے نومونه نیک

يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٢٤﴾

پاکی بیانوی ده لره هغه شیان چه په آسمانو کښے دی او چه په ځمکه کښې دی او دی غالب دے خاوند د حکمت دی لے

سُوْرَةُ الْمُمْتَحَنَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة ممتحنه مکے دی او دا دیارلس ایته دے او دوه رکوع دے

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ

ای هغه کسانو چه ایمان ئی راوړے دے مه نیسئ تاسو دښمن زما او دښمن ستاسو دوستان

تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ ۚ

چه رسوئے به تاسو خبرے هغوی ته په سبب د دوستئ سره او یقیناً سره کافران شوی دی هغوی په هغه دین باندے چه راغلی دی تاسو ته حق

يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ ۭ اِنْ

باسی رسول علیه السلام او تاسو یعنی له وطن څخه چه ایمان راوړے دی تاسو پر خدای باندے چه رب ستاسو دی که

كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِيْ سَبِيْلِيْ وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِيْ ۤ ۖ

ئی تاسو چه راوتلی ئی لپاره د جهاد په لاره زما کښی او لپاره د رضا زما

تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ۤ ۖ وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ اَخْفَيْتُمْ وَمَآ

چه پټه کوئ له هغوی سره دوستی او زه ښه پوهیږم پر هغه چه پټ ئی کوی تاسو او پر هغه

اَعْلَنْتُمْ ۭ وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿١﴾

چه ښکاره ئی کوئ او هر چا چه وکړل دا له تاسو څخه نو په تحقیق سره ورکه ئی کړه سمه لاره عه

لے له ابی هریرة رضی الله تعالی
عنه څخه روایت دے چه ما له خپل
حبیب صلی الله علیه وسلم څخه
پوښتنه وکړه چه اسم اعظم د خدای
کوم دی نو راته ئی وویل چه په
اخر د سورة حشر کښے دی
له رسول الله صلی الله علیه وسلم
څخه روایت دی چه هر چا چه په
وخت د سهار کښی درے واره
وویل اَعُوْذُ بِاللّٰهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ
٣ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ او دا دری
ع ٧ ایتونه ئی وویل د اخر د سورة
٦ حشر نو مقرر به کړی خدای پر
ده باندی اویا زره پرښتی چه
درود به وائی پر ده یعنی دعا
به د ده لپاره غواړی او په بعضو
روایتو کښی دی چه ساتنه به
کوی د ده تر ماښام پورې او که
دی مړ سو په دغه ورځ کښی نو
شهید به وي او هر چا چه وویل
دا په وخت د ماښام کښی نو
وی به ده لره هم دوهره مرتبه
او د معقل ابن یسار رضی الله عنه
رح وابن کثیر لے هر کله چه د رسول
الله صلی الله علیه وسلم اراده د فتح
د مکے وکړه نو په مسلمانانو کښے
یو سړے چه نوم ئی ابن ابی بلتعه وو هغه
حالات د مسلمانانو تول او لیکل
او یوی ښځی ته ئی ورکړل چه
دا اهل مکه وته ورسوه مګر
رسول الله صلی الله علیه وسلم
په دی کار خبر شو او هغه کاغذ
ئی له هغے ښځی څخه واخست دا
ایتونه په باب د هغه کښی نازل
شول په صحیح بخاری او مسلم
کښے په تفصیل راغلی دي ١٢ ...
تفسیر وحیدی عه او ستاسو دا
پټه دوستی به له هغوی سره
تاسو ته هیڅ فائده ونه رسوے ١٢

إِن يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُوا لَكُمْ أَعْدَآءً وَيَبْسُطُوٓا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ

که پیدا کړی دوی تاسو نو شی به تاسو ته دښمنان او اوږده به کړی تاسو ته لاسونه خپل

وَأَلْسِنَتَهُم بِالسُّوٓءِ وَوَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ ② لَن تَنفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ

او ژبې خپلې په بدی سره او خوښه ده دوی ته چه تاسو کافران شی بالکل به فایده ونه رسوی تاسو ته خپلوی ستاسو

وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ ۚ يَوْمَ الْقِيَٰمَةِ ۚ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ ۚ وَاللَّهُ بِمَا

او نه اولاد ستاسو په ورځ د قیامت کښې جلا والی به وکړی په منځ ستاسو کښې او خدای پر هغه چه

تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ③ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِىٓ إِبْرَٰهِيمَ

تاسو ئی کوئی لیدونکی دی په یقین سره دی تاسو ته خوی او اقتدا نیکه په ابراهیم علیه السلام کښې

وَالَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُوا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُا مِنكُمْ وَمِمَّا

او په هغه کسانو کښې چه له ده سره وو په هغه وخت کښې چه وئی ویل قوم خپل ته چه بیشکه مونږ بیزاره یو له تاسو او له هغه څه

تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ

چه عبادت ئی کوئی تاسو بې له خدایه څخه کافران شوی یو مونږ پر تاسو او ظاهره شوی ده په منځ زمونږ او ستاسو کښې

الْعَدَٰوَةُ وَالْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَحْدَهُۥٓ إِلَّا

دښمنی او بغض همیشه ترڅو چه ایمان راوړئ تاسو پر خدای باندی یواځی مګر

قَوْلَ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمْلِكُ لَكَ

خبره د ابراهیم ع پلار خپل ته چه خامخا بخښنه به وغواړم تا ته او مالك نه یم تا ته

مِنَ اللَّهِ مِن شَىْءٍ ۖ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ

له طرفه د خدای څخه د هیڅ شی ای ربه زمونږ پر تا باندی توکل کړی دی مونږ او تا ته رجوع کړی ده مونږ او تا ته دی

الْمَصِيرُ ④ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا وَاغْفِرْ لَنَا

د رتلل ای ربه زمونږ مه ګرځوی ازموینه اړ نسبت هغه کسانو ته چه کافران شوی دی او بخښنه وکړی مونږ ته

رَبَّنَآ ۖ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ⑤ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيهِمْ

ای ربه زمونږ چه بیشکه ته هم ته غالب یې خاوند د حکمت ئې خامخا په یقین سره ده تاسو ته په هغوی کښې

أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْءَاخِرَ ۚ وَمَن

طریقه نیکه هغه چا ته چه وی امیدلری د خدای او د ورځې اخیرنی او هغه څوك چه

ف ۱

یعنی ستاسو د ارشتې د خپلوی به هیڅ په کار د رشتې د قیامت په ورځ ځکه چه الله ج به ستاسو او د هغوی په مابین کښې جدائي راولی ۱۲ ....

ف ۲

ابن عباس رضی الله عنه ویلی دی چه په دی آیت کښې الله تعالی مؤمنان منع کړل چه تاسو په دې کار کښې اتباع د ابراهیم علیه الصلوة والسلام مه کوی چه ده طلب د بخښنې د پلار خپل کاوه ... د کافر او مشرك لپاره د بخښنې سوال کول له الله تعالی څخه جائز نه دی ۱۲

فتح الرحمن

ف ۳

سبب دا نی مایست یعنی ای الله جل شانك کافران پر مونږ باندی مه غالب کوه ددوی به دا ګمان سی چه مونږ پر حق دین باندی یو نو مونږ به سبب د ګمراهی ددوی وګرځو ۱۲ ....

يَّتَوَلَّ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٦﴾ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ
وګرزیدی نو بیشکه چه خدای دے بی پرواه د ثنائی ویلی شوی ده ژر دی پروردګار چه وبه ګرزوی

بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِيْنَ عَادَيْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً ؕ وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ ؕ
په منځ ستاسو کښی او په منځ د هغه کسانو کښی چه دښمنی لرئ تاسو له هغوی سره دوستی او خدای قادر دی

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٧﴾ لَا يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ
او خدای بخښونکی دی مهربان دی نه منع کوی تاسو خدای له هغه کسانو نه چه

يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ اَنْ
جنګ ئی نه دی کړی له تاسو سره په دین کښی او نه ئی ایستلی ئی تاسو له کورو ستاسو نه چه

تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْا اِلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ﴿٨﴾ اِنَّمَا
نیکی کوی له هغوی سره او انصاف کوی له هغوی سره بیشکه چه خدای دوستی کوی له انصاف کوونکو سره

يَنْهٰكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ قٰتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَاَخْرَجُوْكُمْ
بیشکه دا خبره ده چه منع کوی تاسو خدای له هغه کسانو نه چه جنګ کوی له تاسو سره په دین کښی او باسی تاسو

مِّنْ دِيَارِكُمْ وَظٰهَرُوْا عَلٰى اِخْرَاجِكُمْ اَنْ تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَنْ
له کورو ستاسو نه او مرسته ئی کړی ده په ایستلو ستاسو باندی چه دوستی به کوی له هغوی سره او هر چا چه

يَّتَوَلَّهُمْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٩﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا
دوستی وکړه له هغوی سره نو دغه کسان هم دوی ظالمان دي ای هغه کسانو چه ایمان ئی راوړی دی په هغه وخت

جَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ مُهٰجِرٰتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ ؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِهِنَّ ۚ
کښی چه راشی تاسو ته ایماندارو ښځی هجرت کوونکی نو ازماینښت وکړئ په هغوی باندی خدای ښه پوهیږی په هغوی باندی

فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ اِلَى الْكُفَّارِ ؕ
نو که تاسو پوه شوی پر هغوی باندی ایمان راوړونکی نو بیرته مه ګرزوئ هغوی له کافرانو ته

لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ ؕ وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا ؕ
نه دی دا ښځی حلالی دوی ته او نه دی دا کافران حلال دی ښځو ته او ورکوی هغه کسانو لوانو ته هغه مال چه ورکړی

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ؕ
ئی او نشته ګناه پر تاسو باندی چه په نکاح سره اخلی هغه ښځی په هغه وخت کښی چه ورکړی مهرونه د هغوی

ع ٦ ۱ له روایت دے چه قتیله بنت عزی
چه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله
٧ تعالیٰ عنه ښځه وه په زمانه د جاهلیة
کښی او طلاقه کړی ئی وه او خپله
لور ئی چه بی بی اسماء وه راغله هغه
زمانه کښی چه رسول الله صلی الله علیه
وسلم له کفارو د قریشو سره صلحه
کړی وه او تحفی ئی هم له ځانه سره را
وړی وي لیکن بی بی سلمی رضی الله
عنها هغه تحفی وانه خستلے او کور
ته ئی هم نه پریښوده په سبب د کفر
د هغے سره، نو دا ایت شریف نازل شو
نو رسول الله صلی الله علیه وسلم
هغے ته حکم وکړ چه مور دی کور ته
راوله او تحفی ورځنه قبولی کړه
او احترام او احسان ورسره وکړه
۲ چا ویلی دی چه د بنی خزاعو قبیلے له
رسول الله صلی الله علیه وسلم سره
صلح کړی وه او مؤمنانو ته ئی هیڅ
ضرر نه وو رسولی او نه ئی د دښمنانو
د مسلمانانو سره مرسته کړی وه
نو الله تعالیٰ د دوی په حق کښی دا ایت
کریمه نازل کړ. تفسیر فتح الرحمٰن
لیکلی دی چه دا ایت په اقتلوا المشرکین
سره منسوخ شوی دی او اکثرو ائمه
چه محکم دی منسوخ نه دی ۱۲ اسلام
په کال د حدیبیه کښی کفارو دا سی صلح
کړی وه چه که چیری زمونږ سړی
تاسو ته در وتښتیدو نو بیرته به ئی
را لیږئ او که له تاسو څخه څوک مونږ
ته راغلی نو نه به ئی در پریږدو. اتفاقاً
بی بی سبیعه بنت حارث اسلمیه
مسلمانه شوه راغله او رسول الله ۴
لا په حدیبیه کښی وو نو د هغے خاوند
ورپسی راغلی او طلب د هغی ئی وکړ
چه راتی کړه نو الله تعالیٰ دا ایت نازل
کړ چه د ښځو ورکول بیرته کفارو ته
نه دی جائز ځکه چه په صلح کښی اقرار
د سړو شوی دی نه د ښځو نو رسول الله
صلی الله علیه وسلم هغه ته لا دی ایت

وَلَا تُمْسِكُوا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَسْئَلُوا مَا أَنْفَقْتُمْ وَلْيَسْئَلُوا

او مه ساتئ تاسو د نکاح د کافرو ښځو مهر او غواړئ تاسو هغه مال چه لګولی وي تاسو او غواړي دې هغوی

مَا أَنْفَقُوا ذَٰلِكُمْ حُكْمُ اللَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ

هغه مال چه لګولی وي دا حکم د خدای دی حکم کوي په منځ ستاسو کښې او خدای عالم دی

حَكِيمٌ ﴿١٠﴾ وَإِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ إِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ

خاوند د حکمت دی او که پاته شوله تاسو څخه یو شی له ښځو ستاسو څخه کافرانو ته نو په عذاب کړل تاسو

فَآتُوا الَّذِينَ ذَهَبَتْ أَزْوَاجُهُمْ مِثْلَ مَا أَنْفَقُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ

هغه کافران نو ورکوئ هغه کسانو ته چه تللې دي ښځې د هغوی په مثل د هغه چه لګولی وي او ووېرېږئ له هغه خدای

الَّذِي أَنْتُمْ بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ

څخه چه تاسو پر هغه باندې ایمان راوړونکي یئ ای پیغمبره په هغه وخت کښې چه راسي تا ته مومنې ښځې

يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰ أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ

چه بیعت کوي له تا سره پر دې چه شریک به نه پیدا کوي له خدای سره هیڅ شی او نه به غلا کوي او نه به زنا کوي

وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ

او نه به وژني اولاد خپل او نه به راوړي دروغ چه تړي به هغه به په منځ

أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ

د لاسو خپلو کښې او د پښو خپلو کښې او نافرماني نه کوي له تا څخه په نیک کار کښې نو بیعت وکړه له دوی سره

وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٢﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

او بخښنه وغواړه هغوی لره له خدای څخه بېشکه چه خدای بخښونکی دی مهربان دی ای هغه کسانو

آمَنُوا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوا مِنَ

چه ایمان یئ راوړی مه کوئ دوستي له هغه قوم سره چه غضب کړی دی خدای پر هغوی باندې یقین سره ناامید دي

الْآخِرَةِ كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ أَصْحَابِ الْقُبُورِ ﴿١٣﴾

له آخرته لکه چه ناامید دي کافران له خاوندانو (ملګرو) د قبرو څخه

سُورَةُ الصَّفِّ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ أَرْبَعَ عَشْرَةَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ

سورة صف په مدینه کښې نازل شوې او د اڅوارلس آیته او دوه رکوع دي

یعني که سړي مسلمان سي او ښځه مشرکه وه نو هغه دې پسې واخلي او طلاق دې ئې کړي ساتل ئې جائز نه دي هر کله چه دا آیت نازل شو نو د حضرت عمر رضي الله تعالی عنه دوه ښځې په مکه کښې مشرکې وې طلاق ئې کړې ۱۲ منه

هر کله چه مؤمنانو د مهاجراتو مهرونه ورکړل خاوندانو د دوی ته او کافرانو د مرتدو ښځو د مهرو ورکولو څخه منع وکړه دا آیت نازل شو چه وَإِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ الآية ۱۲ ۱۲ ۱۲

مطلب د دې دادی چه داسې به نه کوي چه د بل چا اولاد را واخلي او خپل خاوند ته ووائي چه دا ستا اولاد دی ۱۲ منه

یعنې د دوی دا امید نشته چه څوک بیا وار قبر ته ولاړې بیا به هم راژوندی شي ابن عباس رضي الله تعالی عنه ویلي دي چه د عبدالله ابن عمر او زید ابن حارث رضي الله تعالی عنهما د یهودي سره دوستي وه دا آیت د دوی په حق کښې نازل شوی دی

وصلی الله علی خیر خلقه محمد واله وصحبه وعترته اجمعین

الصف ۲ ع ۸

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم پر نامه دخدای چه بخښونکی دی مهربان دی

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ

پاکی بیانوی خدای لره هغه شیان چه په اسمانو کښې دی او هغه چه ځمکه کښې دي اودی غالب دی

الْحَكِيْمُ ۞ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۞

خاوند د حکمت دی ای هغه کسانو چه ایمان ئی راوړی دے ولی وائی هغه چه نه ئی کوی

كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ۞ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ

لویه ده له جهته د غضب نه نزد د خدای دا خبره چه وائی به هغه کار چه نه ئی کوئ له بیشکه چه خدای دوستی کوی

الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ۞

له هغه کسانو سره چه جنګ کوی په لاره د خدای کښې صف جوړونکي لکه دوی دیوال دي ترله وتلی (محکم

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ

او یاد کړه هغه وخت چه وویل موسیٰ قوم خپل ته ای قومه زما ولی ضرر د سوئ او په یقین نوئی تاسو

اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ ۖ فَلَمَّا زَاغُوْا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ۚ وَاللّٰهُ

چه بیشکه زه رسول د خدای یم تاسو ته نو هر کله چه کاږه شول هغوی نو کاږه کړل خدای زړونه د دوی او خدای ج

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۞ وَاِذْ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ

لاره نه ښائی قوم فاسقانو ته او یاد کړه هغه وخت چه وویل عیسیٰ زوی د بی بی مریمې

يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ

ای بنی اسرائیلو چه زه رسول د خدای یم تاسو ته رښتیا کوونکی یم هغه لره چه مخکی

يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَمُبَشِّرًاۢ بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗٓ

زما دی له تورات څخه او زیری ورکوونکی یم په رسول سره چه راځي به شي وروسته له ما څخه چه نوم د هغه

اَحْمَدُ ۖ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۞

به احمد وي نو هر کله چه راغلی پیغمبر هغوی ته په دلیلو ظاهرو سره وئی ویل چه دا سحر ښکاره دی

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعٰٓى

او څوک دی ډیر ظالم له هغه چا څخه چه تړی پر خدای باندي دروغ اودی رابلل کیږي

ف ۱

روایت دی چه مسلمانانو به ویل چه که مونږ ته بهتر عمل معلوم سی نو مونږ به ئی حتماً وکړو او خپل حانونه او مالونه به پکښې صرف کړو هر کله چه جهاد فرض شو نو دوی پری خفه شول نو الله تعالیٰ لپاره د عتاب د دوی دا ایت شریف نازل کړ ۱۲ تفسیر روح البیان

ف ۲

له جبیر ابن مطعم رض څخه روایت دی چه ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی دي چه ویل به ئی چه په تحقیق زما څو نومونه دی زه محمد یم زه احمد یم زه ماحی یم یعنی محوه کوونکی د کفر یم او زه حاشر یم یعنی جمع کوونکی چه الله تعالیٰ به په ما باندی ټول خلق راجمع کړی او زه عاقب یم یعنی شاته تر ټولو پیغمبرانو راغلی یم. دا روایت امام بخاری رحمه الله تعالیٰ کړی دئ. رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټولو پیغمبرانو او رسولانو خاتم دی ۱۲ او د ده څخه وروسته نه نبی شته او نه رسول صلوٰة الله تعالیٰ علی نبینا وعلیهم اجمعین ۱۲

ابن کثیر

إِلَى الْإِسْلَامِ ۚ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٧﴾ يُرِيدُونَ

اسلام ته او خدای لارہ نه ښائی قوم ظالمانو ته اراده لری دوئ

لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ

چه مړ کړی نور د خدای په خُلو خپلو سره او خدای پوره کوونکی د نور خپل دی که څه هم بد ئې شمیری

الْكَافِرُونَ ﴿٨﴾ هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ

کافران دی هغه ذات دی چه لیږلی ئی دے رسول خپل پر لارہ سمه او په دین حق سره

لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴿٩﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

چه غلبه ورکړی پر ادیانو ټولو باندي که څه هم بد ئې شمیرے مشرکان له ای هغه کسانو

آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ

چه ایمان ئې راوړی دی آیا لارښوونه وکړم تاسو ته په تجارت باندې چه خلاص به کړی تاسو له عذاب

أَلِيمٍ ﴿١٠﴾ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ

دردوونکی څخه ایمان راوړئ پر خدای باندې او پر رسول د هغه باندې او جهاد کوئ په لاره د

اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١١﴾

خدای کښې په مالو خپلو سره او په نفسو خپلو سره دا کار بهتر دی تاسو ته که ئې تاسو پوهیږئ

يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا

وبه بخښي تاسو ته ګناهونه ستاسو او ننه به باسي تاسو باغونو ته چه بهیږی به لاندې هغه نه

الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١٢﴾

ویالې او ځایونو پاکو ته په جنتونو د استوګی کښې دا کار بری دی لوی

وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا ۖ نَصْرٌ مِنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ۗ وَبَشِّرِ

او بل کار هم دی چه ستاسو خوښیږی مرسته لا لطرفه د خدای نه او فتح د نژدی او زیرے ورکړه

الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنْصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ

مؤمنانو ته ای هغه کسانو چه ایمان ئې راوړے دی شئ تاسو کومکیان د دین د خدای لکه چه ویلی وو

عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنْصَارِي إِلَى اللَّهِ ۖ قَالَ

عیسیٰ علیه السلام زوی د بی بی مریمې حواریونو ته څوک دی مرسته کوونکی زما خدای ته و ویل

ف ۱

په دی ایتو کښی تسلے ورکول دے رسول الله صلے الله علیه وسلم ته چه کله خلق په حکم د جهاد کښی سستی کوی نو مه پوری خفه کیږه ځکه چه حضرت موسیٰ او حضرت عیسیٰ علیهما السلام ته هم داسی تکلیفونه لا خپلو امتو څخه رسیدلی وُو هغوی صبر پری کاوه ۱۲

ف ۲

حواریین دوسیانو ته ویل کیږی او دوئ دولس کسان وُو چه اول دوئ په حضرت عیسیٰ علیه السلام باندې ایمان راوړی وُو... رسول الله صلے الله علیه وسلم فرمایلی دي چه هر پیغمبر لره حواري یعنی مددګار روي او حضر وي او خدمتګار زما زبیر دے رضی الله تعالیٰ عنه وعن جمیع الصحابة والتابعین وتابعیهم اجمعین ۱۲ روح البیان

ف ۳

په حدیث شریف کښی راغلی چه رسول الله صلے الله علیه وسلم فرمایلی دي شهید ته ټول ګناهونه بخښل کیږی بی له قرضه یعنی د بل حق ورته نه بخښل کیږي ۱۲ ف

یعنی په داسی جنت کښی به اوسیږئ چه همیشه به وی ۱۲

ف ۴

د دنیا په نورو سوداګریو کښی خو یو څه فایده سړی ته رسیږی او په دی سوداګری کښی به دا وی چه الله تعالے به ستاسو ټول ګناهونه بخښی ۱۲ وحیدی

ع ۹ ۹

الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْۢ بَنِیْٓ
موږ مددګاران د خدای یو نو ایمان راوړے یوی ډلی له بنی

اِسْرَآءِیْلَ وَكَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ ۚ فَاَیَّدْنَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا عَلٰی
اسرائیلو څخه او کافره شوه بله ډله نو محکم کړل موږ هغه کسان چه ایمان ئې راوړے وو په

ع ٥ عَدُوِّهِمْ فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِیْنَ ﴿۱۴﴾ ع
دښمن خپل د هغوی باندي نو وګرځیدل هغوی غالب

سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ مَدَنِیَّةٌ وَّهِیَ اِحْدٰی عَشْرَةَ اٰیَةً وَّفِیْهَا رُكُوْعَانِ
سورة جمعه مدني دی او دا یوولس ایته او دوه رکوع دے

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ
شروع کوم په نامه د خدای چه بخښونکی مهربان دی

یُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ
پاکي بیانوی خدای لره هغه شیان چه په اسمانونو کښې دي او هغه چه په ځمکه کښي دي چه پاچا دی ډیر پاک دی

الْعَزِیْزِ الْحَكِیْمِ ﴿۱﴾ هُوَ الَّذِیْ بَعَثَ فِی الْاُمِّیّٖنَ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ
غالب دی خاوند د حکمت دی هغه ذات دے چه لیږلی ئی دی په ناخوانده خلقو کښي رسول له هغوی څخه

یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیٰتِهٖ وَیُزَكِّیْهِمْ وَیُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ق
چه وائی بر دوی باندی ایتونه د ده او پاکوی ئې او ښائي ورته کتاب او سنت

وَاِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۲﴾ وَّاٰخَرِیْنَ مِنْهُمْ
او بیشکه چه وو هغوی مخکې له دے څخه په ګمراهی ښکاره کښې او نور کسان دی له دوی څخه

لَمَّا یَلْحَقُوْا بِهِمْ ؕ وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ﴿۳﴾ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ یُؤْتِیْهِ
چه نه دي پیوست شوی له دوی سره او دے غالب دی خاوند د حکمت دے دا کار فضل د خدای دی چه ورکوی ئے

مَنْ یَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِیْمِ ﴿۴﴾ مَثَلُ الَّذِیْنَ حُمِّلُوا
هغه چا ته چه خوښه ئې شي او خدای خښتن د فضل لوی دي مثال د هغه کسانو چه بار کړی شوی وی

التَّوْرٰىةَ ثُمَّ لَمْ یَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ یَحْمِلُ اَسْفَارًا ؕ بِئْسَ
دوی په تورات باندی بیا پوره نه کړه دوی هغه په مثل د خره دے چه بار وی کتابونه بد دی

ف ١
په صحیح بخاري او صحیح مسلم کښې له ابی هریرة رضی الله تعالٰی عنه څخه روایت دے چه ما پخپله اورېدلی دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به په لمانځه د جمعې کښې سورة جمعه او اذا جآءك المنٰفقون ویل ١٢ تفسیر فتح البیان

ف ٢
امیین هغو خلقو ته ویل کیږي چه لیك لوست نه لري عرب خلق ټول ناخوانده وو. ویلي شوي دي چه په عربو کښې هر څو مره قبیلې چه دي د رسول الله صلی الله علیه وسلم به ټولو سره څه ناڅه رشته داري وه مګر له بنو تغلبو نصارا او سره نه وه ١٢ منه رحمه ربه

ف ٣
له دے نورو کسانو څخه مراد د ټولی دنیا خلق دی چه تر قیامته پوري پیدا کیږي. بعضو ویلي دی چه مراد ورڅخه تابعین دی ١٢ وحیدی

ف ٤
یعنې مثال د هغه کسانو چه ورکړی شوی دي ورته تورات چه یهودیان دي او هغوی ورباندی عمل ونکړ په شان د خره دے چه کتابونه ورباندے بار کړی شوی وي او هغه نه پوهیږي چه کتابونه دي پر باندی بار دی او که خاشاك او لرګی دی ١٢

مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

مثال د هغه قوم چه نسبت د دروغو کوي آیتو د خدای ته او خدای لاره نه ښائي

الظّٰلِمِيْنَ ﴿٥﴾ قُلْ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْۤا اِنْ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ اَوْلِيَآءُ

ظالمانو ته و وایه ته ای هغه کسانو چه یهودیان شوي یئ که گمان کوئ تاسو چه دوستان یئ

لِلّٰهِ مِنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٦﴾

د خدای بي له نورو خلقو نو آرزو وکړئ د مرګ که یئ تاسو رښتیني

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗۤ اَبَدًاۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ

او بالکل به آرزو ونکړي د مرګ هیڅکله په سبب د هغه چه مخکې لیږلي دي لاسو د دوی او خدای عالم دی

بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٧﴾ قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ

پر ظالمانو باندې و وایه چه بیشکه هغه مرګ چه تاسو تښتئ له هغه نو بیشکه چه هغه

مُلٰقِيْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ

پیوست کیدونکی دی تاسو سره بیا به تاسو وګرځولی شئ خدای ته چه عالم دی پر پټو او ښکاره باندې نو خبر به کړي تاسو هغه چه وئ تاسو

ع ۱ تَعْمَلُوْنَ ﴿٨﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ

چه کول به مو ای هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دی په هغه وخت کښې چه آواز وکړل شي لپاره د لمانځه په ورځ

الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ

د جمعې نو زغلئ یادولو د خدای ته او پرېږدئ سودا کول دا کار غوره دی تاسو لره

اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٩﴾ فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي

که یئ تاسو پوهیږئ نو په هغه وخت کښې چه ادا کړل شي لمونځ بیا خواره شئ په

الْاَرْضِ وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا

ځمکه کښې او طلب کوئ له فضل د خدای نه او یادوئ خدای ډیر

لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿١٠﴾ وَاِذَا رَاَوْا تِجَارَةً اَوْ لَهْوَا انْفَضُّوْۤا اِلَيْهَا

ښاغلی چه تاسو به خلاص شئ او په هغه وخت کښې چه ووینې دوی سوداګري او یا تماشا نو زغلي دوی هغه ته

وَتَرَكُوْكَ قَآئِمًا ؕ قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ

او پرېږدي تا ولاړ و وایه ته هغه ثواب چه خدای سره دی له له تماشې نه او له

ف۱ په حدیث شریف کښې راغلي دي چه هر چا په ورځ د جمعې کښې دا دعا او وایه و ویله چه اللّٰهم اغنني بحلالك عن حرامك وبفضلك عمن سواك نو تیري به نه شي پرده باندې دوه جمعې چه دی به غني کوي دا حدیث حضرت انس رضي الله تعالی عنه نقل کړي دی ۱۲

ف۲ مراد له دې اذان نه هغه دی چه امام په ممبر کښیني او په مخکښې د ده ویل کیږي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې هم دا اذان ویل کیدی مګر هر کله چه په زمانه د حضرت عثمان رضي الله تعالی عنه کښې خلق زیات شول نو دا دوه اذانه مقرر کړل ۱۲ منه رحمه الله

ف۳ یو بزرګ ویلي دي چه هر چا وروسته له لمانځه د جمعې نه خرید او فروخت وکړ نو الله تعالی به ورته اویا برکتونه ورکړي ۱۲

ع ٢ ١٢

الْتِّجَارَةِ ۭ وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿١١﴾

سودا گری څخه او خدای غوره د روزي ورکونکو دی ٥

سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْنَ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اِحْدٰى عَشَرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة منافقون مدني دے او یوولس ایته او دوه رکوع دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دئ

اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ وَاللّٰهُ

په هغه وخت کښې چه راشي تا ته منافقان نو وائي دوی شاهدے وایو چه بیشکه ته خامخا پیغمبر د خدای یې او خدای

يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ۭ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ﴿١﴾

پوهیږي چه بیشکه ته پیغمبر د خدای یې او خدای شاهدي وائي چه بیشکه منافقان خامخا دروغژن دي

اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۭ اِنَّهُمْ سَآءَ

نیولي دي دوی قسمونه خپل ډال نو منع کوي له لارې د خدای څخه بیشکه چه دوی بد دي

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٢﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى

هغه چه دوی يې کوي دا په سبب د دې چه بیشکه دوی ایمان راوړے و بیا کافران شول نو مهر وهلی شوی

قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿٣﴾ وَاِذَا رَاَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ ۭ

پر زړونو د دوی باندې نو دوی نه پوهیږي او په هغه وخت کښې چه ووینې ته دوی نو تعجب درولي تا ته صورتونه د دوی

وَاِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ۭ كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۭ

او که خبرې کوي دوی نو ته غوږ ونیسے خبرو د دوی ته گویا چه دوی لرگي دي تکیه کړل سوي دیوال ته

يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ۭ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ۭ قٰتَلَهُمُ

گمان کوي دوی چه هر آواز لوړ واقع دے پر دوی باندې دوی دښمنان دي نو وویریږه له دوی څخه لعنت کړي دې پر دوی

اللّٰهُ ۡ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿٤﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ

باندې خدای څرنګه گرځول کیږي دوی او په هغه وخت کښې چه وویل شي دوی ته چه راشئ چه بخښنه وغواړي تاسو ته رسول

اللّٰهِ لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ وَرَاَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٥﴾

د خدای نو پوره کړي سرونه خپل او وینې ته دوی چه گرځي تکبر کونکي دي دوی

ف ١

روایت دے چه له شام شریف څخه قافله د غلې مدینې منورې ته او په مدینه کښې قحط سالي وه او د غه ورځ د جمعې وه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ولاړ وو نو چه اصحاب کرامو رضی الله تعالی عنهم آواز د قافلې راتلو واوریده نو ورغستل او ورغلل او رسول الله صلی الله علیه وسلم ئې په خطبه ولاړ پریښود صرف اته، یا دولس یا دیارلس یا څلویښت کسان ورته پاته شول نو رتو ولاړل نو الله تعالی لس پاره د ملامتی د هغه کسانو د ا ایتونه نازل کړل ۱۲ ....
روح البیان و موضح القرآن

ف ٢

عبد الله ابن ابی منافق خوب صورته سړی وُ او په خبرو کښې هم فصیح وُ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مجلس ته به سره له ملګرو حاضر شو او رسول الله صلی الله علیه وسلم او اصحاب کرامو رضی الله عنهم به چه د دوی خبرې واوریدلې نو تعجب به ئې کاوه نو دا ایت شریف نازل شو ۱۲ ....

د روح البیان

سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ

برابر دہ پر دوی باندی که بخښنه غواړی ته دوی ته او بخښنه نه غواړی دوی ته بالکل به بخښنه ونکړی خدای

لَهُمْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِی الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝٦ هُمُ الَّذِيْنَ

دوی ته بیشکه چه خدای لاره نه ښائی قوم فاسقانو ته دوی هغه کسان دي

يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا

چه وائی خیرات مه کوئ پر هغه چا چه د رسول خدای سره دی لیاره د دی چه ولاړ شي

وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ

او خدای لره دی خزانی د اسمانو او د ځمکې ولیکن منافقان

لَا يَفْقَهُوْنَ ۝٧ يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَآ اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ

نه پوهیږی وائی دوی که چیری بیا ولاړو مونږ مدینی ته نو وبه باسی

الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ؕ وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ

عزتمن خلق له مدینی ځنی هغه ذلیلانو لره او عزت خدای لره او د ده رسول لره دی او مؤمنانو لره دی ولیکن

الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝٨ ع يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ

منافقان نه پوهیږی ای هغه کسانو چه ایمان ئی راوړی دی مشغول دی نکړی تاسو

ع ١ ٨ ١٣

اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ

مالونه ستاسو او نه اولاد ستاسو له یاده د خدای ځنی او هر چا چه وکړ دا کار

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝٩ وَاَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ

نو دغه کسان دوی تاوانیان دي او خیرات کوئ له هغه ځنی چه درکړی مونږ دی تاسو ته مخکې له هغه ځنی

اَنْ يَّاْتِیَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْلَآ اَخَّرْتَنِیْۤ اِلٰۤى اَجَلٍ

چه رابه شي یو له تاسو ته مرګ نو وائی به د رای ربه زما ولی دی نه وروسته کولم زه تر هغه نیتی

قَرِيْبٍ ۙ فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝١٠ وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ

نژدی پوری نو چه خیرات می کړی وای زه له صالحانو ځنی او بالکل به وروسته نکړی خدای ج

نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ؕ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝١١ ع

هیڅ نفس هغه وخت کښی چه راشی اجل د هغه او خدای خبردار دی پر هغه چه تاسو ئی کوئ

ع ٢ ٣ ١٤

له روایت دی چه په یوه غزا کښی دوو کسانو سره جنګ وکړ یو مهاجر وو بل انصاری وو نو هغه انصاری ولاړ او یو منافق ته ئی فریاد وکړ هغه خبیث په غضب شوی وو چه د امهاجرین تاسو پر ځان بلند کړو هم کړل که تاسو دوی ته نور کولائی نو ولي به د اسی زور ور کیدل - او بعضو ویلی چه که مونږ مدینی ته ورغلو نو د ا ذلیلان (مهاجرین) به تول وباسو نو الله تعالیٰ د ا ایتونه په مذمت د دوی کښی نازل کړل ۳ روح البیان

۲له ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه ځنه روایت دی چه یو سړی وویل چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم یو خیرات ډیر زیات بهتر دی په اجر کښی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه تاسو خیرات وکړئ په د اسی حال کښی چه ته جوړ ئی بخیل ئی امید لری د غنیوالی او ویره لرې د خواری ځنه او مهلت مه کوه په خیرات کولو کښی تر څو چه روح د ورسیږی غاړی ته نو ته به بیا وائی چه د فلانی د و مره شی سود فلانی د ومره شی شو او هغه پخپله پلانکی وي۔ په بل حدیث شریف کښی راغلی چه سړی یو درهم خیرات کړی په ژوند کښی د ادی ځنه چه سل درهمه پس له مرګه خیرات کړی ډیر بهتر دی۔ په بل حدیث کښی راغلی دی چه مثال د هغه چا چه خیرات کوی په وخت د مرګ کښی د اسی دی چه څوک چا ته یو شی د خوراک وروسته له هغه ورکوی چه موړ شی۔ یعنی پس ماندہ په ورځ ورکوی ۱۲۱۳

سُوْرَةُ التَّغَابُنِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورت تغابن په مدینه کښې نازل شوی دی او اتلس اٰیته او دوه رکوع دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع کوم په نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دے

یُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ۚ لَهُ الْمُلْكُ

پاکی بیانوی خدای لره هغه شیان چه په اسمانو کښې دی او هغه چه په ځمکه کښې دی د ده لره ده پاچاهي

وَلَهُ الْحَمْدُ ۚ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ

او د ده لره ده ثنا او دی په هر شي باندې قادر دی دی هغه ذات دی چه پیدا کړی ئې تاسو

فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِیْرٌ ﴿٢﴾

نو بعضې له تاسو څخه کافر دی او بعضې له تاسو څخه مؤمن دی او خدای په هغه چه تاسو ئې کوئ لیدونکی دی

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۚ

پیدا کړی ئې دی اسمانونه او ځمکه په حقه سره او صورتونه ئې تاسو او ښه صورتونه ئې جوړ کړی دی ستاسو

وَاِلَیْهِ الْمَصِیْرُ ﴿٣﴾ یَعْلَمُ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَیَعْلَمُ

او ده ته دے بیا ورتلل پوهیږی دی په هغه چه په اسمانو کښې دی او چه په ځمکه کښې دی او پوهیږی په

مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ۚ وَاللّٰهُ عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٤﴾

هغه چه پټ ئې کوی تاسو او په هغه چه ښکاره ئې کوئ او خدای عالم دی په خبرو د سینو باندې

اَلَمْ یَاْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِیْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ۫ فَذَاقُوْا وَبَالَ

ایا نه دی راغلی تاسو ته خبر د هغه کسانو چه کافران شوی وو مخکې له دې څخه نو وڅکلو دوی عذاب

اَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿٥﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهٗ كَانَتْ تَّاْتِیْهِمْ

د کار خپل او هغوی لره عذاب دردونکی دی دا کار په سبب د دے دی چه وو راتلل به هغوی ته

رُسُلُهُمْ بِالْبَیِّنٰتِ فَقَالُوْٓا اَبَشَرٌ یَّهْدُوْنَنَا ۫ فَكَفَرُوْا وَتَوَلَّوْا

پیغمبران د دوی په بخښونو ښکاره سره نو ویل به هغوی ایا انسان دے چه لاره ښئي مونږ ته نو کافر به شول او وبه ګرځیدل

وَّاسْتَغْنَی اللّٰهُ ۚ وَاللّٰهُ غَنِیٌّ حَمِیْدٌ ﴿٦﴾ زَعَمَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ

او بې پروا دے خدای الله بې پروا دے ثنائی ویلے شوی دی دعوه کړی ده هغه کسانو چه کافران شوی دی چه

ف ١

په حدیث شریف کښې راغلي دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی چه څلویښت ورځې نطفه په رحم کښې امانت پرته وی بیا څلویښت ورځې کلکه وینه شی بیا څلویښت ورځې قطعه د غوښې شی بیا پرښتې راشي او پوښتنه وکړی د الله تعالی څخه چه سړی ئې کړم او که ښځه چه څرنګ حکم وته وشي هم هغه قسم ئې کړی بیا پوښتنه وکړی چه نیک به وي یا بد نو هر رقم تقدیر چه ئې هم هغسې شی ١٢ ۔

ف ٢

د دوی دا سوچ وو چه پیغمبر بنی اٰدم نه شي کیدلای خامخا بد یا پرښته او یا پیری وي حالانکه دا د دوی نادانی او بې عقلي وه ځکه چه د بنی اٰدم د پوهولو او پر لاره سمولو لپاره بنی اٰدم په کار ده . تر دی پورې چه که د خپل قوم او خپل ملک سړی وي لا به زیاته فائده وي ١٢ وحیدي

ځ د هیچا عبادت ته محتاج نه دی ١٢

وحیدي

لَّنْ يُّبْعَثُوْا ۭ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۭ

هیڅکله به پورته نکړل شي دوئ وواېه ته خامخا به پورته کړل شې تاسو بیابه خبر کړل شئ پر هغه چه کړي مو دي

وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝٧ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ

او دا کار پر خدای باندې اسان دی نو ایمان راوړئ پر خدای او پر رسول د ده او پر هغه نور (قران)

اَنْزَلْنَا ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝٨ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ

چه نازل کړی دی مونږ او خدای پر هغه چه تاسوئی کوی خبردار دی هغه ورځ چه یوځای به کړي تاسو ورځي د یوځای کېدلو ته

ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ۭ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ

دغه ورځ د ظاهرېدلو دګټې او تاوان ده او هرچا چه ایمان راوړي پر خدای باندې او عمل ئې وکړ نیک وبه رژوي

عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

له هغه څخه ګناهونه د ده او داخل به کړي دی باغونو ته چه بهیږي به د لاندې د هغه بیالې

خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝٩ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

تل به وي په هغه کښې همیشه دا بری دی لوئ او هغه کسان چه کافران شوی دي

وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰۗىِٕكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ وَبِئْسَ

او نسبت د دروغو کوی ایتونو زمونږ ته دغه کسان یاران د اور دي همیشه به وي په هغه کښې او بد ځای

الْمَصِيْرُ ۝١٠ ع مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ وَمَنْ

دی تلو دپاره د دوزخ نه رسیږي هیڅ غم له مګر په حکم د خدای سره او هرچا چه

يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ يَهْدِ قَلْبَهٗ ۭ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝١١ وَاَطِيْعُوا

ایمان راوړي پر خدای باندې لار به وښیي زړګي د هغه ته او خدای په هر شي باندې عالم دئ او خبره منئ

اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاِنَّمَا عَلٰي رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ

د خدای او خبره منئ د رسول نو که وګرځېدلئ تاسو نو بېشکه دا خبره ده چه پر رسول زمونږ باندې د رسول دي

الْمُبِيْنُ ۝١٢ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝١٣

ښکاره خدای چه دئ نشته لائق د عبادت بل مګر هغه دئ او پر خدای باندې نو توکل دې وکړي مؤمنان

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ

ای هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دی بېشکه چه بعضې له ښځو ستاسو څخه او له اولاد ستاسو څخه دښمنان دي تاسو ته

ف ١

یعنې هرچا ته چه څه غم ورسیږي
نو دی دې یقین وکړي
چه دا له طرفه د خدای څخه
دئ او دا زما په تقدیر کښې
لیکلے وو او صبر دې پرې
وکړي نو الله تعالیٰ به
ئې عوض د هغه ور کړي. په
صحیح بخاري او مسلم کښې
روایت دی چه رسول الله
صلی الله علیه وسلم فرمایلي
دي چه د مؤمن حال عجیب
دئ هر حکم چه د خدای تعالیٰ
پر ده باندې جاری کړي
نو هغه د ده په حق د ده کښې
بهتر دی که د ده ته تکلیف
ورسیږي نو صبر پرې
وکړي په دی کښې هم د ده خیر
دی او که ارام شي او شکر
اداء کړي په دی کښې هم د ده
خیر دی دا معامله بی له مؤمن
څخه له بل چا سره نشته ۱۲
ابن کثیر

ع ١٠ ١٥

ف ٢

له دی من تبعیضیه څخه
دا معلومیږي چه بعضې
اولاد او ښځې دسړي دښمنان
نه وي لکه چه رسول الله
صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي
چه بهتره ښځه متاع د
(یعنې نفع د ده) او بهتره دي
متاع ښځه صالحه
ده نور احادیث هم په وصف
د نیکو ښځو او نیک اولاد کښې
ډیر وارد شوي دي ۱۲
روح وغیره

فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ وَاِنْ تَعْفُوْا وَتَصْفَحُوْا وَتَغْفِرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

نو ووېرېږئ له دوئ نه او که عفوه وکړئ تاسو او مخ وګرځوئ او بخښنه وکړئ نو بېشکه چه خدائے بخښونکی دی

رَّحِيْمٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۗ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ

مهربان دی بېشکه دا خبره ده چه مالونه ستاسو او اولاد ستاسو ازمېښت دی او خدای چه دے په نزد د ده اجر دی

عَظِيْمٌ ﴿۱۵﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا وَاَنْفِقُوْا

لوئ نو ووېرېږئ له خدائے نه څومره چه توان مو وی او واورئ او اطاعت کوئ او خیرات کوئ

خَيْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ ۗ وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۶﴾

بهتر لپاره د ځانو خپلو او هغه څوک چه وساتل شو له بخیلئ د ځان خپل نه نو دغه کسان دوئ کامیابېدونکی دي

اِنْ تُقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا يُّضٰعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَاللّٰهُ

که قرض ورکړئ الله تعالٰے ته قرض نېک نو دو چنده به ئی کړی تاسو ته او بخښنه به وکړی تاسو ته او خدای

۲
ع
۸
۱۶
شَكُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۷﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۸﴾ ع

قبلونکی دی صبرناک دی عالم دی پر پټ او پر ښکاره غالب دے خاوند د حکمت دی

سُوْرَةُ الطَّلَاقِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اِثْنَتَا عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د خدای تعالٰی چه بخښونکی دی مهربان دی

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَاَحْصُوا

ای پیغمبره په هغه وخت کښې چه طلاقوئ تاسو ښځې نو طلاقوی هغوئ په وخت د عدت د دوئ کښې او شماری تاسو

الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْۢ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا

عدت او ووېرېږئ له خدای رب خپل نه مه باسئ دوئ له کورو د دوئ نه او نه دی

يَخْرُجْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۗ وَتِلْكَ حُدُوْدُ

بهر وځي مګر که وکړی یو قبیح کار ښکاره او دا حدونه

اللّٰهِ ۗ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ۗ لَا تَدْرِيْ

د خدای دی او هغه څوک چه ووځی له حدود د خدای نه نو په تحقیق سره ظلم ئی وکړ پر ځان خپل نه پوهېږې ته

لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ﴿۱﴾ فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ

چه ښائی خدائے پیدا کړی وروسته له دې نه یو کار نو هر کله چه ورسیږی هغوی نیټې خپلې ته

ﻟﮧ په دی ایت شریف کښې اشاره دی ته ده چه دری طلاقه په یو وار ورکول مکروه دي ځکه چه رجوع ښځې ته وروسته له دریو طلاقو جائز نه ده بغیر له حلالې نه. په صحیح مسلم کښې له جابر رضی الله تعالٰے عنه نه روایت دی چه ما اورېدلی دی له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه ابلیس خپل تخت پر اوبو واچوی بیائی لښکری د شیطانانو لپاره د ګمراه کولو د خلقو په ځمکه کښې ولیږی نو هغه د پر نږدی ده ته هغه ډېر ګمراه کونکی د خلقو د هغوئ وی، نو یو له دوئ نه راشی ده ته وو وائی چه ما داسی کار ونه وکړل هغه ګناهونه یاد وی چه په انسانانو ئی کړی وي نو دی ورته ووائی چه تا هیڅ کار نه دے کړی بیا ورته بل د هغوی راشی او ورته ووائی چه ما هغه بنده نه پرېښوو او د ده او ښځې په مابین کښې می جدائی راوسته نو دا شیطان هغه کس ځان ته رانږدی کړی او په غیږ کښې ئی ونیسی غرض دا چه شیطان په طلاق ورکولو ډېر خوشحالیږی ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی مَبْغُوْضُ الْمُبَاحِ اِلَى اللّٰهِ الطَّلَاقُ. مبغوض د مباحاتو الله تعالٰی ته طلاق دے ۱۲

روح وغیره

سه یعنې چه موافقت ئی سره راولی او رجوع وکړی ورته ۱۲

مه یعنې الله تعالٰی چه دا مال او اولاد تاسو ته درکړی دی ازمېښت ده پاندی کوی چه تاسو الله تعالٰی یادوئ او که ئې هېروئ په اولاد پسې کېږئ ۱۲

ماشاء الله لا حول ولا قوة الا بالله العظیم

فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ

نو بند وئ هغوئ په ښه شان سره او یا جلا کړئ هغوی په ښه شان سره او شاهدان درولئ دوه کسان

عَدْلٍ مِّنكُمْ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ ۚ ذَٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِ مَن كَانَ

دانصاف له تاسو څخه او دروئ تاسو شاهدي لپاره دخدای دا خبره نصیحت کیږی په دې سره هغه چا ته

يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ

چه ایمان راوړی په خدای او په ورځې اخیرنی او هغه څوك چه ویریږی له خدایه څخه نو وبه ګرځوی هغه لره

مَخْرَجًا ﴿٢﴾ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَن يَتَوَكَّلْ

لاره دوتلو او روزی به ورکړی هغه ته له هغه طرفه څخه چه ګمان به ئی نه کیږی او هغه څوك چه توکل وکړی

عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ ۚ إِنَّ اللَّهَ بَالِغُ أَمْرِهِ ۚ قَدْ جَعَلَ اللَّهُ لِكُلِّ

پر خدای نو دبس دی هغه لره بیشکه چه الله تعالیٰ پوره کونکی دارادې خپلې دئ په تحقیق سره ګرځولی دی خدای

شَيْءٍ قَدْرًا ﴿٣﴾ وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ

هر شی لره اندازه او هغه ښځې چه ناامیده شی له حیضه څخه له ښځو ستاسو څخه که په

ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ ۚ وَأُولَاتُ

شك کښې ئی تاسو نو عده د هغوئ دری میاشتې دي او هم دارنګه هغه ښځې چه نه وی حائضې او حاملې

الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل

ښځې نیټه د هغوی داده چه وزیږوی حمل خپل او هغه څوك چه ویریږی له خدای څخه نو وبه ګرځوی

لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا ﴿٤﴾ ذَٰلِكَ أَمْرُ اللَّهِ أَنزَلَهُ إِلَيْكُمْ ۚ وَمَن يَتَّقِ

هغه ته له کاره دده څخه اسانی دا حکم د خدای دی نازل کړی ئی دی تاسو ته او هغه څوك چه ویریږی

اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا ﴿٥﴾ أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ

له خدایه څخه نو وبه رژوی له ده څخه ګناهونه دده او لوی به کړی ده لره ثواب او سوئ دا ښځې چیری

حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا

چه اوسیږئ تاسو دخپل توان مطابق او ضرر مه رسوئ دوی ته چه تنګې به راولی تاسو

عَلَيْهِنَّ ۚ وَإِن كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ

پر دوی باندې او که چیری وی دوی حملداری نو خرڅ لګوئ پر دوی باندې ترڅو چه

بقیه صفحه ۶۷۳

ع

روایت دی چه عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنه په حال د حیض کښې طلاقه کړه. رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم ورته وویل چه رجوع وکړه په هغه وخت کښې چه له حیضه څخه پاکه شی. که دې بیا خوښه شی بیائی طلاقه کړه پدی باب کښې دا ایت راغلی چه یا ایها النبی. ای پیغمبره ووایه امت خپل ته اذا طلقتم النساء هر کله چه طلاق ورکوئ خپلو ښځو ته صغیره حامله او ائسه نه نه وي فطلقوهن لعدتهن نو طلاق ورکړی دوئ ته په عده د دوی کښې یعنی طهر بی جماع کښې ۲

تفسیر ابن کثیر و غیره ملخصاً

يضعن حملهن ۚ فإن أرضعن لكم فآتوهن أجورهن ۖ وأتمروا

چه وضع یې د خپل حمل، که تی ورکاوه لپاره ستاسو نو ورکوئ دوی ته مزدورۍ د دوی او امر کوئ

بينكم بمعروف ۖ وإن تعاسرتم فسترضع له أخرى ⑥

په منځ خپل کښې په نیکۍ سره او که سختي وکړه تاسو نو تی به ورکوي هغه ته بله ښځه

لينفق ذو سعة من سعته ۖ ومن قدر عليه رزقه

نفقه دې کوي خښتن د طاقت له طاقته خپله څخه او هغه څوك چه تنګ کړې شوه پر هغه روزي د هغه

فلينفق مما آتاه الله ۚ لا يكلف الله نفسا إلا ما آتاها ۚ

نو خرچ دې کوي له هغه څخه چه ورکړې وي ته خدای تکلیف نه کوي خدای پر هیڅ نفس مګر په قدر چه ورکړې ئې وي هغه ته

ع ٧ ١٧ سيجعل الله بعد عسر يسرا ⑦ وكأين من قرية عتت

ژر دی چه وبه ګرځوي خدای ورپسته له سختۍ څخه اساني او ډیر وو له کلیو څخه چه سرکشي ئې کړې وه

عن أمر ربها ورسله فحاسبناها حسابا شديدا وعذبناها

له حکمه د رب خپل څخه او له رسولانو د ده څخه نو حساب به وکړو مونږ له هغو سره حساب سخت او په عذاب مو کړل هغوي

عذابا نكرا ⑧ فذاقت وبال أمرها وكان عاقبة أمرها

په عذاب بد سره نو وڅکلې هغه عذاب د کار خپل او وو اخیر کار د هغه

خسرا ⑨ أعد الله لهم عذابا شديدا ۖ فاتقوا الله يا أولي

تاوان تیار کړې دی خدای هغوی لره عذاب سخت نو وویرېږئ له خدای څخه ای خاوندانو

الألباب ۚ الذين آمنوا ۚ قد أنزل الله إليكم ذكرا ⑩ رسولا

د عقلو هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی په تحقیق نازل کړې دی خدای تاسو ته نصیحت یعنې رسول

يتلو عليكم آيات الله مبينات ليخرج الذين آمنوا وعملوا

چه وائي پر تاسو باندې ایتونه د خدای بیانونکي چه او باسي هغه کسان چه ایمان ئې راوړی وي او عمل ئې کړې وي

الصالحات من الظلمات إلى النور ۚ ومن يؤمن بالله ويعمل

د نیکو له تیارو څخه رڼا ته او هر چا چه ایمان راوړی پر خدای او عمل کوي نیك

صالحا يدخله جنات تجري من تحتها الأنهار خالدين فيها

نیك داخل به کړي دی خدای په باغونو چه بهیږي به د لاندې د هغې ویالې همیشه به وي په هغه کښې

ف ١
یعنی د دحیضه نی عدة وفرمایله او په هغه صورت کښې چه حیض ئې لا را غلی نه وي او یا په ډیر عمر سره ئې حیض موقوف شوی وي نو د هغې عدت درې میاشتې دي ١٢

ف ٢
یعنی د حامله ښځې چه خاوند مړ شي. نو په مال د خاوند کښې دی خرچ و خوراك ور کول کیږي تر څو چه هغه حمل ورېږد وي او بعضو ویلي دي چه دا حکم په هغه صورت کښې دی چه حامله ښځه طلاقه کړل شي او په صورت د وفات د خاوند کښې ئې خرچ خوراك نسته. مګر صرف په میراث کښې به خپله حصه اخلي والله تعالی اعلم وعلمه اتم واحکم

منه رح

ف ٣
دا وعدة د الله تعالی پوره شوه چه مسلمانان ډیر غریبانان وو او په ډیر تنګۍ سره به ئې ګذاره کوله. الله تعالی روزي ورکړه د روم او ایران پاچاهي په لاس ورغلل مالداره شول ١٢

معانقه ١٢

اَبَدًا ؕ قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا ﴿۱۱﴾ اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّ

بی نهایته په تحقیق ښه کړی دی خدای ده لره رزق هغه خدای ذات دی چه پیدا کړی ئی دی اوه اسمانونه

مِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ ؕ یَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَیْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ عَلٰی

او له ځمکې څخه په مثل د دې نازلیږی حکم د ده په منځ د دوی کښی چه تاسو یوه شئ چه بیشکه خدای پر

كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۙ۬ وَّ اَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا ﴿۱۲﴾ ع

هر شی باندې قادر دی او بیشکه چه خدای په تحقیق چاپیره دی پر هر شی له جهته د علم

سُوْرَةُ التَّحْرِیْمِ مَدَنِیَّةٌ وَّهِیَ اِثْنَتَا عَشَرَةَ اٰیَةً وَّفِیْهَا رُكُوْعَانِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

شروع کوم په نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ۚ تَبْتَغِیْ مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ ؕ

ای پیغمبره ولی حراموې ته هغه چه حلال کړی دی خدای تا ته غواړې ته رضا د بیبیانو خپلو

وَ اللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱﴾ قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَیْمَانِكُمْ ۚ

او خدای بخښونکی دی مهربان دی په تحقیق مقرر کړی دی خدای تاسو ته حلالوالی د قسمو ستاسو

وَ اللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَ هُوَ الْعَلِیْمُ الْحَكِیْمُ ﴿۲﴾ وَ اِذْ اَسَرَّ النَّبِیُّ اِلٰی

او خدای مددگار ستاسو دی او دی عالم خاوند د حکمت دی او هغه وخت چه پټه وکړه پیغمبر

بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ حَدِیْثًا ۚ فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ وَ اَظْهَرَهُ اللّٰهُ عَلَیْهِ

بعضې بیبیانو خپلو ته یوه خبره نو هر کله چه خبر ورکړ هغې بی بی په هغه خبره او ښکاره کړ حال خدای پر پیغمبر باندې

عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَ اَعْرَضَ عَنْۢ بَعْضٍ ۚ فَلَمَّا نَبَّاَهَا بِهٖ قَالَتْ

نو ظاهره ئی کړل بعضې او اعراض ئی وکړله بعضو څخه نو هر کله چه خبره ئی کړه بی بی پر هغه وویل هغې

مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا ؕ قَالَ نَبَّاَنِیَ الْعَلِیْمُ الْخَبِیْرُ ﴿۳﴾ اِنْ تَتُوْبَاۤ اِلَی

چه چا خبر کړی ئی ته پر دې وویل پیغمبر چه خبر کړم زه عالم خبردار خدای که توبه وکاږئ تاسو دواړه

اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا ۚ وَ اِنْ تَظٰهَرَا عَلَیْهِ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ

خدای ته نو په تحقیق کاږه شوی دی زړونه ستاسو او که مرسته کوئ پر دې پیغمبر بیشکه خدای دی

مَوْلٰىهُ وَ جِبْرِیْلُ وَ صَالِحُ الْمُؤْمِنِیْنَ ۚ وَ الْمَلٰٓىِٕكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ

مددگار د ده دی او جبرائیل ئی مددگار دی او صالح د مؤمنانو ئی مددگار دی او پرښتې ئی وروسته له دې څخه

ف۱ یعنې په مثل د دوی یعنې اوه ځمکې ئی جوړې کړې یا خو جلا جلا په شان د اسمانونو او یا اوه طبقې دي چه یوه له بلې سره مښتې ده په حدیث شریف کښی راغلی دی هر چا چه یوه لوېشت ځمکه لېچا څخه په ظلم قبضه کړه نو ده ته به په ورځ د قیامت له اوو ځمکو څخه طوق په غاړه کښې واچولی شي په یوه دعا کښې هم داسې راغلی دي چه یا الله د اوو اسمانونو او د اوو ځمکو مالکه ۲

ف۲ یَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَیْنَهُنَّ نازلیږی حکم د ده په منځ د دوی کښی یعنی وحی لیږي په منځ د دوی کښی له اسمان څخه د ځمکې ته او ویل شوی دي چه مراد له امر څخه تدبیر د ده په دوی کښې چه له عجائبو د ده څخه نازلول د باران دی او راوستل د شپې او د ورځې دي او د ژمي او د اوړي دي او پیدا کول د حیوانانو دي په مختلفو شکلونو او ګرزول د ده له یو حال څخه بل حال ته او حکم د ده پر بعضو د مرګ او بعضو ته د ژوند و داسې نور

ف۳ په خازن کې روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم شات ډیر خوښول او چه بی بی زینب رضی الله تعالی عنها به ورغلی نو هغې به ورته حاضر کړل څکه چه هغې خپلوان د کلیو څخه ورته عسل ئی راوړل بی بی عائشه او بی بی حفصه رضی الله عنهما به ډیر وخت تیرولو د رسول الله له زینب سره ډیری خفه کیدلې نو مشوره ئی سره وکړه چه هر وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم دې له کوم راشي نو ورته وایاست څه مو بوی سره ئی بو ځلې شي نو ورته وایو چه ستا د خولې څخه بوی د مغافیر راځي او مغافیر چه ډیر خوږ شي وي ولیکن بد بوئي ئی درلوده او د رسول الله له بدبوئی څخه ډیر نفرت کیدی نو هر کله چه رسول الله د بی بی حفصې رض کره راغلی نو حفصې رض ورته وویل چه ما ته ستا د خولې څخه بوی د مغافیر راځي نو رسول الله وویل چه ما د بی بی زینب رض په کور کښی شات وڅښل اینده پر ما باندې حرام دي چه بیا به ئې نه څښم او حفصې رض ته ئی وویل چه دا حال اما نت وساته څوک مه

خبروه. نو الله تعالیٰ دا آیتونه په رسول الله صلی الله علیه وآله واصحابه وسلم باندې نازل کړل ۱۲ بخاری، مسلم، روح البیان، وغیره

ظَهِيْرٌ ۝٤ عَسٰى رَبُّهٗۤ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهٗۤ اَزْوَاجًا خَيْرًا

مددګار دي ښائي چه رب د ده که طلاق کړي تاسو چه بدل به ورکړي ده ته ښځې بهترې

مِّنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ

له تاسو څخه مسلمانانې مومنې طاعت کونکې توبه کښونکې عبادت کونکې روژه نیونکې

ثَيِّبٰتٍ وَّاَبْكَارًا ۝٥ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ

خاوند لیدونکې او انجونې ای هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دی وساتئ ځانونه خپل او عیال خپل

نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ

له اور څخه چه خاشاک د هغه خلق دی او کاڼي دی مسلط دي پر هغه باندې پرښتې سخت زړه والا طاقتمنې

لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَاۤ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ۝٦ يٰۤاَيُّهَا

نافرماني نه کوی له خدای څخه په هغه کښې چه حکم ئې کړې وي دوی ته او کوی هغه چه حکم ورته کیږی ای هغه

ع ١ ١٩ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ ؕ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝٧ ع

کسانو چه کافر شوي دی عذر مه کوی نن ورځ بیشکه دا خبره ده چه جزا درکول کیږی د هغه چه وئ تاسو کول به مو

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْۤا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ؕ عَسٰى رَبُّكُمْ

ای هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دی توبه وکاږئ خدای ته توبه خالصه له ښائی چه رب ستاسو

اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

چه ورژوي له تاسو څخه ګناهونه ستاسو او ننه به باسي تاسو باغونو ته چه بهیږي به د لاندې د هغه

الْاَنْهٰرُ ۙ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللّٰهُ النَّبِيَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ ۚ نُوْرُهُمْ

ویالې ورځ هغه چه رسوا به نکړي خدای پیغمبر او هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دی له ده سره نور د دوی به

يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَاۤ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا

زغلي په مخکې د دوی او په راسته طرف د دوی وائی به ای ربه زمونږ پوره کړه مونږ ته نور زمونږ

وَاغْفِرْ لَنَا ۚ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝٨ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ

او بخښنه وکړه مونږ ته بیشکه چه ته په هر شي باندې قادر ئې ای پیغمبره (علیه السلام) جهاد کوه

الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ؕ وَمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ

له کفارو سره او له منافقانو سره او سختی کوه پر هغوی باندې او ځای د هغوی دوزخ دی او بد ځای

له

عالمانو رحمهم الله تعالی ویلی دي چه خالصه توبه دا ده چه سمدستي في الحال ګناه پریږدي او په تیرو ګناهو باندې شرمنده او پښیمانه شي او ټینګ قصد وکړي چه اینده به هیڅکله داسې ګناهونه نکړم او که د چا حق ور باندې وي نو هغه ورته ورسوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل ای خلقو الله تعالی ته توبه وکاږئ په تحقیق سره زه الله تعالی ته توبه کاږم زر واره یا سل واره.. ابو هریره رضی الله تعالی عنه ویلی دي چه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ما اورېدلي دي چه ویل به ئې چه قسم پر خدای چه زه په ورځ کښې له اویا واره څخه زیات بخښنه له الله تعالی څخه غواړم او توبه کاږم. دا روایت امام بخاری رحمه الله کړی دی ۱۲ روح البیان او ابن کثیر رح

عه

هر کله چه په ورځ د قیامت کفار دوزخ ته مخامخ شي نو داسې به ورته وویل شي چه یا ایها الذین کفروا

+ + + + +

الْمَصِيرُ ﴿۹﴾ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوحٍ وَّامْرَاَتَ

دوزخ ته دی او دوزخ بیا نوی ځای دی مثال لپاره د هغه کسانو چه کافران شوی دي د ښځې د نوح علیه السلام او د ښځې

لُوطٍ ؕ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا

د لوط علیه السلام چه وې هغه دواړه لاندې تر دوو بندګانو له بندګانو زمونږ نه چه نیکان وو نو خیانت ئې وکړه له هغوی نه

فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْئًا وَّقِيلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ

نو هیڅ دفع ئې ونکړه له هغه دواړو ښځو نه عذاب د خدای څخه هیڅ شی او وویل شو چه ننوځئ دواړه اور ته سره

الدّٰخِلِينَ ﴿۱۰﴾ وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ

له داخلیدونکو او بیان نوی خدای مثال هغه کسانو چه ایمان ئې راوړی دی د ښځې د فرعون

اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِي عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِنْ

هغه وخت چه وویل هغې ای ربه زما جوړ کړې ما ته په نزد ستا کور په جنت کښې او خلاص کړې ما له

فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِينَ ﴿۱۱﴾ وَمَرْيَمَ

فرعون څخه او له عمله د ده څخه او خلاص کړې ما له قومه ظالمانو څخه او مریمه رض

ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِي اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِنْ رُّوحِنَا

لور د عمران هغه چه ساتلې ئې وو اندام خپل نو پو کړل مونږ په هغه کښې له روح خپل څخه

وَصَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهٖ وَكَانَتْ مِنَ الْقٰنِتِينَ ﴿۱۲﴾ ع

او باور کړی ؤ هغې پر کلمو د رب خپل او پر کتابو د هغه او وه هغه له طاعت کونکو څخه

سُوْرَةُ الْمُلْكِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

سورة ملك په مكه كښې نازل شوې ده او دیرش ایته او دوه رکوع دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

تَبٰرَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ ۟ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرُ ۨ ﴿۱﴾

ډیر برکتناک لوی هغه ذات چه په لاس د قدرت د هغه کښې پاچاهي ده او دی په هر شي باندې قادر دی

الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا ؕ

هغه خدای چه پیدا کړی ئې دی مرګ او ژوندون چه ازمایښت وکړی ستاسو چه کوم یو له تاسو څخه نیک دی له جهته د عمله

سه په دې مثال کښې الله تعالیٰ کافرانو ته دا خبری بیان وکړه چه له کفره سره هیڅ نیکی فائده نه رسوی تر څو چه قرابت او خپلوی د پیغمبر هم هیڅ فائده نه لری ۱۲

سه ۲ په دې مثال کښې الله تعالیٰ مؤمنانو ته تسلی ورکړه چه ستاسو د نجات لپاره ستاسو ایمان کافی دی که څه هم تاسو په کفارو کښې اوسیږئ او د دوی په لاس کښې ګرفتار ئې هم ۱۲ منه

سه ۳ خیانت د هغوی دا وو چه په ظاهر کښې ئې ځانونه مسلمانان کړی وو او په حقیقت کښې کافرانې وې له کافرانو سره ئې محبت وو او د نوح علیه السلام بی بی به خلقو ته ویل چه دی لیونی دی ځکه چا چه به ایمان پری راوړی نو هغه مشران کافرانو به ئې ورباندې خبر کړل. او د لوط علیه السلام بی بی به کافرانو ته خبرې رسولې او که به څوک میلمه ورته راغلی نو د هغه حال به ئې ورته بیانوئ ۱۲

سه ۴ له ابی هریرة رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه په تحقیق سره په قرآن کښې یو سورت دی دیرش ایته دی یو سړی په حق کښې ئې شفاعت وکړ تر څو چه هغه وبخښل شو چه هغه سورت د تَبٰرَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ دی دا روایت امام احمد او ابوداؤد او نسائی او ابن ماجه کړی دی ۱۲ فتح البیان او روح ۵ په حدیث شریف کښې راغلی دی چه دا سورت ملك عذاب منع کوی د قبر نه دا غواړم چه هر یو سړی زما د امت دې دا سورت یاد کړی. په فضیلت د دې سورت کښې نور احادیث هم ډیر راغلی دی ۱۲

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ ﴿٢﴾ الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا ۖ مَا

اودی غالب بخښونکی دي هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی دی اوه اسمانونه لاندی باندی نه

تَرَىٰ فِي خَلْقِ الرَّحْمَٰنِ مِن تَفَاوُتٍ ۖ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ

وینی په پیدائښت دخدای کښی هیڅ خلل نو وګرزوه نظر ایا

تَرَىٰ مِن فُطُورٍ ﴿٣﴾ ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ يَنقَلِبْ إِلَيْكَ

وبه وینی کوم یو چاودل بیا وګرزوه نظر دوه ځله راوبه ګرزی تاته

الْبَصَرُ خَاسِئًا وَهُوَ حَسِيرٌ ﴿٤﴾ وَلَقَدْ زَيَّنَّا السَّمَاءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ

نظر ذلیله اودی به ستومانه وي اوخامخا په تحقیق سره ښائسته کړی دی مونږ داسمان نژدی په ډیوو سره

وَجَعَلْنَاهَا رُجُومًا لِّلشَّيَاطِينِ ۖ وَأَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ السَّعِيرِ ﴿٥﴾

اوګرزولی مودی دا ډیوی ویشتونکی شیطانانو لره اوتیار کړی مودی دوی لره عذاب سوځونکی

وَلِلَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٦﴾ إِذَا

اولپاره دهغه کسانوچه کافران شوی دی په رب خپل باندی عذاب د دوزخ دی اوبدځای دی ورتلو دا دوزخ هر کله

أُلْقُوا فِيهَا سَمِعُوا لَهَا شَهِيقًا وَهِيَ تَفُورُ ﴿٧﴾ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ

چه وغورزول شی دوی په هغه کښی وابه وری هغه ته نوی اواز او هغه جوشیږی نژدی دی چه وچوی له

الْغَيْظِ ۖ كُلَّمَا أُلْقِيَ فِيهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ

قهره څخه هر کله چه وغورزول شی په هغه کښی تولی پوښتنه به وکړی له دوی څخه خزانچیان د هغه ایا نه وو راغلی تاسو ته

نَذِيرٌ ﴿٨﴾ قَالُوا بَلَىٰ قَدْ جَاءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللَّهُ

ته ویرونکی وبه وائی هغوی هو په تحقیق سره راغلی وو مونږ ته نو نسبت د دروغو وکړ مونږ چه نه دی نازل کړی خدای

مِن شَيْءٍ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ كَبِيرٍ ﴿٩﴾ وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ

هیڅ شی نه ئی تاسو مګر په ګمراهی لوئی کښی اووائی به دوی که وای مونږ چه اوریدلی مو

أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿١٠﴾ فَاعْتَرَفُوا بِذَنبِهِمْ

اویا مو عقل وای نو نه به وو مونږ په یارانو د دوزخ کښی نو قائل شول په ګناه خپله

فَسُحْقًا لِّأَصْحَابِ السَّعِيرِ ﴿١١﴾ إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ

نو لیری والی دی ملګرو د دوزخ لره بیشکه هغه کسان چه ویریږی له رب خپل څخه په غائبانه ؎۲

ف۱

مراد له نذیر څخه پیغمبر دی ابو هریره رضی الله تعالی عنه روایت کړی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چه زه نذیر یم یعنی ویرونکی یم د خلقو له عذاب څخه او مرلی لوټ کونکی دي او قیامت ځای دوعدی دی ۱۲

روح البیان

ف۲

مراد له غائبانه ویری څخه دا ده چه دوی عذاب دخدای ج لیدلی نه وي او ور څخه ویریږی او پر الله تعالی باندی ایمان راوړی، یا معنی دا چه له خلقو څخه پټ له الله تعالی څخه ویریږی او عبادت ئی کوی. روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به لمونځ کاوه او د سینی مبارکی به ئی دکټوی په شان شرنګهار وو ۱۲ ۱۲

روح وفتح

لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿١٢﴾ وَاَسِرُّوْا قَوْلَكُمْ اَوِاجْهَرُوْا بِهٖ ؕ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ

دوی لره بخښنه ده او ثواب دی لوی او پټه کړئ خبره خپله یا جهر وکړئ پردے بیشکه دا خدای عالم دی

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿١٣﴾ اَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ ؕ وَهُوَ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ ﴿١٤﴾ ع ١٢

په خبرو د سینو باندې ایا ؟ نه پوهیږي هغه ذات چه پیدا کښت ئې کړی دی او دے باریک بین دی خبردار دی

هُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ ذَلُوْلًا فَامْشُوْا فِيْ مَنَاكِبِهَا وَكُلُوْا

دے هغه ذات دی چه ګرزولې ئې ده تاسو لره ځمکه تابع نو ځئ په لارو د دے کښې او خورئ

مِنْ رِّزْقِهٖ ؕ وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ ﴿١٥﴾ ءَاَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَآءِ اَنْ

له روزئ د ده څخه او ده ته دی پورته کیدل (پس مرګه) ایا په امن کښې ئې له هغه ذات څخه چه په اسمان کښې دی چه

يَّخْسِفَ بِكُمُ الْاَرْضَ فَاِذَا هِيَ تَمُوْرُ ﴿١٦﴾ اَمْ اَمِنْتُمْ مَّنْ فِي السَّمَآءِ

ډوبه کړي پر تاسو باندې ځمکه نو ناڅاپه دا به کړیږي او که په امن کښې ئې له هغه ذات څخه چه په اسمان کښې دی

اَنْ يُّرْسِلَ عَلَيْكُمْ حَاصِبًا ؕ فَسَتَعْلَمُوْنَ كَيْفَ نَذِيْرِ ﴿١٧﴾ وَلَقَدْ

چه راولیږي پر تاسو باندې باران د کاڼو نو ژر دے چه پوه به شئ تاسو چه څرنګه وو ویرول زما او خامخا په یقین سره

كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿١٨﴾ اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الطَّيْرِ

نسبت د دروغو کړې وو هغه کسانو چه مخکښې له دوی څخه وو نو څرنګه وو عذاب زما ایا نه ګوري دوی مرغانو ته

فَوْقَهُمْ صٰٓفّٰتٍ وَّيَقْبِضْنَ ؔۘ مَا يُمْسِكُهُنَّ اِلَّا الرَّحْمٰنُ ؕ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَيْءٍ

له پاسه د دوی چه غوړوي وزرونه او راټولوي ئې نه ئې نیسي دوی په هوا مګر الله بیشکه چه دے په هر شي باندې

بَصِيْرٌ ﴿١٩﴾ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ هُوَ جُنْدٌ لَّكُمْ يَنْصُرُكُمْ مِّنْ دُوْنِ

لیدونکی دی ایا څوك دے هغه چه دے لښکر ستاسو چه مرسته کوي ستاسو بې له

الرَّحْمٰنِ ؕ اِنِ الْكٰفِرُوْنَ اِلَّا فِيْ غُرُوْرٍ ﴿٢٠﴾ اَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ يَرْزُقُكُمْ

خدای څخه نه دی کافران مګر په غلیدلو کښې ایا څوك دی چه روزي درکړي تاسو ته

اِنْ اَمْسَكَ رِزْقَهٗ ۚ بَلْ لَّجُّوْا فِيْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ ﴿٢١﴾ اَفَمَنْ يَّمْشِيْ مُكِبًّا

که چیرې بند کړي روزي خپله بلکه ټینګ شوي دي په سرکشۍ کښې او په تیښته کښې ایا نو هغه څوك چه ځي نسکور

عَلٰى وَجْهِهٖٓ اَهْدٰٓى اَمَّنْ يَّمْشِيْ سَوِيًّا عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢٢﴾

پر مخ خپل باندے ښه لاره پیدا کونکی او که هغه څوك ځي برابر پر لاره ف ٢ سمه باندې

ف ١

په حدیث شریف کښې راغلي دي چه رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فرمایلي دي چه الله مینه کښي هغه بنده لا چه کسب کوي محنت او مزدوري کوي او خوراك ورڅخه کوي. یعنې په خپلو متو ځان ته قوت لایموت حاصلوي ١٢

ف ٢

دا مثال الله تعالی بیان کړ د کافر او مؤمن په دنیا کښې چه مؤمن پر سمه لاره روان دی او کافر سرګړ باندي په اخرت کښې هم مومن سم پر پل صراط باندي روان تیر شي وجنت ته به ورسیږي او کافر به پر مخي پر مخ روان وي چه دوزخ ته به ورسیږي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چا پوښتنه وکړه چه په مخ باندي به څرنګه څوك ولاړ شي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه هغه ذات چه په پښو باندي پرتلك ئې دوی قادر کړي دي هغه قادر دی چه پر مخ ئې هم روان کړي ٣ روح وابن کثیر

ف ٣

یعني په ځمکه باندي به زلزله راشي او وبه چاودله شي او تاسو به پکښې ډوب شی حال دا چه تاسو له عذابه د خدای څخه په امن نه ئی ١٢ منه

قُلْ هُوَ الَّذِيٓ اَنْشَاَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ

وواېه ته دا خدای هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی تاسو او ګرځولی ئی دی تاسو ته اوریدل او لیدل او زړونه

قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ هُوَ الَّذِيْ ذَرَاَكُمْ فِي الْاَرْضِ وَاِلَيْهِ

لږ شکر اداکوی تاسو وواېه ته دا خدای هغه ذات دی چه خواره کړی ئی تاسو په ځمکه کښې او ده ته به

تُحْشَرُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٢٥﴾

تاسو جمع کړل شئ او وائی دوی چه کله به وی دا وعده که چیری ئی تاسو رښتینی

قُلْ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۠ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٢٦﴾ فَلَمَّا رَاَوْهُ زُلْفَةً

وواېه ته چه بیشکه دا خبر د دغه علم نزد د خدای دے او بیشکه چه زه ویروونکیم ښکاره نو هر کله چه وینی دوی هغه نژدې

سِيْٓـَٔتْ وُجُوْهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقِيْلَ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ

نو بد شکله شی مخونه د هغه کسانو چه کافر شوی دی او وبه ویل شی چه دا هغه شی دی چه وئ تاسو

بِهٖ تَدَّعُوْنَ ﴿٢٧﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَهْلَكَنِيَ اللّٰهُ وَمَنْ مَّعِيَ

دے به موغوښتی وواېه ته ایا وینئ تاسو که چیری هلاک کړی ما خدای او هغه څوك چه له ما سره دی

اَوْ رَحِمَنَا ۙ فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢٨﴾ قُلْ

او یا رحمت وکړی پر مونږ نو څوك دی چه پناه به ورکړی کافرانو ته له عذابه دردناکه څخه وواېه

هُوَ الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا بِهٖ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ

چه دا خدای مهربان دے ایمان مو راوړے دی په ده باندې او پر ده توکل کړی دی مونږ نو ژر به پوه شئ تاسو چه څوك دی

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٩﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ

په ګمراهی ښکاره کښې وواېه ته ایا وینئ تاسو که چیری وګرځی اوبه ستاسو

غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ﴿٣٠﴾ ع

ډوبې نو څوك به راولی تاسو ته اوبه جاری له

سُوْرَةُ الْقَلَمِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ اِثْنَتَانِ وَخَمْسُوْنَ اٰيَةً فِيْهَا رُكُوْعَانِ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم پر نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ﴿١﴾ مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ ﴿٢﴾ وَاِنَّ

قسم دی پر قلم او پر هغه چه دوی ئی لیکی چه نه ئی ته پر نعمت د رب خپل باندې لیونے او بیشکه چه دی

ف١
په حدیث شریف کښې راغلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چه زما دا خوښه ده چه سورة ملك په زړه د هر یو مؤمن کښې پروت وي یاد ئی وی. د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا عادت وُو چه نه به بیده کیدی څو چه سورة ملك او حم السجدة به ئی ونه ویل. له ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دئ چه یو صحابی پر یو قبر باندې خیمه ولګوله او دی پوه نه وُو چه پر دي ځای قبر دے. ناڅاپه په هغه ځای کښې یو انسان وو چه سورة ملك ئی وایه نو هغه صحابی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلی دا حال ئی ور ته بیان کړ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه دا سورت مانع دے (یعنې عذاب له بنده څخه منع کوي) دا سورت نجات ورکونکی دی. په آثارو کښې راغلی دی چه قاری دے وروسته له ویلو د دے ایته دا دعا وائی چه اَللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ١٢

٢ ع ١٦ ٢

دا حرف هم د الله تعالیٰ له اسرارو څخه دی چه معنیٰ ئی معلومه نه ده. بعضو ویلی دی چه له نون څخه مشوانۍ مراد ده ځکه چه وروسته ئی قلم ذکر دے نو چه قلم او مشوانۍ دواړه د فایدې شیان دي نو ځکه الله تعالیٰ پر دوی قسم وکړ. او بعضو ویلی دی چه مراد له نون څخه هغه ماهی ده چه ځمکه پر ولاړه ده. او بعضی وائی چه نون د قرآن نوم دے ١٢ وحیدی

لَكَ لَاَجْرًا غَيْرَ مَمْنُوْنٍ ﴿۳﴾ وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ﴿۴﴾ فَسَتُبْصِرُ

تالره خامخا ثواب چه نه به قطع کیږي — او بیشکه ته په خوږو لویو یې — نو ژر به وویني ته

وَيُبْصِرُوْنَ ﴿۵﴾ بِاَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ ﴿۶﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ

او دوی به هم وويني چه پر کوم یو له تاسو څخه لیونتوب دے — بیشکه چه رب ستا دے ښه پیژني — هغه څوک

ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۪ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿۷﴾ فَلَا تُطِعِ

چه گمراه شوے دے له لارے دده څخه — او دی ښه پیژني — لاره پیدا کونکي — نو طاعت مه کوه

الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۸﴾ وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ ﴿۹﴾ وَلَا تُطِعْ كُلَّ

ته د دروغ ویونکو — خوښه ده د دوے که ته سستي وکړي نو دوی به هم سستي وکړي — او طاعت مه کوه د هر

حَلَّافٍ مَّهِيْنٍ ﴿۱۰﴾ هَمَّازٍ مَّشَّآءٍ ۢبِنَمِيْمٍ ﴿۱۱﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ

قسم خور سپك (ذليله) — عيب ویونکی وړونکی د چغلي — منع کونکی د خیر له حده څخه تیریدونکی

اَثِيْمٍ ﴿۱۲﴾ عُتُلٍّۢ بَعْدَ ذٰلِكَ زَنِيْمٍ ﴿۱۳﴾ اَنْ كَانَ ذَا مَالٍ وَّبَنِيْنَ ﴿۱۴﴾

گنهکار سرکشه بدخویه وروسته له دی څخه حرامي هم — له دے جهته چه وو دے چه وو دے خاوند د مال او د زامنو

اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا قَالَ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۵﴾ سَنَسِمُهٗ عَلَى

هر وخت چه ویل کیږي پر ده باندی ایتونه زموږ نو وائی دے چه قصی دي د مخکنو خلقو دی نه ژر به داغ داره کړو دوی پر

الْخُرْطُوْمِ ﴿۱۶﴾ اِنَّا بَلَوْنٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ ۚ اِذْ اَقْسَمُوْا

پوزه باندی بیشکه موږ ازمائښت کو ولکه چه ازمائښت موکړی وو پر خاوندانو د باغ باندے هغه وخت چه قسم نه وکړل

لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِيْنَ ﴿۱۷﴾ وَلَا يَسْتَثْنُوْنَ ﴿۱۸﴾ فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ

دوئ چه پریکړي به میوے د هغه وخت د سهار کښے او ان شاء الله ئي ونه ویل نو وگرزیدي پر هغه باغ نوگرزیدونکی

مِّنْ رَّبِّكَ وَهُمْ نَآئِمُوْنَ ﴿۱۹﴾ فَاَصْبَحَتْ كَالصَّرِيْمِ ﴿۲۰﴾ فَتَنَادَوْا

یعنی عذاب له رب ستا څخه او دوی بیده وو نو وگرزیدی هغه باغ لکه ریبل شوے ایستل شوی نو اواز ونه وکړل دوے

مُصْبِحِيْنَ ﴿۲۱﴾ اَنِ اغْدُوْا عَلٰى حَرْثِكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰرِمِيْنَ ﴿۲۲﴾

پر وخت د سهار کښي چه له وخته ورشئ خپل فصل ته که ئی تاسو لوکونکي (ریبونکي)

فَانْطَلَقُوْا وَهُمْ يَتَخَافَتُوْنَ ﴿۲۳﴾ اَنْ لَّا يَدْخُلَنَّهَا الْيَوْمَ عَلَيْكُمْ

نو روان شول او دوے ورو ورو خبرے کولي — چه داخل نه شي دے باغ ته نن ورځ پر تاسو باندي

ف۱ دا آیتونه په شان د ولید ابن مغیرہ کښی نازل شوی دی چه دا ټول عیبونه په ده کښی موجود وو. په تفسیر زاهدی کښی لیکلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ایت شریف په ډله د قریشو کښی پر ولید باندی وواید ده دا ټول عیبونه په خپل ځان کښے یقینے ولیدل مگر حرام زاده د خپل ځان سره وویل چه زه خو مشر او معتبر د قریشو یم او پلار می هم مشهور سړی و او رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم خو هم دروغ نه وائی. بو دا خبر تصدیق نه مرسوم. نو توره ئی د تیکی څخه وایستله او مور ته راغلی چه ته رښتیا راته ووایه چه کنه نو ژر به د سر دے چه زما پلار څوك دے. هغې د ویرے څخه ورته وویل چه ستا پلار نامرده وو او ورور ونه ئی میراث ته په امید و چه دی لاوارثه دئ نو ما د غیرت راغلی نو د فلانکی سړی سره مې خلاصه ایله کړ نو ته د هغه مرئی له حرامي نطفی څخه پیدا شوی ئی"

ف۲ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په بد دعائی سره په کافرانو د مکے باندی داسی قحط سالی او سختی راغله چه هډوکی او مرداری ئی خوړلے او دا باغ په بنی ثقیفو کښی د مومنانو وو د دوی پلار به یوه حصه د میوی د دی باغ د الله تعالی په لاره کښی قربانوله او یوه حصه ځان لپاره او یوه حصه به ئی اقرباؤ ته ورکوله او زامنو ئی بخل وکړ او نیت ئی وکړ چه هیڅ خیرات و نه کړو او مشوره ئی وکړه چه فقیران او مسافران بیده وي میوی د دے به پریکوو. نو الله تعالی د دی بد نیتی د دوی داسی جزا ورکړه چه ټول باغ ئی ختم شو ۱۲ منه رحمه ربه

مِّسْكِيْنٌ ﴿٢٤﴾ وَّغَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ قٰدِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ فَلَمَّا رَاَوْهَا قَالُوْٓا اِنَّا
هیڅ فقیر او سهار کړ دوی په منع کولو د فقیرانو قادر یدونکي نو هر کله چه وئی لیدلے دغه باغ نو وئیل چه بیشکه مونږ

لَضَآلُّوْنَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿٢٧﴾ قَالَ اَوْسَطُهُمْ اَلَمْ اَقُلْ
لاره موورکه کړی ده بلکه مونږ محروم شو وویل مینځنی د دوی نه ایا مانه وو ویلی

لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُوْنَ ﴿٢٨﴾ قَالُوْا سُبْحٰنَ رَبِّنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٢٩﴾
تاسو ته چه ولی تسبیح نه وائی د خدای وویل دوی چه پاکی ده رب زمونږ لره بیشکه چه مونږ ظالمان وو

فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَلَاوَمُوْنَ ﴿٣٠﴾ قَالُوْا يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا
نو مخ کړ بعضو د دوی بعضو نورو ته چه یو بل ئی ملامت کاوه وویل دوی ای هلاک دی مونږ لره بیشکه مونږ

طٰغِيْنَ ﴿٣١﴾ عَسٰى رَبُّنَآ اَنْ يُّبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَآ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا
وو سرکښان نشائی رب زمونږ به بدل را اکړی مونږ ته بهتر له دی نه بیشکه مونږ رب خپل ته

رٰغِبُوْنَ ﴿٣٢﴾ كَذٰلِكَ الْعَذَابُ ۭ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ ۘ لَوْ كَانُوْا
رغبت کونکي یو همداسی دی عذاب او خامخا عذاب د اخرت ډیر لوی دی که چیری وای دوی

يَعْلَمُوْنَ ﴿٣٣﴾ اِنَّ لِلْمُتَّقِيْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٣٤﴾ اَفَنَجْعَلُ
پوهیدلای بیشکه چه پرهیزګارانو لره په نزد د رب د دوی جنتونه د نعمتو دي ایا نو به کرزوو مونږ

الْمُسْلِمِيْنَ كَالْمُجْرِمِيْنَ ﴿٣٥﴾ مَا لَكُمْ ۣ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ ﴿٣٦﴾ اَمْ لَكُمْ
مسلمانان په شان د ګنهګارانو څه دی تاسو لره څرنګه حکم کوئ تاسو ایا که تاسو لره

كِتٰبٌ فِيْهِ تَدْرُسُوْنَ ﴿٣٧﴾ اِنَّ لَكُمْ فِيْهِ لَمَا تَخَيَّرُوْنَ ﴿٣٨﴾ اَمْ لَكُمْ
کتاب دے چه په هغه کښی تاسو لولئ چه بیشکه شته تاسو لره په هغه کتاب کښی شی چه تاسو ئی خوښوئ ایا که دے تاسو لره

اَيْمَانٌ عَلَيْنَا بَالِغَةٌ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۙ اِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُوْنَ ﴿٣٩﴾
قسمونه پر مونږ باندې چه رسیدلی دی تر ورځی د قیامت پوری چه بیشکه شته تاسو لره هغه شی چه تاسو پری حکم کوئ

سَلْهُمْ اَيُّهُمْ بِذٰلِكَ زَعِيْمٌ ﴿٤٠﴾ اَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ ۚ فَلْيَاْتُوْا
پوښتنه وکړه د دوی نه چه کوم یو د دوی په دی باندی ضامن دی ایا دوی لره شریکان دی نو را دی ولی

بِشُرَكَآئِهِمْ اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ
شریکان خپل که وی دوی رښتینی هغه ورځ چه بربنډه به کړلی شی له ربجلی پنډئ څخه

ف۱ وَغَدَوْا عَلٰى حَرْدٍ قَادِرِيْنَ او سحر وختی ئی منع بندولو وکړه روان شول دائی وویل چه اوس به ټوله میوه تر لاسه کړو محرومو څخه

ف۲ مینځنی ورور په دوی کښی ډیر هوښیار وو هغه د مشورې په وخت خبره کړی وه چه الله تعالی جل مجده مه هیروئ د ټول د هغه انعام وشمیرئ او د فقیر او محتاج څخه ډډه مه کوئ. هر کله چه هغوی د هغه خبره ونه منله نو چپ پاته سو او له هغوی سره شریک حال شو اوس چه ئی د اتباهی ولیده نو هغوی ته ئی خپله اولنی خبره را یاده کړله منه رحمه یا معنی دا چه بهتر او هوښیار د دوی ۱۲

ع ۱ ۳۳ ۳

مع ۱۵

وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾ خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ

او رابلل کیږي به دوی سجدې ته نو توان به نه وي دوی ته ښکته به وي سترګې د دوی

تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۖ وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ وَهُمْ

پټ کړې به وي دوی خواري او یقینًا وو دوی چه رابلل کیدل به سجدې ته او دوی

سَالِمُونَ ﴿٤٣﴾ فَذَرْنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا الْحَدِيثِ ۖ سَنَسْتَدْرِجُهُم

سلامت وو نو پریږده ما او هغه کس چه دروغ وائي په دې خبرې زر دے چه ورو ورو به نژدې کړو دوی

مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٤﴾ وَأُمْلِي لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ ﴿٤٥﴾

له هغه طرف نه چه دوی به نه پوهیږي او مهلت ورکوم دوی ته بیشکه تدبیر زما محکم دے

أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ ﴿٤٦﴾ أَمْ

ایا غواړې ته له دوی نه مزدورې نو دوی له تاوان نه درانه کړل شوي دي ایا که له

عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴿٤٧﴾ فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ

دوی سره علم غیب دے نو دوی ئې لیکي نو صبر کوه حکم د رب خپل ته

وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴿٤٨﴾ لَّوْلَا

او مه کیږه ته لکه ملګرې د ماهي هغه وخت چه آواز ئې وکړو او هغه ډک وو له غم نه که نه وائې دا

أَن تَدَارَكَهُ نِعْمَةٌ مِّن رَّبِّهِ لَنُبِذَ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ مَذْمُومٌ ﴿٤٩﴾

چه نیولې وای هغه مهرباني له طرفه د رب د هغه نه نو خامخا وبه شړل شوې وو په خالي ځمکه او هغه به ملامت کړل شوې وو

فَاجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَجَعَلَهُ مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٥٠﴾ وَإِن يَكَادُ الَّذِينَ

نو غوره کړو هغه رب د ده نو وئې ګرځولو هغه له صالحانو نه او په تحقیق نژدې دي هغه کسان چه

كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُولُونَ

کافران شوي دي چه وښوویږي تا په سترګو خپلو سره هر کله چه ئې واوریدې پند او وائي دوی

إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ ﴿٥١﴾ وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ﴿٥٢﴾

چه بیشکه دې خامخا لیونې دې او نه دې قرآن مګر پند دے لپاره د مخلوقاتو

سُورَةُ الْحَاقَّةِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثِنْتَانِ وَخَمْسُونَ آيَةً وَفِيهَا رُكُوعَانِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

شروع کوم په نامه د خدای چه بخښونکې مهربان دې

له په دې آیت شریف کښې ډیر وعیدې لپاره د هغه چا چه اذان اوري او لمانځه ته نه حاضریږي
٢ روح البیان ٢ له په حدیث شریف کښې راغلي دي چه هر کله ته ووینې چه الله تعالی بنده ته نعمتونه ورکوي او دې پر ګناهونو کیا وي نو پوه شه چه دا استدراج دې امیر المؤمنین حضرت علي کرم الله وجهه به ویل چه په هر چا باندې خدای پاک د دنیا پراخه کړې او دې پوه نه شي چه دا زما په حق کښې استدراج دے نو هغه بې عقل دې
٣ یعنې د دې خلقو شاګاني به په شان د یوې تختې شي چه طاقت د سجدې کولو به ئې نه وي نعوذ بالله من حال الاخر التاریه ١٢ منه رحمه یعنې ذلیل او وریدونکې به وي ١٢
ه ٣ روایت دي چه په بني اسد کښې نظري خلق وو او دا ئې عادت وو چه چاته به ئې قصد د نظر کولو وکړ نو درې ورځې به ئې سترګې وتړلې پس له هغه به ئې خلاصې کړلې او هغه ته به ئې وکتل او وبه ئې ویل بالله چه د یر ښائسته دې نو هغه به فی الحال ولویدې او مړ به شو نو کفارو مشوره سره وکړه چه له رسول الله صلی الله علیه وسلم د ا صحابه وکړي نو الله تعالی د دوی د شر د دفع لپاره دا آیت شریف نازل کړ
روح ٣ له حسن بصري ویلي دي چه دا آیت مغز د چا لپاره چه په نظر شوی وي شفاء ده
٢ چه پر وویل شي
روح ٥ یعنې ته صبر کوه د حضرت یونس علیه السلام په شان تلوار او بې صبرۍ مه کوه ویلے

ع ٢
١٩
٩

الْحَاقَّةُ ﴿١﴾ مَا الْحَاقَّةُ ﴿٢﴾ وَمَا أَدْرٰىكَ مَا الْحَاقَّةُ ﴿٣﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ
حق کیدونکې څه دې حق کیدونکې او څه شي خبر کړې ئې ته چه څه دې حق کیدونکې دروغ ویلي وو ثمودیانو
وَعَادٌ بِالْقَارِعَةِ ﴿٤﴾ فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا بِالطَّاغِيَةِ ﴿٥﴾ وَأَمَّا عَادٌ
او عادیانو په ټکونکې باندې نو هر څه ثمودیان نو هلاك شول په آواز سرکشه سره او هر څه عادیان چه وو
فَأُهْلِكُوا بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ﴿٦﴾ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ لَيَالٍ
نو هلاك کړې شول په باد تند سره چه له حد څخه وتلي و مسلط کړې ئې دا هغه پر دوی باندې اوه شپې
وَثَمٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا فَتَرَى الْقَوْمَ فِيهَا صَرْعٰى كَأَنَّهُمْ
او اته ورځې پله پسې نو ته به وینې هغه قوم په هغه کښې را پرېوتي (هلاك شوي) ګویا که دوی
أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴿٧﴾ فَهَلْ تَرٰى لَهُمْ مِّنْ بَاقِيَةٍ ﴿٨﴾ وَجَاءَ
د ونې د خرما دي له بیخه را ایستل شوي ایا وینې ته دوی لره څه پاته شوي او راغلې
فِرْعَوْنُ وَمَنْ قَبْلَهُ وَالْمُؤْتَفِكٰتُ بِالْخَاطِئَةِ ﴿٩﴾ فَعَصَوْا رَسُولَ
فرعون او هغه خوك چه مخکښې ول له هغه نه او هغه کلي اوښتل شوي ګناهو سره نو نافرماني وکړه هغوی د رسول
رَبِّهِمْ فَأَخَذَهُمْ أَخْذَةً رَّابِيَةً ﴿١٠﴾ إِنَّا لَمَّا طَغَى الْمَاءُ حَمَلْنٰكُمْ
د رب خپل څخه نو ونیول نیول دوی په نیولو لو یو سره بیشکه چه موږ هر کله چه سرکشي وکړه او بو بار موکړئ تاسو
فِي الْجَارِيَةِ ﴿١١﴾ لِنَجْعَلَهَا لَكُمْ تَذْكِرَةً وَّتَعِيَهَا أُذُنٌ وَّاعِيَةٌ ﴿١٢﴾
په بېړئ کښې چه وګرځوو هغه تاسو ته یادګار او یاد لرئ هغه غوږونه یاد ساتونکي ف٣
فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿١٣﴾ وَّحُمِلَتِ الْأَرْضُ
نو هر کله چه پو کل وکړی شي په شپیلۍ کښې پو کل یو او پورته کړې شي ځمکه
وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَّاحِدَةً ﴿١٤﴾ فَيَوْمَئِذٍ وَّقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿١٥﴾
او غرونه نو وبه ټکول شي دواړه په ټکول یو سره نو په دغه ورځ به واقع شي واقع کیدونکې
وَانْشَقَّتِ السَّمَاءُ فَهِيَ يَوْمَئِذٍ وَّاهِيَةٌ ﴿١٦﴾ وَّالْمَلَكُ عَلٰى أَرْجَائِهَا
او وبه چودل شي آسمان نو دی به په دغه ورځ سست وي او پرښتې به په کنارو د ده وي
وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمٰنِيَةٌ ﴿١٧﴾ يَوْمَئِذٍ
او وبه بار کړي عرش د رب ستا بالا پر دوی په دغه ورځ کښې اته پرښتې ف١ په دغه ورځ به

ف١
له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه نقل شوي دي چه دا پرښتې حاملانې د عرش نن ورځ څلور دي او په ورځ د قیامت به څلور نورې ورسره وي انشاء الله به شي ١٢
روح البيان

ف٢
بعضو د طاغیه معنی شرارت او سرکشي کړې ده بعضې ثمودیان په سبب د شرارت خپل سره تباه شول ١٢
وحيدي

ف٣
په حدیث شریف کښې راغلي دي چه هر کله دا آیت نازل شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دعا وکړه چه یاد لرونکي غوږ دې وي د علی رض حضرت علي رضي الله عنه وائي چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دعا سره هیڅ خبره راڅخه نه هیریږي ١٢

تُعْرَضُوْنَ لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ ﴿١٨﴾ فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ

تاسو وړاندې کړی شئ پټ به نه شي له تاسو څخه پټېدونکی نو هر څوک چه ورکړل شي ورته عملنامه د هغه

بِيَمِيْنِهٖ فَيَقُوْلُ هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ﴿١٩﴾ اِنِّيْ ظَنَنْتُ اَنِّيْ

په ښي لاس د هغه کښې نو وبه وائي واخلئ او ولولئ کتاب زما سره بیشکه زه پوهیدلم چه بیشکه زه

مُلٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾ فَهُوَ فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٢١﴾ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾

ملاقات کونکی یم له حساب خپل سره نو دی به په معاش ښه کښې وي په جنت لوی کښې به وي

قُطُوْفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓئًا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِي الْاَيَّامِ

میوې د هغه به نژدې وي خورئ او څښئ ښه خوند وره به وي په عوض د هغه چه پخوا مولیږلې وو په ورځو

الْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾ وَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِشِمَالِهٖ فَيَقُوْلُ يٰلَيْتَنِيْ

تیرو شوو کښې او هر څه هغه څوک چه ورکړل شوه عملنامه د هغه په چپ لاس د ده نو وائي به ای کاشکې ما ته

لَمْ اُوْتَ كِتٰبِيَهْ ﴿٢٥﴾ وَلَمْ اَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾ يٰلَيْتَهَا كَانَتِ

نه وای راکړل شوې عملنامه زما او نه پوهیدلای چه څه دی حساب زما ای کاشکې دا مرګ وای

الْقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾ مَآ اَغْنٰى عَنِّيْ مَالِيَهْ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ عَنِّيْ سُلْطٰنِيَهْ ﴿٢٩﴾

خلاصونکی زما هیڅ دفع ونکړه له ما څخه مال زما ولاړه له ما څخه پاچاهي زما

خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ الْجَحِيْمَ صَلُّوْهُ ﴿٣١﴾ ثُمَّ فِيْ سِلْسِلَةٍ

ونیسئ دی نو طوق واچوئ ده ته بیا په دوزخ کښې ننباسئ دی بیا په هغه زنځیر کښې

ذَرْعُهَا سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوْهُ ﴿٣٢﴾ اِنَّهٗ كَانَ لَا يُؤْمِنُ

چه ګز د هغه اویا ګزه دی نو ننباسئ دی بیشکه چه دی وو ایمان ئې نه راوړی

بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِ ﴿٣٤﴾ فَلَيْسَ

پر خدای لوی باندې او تیزول ئې نه کول په خوراک ورکولو مسکین ته نو نشته

لَهُ الْيَوْمَ هٰهُنَا حَمِيْمٌ ﴿٣٥﴾ وَلَا طَعَامٌ اِلَّا مِنْ غِسْلِيْنٍ ﴿٣٦﴾

ده لره نن ورځ په دې ځای کښې دوست او نه خوراک مګر له شاړو اوبو څخه

لَّا يَاْكُلُهٗٓ اِلَّا الْخَاطِئُوْنَ ﴿٣٧﴾ ع فَلَآ اُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٣٨﴾ وَمَا

چه نه به خوري هغه مګر خطا کاران نو قسم اخلم پر هغه چه تاسو ئې وینئ او پر هغه چه

ع ۲ ۵

ف۱ له ابی موسیٰ اشعري رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چه په قیامت کښې به مخلوق دري واره خدای ته پیش سي پړ دوو پیشیو کښې به عذرونه او جګړې کول کوي او په دریمه پیشی کښې به عملنامې لاسو کښې ورکول کیږي چا ته به په ښي لاس او چا ته به په چپ لاس ورکول کیږي رواه احمد ح ۱۲ فتح البیان

ف۲ روایت دی چه یو صالح ځوان لمانځه د سهار جماعت ته حاضر سو او امام هم نیک سړی وو او سورت الحاقه ئې شروع کړ چه دا آیت ئې ووایه چه خُذُوْهُ فَغُلُّوْهُ ثُمَّ الْجَحِيْمَ صَلُّوْهُ نو هغه ځوان چغه وکړه او بیهوشه سو او غورځیدئ هر کله چه هغه امام لمونځ خلاص کړ نو پوښتنه ئې وکړه چه دا څوک دي نو خلقو ورته وویل چه یو ځوان دي ویریدو له خدایه څخه او د ده مور سپین سر ده بی له ده بل زوی نه لري نو هغه امام وویل چه دی را پورته کړئ چه مور ته ئې یوزو نو چه مور ئې ولیدی نو وئې ویل چه زما پر زوی مو څه کړي دي دوی وویل چه مونږ هیڅ نه دي پر کړي مګر دی جماعت ته راغلی وو چه دا آیت ئې واوریدی دویري نو دا ئې حال شو نو هغې مور ئې پوښتنه وکړه چه هغه کوم یو آیت دی چه ده ئې هم واورېدی نو هغه عالم بیا دا آیت ووایه نو بیائې سخته چغه وکړه او روح ئې ورسره و وتی هر کله چه مور ئې دا معامله ولیدله هغه هم فی الحال وفات شوه ۱۲ اللّٰهُمَّ اغفر لي

لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿٣٩﴾ اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ ﴿٤٠﴾ وَّمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ

تاسو ئې نه وینئ چه بیشکه دا قران خبره د رسول بزرګ ده او نه دی دا قول د شاعر

قَلِيْلًا مَّا تُؤْمِنُوْنَ ﴿٤١﴾ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٢﴾

لږ قدر ایمان راوړے تاسو او نه وینا د جادوګر دی لږ قدر پند اخلی تاسو

تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ

نازل شوی دی له رب د مخلوقاتو څخه او که تړلی وی ده پر موږ بعضی

الْاَقَاوِيْلِ ﴿٤٤﴾ لَاَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِيْنِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِيْنَ ﴿٤٦﴾

خبری نو نیولی به وه موږ له ده څخه ښی لاس بیا به پریکړی وه موږ له ده څخه رګ د ساه

فَمَا مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ عَنْهُ حٰجِزِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاِنَّهٗ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾

نو نه به وه له تاسو څخه یو نفر له ده څخه منع کونکی او بیشکه چه دا قران پند دی پرهیزګارانو لره

وَاِنَّا لَنَعْلَمُ اَنَّ مِنْكُمْ مُّكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾ وَاِنَّهٗ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٥٠﴾

او بیشکه چه موږ خامخا پوهیږو چه بیشکه له تاسو څخه دروغ ویونکی دی او بیشکه چه دے خامخا سبب د ارمان دے په کافرانو باندی

وَاِنَّهٗ لَحَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٥٢﴾

او بیشکه چه دے خامخا حق یقین دے نو ته پاکی یادوه نوم د رب ستا چه لوی دی

سُوْرَةُ الْمَعَارِجِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّاَرْبَعُوْنَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم په نامه د خدای چه بخښونکی دی مهربان دی

سَاَلَ سَآئِلٌ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ ﴿١﴾ لِّلْكٰفِرِيْنَ لَيْسَ لَهٗ دَافِعٌ ﴿٢﴾

وغوښتل یو غوښتونکی عذاب چه واقع کیدونکی دے لپاره د کافرانو نشته هغه لره دفع کونکی

مِّنَ اللّٰهِ ذِي الْمَعَارِجِ ﴿٣﴾ تَعْرُجُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوْحُ اِلَيْهِ فِيْ

له طرفه د خدای څخه چه څښتن د مرتبو یا د ځینو دے وخیژی پرښتی او روح ده ته (دا عذاب به وی) په هغه

يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ ﴿٤﴾ فَاصْبِرْ صَبْرًا

ورځ کښی چه ده اندازه د هغې پنځوس زره کلونه ده نو صبر کوه صبر

ساله

ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما ویلی دی چه مراد له دی سائل څخه نضر ابن حارث دی چه ده وویل په طریقه د مسخرو سره چه اَللّٰهُمَّ ٢ اللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ اَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ یعنی اے خدایه که چیری دا قران حق دی له طرفه ستا څخه نو راووروه پر موږ باندے کانی له اسمانه څخه یا راوله موږ ته عذاب دردناك. معاویه رض یو سړی ته وویل چه داهل صباد وطن څخه وو چه ستاد قوم خلق ډیر جاهلان دي پاچائی بنځه مقرره کړی ده نو هغه سړی ورته وویل چه زما تر قوم ستا قوم ډیر جاهلان دی چه وئی ویل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په هغه وخت کښی چه راوئی بلل حق ته چه اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَاَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَآءِ او داسی ئی ونه ویل چه اِنْ كَانَ هٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ ٢ فَاهْدِنَا. یعنی که دا قران حق دی له رب ستا څخه نو لارښوونه وښایه موږ ته

ع ١٥

٦ طرف د دوی ته ١٢ ع. یعنی هر کله چه نږدی دوی عذاب خپل ووینی نو ارمان به وکړی چه کاشکے موږ کفر نه وای اختیار کړی او چه عیشونه د مؤمنانو ووینی نو ویه وینی چه کاشکے موږ هم ایمان راوړے وای او س به د دوی په حال وای ٣ سه یا معنی دا چه خاوند د درجو او د پوړو دے چه اسمانونه یو پر بل بالا دی او پرښتی پکښی خیژی کښته کیږی ١٢ ملخص تفسیر محمدی ٢ یعنی داسی خود غرضی به وی چه خپل رشته دار به هم نه پکار ږی پرده خو بر ږده هیڅ همدردی به نه وی ١٢ اَللّٰهُمَّ نَجِّنَا مِنْ فَزَعِ يَوْمَئِذٍ ٣ سه مراد له دی څخه ورځ د قیامت ده چه او بږد والی د هغې به په اندازه د دوه زره کالو د دنیا وی په حدیث شریف کښی راغلی چه دا ورځ به پر مؤمن باندی داسی اسانه تیریږی لکه وخت د یوه فرض لمانځه ١٢

منه رحمه ربه

جَمِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُ بَعِيدًا ﴿٦﴾ وَنَرَاهُ قَرِيبًا ﴿٧﴾ يَوْمَ تَكُونُ

نیک عه بیشکه دوی وینی هغه ورځ لیری او مونږ وینو نږدی هغه ورځ چه شی به

السَّمَاءُ كَالْمُهْلِ ﴿٨﴾ وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ ﴿٩﴾ وَلَا يَسْأَلُ

اسمان لکه هغه پاتی شوی د سپینو زرو او شی به غرونه لکه وړی او پوښتنه به نه کوی

حَمِيمٌ حَمِيمًا ﴿١٠﴾ يُبَصَّرُونَهُمْ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ

یو دوست له بل دوسته وبه ښودل شی دوی ته خپل او دوی خواهش به کوی ګنهګار کاشکې چه فدیه ورکړی وای

عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ ﴿١١﴾ وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ ﴿١٢﴾ وَفَصِيلَتِهِ

له عذابه د دې ورځې ځنی زامن خپل او ښځه خپله او ورور خپل او هغه قبیله

الَّتِي تُؤْوِيهِ ﴿١٣﴾ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا ثُمَّ يُنْجِيهِ ﴿١٤﴾ كَلَّا ۖ إِنَّهَا

د دې چه ځای ئی ورکوی دې ته او هغه خلک چه په ځمکه کښی دی ټول بیا خلاص کړی دی نه دا داسی بیشکه دا دوزخ

لَظَىٰ ﴿١٥﴾ نَزَّاعَةً لِلشَّوَىٰ ﴿١٦﴾ تَدْعُو مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٧﴾ وَجَمَعَ

لمبی وهونکی دی ایستونکی دی د پوستکی د سر را بولی هغه خلک چه شا کړی ئی وی او ګرزیدلی وی او جمع کړی ئی وی مال

فَأَوْعَىٰ ﴿١٨﴾ إِنَّ الْإِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ

نو بند کړی ئی وی له مصرفه بیشکه چه انسان پیدا کړی شوی دی بې صبره هر کله چه ورسیږی دې ته شر

جَزُوعًا ﴿٢٠﴾ وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾ إِلَّا الْمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ الَّذِينَ

نو ژړا کونکی وی او هر کله چه ورسیږی دې ته خیر نو منع کونکی وی مګر لمونځ کونکی هغه کسان

